
# په افغانستان کښې د جنسیت (جندر)

# د یو شانوالي اړوند د 2014 کال راپور

## د میرمنو او جنډر د یو شانوالي په اړه د افغان دولت د ژمنو د کار د پرمختګ ارزیابي




د افغان میرمنو لیدلوری مجموعه (3)

فبروری، 2015

د هالنډ شاهي دولت

EPD EQUALITY for Peace and Democracy

## د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي د موسسې په باره کښې

د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه يوه غير انتفاعي اداره ده ، چې په افغانستان کښې د ميرمنو او ځوانانو د ځواکمنتيا لپاره د ټولنې او پاليسۍ په سطحه ژمنتيا لري. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه د ۲۰۱۰ کال په لمړيو کښې د دآغلې نرګس نهان له لورې چې د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې عمومي مشره ده ، تاسيس شوې ده. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه د ميرمنو او ځوانانو د وړتيا د لوړولو لپاره کار کوي تر څو په پرمختيايي چارو ، سولې رامنځته کيدو او دموکراتيک بهير کښې د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې د کارونو د سرته رسولو له لارې د هغوی اړتياوې په ګوته کړای شي. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه پردې سربيره غواړي چې ميرمنې او ځوانان د هغوی پر وړاندې پرتو ستونزو يعنې په افغانستان کښې بې ثباتي باندې برلاسي و مومي.

د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې د ميرمنو او ځوانانو لپاره داسې خط مشی جوړه کړې ، تر څو لاسونه يو کړي ، يوه شبکه تاسيس کړي ، په خپلو منځو کښې د باور او اعتماد فضا رامنځته او په ګډه کوښښ وکړي چې افغانستان په داسې يو دموکراتيک هيواد بدل کړي چې د تاو تريخوالي او تبعيض څخه پاک وي. د سولې دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې د روڼتيا او حساب ورکولو د افغاني ائتلاف شبکې چې د ټولنې له لورې مشري کيږي ، د خدماتو وړاندې کيدل او د ښه حکومتولۍ پلوي کوي چې په هرات ، باميان ، ننګرهار ، او کابل کښې موقعيت لري. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې د ميرمنو ولايتي شبکې په ټولنيزه سطحه د ميرمنو له لورې رهبري کيږي ، هغه موضوعات په ګوته او پاملرنه ور ته کيږي چې په ټولنه کښې د ميرمنو لپاره د انديښنې وړ دي او په هرات ، باميان ، ننګرهار ، فارياب ، کندوز ، کندهاراو کابل کښې قرار لري.

پر دې سربيره ، د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه په کابل کښې يو د هغه ممتازو مدني ټولنو د سازمانونو څخه يوه ده چې د مدني ټولنو د نورو سازمانونو او ډلو سره يووالی رامنځته کوي ، او سولې او ښه حکومتولۍ په برخه کښې د حکومت د پاليسۍ جوړونې بهير څاري ، تر څو د بشري حقوقو د ساتنې ډاډ ترلاسه او د مدني ټولنو ګډون باوري شي. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې ټيم ، د هيواد بيلا بيلو برخو د سفر تر څنګ او د خلکو سره د هغوی په انديښنو باندې د پوهيدلو لپاره خبرې اترې کوي ، په مراکزو کښې د پاليسۍ جوړونکو سره د خلکو د غږ پورته لپاره غونډې او بحثونه جوړوي. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې مشرتابه په نړيوالو کنفرانسونو کښې د ګډون او په افغانستان کښې د نړيوالې ټولنې د ګټورې او هميشني بوختيا پلوي کوي.

## ستاينه او مننه

د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه تر هر څه لمړی او په لوړه کچه غواړي د ميرمنو د ولايتي شبکې او نورو اړوند مراجعو قدردانی کوي ، چا چې په ټول افغانستان کښې په دغو مشورتي غونډو کښې ونډه اخستې او د هغه چا چې د هغوی د ګډون پرته به دا څيړنه شوني شوې نه وه. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه همدارنګه د هالنډ د سفارت څخه مننه کوي چې ددې پروژې لپاره يې مالي مرسته او ملاتړ برابر کړې دی او بهرنې مرکه کونکې حنا پارتيز-جننګز ، ډاکتر پام ګرين او فريده ميا د هغوی د ګران بها افکارو او نظرياتو د ورکولو له امله مننه کوي. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه غواړي چې د ماريز ايس هبر څخه د دې راپور د ليکنې او ترتيب کولو او د دې څيړنې د طرحه کولو له امله مننه وکړي. د ماريتز او شمسيه نوري څخه د هغوی د ملاتړ له امله چې د دې څيړنې د رامنځته کيدو او معلوماتو په راټولو کښې مرسته کړې ستاينه کوي. په پای کښې د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې د ټول ټيم څخه چې د دې پروژې په جريان کښې يې ملاتړ کړی ځانګړې مننه کوي ، او په خاصه توګه د ذبيح الله زاهد او د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې د ولايتي چارواکو څخه د دې سروې د سرته رسولو له امله مننه کوي.

## د مطالبو نوم لړ


د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي د موسسې په باره کښې........1
ستاینه او مننه ................................................ 1
د مطالبو نوم لړ ................................................ 2
لنډیزونه ......................................................... 3
عمومي لنډيز ................................................ 4
د ميرمنو او جنسيتي يوشانوالي اړوند پرمختګ ، انحطاط او شاته تګ ... 5
د ۲۰۱۴ کال د راپور پانه .......................................... 9
سريزه.............................................................12
کرنلاري ......................................................... 13
د ميرمنو د ولايتي شبکې په اړه معلومات ......................... 14
د نفوسو مطالعه .................................................. 15
محدوديتونه او ننګوني ........................................... 16
د ميرمنو او جنسيت اړوند د افغانستان د اسلامي جمهوريت عمومي کړني
17 ..................................................................
د سولې بهير ...................................................... 18
د سولې ملي بهير................................................. 20
د سولې سيمه ايز بهير ........................................... 21
امنيت............................................................. 24
د ميرمنو او انجونو ساتنه ........................................ 25
امنيتي فعالين او د ميرمنو حقوق ................................ 26
په امنيتي سکتور کښې د ميرمنو ګمارل............................ 27
روغتيا ............................................................ 29
روغتيايي خدمتونو ته د ميرمنو لاسرسی ........................... 31
د مور او زيږوني روغتيا او کورنۍ د تنظيمولو پلان ................ 33
ميرمنو لپاره درکاتي او اروا پوهنې برخه کښې ملاتړ ............... 35
زده کړه........................................................... 36
لومړنۍ او ثانوي زده کړې ........................................ 38
لوړې زده کړې ................................................... 41
ليك لوست ........................................................ 42
اسلامي زده کړې.................................................. 44
عدالت ته لاسرسی ................................................ 45
قانوني تحفظ ...................................................... 46
رسمي عدلي تولنو ته لاسرسی ..................................... 47
رسمي عدلي اداري ................................................ 49
ښځينه عدلي ماموريني ............................................ 49
د ميرمنو پروړاندې تاو تريخوالی ................................. 51
د تاوتريخوالی پر وړاندې د ميرمنو قانوني تحفظ..................... 52
د دولت ملاتړيز ميکانيزم........................................... 53
د قوانينو تطبيق او د ميرمنو پر وړاندې د تاو تريخوالی کموالی ........ 55
په سياست کې د ميرمنو ګډون ..................................... 56
په سياسی ټاکنونو کې د ميرمنو ګډون............................... 57
په ټاکنو کې د ښځو ونډه ........................................... 58
خدماتو او سرچينو ته لاس رسی ................................... 60
سرچيني ........................................................... 61
ترانسپورت ........................................................ 62
د منابعو او خدمتونو په اړه په پريکړو او تصميم کې د ښځو ګډون ..... 63
اقتصادی فرصتونه ................................................. 64
په سوداګرۍ او کاروبارکې د ښځو ملاتړ............................. 65
مثبتی کړني......................................................... 66
د ميرمنو ميراث..................................................... 67
ميرمنې په کرنه کې ................................................ 68
اسيب پذيري دلې .................................................. 69
د پوهاوي لوړول ................................................... 72
نتيجه .............................................................. 74
آمخذونه............................................................ 76

# لنډيزونه

| | |
|---|---|
| ACTA | د رونتیا او حساب ورکولو افغاني يووالى |
| AFN | افغانۍ ، مروجه سکه |
| AGO | د لويې څارنوالۍ دفتر |
| AIBA | د افغانستان د خپلواکو وکيلانو ټولنه |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون |
| AISA | د افغانستان د پانګوالۍ څخه د ملاتړاداره |
| ALP | افغان محلي پوليس |
| AMDG | د زريزې لپاره د افغانستان پرمختيايي اهداف |
| AMICS | د افغانستان لپاره څو شاخص لرونکي ډله ايزه سروې |
| ANA | د افغانستان ملي پوځ |
| ANC | د زيږيدنې څخه وړاندې مراقبت |
| ANDS | د فغانستان ملي پرمختيايي سترتژۍ |
| APRP | د افغانستان د سولې او بيا ادغام پروګرام |
| ASPP | د افغانستان د ټولينز ملاتړ پروګرام |
| AWBF | د افغان سوداګرو ميرمنو ټولنه |
| BC | د بودجې متحد المال |
| BPHS | لمړني عامه روغتيايي خدماتو ټولګه |
| CDC | ټولنيزه پرمختيايي شورا |
| CEDAW | د ميرمنوپر وړاندې د هر ډول تبعيض د مخنيوي جرګه ګۍ |
| CSO | د احصايي مرکزي اداره |
| DoWA | د ميرمنو د چارو رياست |
| EPD | د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسه |
| EUPOL | د اروپايي ټولنې د پوليسو ماموريت |
| CEDAW | د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي مخنيوی |
| FRU | کورنۍ ستونزو ته د ځواب ويلو څانګه |
| GBV | پر جنسيت ولاړ تاوترخوالي |
| GDP | نا خالص کورنی توليد |
| GIRoA | د افغانستان اسلامي جمهوريت |
| GIZ | د المان نړيوالې تخنيکي مرستې |
| GPE | د ښوونې او روزنې لپاره نړيوال ګډون |
| GRB | د ميرمنو ستونزو ته ځواب ويونکې بودجه |
| HMIS | د روغتيا معلوماتي سيستم مديريت |
| HPC | د سولې عالي شورا |
| IARCSC | د ادارې اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کميسون |
| ICT | معلوماتي او مفاهموي تکنالوژي |
| IEC | د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسون |
| IGDK | د کوچيانو د چارو خپلواک رياست |
| JICA | د جاپان د نړيوالو مرستو اداره |
| LOTFA | د افغانستان پاره د نظم او قانون د رامنځته کولو صندوق |
| M&E | څارنه او ارزونه |
| MAIL | د کرهنې ، اوبو رسولو او مالدارۍ وزارت |
| MMR | د زيږون پر مهال د ميندو د مړيني کچه |
| MoEd | د ښوونې او روزنې وزرات |
| MoF | د ماليي وزرات |
| MoHE | د لوړو زده کړو وزارت |
| MoI | د کورنيو چارو وزارت |
| MoJ | د عدليې وزرات |
| MLSA | د کار ، اجتماعي امورو ، شهيدانو او معلولينو د چارو وزارت |
| MoPH | د عامې روغتيا وزارت |
| MoWA | د ميرمنو د چارو وزارت |
| MRRD | د کليو د بيا رغونې او پرمختيا وزارت |
| NABDP | ملي سيمه ايز پرمختيايي پروګرام |
| NAPWA | د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل ملي پلان |
| NCO | ټيټ رتبه مامور |
| NGO | نا دولتی موسسه |
| NPP | د ملي لمړيتوب پلان |
| NRVA | د خطر او آسيب ارزونې ملي پروګرام |
| NSP | د ملي پيوستون پروګرام |
| PDC | ولايتي انکشافي کميټه |
| PPC | د سولې ولايتي شورا |
| PRR | د بيارغونې د اصلاحاتو لمړيتوب |
| PTSD | د زخمي کيدو وروسته د فشار بی نظمي |
| PWN | د ميرمنو ولايتي شبکه |
| SBA | د ولادت مسلکي څارنه |
| SME | کوچنی او متوسط کار وبار |
| ToT | د روزونکو روزنه |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNAMA | د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د مرستې هئيت |
| UNDP | د ملګرو ملتو پرمختيايي پروګرام |
| UNFPA | د ملګرو ملتو د نفوسو صندوق |
| UNICEF | د ملګرو ملتو د د فرهنګي او تعليمي مرستو صندوق |
| USAID | د نړيوالې پرمختيا لپاره د امريکا د متحده ايالاتو اداره |
| USD | د امريکا د متحده ايالاتو ډالر ، مروجه سکه |
| VAW | د ميرمنو پر وړاندې تاو تريخوالي |
| WPC | د ميرمنو د لپاره د امن کورونه |

# عمومي لنډيز

د ۲۰۰۱ کال را په دې خوا ، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د افغان میرمنو سره په قوانینو ، معاهدو ، توافقاتو ، پالیسیو او ستراتژیکو اسنادو کښې د جنسیت د برابرۍ په اړه ۲۳۰۰ صریح ژمنې کړې دي ، دا داسې یو شمیره ده چې بې شیمره شفاهي ژمنې چې په تیرو ۱۴ کالو کښې شوي دیهم پکښې شاملې دي . په داسې حال کښې چې په بحثونو کښې د حکومت د ژمنو په اړه زیاتره تمرکز د افغان میرمنو لپاره د عمل په ملي پلان باندې کیږي ، دا سند یوازې د شوو ژمنو یوه کوچنۍ برخه جوړوي. دا څیړنه په دغو ژمنو باندې په څو مهمو ساحو کښې یو نظر اچوي: د سولې بهیرونه ، امنیت ، ښوونه او روزنه ، عدالت ته لاسرسی ، د میرمنو پر وړاندې تاو ترخوالی ، منابعو او خدماتو ته لاسرسی ، سیاسي ګډون ، اقتصادي فرصت او کارموندنه ، د آسیب پذیره ډلو ساتنه ، او د عامه خلکو د پوهاوي د سطحې لوړوالی. دا څیړنه د افغان میرمنو له نقطه نظره په هره برخه کښې د سرته رسیدلې سروې له مخې چې د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي موسسې د ولایتي میرمنو د شبکې د ۱۵۴ میرمنو سره د افغانستان په پنځو ولایاتو کښې د څیړنې د د فتر او نورو ذیدخلو اړخونو سره تر سره شوې ، دواړه هم پرمختګ او هم نیمګړتیاوې ارزیابي کوي.

د دولت د ژمنو په اړه د پرمختګ د اندازې د معلوملو د یو اساس په توګه ، د دې راپور مقصد دادی چې دا معلومه شي چې حکومت په دې لاره کښې د ۲۰۰۱ کال څخه را په دېخوا څومره عملي ګامونه اخستل شوي دي او کومه ساحه لا ډیرې توجه او ښه والي ته د انتقال د لسیزې په دوران کښې اړتیا لري. هغه شاخصونه غوره شوي وو چې د دواړو یعنې هم د افغان دولت د پالیسۍ د اسنادو کښې یادې شوې تر ټولو مهمې ژمنې او هم د ښه والي رامنځته کیدو لپاره هغه مهمې ساحې چې د افغان میرمنو په ژوند کښې د واقعي مثبت بدلون استازیتوب وکړي. په افغانستان کښې د جنسیتي برابرۍ د راپور پاڼه به د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي موسسې د ولایتي میرمنو د شبکې له خوا تیاره او دا د راپور پاڼه به په کال د څارنې د یوې وسیلې په توګه تیاریږي چې مدني ټولنې ، افغان دولت او نړیوالې ټولنې ته دا توان ورکوي چې د حکومت څخه د هغه د ژمنو چې د افغان میرمنو او جنسیتي برابرۍ په اړه یې کړې دي ، پوښتنه وکړي.

# د میرمنو او جنسیتي یوشانوالي اړوند پرمختګ، انحطاط او شاته تګ

د طالبانو د رژیم د سقوط څخه وروسته ، افغانستان د شپږو کالو بد رفتارۍ او ظلم څخه وروسته د جنسیتي یوشانوالي له نظره د ویرونکو ننګونو سره مخامخ شو چې په ښوونځیو کښې یو شمیر محدود او یا هیڅ انجوني ښوونځیو کښې پاتې نه شوې. دا دې سبب وګرځیده چې مسلکي میرمنې او ډاکترانې ، په ورځنیو چارو کښې د میرمنو لږه ونډه ، په ټولنیزه توګه په سیاسي فعالیتونو او تصمیم نیونه کښې د هغوی ګډون او تقریبا ټولو امورو کښې میرمنې د ونډې څخه بې برخې شې. ډیرې داسې ساحې شته چې افغان میرمنو او د جنسیتي یوشانوالي موضوعاتو په برخه کښې د ۲۰۰۱ کال را په دې خوا پرمختګ او پر شا تګ درلود ، چې د افغان میرمنو د ولایتي شبکو غړو د افغان حکومت کړنو ته د (A) او یا (F) درجه نه ده ورکړې او حکومت خپلې ژمنې نه دي سرته رسولې. دا په دې معنا نه ده چې حکومت د خپلو ژمنو سر ته رسولو کښې ناکام شوی دی. میرمنو دا هم درک کړې ده چې داسې ساحې نشته چیرې چې هغو خپلې ژمنې تر سره کړې دي.

نن ورځ د افغانستان اساسي قانون د میرمنو او نارینو حقوق منلي دي. میرمنو ته په ولسي جرګه کښې ۲۸ سلنه ونډه او په ولایتي شورا کښې ۲۱ سلنه او ټولنیزه انکشافي شورا کښې ۳۵ سلنه ونډه ور کړ شوې ده. د ټاکنو د خپلواک کمسیون په وینا د ټاکنو په لمړنې پړاو کښې چې ټولې ۶،۶ میلونه رایې کارول شوې وې د میرمنو رایه ورکونکو ونډه ۳۶ سلنه وه. ۲،۱۸۵ میرمنې د ملي پولیسو په چوکټ کښې په دندو ګمارل شوې دي ، چې دا شمیره په ۲۰۰۵ کال کښې ۱۸۰ میرمنو ته رسیده. په ملکي خدماتو کښې ۲۴ سلنه میرمنې په دندو ګمارل شوې دي.[1]

د میرمنو د روغتیا او ښوونې روزنې په برخه کښې د پام وړ پرمختګ شوی دی. ۷۴ سلنه د روغتیایي خدماتي مرکزونه لږه تر لږه یو ښځینه کارکوونکې لري. د زیږون په مهال د مړینې کچه ۱۰۰،۰۰۰ له جملې څخه په ۲۰۱۱ کل کښې د ۱۶۰۰ مړینو څخه په ۲۰۱۴ کال کښې ۴۰۰ ته را ټیټه شوې ده. میرمنو اوسط عمر رو رو زیاتیږي یعنې په ۲۰۰۵ کال کښې د ۵۸،۳ څخه په ۲۰۱۲کال کښې ۶۱،۸ ته لوړ شوی دی. نن ورځ ۳ میلونه انجوني ښوونځیو ته ځي. شاو خوا ۳۰ سلنه میرمنې د ښوونکې دنده پر مخ وړي ، او د میرمنو شمیره د ښوونکو روزنې په مرکزونو کښې ۵۴ سلنه جوړوي. حکومت هم یوه اندازه مثبتې عملي پالیسۍ معرفي کړې دي تر څو د انجونو شاملیدل په ښوونې او روزنې په موسسو کښې زیاته شي.

د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون په ۲۰۰۹ کال کښې د ولس مشر د یو فرمان له مخې پاس شوی دی ، دا په خپل وار د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالي د مخنیوي او په دغه جرم کګړو ته د سزا ورکولو په برخه کښې یو د پام وړپرمختګ دی. چې دا د میرمنو پر وړاندې د جرمې

[1] هغه معلومات چې په دغه عمومي لنډیز کښې شامل شوي دي ، کیدای شي د د دې راپور په عمومي متن کښې په تفصیل سره وموندل شي

اعمالو سرته رسولو لکه د مثال په توګه جنسي تیري ، کورنی تاو ترخوالی ، په کم عمر کښې واده ، په جبر ودول ، بدو کښې ورکول او د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالي نورو پیښو ته لاره هواره کړي. چې په مجموع کښې د دا ډول پیښو شمیره د ۲۲مشخصو ډولونو او ۲۲ ډوله جزاء ګانو ته د هغه چا لپاره چې دا ډول جرمونه تر سره کوي ، رسیږي. حکومت د کورنیو ستونزو د ځواب ویلو لپاره د افغان پولیسو په برخه کښې ، د میرمنو چارو د وزرات تر اداري لاندې د میرمنو د ساتنې مرکزونه ، د لویې څارنوالۍ په چوکاټ کښې د میرمنو پر خلاف د تاو تریخوالي د مخنیوي څانګه ، او د عامې روغتیا په وزارت کښې د هغو کورنیو د ساتنې مرکزونه جوړ کړي دي ، چې په بیلا بیلو کچو په ټول افغانستان کښې د میرمنو د مصئونیت څخه محرومې او د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالي ښکار شوي دي ، شتون لري. پردې سربیره ، د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسون د میرمنو د شکایتونو د ثبتولو ، د مشورې د تر لاسه کولو او قانوني ملاتړ لپاره په ټول افغانستان کښې دفترونه لري. د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالي د قضیو په ثبتولو کښې د پام وړزیاتوالی راغلی دی. د قضیو د ثبت اړوند دا زیاتوالی د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کال تر منځ راغلی دی. د میرمنو پر وړاندې تاو تریخوالي دا کړنې لکه جنسي تیری ، کورنی تاو تریخوالی ، د کوچنیو انجونو ودول ، اجباری واده ، بدو کښې ورکول [2] ، او د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالي نور ډولونه ، چې په مجموع کښې ۲۲ خاص ډولونه تشکیلوي ، او په مشخصه توګه د مجرمو کسانو لپاره مجازات چې د دا ډول کړنو په سر ته رسولو مجرم پیژندل شوي دي. حکومت د ملي پولیسو په چوکاټ کښې د کورنیو ستونزو ته د ځواب ویلو او د میرمنو د تحفظ د مرکزونو څانګې جوړې کړې دي.

منابعو او معلوماتو او د مفاهیمو وسایلو ته د لاسرسی په اړه باید و ویل شي ، چې د ۲۰۰۲ کال را په دې خوا ، پر ساحوي بنیاد ولاړ ملي پر مختیایي پروګرام د ۶۱۲ څخه زیاتې د اوبو او حفظ الصحې پروژې ترسره کړي چې په ټول افغانستان کښې یې ۲,۲ میلونه خلکو ته ګټه رسیدلې ده. نن ورځ ۲۹ سلنه افغانان برښنا ته لاسرسی لري ، چې دا زیاتوالی د ۲۰۰۲ کال په پرتله ۶ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. ۸۰ سلنه افغان میرمنې ګرځنده تلیفون ته په منظم او یا قسمي توګه لاسرسی لري.

د ۲۰۰۳ کال را په دیخوا ۱۶۰۰ ښځینه سوداګریزه چارې ثبت شوې دي. د افغان سوداګرو میرمنو ټولنه ، چې په ۲۰۰۴ کال کښې یې بنسټ اینښودل شوی دی ، د افغانستان د سوداګریو او میرمنو د چارو وزارت سره یوه تفاهمنامه لاسلیک کړې ده ، او د افغانستان د صادراتو د ملاتړ د ادارې او د افغانستان د سوداګریو او صنایعو د خونې له خوا یې مرسته تر لاسه کړې. د افغانستان په اساسي قانون کښې د میرمنو د میراث قانون تسجیل شو ، او د افغانستان د مدني حقوقو نظامنامه معرفي شوه تر څو میرمنې وکولای شي د واده ، میراث یا را نیولو له لارې د ملکیت پیرودل او پلورل و کړای شي.

دولت نړیوالو مرسته کونکو له لارې د عامه پوهاوي څو کمپاینونه ، ترسره کړي دي. دا کمپاینونه د نورو موضوعاتو تر څنګ د عدالت ، ښوونې او روزنې ، روغتیا ، امنیتي برخه او میرمنو اړتیا ته پاملرنې برخه کښې تر سره شوي دي. پردې سربیره ، دولت د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې یو آزمیښتي برنامه پیل کړې ، چې په هغه کښې د جندر جزء لپاره د لمړي او دوهم متحد المال کښې شامله شوې ده. د د جنسي پیښو اړوند معلومات راټولول او نور جنسیتي حساسو مسایلو پلان جوړونه ، تطبیق ، او څارنې دولتي پروګرام هم منل شوی دی. د احصاییې مرکزي ادارې او د میرمنو چارو وزارت د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په میاشت کښې د معلوماتو د شریکولو او جنسیتي موضوعات اړوند یو ورکشاپ تنظیم کړی وه.[3]

په داسې حال کښې چې د دې بحثونو ترسره کیدل یو ښه پیل دی ، اړتیا لیدل کښې چې دې موضوعاتو ته نه یوازې په پالیسیو کښې ځای ورکړل شي بلکه عملي جامه واغوندي تر څو د جنسیتي نورو حساسو موضوعاتو اړوند شاخصونو ، او د پروګرام پلان جوړولو ، تطبیق ، څارنې چې د افغان میرمنو اړتیاو ته پکښې پآم شوی وي ، وده ورکړل شي.

په هر حال ، څو ساحې شته ، چې هلته په ښه کچه کوم پرمختګ او ډیر بد شاته تګ نه لیدل کیږي. میرمنې د سولې په بهیر کښې ، یعنې د سولې په عالي شورا کښې (۱۳) سلنه یوازې د ۹ میرمنو غړو شتون په لوړه کچه لږ استازیتوب ګڼل کیږي او تر دغه مهاله په دغه برخه کښې کوښښ نه دی شوی تر څو د سولې د را منځته کولو په بهیر کښې د میرمنو اړتیا ته پام وکړي او یا په ملي سطحه د دولت له لوري داسې کوښښونه نه دي شوي چې د میرمنو سره د ملي سولې په بهیر کښې سلا او مشوره وشي. د ښځینه ملکي تلفاتو شمیر د ۲۰۱۳ کال را په دیخوا ۶۱ سلنه لوړه شوې ده ، او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون د افغان پولیسو له لوري د پام وړ نا سم چلند ثبت کړي دی. میرمنې لا تر اوسه د افغان پولیسو ځواکونو په چوکاټ کښې یوازې ۲ سلنه یاد شوی دی. یوازې ۳۳۵ ښځینه وکیلانې شته چې د افغان وکیلانو په ټولنه کښې یې ثبت شوي دي ، چې د هغوی زیاته شمیره د کابل او هرات سره تړاو لري او ۱۳ ولایتونو ښځینه وکیلانې نه لري. په افغانستان کښې یوازې ۸,۴ سلنه ښځینه قاضیانې شتون لري ، ۶ سلنه څارنوالانې او یوازې ۱۹ سلنه وکیلان شتون لري. د هغوی یوازې ۵ سلنه میرمنې د حقوقو په څانګه کښې کار کوي. په حقیقت کښې د ملي خدماتو په چوکاټ کښې یوازې ۲۴سلنه میرمنې کار کوي ، پنځه لس وزارتونه شته چې ۱۰ سلنه او تر هغه لږې او شپږ وزارتونه شته چې یوازې ۶ سلنه ښځینه کارکونکي لري چې له هغې جملې څخه یوازې کم شمیر د مشرتابه د نقش لرونکي دي.

په داسې حال کښې چې اساسي قانون په ملي شورا کښې لږ تر لږه د هر ولایت څخه ولسي جرګه د دوه ښځینه غړو د راتلو د حضور ضمانت کوي ، په ۲۰۱۴ کال کښې چې پارلمان په ولایتي شورا کښې د میرمنو ونډه د ۲۵ څخه د ۲۰ سلنه را کمه کړ. دا فیصله په آتومات شکل په

[2] د بدو یا بدل په مقابل کښې د میرمنو ورکول

[3] د مرکزی احصاییې مطبوعاتي خپرونه او د میرمنو د چارو مشترک ورکشاپ د حکومتي ادارو تر منځ د جنسیتي یو شوانوالي معلوماتو شریکولو د هم غږۍ د را منځته کولو ، د افغانستان د سلامي جمهوریت ویب پاڼه ، د سپتمبر ۲۱ ۲۰۱۴ کال ، ,
http://demo.afghanistan.af/en/news/press-release-central-statistics-organization-and-ministry-of-womens-affairs-joint-workshop-for-establishment-of-coordination-between-government-entit.

مشرانو جرگه کښې د میرمنو د ونډې د راکمیدو سبب و گرځید ، څکه د هغوی یوه برخه غړې د ولایتي شوراگانو څخه ټاکل کیږي. دا په یوازې توگه د استازو شمیره په ۲۰۱۳ کال کښې د ۲۵۰۰ زرو له جملې څخه ۴۰۰ میرمنو ته را ټیټ کړ. په وروستي وخت کښې د ۲۵ له جملې څخه یوازې دوه وزیراني میرمنې وې. په داسې حال کښې چې د ۲۰۱۴ کال په لمړي دور ټاکنو کښې ۳۶ سلنه رایه ورکونکي میرمنې وې ، ۵۲ سلنه اوس هم په ولایتي یا ملي ټاکنو کښې د ونډې اخستلو په اړه یو څه او یا زیات د ډار احساس لري ، ۲۸ سلنه میرمنو ته د ولایتي ټاکنو په اړه هیڅ معلومات نه دی ورکول شوی.

سره له دې چې د زیږون پر مهال د مړیني کچه را ښکته شوې ده ، بیا هم دا اندازه ۲۸ سلنه ده چې په ټولنه کښې تر ټولو لوړه ده او یوازې ۳۹ سلنه ولادتونه د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ کلنو تر منځ د مسلکي پرسونل له خوا ثار ل شوي دي ، دا هیواد اوس هم د په نړۍ کښې ۱۳ هیواد دی. میرمنې اوس هم رواني پاملرنې ته لاسرسی نه لري ، سره له دې چې داسې اټکل کیږي چې ۶۰ سلنه افغانان (زیاتره میرمنې) د رواني فشار او رواني مشکلاتو یا ذهني بې نظمیو ښکار دي. په لمړنیو ښوونځیو کښې د نارینو او ښځینه تر منځ ۱۶ سلنه توپیر موجود دی او په ثانوي دوره کښې د توپیر ۱۹ سلنه دی او پوهنتونو کښې دا اندازه یوازې ۳ سلنه ده. یوازې ۱۷ سلنه افغاني میرمنې لوست کولای شي ، په داسې حال کښې چې د سړیو اندازه بیا ۴۵ سلنه ده ، خو د ځوانو میرمنو د لوست کچه لوړه شوې ده ، د جنسیت له نظره دا توپیر د ۲۰ څخه ۳۰ فیصدو ته لوړ شوی دی.

سره له دې چې د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوی قانون معرفی شوی دی ، د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي پر وړاندې تطبیقي اړخ شتون نه لري. دا په داسې حال کښې ده چې د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو ثبتول د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو تر منځ ۲۸ سلنه وو ، یوازې ۲۰ سلنه قضیو ته د جزاء غوښتنه شوې ده. د شیعیه گانو د شخصي احوال قانون معرفي شو او په ۲۰۰۹ کال کښې ، د میرمنو د حقوقو تر لاسه کولو لپاره یو پر شا تګ وه ، چې په قانوني توگه د میرمنو تګ راتګ محدودوي ، د ۱۶ کالو څخه د کم عمره پیغلو واده ته اجازه ورکوي چې د ځانګړو شرایطو لاندې سړیو ته د میرمنو د ساتلو واک ورکوي. د ۱۹۷۷ کال د میرمنو د مدني حقوقو قانون ، د جنسي برابرۍ له نظره یو پرمختګ گڼل کیږي ، تر اوسه پورې په قانون کښې هیڅ بدلون نه دی راغلی تر څو نا برابر قانوني احکام لکه ، طلاق ، میراث ، قانوني قیمومیت ، او نورو ساحو کښې نوی والی رامنځته کړي.

په داسې حال کښې اوبو او برېښنا ته لاسرسی ښه شوی دی ، یوازې ۴۰ سلنه افغان میرمنې وایي چې د هغوی کورنۍ تل د څښلو پاکو اوبو او ۱۷ سلنه برېښنا ته لاسرسی لري. ۲۵ سلنه میرمنې د څښلو پاکو اوبو ته او۶۴ سلنه برېښنا ته د نه لاسرسي له کبله شکایت کوي ، دا په داسې حال کښې ده چې د څښلو پاکو اوبو او برېښنا ته لاسرسی ښه شوی دی. یوازې ۲ سلنه افغان میرمنې د معلوماتو په خاطر انټرنټ ته لاسرسی لري ، سره له دې چې ۸۰ سلنه خلک د گډو شبکو په منځ کښې ژوند کوي او ۸۰ سلنه خلک د څلورو شبکو له لارې گرځنده ټلیفون ته لاسرسی لری ، د ۱۰ څخه ۶ افغان میرمنې د معلوماتو د تر لاسه کولو په خاطر گرځنده ټلیفون ته لاسرسی نه لري. یوازې ۲ سلنه میرمنې اوس هم د عامه ترانسپورتي خدماتو څخه گټه نه شي اخستلی ، او په لارو کوڅو کښې د میرمنو پر وړاندې ډارونکي سلوک د اندیښنې وړ موضوع ده.

میرمنې په دومداره توگه د اقتصادي فرصتونو په لار کښې د سترو خنډونو سره مخ دي. ۸۱ سلنه افغان سوداگرې میرمنې د پورونو او مالي ملاتړ تر لاسه کولو په برخه کښې ستونزې لري ، او یوازې ۱۳ سلنه میرمنو د افغان دولت له لارې کاروباري فرصتونو ته لاسرسی درلود. په داسې حال کښې قانون د میرمنو د میراث د حقوقو د ساتنې ملاتړ کوي ، په حقیقت کښې ډیری میرمنې اوس هم د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو لپاره مبارزه کوي تر څو خپل حق تر لاسه کړي. د ۲۰۱۳ کال په مطالعه کښې چې په ۱۰ ولایتونو کښې تر سره شوې وه ، ۳۷ سلنه میرمنو د میراث خپل حق تر لاسه ، په داسې حال کښې ۸۹ سلنه نارینه د میراث خپل حق تر لاسه کړې وه. په داسې حال کښې چې ۶۵ سلنه میرمنې په کرنیزو چارو کښې بوختې دي ، اوس د هغوی یو کم شمیر د خپلې ځمکې څښتناني دي او په دغه برخه کښښې لږه ونډه لري ، یا پر هغوی کنټرول لري ، او یا یې گټه لاس ته ورځي. د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت یوازې ۴ سلنه میرمنې استخدام کړې دي.

افغانستان اوس هم د ټولنیزې سوکالۍ د پروگرامونو د شتون او یا د افغانستان زیاتره آسیب پذیره میرمنې ، د بیلګې په توگه په کور کښې د ښځینه مشرتابه ، کونتون ، او معیوبیت له ستونزو سره مخ دي. د اټکل له مخې په افغانستان کښې ۱,۵ میلونه کونډې میرمنې شتون لري ، چې هغوی د ژوند د بقا لپاره د کورنۍ د خوښې او یا ټولنیزو شبکو د ملاتړ څخه برخمنې دي. کوچیانې میرمنې په دوامداره توگه د زیات ستونزو سره مخ دي. په داسې حال کښې چې ۳۳ سلنه ښاري میرمنې د ولادت پر مهال د مسلکي پرسونل د خدماتو څخه گټه اخلي ، د کوچیانو میرمنو په منځ کښې دا اندازه یوازې ۱۳ سلنه ده. په داسې حال کښې کښې انجونو تر منځ د ولادت په اړه مرسته ۴۸ سلنه ده ، د کوچیانو انجونو تر منځ دا اندازه یوازې ۱۳ سلنه ده. پر دې سربیره ، دا چې دولت د میرمنود حقونو په اړه د عامه پوهاوي کمپاینونه تر سره کړی ، دا یو ډول منزوي کمپاینونه وو او د حکومت له لورې د کوم عمومي چوکاټ بر بنسټ د عامه پوهاوي کومه برنامه نشته.

پر دې سربیره ، په وروستیو کلونو کښې ، محافظه کارو کړیو کوښښ کړی چې په افغانستان کښې د میرمنو د حقوقو د تر لاسه کولو موضوع پر شا تګ سره مخ کړي. په ۲۰۱۲ کال کښې ، د افغانستان د علماو شورا ، چې یوه مذهبي مشورتي شورا ده او د هیواد نامتو ملایانو څخه تشکیل شوې ، یوه بیانیه خپره کړه چې په هغې کښې د میرمنو د حالت په اړه د ځینې مثبتو قواعد یادونه شوې ، چې له هغې جملې څخه دا خبره هم یاده شوې چې ښځه د ملکیت د لرلو ، ملکیت او سوداګرۍ ، د میراث حق د یادونې وړ دی "چې د اسلامي اصولو په رڼا کښې د میرمنې حق گڼل کیږي او همدارنګه په خپله خوښه د خاوند غوره کولو حق لري". په هر حال ، دې بیانیه کښې د یو شمیر مسئولیتونو یادونه هم شوې او زیاته کړې یې ده چې "قران کریم د سورة النساء په لمړي او ۳۴ آیات کښې داسې یادونه شوې چې سړي بنسټ جوړوي او میرمنې دویمي حیثیت

لري ". د میرمنو د ګرځیدو او راګرځیدو په اړه هم د اغیز لرونکو احکامو یادونه هم شوې ده یعنې "دا چې میرمنې باید د پردیو سړیو سره په بیلا بیلو ټولنیزو حالاتو کښې ، لکه تعلیم ، سودا را نیولو ، دفتري او د ژوند نورو برخه کښې یو ځای سفر او کار و نه کړي " ، او دا چې "د شرعي محرم پرته بل چا سره چیرې ولاړه نه شي". حامد کرزي په لمړي وخت کښې ددې اعلامیي ملاتړ و کړ ، په داسې حال کښې د دې اعلامیي انګلیسي متن د ارګ د انټرنټ له صفحې او ایستل شو او د پښتو او دري متنونه په خپل ځای پاته شول[4]. پر دې سربیره ، په ۲۰۱۴ کال کښې ، افغان پارلمان یو قانون منظور کړ چې خپلوان نه شي کولای د یو بل پر وړاندې شاهدي ورکړي ، ځکه چې دا به کورني خشونت ھ له نظرد قانوني اصل په اړه سخت عواقب و لري ، خو حامد کرزي د دې قانون په عملی کیدو سمدلاسه بندیز و لګاوه.[5]

د ملي مصالحې ، عمومي عفوې او ملي ثبات قانون په ۲۰۰۷ کال کښې منظور شو ، سره له دې چې حامد کرزي ژمنه چې د دې قانون د عملي کیدو مخه ونیسي. دا لایحه په ۲۰۰۸ کال د غږ او غوړ پرته په ملي جریده کښې چاپ شوه ، او د یو قانون بڼه یې خپله کړه ، مګر په ځرګنده توګه د ۲۰۱۲ کال پورې تایید نه شوه. [6] په داسې حال کښې چې دا قانون د افغان دولت په مخالفینو غږ کوي چې د سولې له بهیر سره یو ځای شي ، او همدرانګه د پردې لاندې د موقتې اداري تر جوړیدو د مخه ټولو سیاسي ډلو او ګوندونو ته چې په جګړو اخته وو ، د عمومي عفوې اعلان کوي. [7] دا افرادو ته دا اجازه ورکوي چې خپلې قضایا را برسیره کړي ، خو د افغانستان شرایطو کښې دا کار عملا د تصور وړ نه دی. [8] په داسې حال کښې چې دا قانون تر ډیرې کچې په لوړه سطحه په پیښو کښې شریکو خلکو باندې عملي کیږي ، کولای شو په عمومي ډول هغه د یو خنډ په توګه په محلي سطحه د سولې او جګړې موضوعات په مختلفو برخو کښې د افغانانو او دولت تر منځ د بې باوریو د رامنځته کولو او همدارنګه د هغه چا پر وړاندې چې د میرمنو پر وړاندې په جنایت تورن دي ، د بشري حقوقو له نظره د اختنو پوښتنو په لار کښې د یو خنډ په توګه را ځرګند شي.

[4]آن ویکنز ، "د هدف د لاسه ورکول" په سویډن کښې د ښځو حقوق ته ژمنتیا ، په افغانستان کښې سوله او امنیت ، کیوینا ځخه ترکیونیا پوري ، د ۱۳۲۵ کال عملیات ، او د افغانستان لپاره د سویډن د مرستو موسسه، نومبر، ۲۰۱۲ " http://kvinnatillkvinna.se/en/files/qbank/2dace78f80bc92e6d7493423d729448e.pdf.

[5]الیزابت کامیرون او ډاکټر جوریت کمنګا ، "د بندو دروازو تر شا: د افغانستان راتلونکې د تعیینولو په برخه کښې د میرمنو د غږ د مخنیوي خطر ،" آکسفام، ۲۰۱۴، http://www.oxfam.org/sites/www.oxfam.org/files/file_attachments/bp200-behind-doors-afghan-women-rights-241114-en.pdf.

[6]"افغانستان وینا — د جنګي مجرمینو د بخښنې لپاره وضع شوی قانون ،" نیویارک تایمز ، ۱۶ مارچ ، ۲۰۱۰، http://www.nytimes.com/2010/03/17/world/asia/17kabul.html?_r=0.

[7]هماغه ځای.

[8] "افغنستان: د عفوې د قانون لغو ، " هویمن رایټ واچ ، د مارچ ۱۰، ۲۰۱۰, http://www.hrw.org/news/2010/03/10/afghanistan-repeal-amnesty-law.

# د ۲۰۱۴ کال د راپور پانه

د دغه پرمختګونو او لاسته راوړنو تر څنګ ، د دغې څیړنې په مقصد په مجموعي توګه ۱۵۴ میرمنې چې مرکه ور سره شوې ، د حکومت کړنې د هغه د کړو ژمنو او د جنسیتي یوشانوالي په رڼا کښې چې له میرمنو سره یې کړې وې د (+C) درجه ورکړې ده. دا ژمنې د سولې په بهیر ، امنیت ، روغتیا ، ښوونه او روزنه ، عدالت ته لاسرسی ، د میرمنو پر وړاندې تاو ترخوالی ، سیاسي ګډون ، سرچینو او منابعو ته لاسرسی ، اقتصادي فرصتونه ، د آسیب پذیره ډلو څخه ملاتړ ، او د عامه پوهاوی لوړتیا په اړه شوو ژمنو څخه عبارت دی. د حکومت د سولې بهیر ، امنیت ، عدالت ته لاسرسي ، د میرمنو پر وړاندې تاو تریخوالي ، د میرمنو سیاسي ګډون ، سرچینو او منابعو ته لاسرسی ، اقتصادي فرصتونو په برخه کښې د (C) یا (+C) درجه ورکړل شوې او د آسیب پذیره ډلو څخه ملاتړ په اړه د (-C) درجه ورکول شوې دي.

| د سولې بهیر | C+ |
|---|---|
| د سولې په ملي جوړښتونو کښې د میرمنو ونډه | C |
| د سولې په ملي بهیرونو کښې د میرمنو سره مشوره | C |
| د سولې په ملي بهیرونو کښې د میرمنو حقوقو او اړتیاو ته پاملرنه | C+ |
| د سولې په ملي بهیرونو کښې د میرمنو پخوانیو محرومیتونو ته پاملرنه | C+ |
| د سولې په ملي جوړښتونو کښې د میرمنو بوختیا | C+ |
| د میرمنو سره د سولې په محلي بهیرونو کښې مشوره | C |
| د سولې په محلي بهیرونو کښې د میرمنو حقوقو او اړتیاو ته پاملرنه | B- |
| د سولې په محلي بهیرونو کښې د میرمنوپخوانیو محرومیتونو ته پاملرنه | C |
| د پخوانیو جګړه مارانو د سولې د بهیر سره د یو ځای کیدو په بهیر کښې د میرمنو اړتیاو ته پاملرنه | C |

| امنیت | C+ |
|---|---|
| د فزیکي مصئونیت او امنیت له نظره د میرمنو او انجونوساتنه | C- |
| امنیتي فعالین ، د میرمنو د حقوقو په اړه پوهاوی | B- |
| امنیتي فعالین ، د میرمنو د حقوقو ساتنه | C |
| په امنیتي سکتور کښې د سړیو او میرمنو لپاره د کار برابر فرصتونه | C+ |
| پد تیرو پنځو کالو په پرتله په افغان ملي پولیسو کښې د میرمنو اندازه | B |

| روغتیا | B- |
|---|---|
| اساسی روغتیایي خدماتو ته د میرمنو لاسرسی | B- |
| په حکومتی مراکزو کښې په کار پوهو روغتیایي ښځینه کارکونکو شمیر | C+ |
| د تیرو پنځو کلونو په پر تله په کار پوهو روغتیایي ښځینه کارکونکو شتون | B |
| حکومتي روغتیایي مراکزو ته د میرمنو لاسرسی | B- |
| د آسانتیاو له نظره د میرمنو اړتیاو ته پاملرنه | B |
| د ستراتژیو او پلان جوړونې په اړه د میرمنو پوهاوی چې کله باید ښځه کوچنیانو و لري | C- |
| هغه ولادتونه چې په کار پوهو ښځینه متخصصو کارکونکو له خوا مرسته ور سره شوې ده | C |
| د تیرو پنځو کلونو په پر تله د زیږون پر مهال د مړینې اندازه | B |
| د عاطفي او رواني نظره حکومت له لوري د مسلکي روغتیایي ملاتړ شتون | B- |

| شوونه او روزنه | B- |
|---|---|
| د ښوونې او روزنې د ثانوي سطحې پورې د انجونو د شمول اندازه | B- |
| د ښوونې او روزنې د ثانوي سطحې پورې د هلکانو د شمول اندازه | B |
| د لمړنۍ او ثانوي دورې په کچه د انجونو اړتیا ته پام | B |
| هلکانو او انجنو لپاره د تعلیم مساوي آسانتیاوې برابرول | B- |
| د ښځینه ښوونکو شته والي | C+ |
| د تیرو پنځو کلونو په پر تله د ښځینه ښوونکو شته والي | B |
| د ښځینه لایقو ښوونکو په اړه د حکومت کوښښونه | C |
| د انجنو لپاره د پوهنتون د آزموینې د تیارۍ کورسونو تیارول | C- |
| د میرمنو لپاره د پوهنتون د آسانتیاو په اړه پاملرنه | C+ |
| د میرمنو د لوست د کچې ښه والي | B |
| د میرمنو لپاره د لوست د زده کړې کورسونو د اړتیا په اړه پاملرنه | B |
| د میرمنو او انجونو لپاره د اسلامي ښوونې او روزنې شتون | B- |

| عدالت ته لاسرسی | C+ |
|---|---|
| د میرمنو او انجونو قانوني ساتنه | B- |
| د دولت د عدلي ارګانونو له لورې میرمنو او انجونو د حقوقو ساتنه | C+ |
| د قانون پر وړاندې د سړیو او میرمنو یو شانوالی | C+ |
| د میرمنو لپاره دولتي عدلي ارګانونو ته لاسرسی | C |
| د میرمنو لپاره دولتي عدلي ارګانونو ته د لاسرسی مصئونیت | C+ |
| د میرمنو لپاره د قانونِ ملاتړ شتون | C- |
| د قاضیانو ، څارنوالانو او نورو عدلي ارګانونو له لورې د میرمنو ساتنه | C+ |
| د میرمنو د اړتیاو او علاقه مندیو له نظره د دولتي عدلي ارګانونو پاملرنه | B |
| د دولتي ښځینه عدلي کارکونکو شتون | C |

| د میرمنو پر وړاندې تاو تریخوالی | C+ |
|---|---|
| د میرمنو لپاره د فزیکي ، رواني او جنسي تاو تریخوالی قانوني تحفظ | C+ |
| د محلي سوء استفادې له نظره د ښځینه قربانیانو لپاره دولتي ملاتړ | C- |
| د هغو میرمنو لپاره چې د محلي یا کورني تاو تریخوالي قرباني شوي د امن ځای له نظره د دولتي اسانتیاو شتون | C+ |
| د میرمنو څخه د محلي سوء استفادې په تور آختې پوښتنې | B- |
| په بدو کښې د ورکولو مروجه تجارب | C |
| د واده کولو په اړه د میرمنو د ردولو واک | B |

| په سیاسي بهیر کښې د میرمنو ګډون | C |
|---|---|
| په محلي سطحه په سیاسي ادارو کښې د میرمنو ګډون | C |
| په ولایتي سطحه په سیاسي ادارو کښې د میرمنو ګډون | D |
| په ملي سطحه په سیاسي ادارو کښې د میرمنو ګډون | D |
| د ښځینه رایو ورکولو د مرکزونو لپاره د دولت له خوا د امنیت تامین | C |
| د ښځینه اړتیاو په نظر کښې نیولو سره د رایې ورکولو مرکزونو ته پاملرنه کول | B |
| د رایو مرکزونو تر موقعیت پورې میرمنو ته د دولت له خوا د ترانسپورتي آسانتیاو برابرولو کوښښونه | C |
| د ښځینه رایه ورکونکو لپاره د رایو مرکزونو په اړه د معلوماتو برابرولو دولتي کوښښونه | C+ |

| سرچینو او خدماتو ته لاسرسی | C |
|---|---|
| د ښځنلو پاکو اوبو ته د میرمنو لاسرسی | B |
| معلوماتی ټکنالوژی ته د میرمنو لاسرسی | C |
| برېښنا ته د میرمنو لاسرسی | C+ |
| د میرمنو د اړتیاو په نظر ګي نیولو سره د سرچینو برابرول | D- |
| د میرمنو او انجنو لپاره د عامه ترانسپورتي خدماتو شتون | C |
| د میرمنو او انجنو د عامه ترانسپورتي خدماتو مصئونیت | C+ |
| د سرچینو د استعمال په اړه په ټولینزه تصمیم نیونه کښې د میرمنو شریکیدل | C |
| په ټولنیزه بیا آبادی او ټولینزه تصمیم نیونه کښې د میرمنو شریکیدل | C |

| اقتصادي فرصتونه | C |
|---|---|
| د ښځینه سوداګریزو پرګرامونو څخه دولتي ملاتړ | C |
| د دولتي پوستونو په اړه مثبت اقدام | C |
| د دولت له خوا د میرمنو په دندو ګمارل | C+ |
| د میرمنو لپاره د زده کړې او ښووني روزني د اندازې د دولت کوښښونه تر څو په روغتیایي او ښوونیزه برخه کار وکړي | C+ |
| د دولت له لورې د هغه میرمنو لپاره چې کروندو کښې په کار بوختي دي ، عاید د لاسته راوړلو فرصتونه برابرول | C |

| آسیب پذیره ډلې | C- |
|---|---|
| غریبو ښځینه د کور مشرانو ته دولتي ملاتړ برابرول | C |
| کوچیانو میرمنو ته دولتي ملاتړ برابرول | D+ |
| خدماتو ته د معیوبو میرمنو لاسرسی | C |
| د دولت له لورې معیوبو میرمنو ته د د حرفوي زده کړو اقتصادي فرصتونو برابرول | C |
| د داسې پالیسیو او پروګرامونو په پام کښې نیول چې د کونډو میرمنو اړتیاوې په پام کښې ولري | D+ |

| د عامه پوهاوي لوړول | B- |
|---|---|
| د سړیو او میرمنو ترمنځ د میرمنو د قانوني حقوقو په اړه د عامه پوهاوي لوړولو کوښښونه | C+ |
| د سړیو او میرمنو ترمنځ عدالت ته د میرمنو د لاسرسی په اړه د عامه پوهاوي لوړولو کوښښونه | C+ |
| د سړیو او میرمنو ترمنځ عدالت ته د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالی په اړه د عامه پوهاوي لوړولو کوښښونه | C+ |
| د سړیو او میرمنو ترمنځ د میرمنو او انجنو لپاره د تعلیم ورکولو په اړه د عامه پوهاوي لوړولو کوښښونه | C+ |
| د سړیو او میرمنو ترمنځ په سیاست او ټاکنو کښې د میرمنو د ګډون په اړه د عامه پوهاوي لوړولو کوښښونه | B- |
| د سړیو او میرمنو ترمنځ د سولې په بهیر کښې د میرمنو د ګډون په اړه د عامه پوهاوي لوړولو کوښښونه | C+ |

# سریزه

لکه څنګه چې افغانستان "د انتقال لسيزې ته داخليږي"، د افغان ميرمنو پر حالت او آيا دا چې نړيوالې ټولنې په خپلو ژمنو عمل کړی يا يې خپلې ژمنې شا ته غورځولې دي، ډيرې زياتې خبرې کيږي. په هر حال، د يوې لسيزې په موده کښې د اساسي قانون او حکومتولۍ سيستم جوړيدل، او د ميرمنو د وزارت د تاسيس سره سره بيا هم د افغان ميرمنو سره د مختلفو کړو ژمنو په اړه لږې خبرې کيږي. افغانستان د يو سخت سياسي او امنيتي حالت څخه د لا زيات خپلواک او په خپله لاس تنظيم شوی حکومتولۍ سيستم د نړيوالو فعالينو د لږې تخنيکي مرستې په صورت کښې انتقال مومي د افغانستان د حکومت کړنې او پرمختګ د ميرمنو سره شوو ژمنوعملي کيدلو اهميت مخ په زياتيدو دی.

د ۲۰۰۱ کال را په دې خوا، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت تر ۲۳۰۰ د افغانستان د ميرمنو سره څرګندې يا په قوانينو کښې د جنسيتي يو شان والي، لوظنامې او هوکړې، پاليسۍ، او ستراتژيک اسنادو له مخې ژمنې کړې دي، دا هغه شمير دی چې په هغو کښې بې شميره شوې شفاهي ژمنې چې په تيرو څوارلس کالو کښې شوې دي نه دي شاملې. په داسې حال کښې چې د خبرو په جريان کښې زيات توجه د افغانستان د ميرمنو د ملي عمل پلان پر بنسټ د دولت له لورې ميرمنو سره پر کړو ژمنو زيات ولاړ دی، دا سند يوازې په سطحې توګه د دغو شوو ژمنو باندې بحث کوي. دا ژمنې په پراخه اندازه ساحې، د ښوونې او روزنې څخه نيولې بيا تر روغتيايي خدماتو ته د لاسرسی تر پولې پورې او انترنتي خدمات او د اسلام په دين کښې د ميرمنو د حقوقو اړوند عامه پوهاوي تر پوښښ لاندې نيسي. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د صريحو قوي ژمنو، د هغه پرمختګونو په اړه چې د افغانستان د ميرمنو لپاره تر اوسه تر سره شوي دي د دې زياتو اهدافو په پوره کولو کښې پاته راغلی دي.

دا سند په يو شمير ساحو کښې د دولت شوو ژمنو لکه: د سولې بهيرونه، امنيت، روغتيا، ښوونې او روزنې، عدالت ته لاسرسی، د ميرمنو پر وړاندې تاو تريخوالی، سرچينو او خدماتو لاسرسی، سياسي ګډون، اقتصادي او په کار ګمارنې فرصت، د آسيب پذيره ډلو تحفظ او د عامو وګړو ترمنځ د عامه پوهاوي لوړول شامل دی. دا د افغان ميرمنو له نظره په دې ټولو ساحو کښې د پرمختګ او شاته تګ، او د هغې سروې له مخې چې د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي د موسسې (EPD) غړو د ميرمنو د ولايتي شبکې (PWN) سره د هيواد په پنځو ولايتونو کښې سره شوې، ارزونه کوي چې د هغوی سره د انترنت له لارې را ټولو شوو معلومات او مهمو معلوماتي مرکو له لارې لاسته راغلي دي يو ځای شوي دي. په هره ساحه کښې چې ژمنه يې شوې ده، د افغانستان اسلامی جمهوريت ته د هغو ميرمنو له خوا چې مرکه ورسره شوې يوه درجه ورکول شوې ده. تر هغوې وروسته بيا يوه ژور تحليل او يو مثلث ډوله څيړنه چې ربښتوني معلومات لری د دولت د پرمختګونو او کړنو په اړه صورت نيولای دی. دا څيړنه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت برياليتوبونه په ګوته کوي او په ور ته وخت کښې همدارنګه د هغو ساحو په نخښنه کولو کار ته چې په راتلونکي کښې اصلاحاتو ته اړتيا لري، دوام ورکوي.

د دولت د ژمنو د پرمختګ د معلومولو د يو اساس په توګه، د دې راپور مقصد دا دی تر څو دا معلومه کړای شي چې د دولت د ۲۰۰۱ څخه را په دی خوا په دغه برخه کښې څومره لاره وهلې ده، او کومې ساحې ډيرې پاملرنې او اصلاحاتو ته د پرمختګ په خاطر اړتيا لري. د سولې او دموکراسۍ د يو شانوالي موسسه هر کال به د ميرمنو د ولاتي شبکې له لارې په افغانستان کښې د جنسيتي يو شانوالي اړوند يو راپور تيار کړي او دا يو کلن راپور پاېه به د څارنې د يوې وسيلې په توګه و کارول شي. دا کار مدني ټولنو، د افغانستان دولت او نړيوالې ټولنې ته توان ورکړي چې د حکومت څخه د افغان ميرمنو سره د هغه کړو ژمنو او جنسيتي شانوالي په اړه و پوښتي. دا کار به د څارنې او ارزونې د بهير لپاره د يوې وسيلې په توګه کار ورکړي چيرې چې به پرمختګ او ادارک کښې د بدلون په اړه يو څوک و يو هيدای شي او دا به هم معلومه شي چې کومې ساحې زياتې توجه او پاملرنې ته اړتيا لري.

# کړنلارې

دا څيړنه به يوې څو اړخيزې کړنلارو ته اړتيا و لري، چې د هغه څخه په دفتر کښې موجودو امکاناتو او د څرنګوالي له نظره مهمو معلوماتي مرکو او همدارنګه د مقدار د معلومول يوه سروې شامله وي. په دفتر کښې موجودو امکاناتو له لارې سروې به د ۸۰ څخه زياتو قوانينو، پاليسيو، ستراتژيو، قراردادونو او هوکړه ليکونو د يوې هر اړخيز مرور له لارې چې د افغانستان دولت له ۲۰۰۱ کال را په دې خوا جوړ کړي دي، پيل شي. دا اسناد د ميرمنو، انجونو، يا جنسيتي يو شانوالي له نظره مطالعه شي. دا ژمنې به د يوه سند په بڼه راټولې او بيا به د سکتور او موضوع له نظره له يو بله بيلې کړای شوې.

د دولت له لورې د شوو ژمنو په يوه سند کښې راټوليدل او ادارک د معلومولو سروې تر سره شوه. په سروې کښې يوولس برخې شاملې وې. د دولت له لورې پورتنيو يادو شوو ساحو کښې د شوې هرې ژمنې لپاره د پنځو څخه تر دولسو پورې پوښتنې تيارې شوې وې او پردې سربيره د نفوسو د حدودو په اړه د معلوماتو يو بله اضافي برخه هم په دې لړۍ کښې شامله وه.

د اندازې د معلومولو سروې د ولايتي ميرمنو د شبکې د ۱۵۴ کسانو سره د باميانو، ننګرهار، هرات، فارياب او کندوز ولايتونو کښې تر سره

شوه.[9] دا سروي د ولايتي ميرمنو د شبکې د ۹۲ سلنه کره معلوماتو او ۵ سلنه سهوو په نظر کښې سره تر سره شوې ده ، استازيتوب کوي.

د هرې پوښتنې ځواب د شميره لړونکې نخښې پواسطه يعنې يو پنځه نکاتې لکيرټ دوله (Likert-type) د اندازه کولو وسيله چې "نه پوهيږم/بهتر ګنم ځواب ور نه کړم" يو غوروای هم ور زيات شوی دی. تر ټولو مهمه دا ده ، چې د ميرمنو ځخه دا نه دي غوښتل شوي چې حقيقې درجه ورکړي ، بلکه د هغه پر ځای يې د ځوابونو يوه ټولګه د ۱ ځخه د ۵ پورې نمرې ورکولو له لارې وړاندې کړې ده ، چې ۱ نمره ورکول د "ډير زيات" او ۵ شميره د "بلکل نه" استازيتوب کوي. له دې ځخه د اندازه کولو داسې توپير رامنځته شو چې د دولت د ټولو يوولسو ساحو چې ژمنې يې شوې دي او د هرې پوښتنې لپاره د متوسطې اندازې او معيار توپير محاسبه کړای شو. د درجې ورکولو يوه مقياس رامنځته شو چې په هغه کښې حتی يو لږ هر متوسط ارزښت يو مترادفې درجې سره سمون لري تر څو هر يو ته د (A+) تر (F) يو مناسبه درجه ورکړل شي. د هرې برخې لپاره په مجموعي ډول د هر متبادل مقياس لپاره يوه درجه محاسبه شوې ده او هر يوې ځانله مادې لپاره د متوسط مقدار د درجه بندی له مخې د دې مقياس ځخه کار واخستل شي.

د دې راپور لپاره ، د (B) يوه لوړه درجه ورکول کيدای شي په عمومي توګه کيدای شي د يوې مثبتې ارزيابۍ د درک سبب شي ، چې دا به د بهبود انعکاس ورکونکې وي مګر په هر صورت د يوې د پام وړ پرمختګ باعث وګرځي. د (B-) او هغه درجې چې د (C) په لړۍ کښې شاملې دي د هغو ساحو انعکاس ورکونکې ده چيرې چې حکومت نه دی توانيدلی د پام وړ مثبت پرمختګ و لري او ځواب ورکونکو داسې ګڼلې چې پرمختګ رامنځته شوی ، يا حالت کښې هيڅ بدلون نه دی راغلی. د (C-) يا د هغه ځخه ټيټه درجه داسې ګڼل کيږي چې د پام وړ پرمختګ نه دی راغلی او يا کوم ځه چې را منځته شوی د افغان ميرمنو په ورځينې ژوند کښې يې کوم ګټور بدلون يې نه دی رامنځته کړی.

د داخلي امکاناتو ځخه په استفاده ځيرنه د درې ډوله ګډون کونکو د درک او نظرياتو پر بنسټ په هره مهمه ساحه کښې د نورو ميکانيزمونو له لارې د تحليل او تجزيې او پرمختګ د معلومولو لپاره ، په داسې حال کښې چې د ګډونوالو نظر ته لمړيتوب ورکول کيده ، تر سره شوه.

**د درجې ورکولو مقياس**

| درجه | له ځخه | تر پورې |
|---|---|---|
| A+ | ۱ | ۱,۲ |
| A | ۱,۲۱ | ۱,۵۹ |
| A- | ۱,۶ | ۱,۸ |
| B+ | ۱,۸۱ | ۲ |
| B | ۲,۰۱ | ۲,۳۹ |
| B- | ۲,۴ | ۲,۶ |
| C+ | ۲,۶۱ | ۲,۸ |
| C | ۲,۸۱ | ۳,۱۹ |
| C- | ۳,۲ | ۳,۴ |
| D+ | ۳,۴۱ | ۳,۶ |
| D | ۳,۶۱ | ۳,۹۹ |
| D- | ۴ | ۴,۲ |
| F | ۴,۲۱ | ۵ |

هغه سرچينې چې ډيره مراجعه ور ته شوې د راپورونو او يا سروې ګانو ځخه عبارت دی چې د ملګرو ملتو ، نړيوال بانک ، يا نړيوالو فعالينو ، نړيوالو يا ځايي نا دولتي موسسو يا خپله د افغان اسلامي جمهوري دولت له لورې تيار شوو موجودو معلوماتو پر بنسټ تيار شوي دي. پر دې سربيره ، تر کومه ځايه يې چې امکان درلود ، ارقام او احصائيه د ځرنګوالي او ادراک له مخې په ځيرنه ولاړ دي ، دا په خپله د د دې اجازه ورکوي تر څو د يو مستقيم تعامل له مخې د هغو مسائلو سره چې د ګډون کونکونو له خوا په خپله ټاکل شوي او د موضوعاتو په اړه د خپل نظر او لمړيتوب پر بنسټ توضيح شوي دي. دغه يو شمير دخيلې مراجع لکه د افغان دولت اړوند او نړيوال دخيل اړخونه چې په مرکزي سطحه مرکه ور سره شوي ، عبارت دي له: د ښوونې او روزنې وزارت (MoEd)، د عامه روغتيا وزارت (MoPH)، د ملګرو ملتونو د کوچنيانو صندوق (UNICEF)، د اروپايي ټولنې د پوليسو ماموريت (EUPOL)، د ملګرو ملتو پرمختيايي پروګرام (UNDP) او د جاپان د نړيوال مرستو اداره (JICA).

# د ميرمنو د ولايتي شبکې په اړه معلومات

د سولې او دموکراسۍ د يو شانوالی د موسسې د ميرمنو ولايتی شبکه PWN ، چې پخوا (د جنډر (جنسيتی) يو شانوالی د ټولنې په نامه يادېده) په ۲۰۱۲ کال کښې په دې هيله چې د ټولنې د بيلا بيلو برخو سره تړلې ميرمنې په يوه ټولنه کښې د زده کړې او پرمختګ لپاره سره را ټولې کړې او په خپلو منځو کښې او خپلو ټولنو کښې د نورو ډلو سره يو ائتلاف او يوالی رامنځته کړي. د ټولنې غړو د ګډ کار په نتيجه کښې په افغانستان کښې د سولې او انتقال د بهير او د ميرمنو پر ژوند د هغوی د اغيز ځخه دا زده کړل چې په ټولنه کښې د سولې ترويج ، د شخړو حل او د ميرمنو پورې اړوند موضوعات په بنسټيزه کچه و ځاري. دې شبکې

[9] د کندهار ولايت د تخنيکې ستونزو له امله په دې مثال کښې د سروې لپاره نه وه شامل شوی.

دا هم په ګوته کړه تر څو هغه موضوعات په ګوته کړي چې د ښځو په پر مختګ اغیز لري او ور ته حل لاره پیدا کړي.

د میرمنو د ولایتي شبکې غړو او پراخه ټولنې تر منځ د ټولنیز ملاتړ شبکه ده ، تر څو هغوی ته لارښونه ، روزنه ، مشوره ورکړي ، او پر خپل منځ کښې د مرستې کولو لپاره د باور فضا را منځته او پر نورو د اتکاء څخه ځان خلاص کړي. په داسې حال کښې محلي نا دولتي اداري او پروژې ډیرې کمزورې دي ، د میرمنو ولایتي شبکې طرحه دا کوښښ کوي تر څو داسې یوه ټولنه رامنځته کړي چې هغه په رسمي سهولتونو یا مالي مرستو پرمخ تلونکو فعالیتونو له اتکاء څخه بې غمه شي.

د میرمنو د ولایتي شبکې مقصد د یوې داسې شبکې جوړول دي چې انفرادي میرمنې یو بل ته لاسونه ورکړي تر څو د خپلو نوښتونو پر بنسټ د پروګرام ملکیت تر لاسه او هغه څه تر سره کړي چې د ټولنې لپاره مهمې ستونزې ګڼل کیږي. کله چې د غړو تر منځ د باور فضا را منځته شوه ، نو بیا هغوی کولای شي د میرمنو د پرمختګ لپاره نورې ډلې پیدا او یو یو والی رامنځته کړي. د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالی موسسه پر خپل ځان د اتکاء له لارې د میرمنو د ولایتي شبکې د غړو ملاتړ کوي ، چیرې چې د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالی موسسه د هرې شبکې د جوړیدو په برخه کښې مرسته کوي او د میرمنو ولایتي شبکه غړو ته زده کړې او تخنیکي ملاتړ برابروي ، نور بیا د هغوی غړو ته اجازه ورکوي تر څو د خپلو اهدافو او لمړیتوبونو په اړه تصمیم و نیسي ، په داسې حال کښې د هغوی د وړتیا د لوړولو او بهیرونو په برخه کښې ملاتړ کوي.

د دې ټولنې له لارې ، د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالی موسسه همدارنګه د مباحثاتو او خبر اترو ، په محلي او ملي سطحه د کمپاینونو د تنظیمولو لپاره یو مناسیب ځای برابر کړی دی. د سولې او دموکراسۍ د یو شانوالی موسسې د ډیرو کفرانسونو لکه میرمنې او ټاکنې ، او په لویه جرګه کښې د میرمنو د ونډې په اړه ، کورېه توب کړی دی. د میرمنو د ولایتي شبکې غړو  د فعالیتونو لپاره د ملاتړ پیدا کولو ، او دا ډاډ ترلاسه کول چې د زدکړو د برنامو او فعالیتونه چې دوی یې په ټولنه کښې سرته یې رسوي او په ملي کچه بهیرونو تر منځ پیوند شتون لري کوښښ کړی دی. د میرمنو ولایتي شبکې د فعالیتونو یو بل مهم جزء د دولتي کارکونکو او جوړښتونو د متقابلو اړیکو آسانتیا را منځته کول دي. په غونډو کښې ګډون کونکي د بشر د حقوقو رئیسان ، د ولایتي شورا غړي ، اړوند وزارتي استازی ، او پولیس وي. په غونډو کښې د دولتي کارکونکو د ګډون څخه د ډاډ تر لاسه کولو په خاطر د میرمنو ولایتي شبکې ټولنه په ټولنیزه سطحه د دولت او میرمنو ترمنځ کاري اړیکې برابروي.  فعلا په ننګرهار ، کندهار ، هرات ، کندوز ، فاریاب او بامیان ولایاتونو کښې د میرمنو شبکې شتون لري چې ټول درې سوه غړي لري.

# د نفوسو مطالعه

د ۱۵۴ ځواب ورکونکو چې د دې څیړنې لپاره مرکې ورسره شوي دي ، ټولې میرمنې وې. ۲۳ سلنه ۲۰ کاله یا تر هغه لږ ، او ۳۱ سلنه د ۲۱ او ۳۵ کالو تر منځ  عمرونه درلودل. ۶ سلنه د ۴۶ او ۵۵ ترمنځ یا تر هغو زیات عمرونه درلودل ، ۱۹ سلنه خپل عمرونه نه دي ښودلي. ۳۹ سلنه نا واده کړې میرمنې ، کونډې میرمنې او ۲۸ سلنه د خپل واده حال نه دی ویلی د هغو چې مرکې ورسره شوي دي ۱۹ سلنه یې پښتنې ، ۲۹ سلنه یې تاجکې ، ۱۴ سلنه یې هزاره ، ۱۰ سلنه یې ازبکې ، ۲ سلنه یې ترکمنې او ۲۶ سلنه میرمنو خپل قومي هویت نه دی څرګند کړی.

د ۱۱ سلنه ځواب ورکونکو چې د څیړنې پرمهال مرکې ور سره شوي دي نالوستې ، ۲ سلنه لوستې چې ښوونځې ته نه دي تللې. ۴ سلنه یې لمړنی ښوونځی سرته رسولی ، ۱۰ سلنه د منځنۍ دوره او ۳۵ سلنه یې د لیسې دوره او ۱۹ سلنه یې د لوړو زده کړو ۴ کلنه دوره  پای ته رسولې ده. په هر حال ، ۳۵ سلنه خپله د زده کړو اندازه نه ده ښودلې. ۱۸ سلنه چې مرکه ورسره شوې په خصوصي سکتور کښې تنخواه لرونکې ، ۱۷ سلنه په دولتي سکتور کښې کار کونکې وو. ۱۱سلنه په خپل شخصي کار بوختې وو ، نور ۴ سلنه په کور کښې د عاید د لاسته راولو په کارونو بوخت وو. یوازې ۵ سلنه ځان د کورنۍ د بې معاشه کارکونکې را پیژندلی دی او ۵ سلنه یې کار نه درلوده. ۱۸ سلنه یې هیڅ دنده نه درلوده یا یې نه غوښتل ځواب ورکړي.

په داسې حال کښې چې ۴۳ سلنه ځواب ویونکې چې د مرکې لپاره غوره شوې وې نه یې غوښتل خپل میاشتینی عواید څرګند کړي ، ۱۹ سلنه یې د میاشتې د ۳۰۰۰ افغانیو (۵۰ امریکایې ډالره)، ۲۴ سلنه یې د ۳۰۰۱ او ۱۰۰۰۰  (۱۷۵ امریکایي ډالر) تر منځ عاید ، ۱۱ سلنه د ۱۰۰۰۱ او ۱۵۰۰۰ افغانیو (۲۶۰ ډالرو)  تر منځ ، او ۳ سلنه یې د ۲۰۰۰۰۱ (۳۵۰ ډالرو) څخه پورته عاید درلود. ۵۴ سلنه داسې څرګنده کړه چې میرمنې د هغوی د کورنیو سره د عواید په لاسته راوړلو کښې مرسته کوي.

# محدودیتونه او ننګونې

دا مطالعه یو شمیر محدودیتونه لري. لمړی ، دا د ټولو افغان میرمنو استازیتوب نه کوي. د میرمنو ولایتي شبکه یوازې د افغانستان  په ۶ ولایتونو کښې کار کوي ، او یوازې په سیمه ایز ه سطحه کار کوي او سږ کال کندهار ولایت د دې کال د سروې څخه بهر پاته شوي . دا ځکه چې د سروې په تنظیم کښې یو څه تخنیکي ستونزو شتون درلود.. نو له دې امله د جنوبي برخې هیڅ نظریات په دې راپور کښې نه دي منعکس شوي. لکه څنګه چې د نفوسو د برخې د سروې څخه معلومیږي ، د میرمنو د ولایتي شبکې غړي ډیر تعلیم یافته خلک دي او د اقتصادي نظره تر نورو افغان میرمنو پر نسبت په اوسط ډول ډیرې فعالې دی ، او میرمنو د ولایتي شبکې ډیرې نورې میرمنې د هغو کورنیو سره تړاو لري چې میرمنې په اقتصادي لحاظ د خپلو کورنیو سره د نورو په نسبت مرسته کوي. د میرمنو د ولایتي شبکې غړې د مدني ټولنې  فعالې غړې دي او په خپلو ټولنو کښې د میرمنو د حقوقو ملاتړ کوي. له دې امله ، د یوې میرمنې په توګه چې ډیر اقتصادي ، تعلیمي او ګرځیدو راګرځیدو ته لاسرسی لري ، او داسې څرګندیږي چې د خپلو کورنیو ډیر ملاتړ ور سره دی ، نو د میرمنو ولایتي شبکې غړې نه شي کولای چې د ټول افغانستان د میرمنو د نظر استازیتوب و کړي.

د سروې په جریان کښې د پنځه نکاتي لیکریټ ډوله مقیاس کیدای شي د ځوابونو په برخه د شخصي تمایلاتو پر بنسټ محدودیتونه ولري. په هر حال ، پنځه نکاتي مقیاس په مساوي توګه د دوه مثبتو ځوابونو توزیع شوی وه ،  یو مستکف ځواب ، او دوه منفي ځوابونه تر څو پر تعصب د ولاړ تمایل مخه ونیول شي. سرچپه رمزونو څخه په بې ترتیبه توګه څخه کار اخستل شوی تر څو لمړنی او وروستنی ذکر کیدو تمایل کم کړای شي ، ځکه زیاتره ځواب ورکونکي علاقه لري چې لمړی او یا ورستی انتخاب خوښ کړي. پر دې برسیره ، سروې په خپله تیاره شوې وه (په دې معنا چې د سروې پاڼې د میرمنو ولایتي شبکې غړو ته ویشل شوې وې ، چا هغه په خپله ډکې کړې او بیا یې خپل کوآرډینیټر ته سپارلې وې) د ګډون کونکو د غیرې ضروری اغیز د مخنیوي لپاره چې یو شمیر به و غواړي په خپلو هم فکره دوستانو خپل اغیز پری باسي. په هر حال ، ۱۱ سلنه نا لوستي ځواب ورکونکي (چې تصور کیږي ۳۵ سلنه به وي د خپل تحصیل اندازه نه ده ښکاره کړې) ، د چا سره چې په شفاهي توګه د میرمنو د ولایتي شبکې د  کوآرډینټر پواسطه تنظیم شوې یا د میرمنو د ولایتي شبکې د غړو په ملاتړ تکمیل شوې وې ، کوم چې د میرمنو په ځوابونو اغیز درلودلای شي.

پر دې علاوه ، په افغانستان کښې زیاتره احصائې او ارقام اټکلي دي. افغانستان د ۱۹۷۹ کال را په دې په خوا په ملي سطحه د نفوسو احصایه نه ده را ټوله کړې ، نو له دې امله هغه معلومات چې په دې راپور کښې د بحث پر مهال وړاندې کیږي زیاتره په اټکلي توګه وړاندې کیږي ، په ځانګړې توګه هغه معلومات چې د طالبانو سقوط  څخه سمدلاسه وروسته وړاندې شوي. پر دې سربیره ، په پر تله شوی معلومات په ورته موضوع تل د یوې مرجع څخه لاس ته راځي ، چې دا په خپله د پر تله کولو اعتبار محدودوي. په هر حال ، د دې څیړنې له لارې ، کوښښونه شوي دي تر څو دا ډاډ تر لاسه شي چې معلومات د یوې باورې سرچینې څخه لاسته راغلي دي ، او هغه مقایسوي معلومات چې د عین سرچینې څخه لاسته راغلي دي یا تر سره شوې سروې چې هر ځای چې اړتیا یې ولیدل شي کاریدلای شي. د یادو شوو محدودیتونو په نظر کښې نیولو سره باید دا په پرتله کول مطلق سم و نه ګڼل شي ، بلکه د شواهدو له مخې نسبتا معلوماتي و ګڼل شي چې د میرمنو او جنسیتي برابری د مهمو شاخصونو په رڼا کښې د کار عمومي پرمختګ او / یا شاته تګ څرګندوي.

له دې محدودیتونو سره سره ، په داسې حال کښې چې دا څیړنه د ټولو افغانو میرمنو استازیتوب نه کوي ، بیا هم د دولت د کړنو په اړه د میرمنو د ادراک معلولومولو یوه ښه وسیله ده. یوه ښځه د رهبرانو په توګه د میرمنو د ولایتي شبکې غړې فعالې او په ټولنه کښې د لاسرسی وړ دي او د میرمنو د غوښتنو د یوې ترجمانې په توګه چې د افغان میرمنو د اړتیاو او ننګونو سره په تماس کښې دي.  د میرمنو د ولایتي شبکې غړې په محلي ، ولایتي ، او ملي سطحه پروګرامونه او ابتکارات تر سره کوي ، او دوی د افغان میرمنو ستونزو چې هره ورځ ورسره مخ دي او هغوی همدارنګه په پراخه کچه او په هر سطحه په افغانستان دولت کښې د پالیسیو او تجاربو سره سرو کار لري.

# د میرمنو او جنسیت اړوند د افغانستان د اسلامي جمهوریت عمومي کړنې

| د دولت عمومي کړنې:[10] | C+ |
|---|---|

په عمومي توګه ، هغه میرمنې چې د دې څیړنې لپاره سروې ورسره تر سره شوې ده حکومت ته یې د هغه د کړو ژمنو چې د افغان میرمنو او جنسیت د برابرۍ په اړه یې کړې دي ، (C+) درجه ورکړې ده. که په هغو ژمنو کښې د سولې پروسه کښې د میرمنو ونډه ، امنیت ، روغتیا ، ښوونه او روزنه د میرمنو پر وړاندې تاو تریخوالی ، سیاسي ګډون ، عدالت ته لاسرسی ، سرچینو او خدماتو ته لاسرسی ، اقتصادي فرصتونه ، د آسیب پذیره ډلو ملاتړ ، او عامه پوهاوي لوړوالی شامل دي.

په دې ۱۱ ډولونو کښې ، د دولت کړنې د روغتیا او ښوونې او روزنې ، او عامه پوهاوي له نظره په ډېر مثبت ډول (B-) ارزول شوي دي. حکومتي کړنو ته د سولې د بهیر ، امنیت ، عدالت ته لاسرسي ، د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي ، د میرمنو سیاسي ګډون ، سرچینو او خدماتو ته لارسي او اقتصادي فرصتونو په برخو کښې ټیټې درجې یعنې (C) یا (C+) ورکول شوې دي خو تر ټولو ټیټه درجه (C+) یې بیا د آسیب پذیره ډلو ملاتړ په برخه کښې تر لاسه کړې ده.

[10] اوسط=2.78, SD=.29

# د سولې بهیر

| عمومي کړنې:[11] | C+ |
|---|---|

افغان دولت د ميرمنو او جنسيتي برابرۍ په برخه کښې ډيرې ژمنې کړې دي ، او د سولې په بهير کښې د ميرمنو د لا زيات ګډون لپاره کوښښونه روان دي ، ځکه چې دا به د دې سبب وګرځي تر څو دا ډاډ تر لاسه شي ، چې د ميرمنو د حقوقو په برخه رامنځته شوی ماتيدونکې پرمختګ پر خپل ځای و ساتل شي او ميرمنې د "سولې قرباني نه شي". [12]

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په ملي انکشافي ستراتژۍ او د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل په ملي پلان ، او د سولې اړوند د لمړيتوبونو ملي پروګرام کښې د سولې او ملي مصالحې ، د نورو پاليسيو ، حقوقی ، او ستراتژيکو ژمنو تر څنګ ډيرې ژمنې کړې دي. د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل ملي پلان د ملګرو ملتو د امنيت شورا پر ١٣٢٥ مصوبه پوهيږي او د تطبيق ملاتړ يې کوي او په دې اړه خپل تعهد نوی کوي:

د اختلافاتو په مخنيوي ، حلولو او سولې رامنځته کولو ، د منو د مساوي ګډون پر اهميت ټينګار او د سولې او امنيت ساتلو په ټولو کوښښونو کښې بوختيا او د شخړو په مخنيوي او حل او فصل په تصميم نيولو کښې د هغوی د نقش د زياتوالي اړتيا.

دولت ويلي دي چې هغه د سولې په اړه د ښوونې او روزنې ستراتژۍ رامنځته کړې چې په هغې هغه نقش ته پاملرنه شوې وي چې ميرمنې يې سرته رسولای شي او داسې مفصله ستراتژۍ به جوړې کړي چې سوله ، مصالحه ، او عدالت به د عمل پلان کښې د ميرمنو شامليدل باوري کړي. د افغانستان اسلامي جمهوريت متعهد دی چې د انتقالي عدالت په مقصد د افغان دولت ، د افغانستان د بشر د حقوق خپلواک کميسون (AIHRC)کوښښ کوي تر څو ميرمنې را شريکې او د علمي مرکزونو او محلي ټولنې له لارې او د نظر د لاسته راوړلو د يو رښتونی ميکارنيزم په واسطه د ميرمنو نظر واخلي. حکومت دا هم ويلي دي چې حکومت به د شخړو د حل و فصل ، د مصالحې د کميسون ، او د مصالحې او منځګړيتوب په برخه کښې د ميرمنو د ګډون ملاتړ وکړي. بالاخره ، د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل ملي پلان ميرمنې د افغانستان د شخړې لمړنۍ قربانيانې ګڼي او د داسې يو پلان اعلان يې کړی دی تر څو د غرامت ورکولو داسې پروګرام ايجاد کړي چې ميرمنو ته يې ګټه و رسيږي.

د لمړيتوبونو ملي پروګرام په مشخصه توګه د سولې او مصالحې پروګرام تمرکز په افغانستان کښې پرسولې او بيا ادغام پر پروګرام ولاړ دی او دا روښانه کوي چې "د ميرمنو د پام څخه نه لويدونکې نقش د سولې د بهير له لارې ترويج او ودادمن شي." داسند ژمنه کوي تر څو دا ډاډ ترلاسه شي چې ميرمنو ته به د سولې په عالي شورا کښې ځوکۍ ورکول شي ، او افغان ميرمنې به د سولې او بيا ادغام په بهير کښې يو ټاکونکی نقش و لوبوي او دولت ته مشوره ورکوي چې سوله څنګه ترويج کړي. اعلاميه دا هم زياتوي چې ميرمنې به د سولې د عالي شورا او د سولې ولايتي شورا غړې به د لاسرسۍ په پيدا کولو ، مذاکراتو ، او شکايتونو د حل او فصل بهيرونو کښې پراخه ونډه ولري.

په مجموع کښې ، ميرمنې په دې برخه کښې دولت ته د سولې د بهير په اړه او په محلي او ملي کچه د (C+) درجه ورکوي. په فارياب او کندوز کښې ميرمنې د دولت د کړنو په اړه په دغو ولايتونو کښې د باميانو او ننګرهار په نسبت ډ ير مثبت نظر درلود ، او لږ تر لږه په هرات کښې هم مثبت وه. [13]

د مختلفو قومونو پورې تړلو ميرمنو تر منځ توپير ډير زيات وه [14] په داسې حال کښې چې د ازبکو او تاجکو په منځ کښې د تاجکو او هزاره ګانو پر نسبت د حکومت د کړنو په اړه زيات مثبت تصور موجود وه. [15]

د عمر ، عايد د اندازې يا تاهل له نظره د سولې لپاره د دولت کوښښونو چې د سولې او ميرمنو په برخه کښې تر سره کوي کوم څرګند توپير موجود نه وه. په هر حال ، د ښوونې او روزنې له نظره د ميرمنو په برداشت او نظر کښې د تعليم د سطحې د لوړتيا په سبب د دولت د کړنو په اړه توپير زيات د پام وړ وه ، چيرې چې ډيرو تعليم يافته ميرمنو له نظره د دولت کړنې ډيرې ضعيفې وي. [16]

[11] اوسط = 2.70 ، SD=.60

[12] ستيفني نيسان ، "د سولې بهبير او د افغانستان د ميرمنو راتلونکې." ملکي — نظامي ائتلافي مرکز ، ٢٠١٢.

[13] F(4, 99)=5.85, p<.001; باميان (17) M=2.75, SD=.59; هرات (26) M=3.04, SD=.39; ننګرهار (20) M=2.81, SD=.73; کندوز (20) M=2.52, SD=.54; فارياب (21) M=2.31, SD=.49

[14] F(5, 89)=5.41, p<.001

[15] پښتون (20) M=2.52, SD=.60; تاجک (39) M=2.99, SD=.54; هزاره (16) M=2.77, SD=.62; ازبيک (16) M=2.22, SD=.48; ترکمن (2) M=2.22, SD=.16; نور قومونه (2) M=3.06, SD=.39

[16] R=.277, p<.05

# د سولې ملي بهير

| | |
|---|---|
| د سولې په ملي جوړښتونو کښې د ښځو ګډون[17] | C |
| د سولې په ملي بهير د ښځو سره مشوره[18] | C |
| د سولې په ملي پروسه کښې د ښځو حقوقو اواړيتا و ته پاملرنه[19] | C+ |
| د سولې په ملي پروسه کښې د ښځوپخوانيو ستونزو ته پاملرنه[20] | C+ |

د لندن د کنفرانس وروسته په ۲۰۱۰ کال کښې ، ولسمشر حامد کرزي د يوه پلان اعلان وکړ چې د سولې يوه مشورتي جرګه را وغواړي او په هغو لارو چارو خبرې وکړي چې طالبان او نورې مسلحې مخالفې ډلې هم د سولې په بهير کښې را شريکې کړي. د سولې مشورتي جرګه د ۲۰۱۰ کال د جون په مياشت کښې د لويې جرګې په خيمه کښې را وبلل شوه چې په هغې کښې ۱۶۰۰ استازو په ديارلسو کتګوريو کښې ګډون کړی وه. په دغو استازو کښې د پارلمان غړي ، د ولايتي شورا غړي ، ديني علماء ، قومي مشران ، د مدني ټولنو استازو ، د ايران او پاکستان څخه افغاني کډوال ، شامل وو[21]. د سولې مشورتي جرګه کښې يوازې ۳۳۴ يعني (۲۰ سلنه) ښځو برخه درلوده.[22] سره له دې چې د نتايجو بررسۍ مختلفې پايلې لرلې ، د سولې د عالي شورا د جوړيدو فيصله يې و کړه.[23] او د سولې او بيا يو ځای کيدنې بهير ته مشروعيت ورکړ ، [24] کوم چې په ۲۰۱۰کال کښې پيل په دې هيله جوړشوی وه چې ټيټ رتبه جګړه ماران د محلي ټولنو سره يو ځای کړي او ته داسې هڅونکې او تشويقونکې تيار کړي چې د طالبانو ملاتړ پريږدي ، چې څرګند هدف يې يوې سياسي طرحې له لارې د سولې د بهير پلې کول وو. جرګې يوه فيصله وکړه چې په کښې راغلي دي: "د افغانستان خلک يوه عدلانه سوله غواړي ، کوم چې به د ټولو اوسيدونکو په ځانګړې ډول د ميرمنو او کوچنيانو حقوق خوندي کړي."[25]

په دې سروې کښې ، ميرمنو دولت ته په دې بهير کښې د ميرمنو د ګډون په برخه او همدارنګه د ښځو سره د سولې د بهير په اړه د مشورو په برخه کښې د C درجه ورکړه. د سولې عالي شورا د ۷۰ غړو له جملې څخه ۹ غړي لري. د سولې د عالي شورا يو غړې ګلالی نور صافی په ۲۰۱۲تينکار وکړ " دا زموږ مرسالت دی تر څو معلومه کړو چې د سولې په عالي شورا کښې ميرمنې څومره فعال نقش لري او نه دا چې زموږ د حضور څخه د شمير د پوره کولو لپاره کار واخستل شي." [26]

د سولې او بيا يو ځای کيدنې پروګرتم او دارالنشاء هم په ۲۰۱۱ کال کښې د جنډر د برابرۍ يوه پاليسي ترتيب کړه  چې هدف يې په دولتې چوکاټ کښې د سولې په بهير کښې د ميرمنو د ګډون ډيروالی وه.په هر حال ، يو وروستي راپور دا ښودلې چې په دولت کښې د ژمنو د لفاظۍ ، مذاکراتو ، او سولې د خبرو اترو  سره سره خبرو د ترلو دروازو شاته "د افغان ميرمنو خبرتيا ، نظر او ګډون پرته" صورت نيولای دی.[27]

د سولې او دموکراسۍ د يو شانولې د موسسې د يو پخواني راپور پر بنسټ ، د سولې عالي شورا او د مصالحې د بهير په اړه افغان دولت پراخه طرحه د لا ډيرو اعتراضونو لاندې پر مخ ځي ، ځکه چې د عامو خلکو او مدني ټولنو د ګډون څخه بې برخې ده ، او همدا چې په بهير کښې د نه روڼتيا له امله يې خپل اعتبار له لاسه ورکړی دی. دا کار د دې سبب شوی دی چې د دولتي سولې بهير څخو او مدني ټولنو تر منځ يو اندازه واټن را منځته شي ، چې په ځانګړې توګه د ميرمنو په اړوند د انديښنې وړ موضوعات لکه په تير لسو کالو کښې لاسته راغلي پرمختګونه د منځه ولاړ نه شي. [28]

ولې او بيا يو ځای کيدو يو کار کونکې وبلي دي چې  په ملي سطحه د سولې بهير د دولت د ورځې آجنداء نه ده ، او هغه ژمنې چې شوي د د هغهلپاره

---

[17] M=2.82, SD=.92

[18] M=2.94, SD=1.23

[19] M=2.64, SD=1.16

[20] M=2.75, SD=.98

[21] هغهٔ فيصله د سولې د ملي مشورتي جرګې په پای کښې و منله شوه"د سولې عالي شورا ، د جون ۴، ۲۰۱۰. http://www.hpc.org.af/english/index.php?______option=com_content&view=article&id=28&Itemid=12&option=com_content.

[22] ذرين حامد ،"د امنيت شورا د ۱۳۲۵ ګڼه پريکړه ليک:د افغانستان د مدني ټولنو د څارنې يو راپور ،" د افغاني ميرمنو شبکه او د سولې د مبارزينو د ميرمنو نړيواله شبکه ، ۲۰۱۰ کال. http://www.gnwp.org/sites/default/files/resource-field_media/Afghanistan.pdf.

[23] مريم صافي ، د افغانستان د سولې بهير:آيا موونږ په سمه لار روان يو ؟ ، ديپلوماتيک ژوند ، د جنوري ۲۴ ، ۲۰۱۳ ،-http://www.diplomaticourier.com/news/regions/central-asia/386-the-afghan-peace-process-are-we-on-the-right-path.

[24] ايملي ويټر بوتم، د جړې د تپ،نو رغول: د عدالت لپاره د ټولنې غږ، سوله، او مصالحه، د افغانستان د څيړنو او ارزونو اداره، جنوری، ۲۰۱۲. https://www.ecoi.net/file_upload/2162_1326102513_2012-01-09-areu-healing-the-legacies-of-conflict-in-afghanistan.pdf.

[25] وحيده، صمد، "ميرمنې او په افغانستان کې سوله ساتل: د خوښ باورۍ لپاره ځای؟" ايچ ډي مرکز، د جنورۍ ۱۲، ۲۰۱۲. http://www.hdcentre.org/fileadmin/user_upload/Our_work/Mediation_support/Current%20activities/1%20Gender%20and%20Mediation/Gender%20main%20page/2%20Sous%20page%20Women%20at%20the%20Peace%20Table%20Asia%20Pacific/Supporting%20documents/Women%20and%20peacemaking%20in%20Afghanistan%20-%2012%20January%202011.pdf.

[26] ستيفني نجسين ، "د سولې بهير او د افغانستان ميرمنې ،"۳،

[27] آليزابت کاميرون او ډاکتر کمنګاه ،"د ترلو دروازو تر شا ،" ۲۰۱۴.

[28] حنا پارتيز – جنګز او ماري ايس هبر ،"په افغانستان کښې ميرمنې، سوله او امنيت: مخ پر وړاندې کتل. " د سولې او دموکراسۍ د يوشانوالي موسسه، اګست، ۲۰۱۴.، http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/WPS-paper.pdf.

بودجېپه نظر کښې نه ده نيول شوې.[29] د جنسيتي موضوعات د څارنې يو سيستم ايجاد شوی تر څو دا معلومه کړي چې څوک عملا څه کار کوي او همغږي زياته شي ، بلکه د ملاتړ د نشتون له امله هيڅکله عملي نه شو.[30] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته په دواړو يعنې هم د سولې په بهيرونو کښې د افغان ميرمنو د حقوقو او اړتياو او هم د سوليپه بهير کښې د ميرمنو پخوانيو ستونزو ته د پاملرنې له نظره د C+ درجه ور کړې ده. د افغانستان د بشر د حقوقوخپلواک کميسون يوه سروې تر سره کړې ده او په ۲۰۰۵ کال يو راپور يې تيار کړی دی او "د عدالت لپاره بلنه" تر عنوان لاندې يې خپور کړی دی ، چېد دې رآبور د ترتيبولو لپاره د ۴۱۵۱ افغانانو سره په ټول افغانستان او هم د افغان کډوالو په پنډغالو کښې مشوره شوې ده ، چې په هغو کښې ۱۱۱۴ ميرمنې هم شاملې وې. په دې راپور کښې ، هغه ۶۹ سلنه شاملې ميرمنې د جګړې اړوند جرمونو قربانياني وې. تر ۴۲ سلنه پورې ميرمنو په نظر ، عدالت د محکمې له لورې د جزا رسولو په معنا ، او ۷۶ سلنه ميرمنو عدالت يوه ډير مهم عنصر و ګاڼه.۵۸ سلنه ميرمنو دا احساس کاوه چې جنګي مجرمين بايد سمدلاسه په جزاء محکوم کړای شي ، او ۹۱ سلنه بيا داسې انګيرله چې د بشري حقوقو پايمالولونکې دې بايد د دولتي څوکيو څخه ليرې کړای شي. دې بند کړای شي. د دې پراخه مشورو سره سره بيا هم ، دې راپور څخه په پراخه کچه کار و انخستل شو يا د سولې او مصالحې په پلانونو کښې شامل نه کړای شو ، او همدارنګه د ميرمنو اړتياوې او نظريات چې د دولت له خوا راټولې شوې وې په پراخه کچه له نظره لويدلې وو. له هغه ځايه چې د ۲۰۰۵ کال دا څېړ سره بيا هم په ملي سطحه د دولت له لورې هيڅ کوښښ نه دی شوی تر څو د ميرمنو سره د سولې د ملي بهير په اړه مشوره و شي.[31] د سولې د ملي بهير سند "تر ۲۰۱۵ کاله د د سولې د بهير د لارې نقشه" چې په ۲۰۱۲ کال کښې خپور شوی يو د لوړو غوښتنو سند دی ، او داسې يو پلان يې طرحه کړی چې طالبان ، حزب اسلامي او افغانستان کښې نورې وسله والې ډلې به وسله وال مخالفت څخه لاس واخلي او د ۲۰۱۵ کال پورې به د افغانستان په سياسي او قانوني بهيرونو کښې د فعالو ګډونوالو په بڼه او ورې ، دابه داسې مهال وي چې ټول بهرني ځواکونه به له هيواده بيرته ستانه شوي وي..دې د ميرمنو څخه يوازې يو ځل يادونه کړې ده ا و په هيڅ ځای کښې يې نورو اړتياو ته او يا جنسيتي اندېښنو او نظرياتو ته د سولې او مصالحې په برخه کښې پام اړولو ته اهميت نه دی ورکړی.

# د سولې سيمه ايز بهير

| | |
|---|---|
| د سولې سيمه ايز ارګانونو کښې د ميرمنو ګډون[32] | C+ |
| د سولې په سيمه ايز بهير کښې له ميرمنو سره سلا او مشورې[33] | C |
| د سولې په سيمه ايز بهير کښې د ميرمنو حقوق په پام کښې نيول[34] | B- |
| د سولې په سيمه ايز بهير کښې د ميرمنو پخوانيو ستونزو ته رسيدګې[35] | C |
| د پخوانيو جګړه مارانو د بيا پخلاينې په بهير کښې د ميرمنو اړتياوو ته پام کول[36] | C |

په سيمه ايزه کچه د سولې پروسې زياتره وختونه په سيمه ييزو جنجالونو او شخړو باندې متمرکزې وي ، اوهمدارنګه د سولې او بيا پخلاينې ( APRP ) په ملي پروسو کښې د سولې ولايتي شوراګانې (PPCs) فعاليتونو پر مخ بيول کيږي. سيمه ييزې شخړې اکثرا د کورنيو موضوعاتو ، د ځمکو ، اوبو ، منابعو او خداماتو د لاسرسی ، د قدرت په سر سيالې ، د ملي شخړو سيمه ييزه بڼه غوره کول او د قومي او توکميزو جنجالونو په سر را پيدا کيږي. زياتره وختونه دوديز جوړښتونه لکه ملکان ، شوراګانې ، جرګې او ديني مشران د سيمه ييزو شخړو په هوانقشو کښې ارزښتمن نقش لوبوي.[37] که څه هم دلته داسې دقيق ارقام نشته ، خو بيا هم په اټکليزه توګه نږدې ٪ ۸۰ شخړې د رسمي قضايي سستم څخه د باندې په دوديزه توګه حل او فصل کيږي.[38] که څه هم د افغانستان اساسي او نور عادي قوانينو د ميرمنو لپاره خونديتوبونه په پام کښې نيولې دي ، خو بيا هم په دې کچه د قضايي سستم څخه بهر د موضوعاتو حل د ميرمنو لپاره کومه معنى نلرى.

په اوسني وخت کښې په رسمي غير رسمي قضايي سکتورونو تر منځ کومه رسمي او قانوني اړيکه شتون نه لري ، همدارنګه په رسمي قضايي ساحه کې د دوديزو او غير رسمي قضايي ساختارونو لپاره کوم ممانعت وړاندوينه هم نه ده شوې. که څه هم په ۲۰۱۰ کال کښې د عدليې د نوي وزير له را تګ سره د ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۰ پورې د رسمي قضايي سيستم او د شخړو د حل شورا تر منځ د ملي پاليسې په طرحه باندې زيات کار شوی وو ،[39] مګر دا کار ورسته په ټپه ودريده او په ځای يې نوی قانوني طرحه رامنځته شوه چې کار يې تر اوسه پورې د عدليې په وزارت کښې بشپړ شوی نه دی.[40] هغه سيمه ييزو جوړښتونه چې د سولې

[29] د UNDP-APRP کارکونوکو سره مرکه ، د دسمبر ۱۱ ، ۲۰۱۴.

[30] د UNDP-APRP کارکونوکو سره مرکه ، د دسمبر ۱۱ ، ۲۰۱۴.

[31] "د عدالت لپاره غږ: په افغانستان کښې د بشري حقونو په باب پخواني خلاف ورزيو په اړه مشوره" د افغانستان د بشر د حقوق خپلواک کميسون ، د جنورۍ ۲۵ ، ۲۰۰۵ کال. http://www.refworld.org/pdfid/47fdfad50.pdf.

[32] اوسطM=2.70, SD=1.12

[33] اوسط=2.91, SD=1.26

[34] اوسط=2.57, SD=1.17

[35] اوسط=2.83, SD=1.26

[36] اوسط=3.19, SD=1.13

[37] USIP, 2011, ليسه سکرچ ، د افغانستان د سولې پروسې هر اړخيزه نوښتګره.

[38] په افغانستان کې د قانون حاکميت n.g., USIP, ” http://www.usip.org/programs/projects/rulelaw-afghanistan.

[39] نوح کابورن ، په افغانستان کې د نړيولې ټولنې د شخړو هوارولو غير رسمي ارګان ”د, سولې کار USIP کال د2013 , http://www.usip.org/sites/default/files/PW84-Informal%20Justice%20and%20the%20International%20Community%20in%20Afghanistan.pdf.

[40] د افغانستان په لويديځ کې عدالت او حکومتدارې :د دولتي فعاليتونو ارزونه ”د هماهنګۍ دفتر n.g., ,

او شخړو هوانقشو په چارو کښې عملا بوخت دي او د رسمي قضايي سکتور تر منځ د ښې همغږۍ نشتوالي له کبله د افغانستان دولت په دې کښې پاتې راغلی ترڅو په اغیزمنه توګه د میرمنو حقوق خوندي او اړتیاوو ته یې پاملرنه وکړي.

په سروې کښې ویل شوي دي ، چې د سولې په سیمه ییزو تشکیلاتو کښې د میرمنو د ونډې شتون په اړه میرمنو دولت ته د +C درجه ورکوي. په رسمیاتو کښې ، د هرې ولایتي شورا لپاره له دریو څخه تر پنځو ښځینه غړيو لپاره د غړیتوب سهم ورکړل شوی دی. په هره ولایتي شورا کښې د غړیو شمیر د ولسوالیو په شمیر پورې اړه لري او هره ولسوالۍ یوازې یو کس معرفي کوي.[41] مګر د افغانستان د بیا پخلاینې د پروګرام یو تن چارواکي بیا وایي چې د ولایتونو په سطحه په چارو کښې د میرمنو مشارکت مختلط دی ، او په ولایتي شورا کښې د میرمنو ونډه ٪ ۵۰ ده ، اما په عمل کښې دا میکانیزم په سترګو نه لیدل کیږي.[42] د یوې څیړنې په اساس چې د بلخ او کابل ولایتونو کښې سرته رسیدلې وه څرګنده شو چې میرمنې د سولې په چارو کښې ګډون لري ، مګر د میرمنو دا ګډون یوازې په سمیه ییزه کچه دی.[43]

همدارنګه راپور زیاتوي چې میرمنو او انجونو اکثرا وختونه یوځای په ډله ایز ه توګه د میرمنو اړوند ساحو کښې کار کړی ،[44] کومې ساحې چې د دوی د فعالیتونو لپاره خوندي بلل کیږي ، مګر میرمنې نشی کولای چې په دودیزو جرګو او شوراګانو کښې ګدون وکړي او یا د کوم بل تصمیم نیونکې جوړښت او ساختار چې د سولې چارې پر مخ بیایې د سړیو سره یوځای کار وکړي. چې دا چارې یوازې او په ځانګړې توګه په نارینه وو پورې تړاو لري او دغه په نارینه وو پورې منحصر قومي او دیني جوړښتونه کولای شي د سولې په بهیر کښې د میرمنو د ګډون مخه ونیسي او خنډونه ورته جوړ کړي.[45]

همدارنګه دولت ته د هغو هڅو په اړه چې میرمنو ته د سولې سیمه ییزو پروسو په اړه سلا او مشورې ورکړې C درجه ور کړل شوې او د میرمنو حقوقو او اړتیاوو ته د پاملرنې کولو په اساس -B درجه ورکړل شوې. کیدای شي په سیمه ییزه کچه باندې د سولې ماموریتونو کښې د میرمنو پر وړاندې له تبعیض څخه کار اخستل شوی وي ، په ځانګړې توګه هغه ماموریتونو کښې چې د سیمه ییزو مذهبي او قومي مشرانو له خوا اداره کیږي. د یو بل راپور په حواله ، دغه غیر رسمي میکانیزمونه زیاتره وختونه د میرمنو په ګټه نه وي ، او یا میرمنې د جنسیت (جندر) پر وړاندې د حاکمو نامساوي دودونو قرباني شوي دي.[46] همدارنګه ، تر اوسه پورې د مرستې داسې رسمي پروګرام نه دې جوړ شوي چې ګټه یې یوازې میرمنو ته ورسیږي ، بلکه ټولې مالي مرستې چې د افغانستان د سولې د بیا

پخلاینې د پروګرام له لارې ورکول کیږي په ځانګړې توګه د کورنۍ نارینه مشرانو غړیو لاسته ورځي.[47] که څه هم د سولې او بیا پخلاینې ملي پروګرام په پالیسۍ کښې جنس (جنډر) ته پام شوی ، خو بیا هم په دغه پروګرام کښې د میرمنو ونډه کم رنګې ښکاري ، په ځانګړې ډول د تصمیم نیونې په برخه کښې ، میرمنو ته د بیا پخلاینې د فعالیتونو د ارزونې په باره کښې محدود صلاحیت ورکړل شوی دی ، او همدارنګه زیاتره میرمنې د افغانستان د سولې او بیا پخلاینې پروګرام په اړه محدود پوهاوی لري. څیړنې دا هم په ګوته کړې چې په ټول افغانستان کښې د بیا پخلاینې په بهیر کښې د میرمنو نقش او ونډه فرق کوي ، په ځینو سیمو کښې د میرمنو د سولې شوراګانې له رسمي او غیر رسمي دولتي ارګانونو سره غوندې کوي ، که څه هم د دوی دغه نقش یوازې په کورنیو مسایلو پورې محدود دی او زیاتره د کورنیو جنجالونو په هوانقشو کښې د مینځګړو په توګه کار کوي.

راپور زیاتوي ، په کندز کښې هغه کسان چې د بیا پخلاینې د پروسې له لارې پخلا شوي او اوس مهال په افغان سیمه ییزو پولیسو کښې دندې اجرا کوي ، دوی وړاندې په ټولنه کښې د میرمنو د ښکاره نقش مخالفت کولو او میرمنو ته یې اجازه نه ورکوله ترڅو په مستقیم ډول خپلې ستونزې له حکومت سره مطرح کړي. د راپور په اساس ، تر ټولو مهمه دا چې میرمنو ته دا حق نه ور کول کیده تر څو د خپلې ټولنې او سیمې بیا پخلا شوي کسان ومني او یا یې رد کړي.[48]

د میرمنو پخوانیو ستونزو ته د حل پیدا کولو او د پخوانیو جګړه ماړانو د بیا پخلاینې په بهیر کښې د میرمنو ونډې ته د پام کولو له امله دولت ته C درجه ور کړل شوې ده. همدارنګه په ۲۰۱۴ کال کښې یو بل راپور وایي چې د بیا پخلاینې په پروګرام کښې د میرمنو اړتیاو او غوښتنو ته پام نه دی شوی. او تاکید یې کړی چې په سیمه ییزه کچه باید د میرمنو ظرفیت لوړ شی ترڅو په ولایاتو کښې میرمنو ته د بیا پخلاینې په بهیر ونډه ورکړل شي.[49] دسولې او دموکراسۍ د یو شانوالي موسسې EPD پخوانی راپور د سولې او امنیت په اړه د افغانستان میرمنو او د میرمنو نظر داسې لیکلې دي چې د سولې او بیا پخلاینې په ملي بهیر کښې د میرمنو ګډون کیدای شي د میرمنو او افغانستان خلکو لپاره یوه بله امنیتي اندیښنه را پورته کړي. د راپور زیات ګډونوال چې په خپلو اړوند سیمو کښې یې د طالبانو د بیا پخلاینې په بهیر کښې دخیل وو له ستونزو ، ډار ، تاوتریخوالي ، امنیتي ستونزو او ګواښونو سره مخ شول ،

http://www.tloafghanistan.org/2014%2001%2016%20Provincial%20%20Kabul%20Level-Government%20Engagement_formatted.pdf.

[41] ۲۰۱۲- آن ویلکنس ، [ د هدف ورکول]

[42] له چارواکو سره مرکه.UNDP-APRP ډیسمبر ۱۱ ، ۲۰۱۴.د

[43] ۲۰۱۲ ، [مخ پر وده هیوادونو ته توجه: د افغانستان د سولې په پروسه کې د میرمنو رول] اکشن ایډ، د پراختیایې مطالعاتو انستیوت ، او میرمنې په نړې کې. http://www.womankind.org.uk/2014/02/country-focus-womens-roles-in-local-peacebuilding-in-afghanistan-liberia-nepal-and-sierra-leone/.

[44] هماغه ځای

[45] ۲۰۱۴- حنا پارټس او مارې هبر [میرمنې ، په افغانستان کې سوله او امنیت]

[46] زرین حامد ۲۰۱۲- د مدني ټولنې د څارنې راپور ، د میرمنو بخش — د امنیت شورا فیصله [۱۳۲۵ ,۲۰۱۲- [د سوله غوښتونکو ښځو نړیواله شبکه , http://www.gnwp.org/wp-content/uploads/2010/02/Afghanistan_Report.pdf.

[47] ۲۰۱۲- آن ویلکنس ، [ د هدف ورکول]

[48] هوم فرنټ: د افغانستان د سولې او بیا پخلاینې په پروګرام کې د ښځو ونډه- د سولې د روزنې او څیړنې سازمان.
http://www.ptro.org.af/site_files/13990989651.pdf

[49] هوم فرنټ: کرس سنو او سم برټ ، ۲۰۱۴,

ځینو خلکو په شدت سره د طالبانو ټولنې ته بیا د راتلو مخالفت کولو. د تیرو تجربو په اساس ځینو میرمنو ویل چې په طالبانو باور نشې کیدای او طالبانو ته د یو ګواښ په سترګه ګوري. همدارنګه راپور زیاتوي ، ځینې خلک په دې باور دي چې د طالبانو بیا راتګ ټولنې ته کیدای شي منفي تاثیرات له ځانه سره ولري. او کیدای شي چې بیا پخلا شوي جنګیالي د بیا ځل لپاره په تاوتریخوالي لاس پورې کړي او په خپلو ټولنو کښې به د دولت ضد فعالیتونه پیل کړي.

د EPD په خپروندویه لړۍ کښې د میرمنو نظر په اړه داسې ویل شوي دي ، له زیاتره هغو ښځو چې مشوره تر غوښتل شوې ده د بیا پخلاینې له پروګرام سره یې مخالفت کړی او د پروګرام د دنقشو سپارښتنه یې کړیده.

د بیا پخلاینې پروګرام موضوعات عبارت دی له رغونې ، حقیقت ، عدالت او جبران څخه دي او دغو موضوعاتو ته باید د سیاست په ډګر کښې په ملي او سیمه ییزه کچه رسیدګې وشي.[50] د بیا پخلاینې پروګرام د ګډونوالو په وړاندې دوامداره مقاومت دا څرګندوي چې په افغانستان کښې د بیا پخلاینې بهیر په دې ونه توانیده تر څو یوه اډانه رامنځ ته کړي او پخوانیو تربګانیو او ستونزو ته ځواب ووایې او میرمنو ته تر جګړې ورسته د یوه متحد افغانستا تصویر وړاندې کړي. په افغانستان کښې عمده مشکل د جنسیت (جندر) حساسیت دی. په ملي کچه ، میرمنې لا هم د سولې او بیا پخلاینې په پروسو کښې په کم شمیر کښې لیدل کیږي. په سیمه ییزه کچه ، د شخړو د هوانقشو تصامیم زیاتره وختونه نارینه نیسي.

[50]اینریکو سنکز او سلویا رونګیک ، [د عادلانه ټولنو جوړول: بیا پخلاینه د انتقال په مرحله کې – د ملګرو ملتونو د غونډې راپور، اکرا غانه ۵-۶ جون ۲۰۱۲.

http://www.un.org/en/peacebuilding/pbso/pdf/Reconciliation%20workshop%20report%20WEB.pdf10

# امنیت

| مجموعي فعالیتونه:[51] | C+ |
|---|---|

د سولې د کټګورۍ  په خیر ، دولتي اسناد ، ستراتیژۍ ، پالیسۍ او قوانین په مجموع کښې دا ټول د میرمنو د امنیت په باب یو شمیر ژمنې په ګوته کوي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون یا NAPWA داسې شرایط ایښي دي تر څو د جنډر نظریې او د میرمنو ګډون ته په امنیتي سکتورونو کښې وده ورکړي. همدارنګه دغه موضوع د ملي امنیت په تعهد کښې هم یاده شویده ( په امنیتي سکتور کښې د جنسیت یا جنډر په متوازن ډول وده  ورکړئ) ترڅو (په امنیتي سکتور کښې د ورو ښځینه مامورینو شمیر زیاد شي).

د افغانستان ملي امنیت په دې باور دی چې  په امنیتي سکتور کښې په ټولو پالیسیو او پروګرامونو کښې نارینه او ښځینه دواړه باید یو شان حقوق او مسئولیتونه ولري. حکومت دی ته ژمن  دی ترڅو د جنډر موضوع ، د میرمنو  حقوقو ، د میرمنو د تصمیم نیونې نقش د لوړوالي او په امنیتي سکتور کښې د میرمنو  لپاره د کار مساوي حقوقو او فرصتونو په برابرو نقشو کښې د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي. همدارنګه دولت دی ته هم ژمن دی ترڅو د ارزونې  داسې میکانیزم رامنځته کړي چې له مخې به یې په امنیتي سکتور کښې د جنډر اهدافو د تحقق څارنه کوي.

د افغانستان میرمنو لپاره د عمل ملي پلان یا NAPWA کښې  دولت دا ژمنه سپارلې تر څو د میرمنو لپاره داسې امنیتي فضا رامنځته کړل شي ترڅو چې میرمنې بې له کوم ډار ، تاوتریخوالي او تهدید څخه خپل ژوند وکړي او همدارنګه د میرمنو  لپاره داسې زمینه سازي وشي ترڅو میرمنې د امنیت په ښه کولو او ساتلو کښې خپله ونډه واخلي.

په ټولیز ډول په دې سروې کښې میرمنو دولت ته د ښه امنیت ساتلو په خاطر د +C درجه ورکړې. دا په دې معنی چې  دولت توانیدلی  ترڅو د میرمنو  او انجو امنیت او حقوق خوندي کړي ، او همدارنګه دولت هڅه کړې ترڅو په امنیتي سکتور کښې د میرمنو  ونډه زیاته کړي. همدارنګه په راپور کښې د میرمنو  له نظره د ولایاتو په سطحه او یا د میرمنو  ترمنځ د نژادي ترپیر کوم داسې مهم توپیر نه په سترګو کیږي. په همدا ډول په راپور کښې د میرمنو تر منځ د عمر ، مدني حالت ، د تعلیم د کچې او یا د کار او وظیفې درلودلو په  اړه هم کوم توپیر نه لیدل کیږي. بیا هم په هغه ځایونو کښې چې میرمنې ښه میاشتنی کورنی عاید لري نسبت هغه سیمو ته چیرې چې میرمنې په ټیټه کچه کورنی عاید لري امنیت ډیر خراب دی.[52]

# د میرمنو او انجونو ساتنه

| د میرمنو  او انجونو د ځان او امنیت ساتل[53] | C- |
|---|---|

په دې څیړنه کښې هغه میرمنې  چې  سروې شوې دي دولت ته یې د میرمنو  او انجونو د ځان او امنیت ساتلو په اړه د -C درجه  ورکړې. د EPD تازه څیړنه وایې چې په ورځینې ژوند کښې د میرمنو  او انجونو د ځان ساتل او امنیت خوندي کول لا تر اوسه هم په افغانستان کښې د مهمو کمزوریو څخه ګڼل کیږي ،[54] چې دغه کمزوري په زیاته کچه په ټول افغانستان کښې د یوې جدي ستونزې په توګه ښکاري.[55] همدارنګه د EPD پخوانۍ سروې څرګندوي چې میرمنې تر اوسه هم د ځانمرګو حملو ، په انجونو باندې ښونځي ته د تلو په مهال حملو ، په لرې پرتو سیمو کښې په ټولیز ډول د امنیت خرابوالی ، قومي شخړو او د زور واکو ترمنځ جګړو او شخړو په اړه ویره لري.[56]

ځینې نورې څیړنې وایې چې موجوده جنګي حالت  په افغانستان کښې د میرمنو  په ټګ راتګ ، تفکر او په ټولنیزو او عامه مجالسو د ګډون ساحه محدوده کړیده.[57] علاوه پر دې ، هغه میرمنې چې په دولتي دوایرو ، سیمه ییزو او بین المللي سازمانونو ، د میرمنو  او بشري حقوقو په دفاترو کښې په کار بوختې دي  زیاتره وختونه په ښنه کیږي ،[58] همدارنګه دغه اندیښنه  د EPD په هغه څیړنه کښې چې د میرمنو حقوقو د فعالینو په هکله یې کړې ده هم ښکاري.

د یادولو وړ ده چې بې امنیتۍ  په مسلسل ډول د میرمنو په ژوند باندې اغیز کړی. له ۲۰۰۹ را پدې خوا ۲۰۱۳ کال د ملکي تلفاتو په اړه تر ټولو خونړی کال ښودل شوی ، او همدارنګه په دې کال د میرمنو  تلفات نسبت ۲۰۱۲ ته ٪۳۴ زیات شوي دي.[59] د ښځینه تلفاتو په هکله

---

[51] Mean=2.67, SD=.74

[52] R=.268, p<.01

[53] Mean=3.27, SD=3.47

[54] ۲۰۱۴- حنا پارټس او مارې هبر [میرمنې ، په افغانستان کې سوله او امنیت]

[55] زاک وارنر [افغانستان په ۲۰۱۴ کې: د افغانستان خلکو یوه سروې] د اسیا فونډیشن-۲۰۱۴..http://afghansurvey.asiafoundation.org ,

[56] ۲۰۱۴- حنا پارټس- جننګ او مارې هبر [میرمنې ، په افغانستان کې سوله او امنیت]

[57] [د افغانشتان ملي پولیسو په اړه د ښځو ذهنیت: سمیول هال کانسلتنګ او هینریچ بول ستفن] ۲۰۱۱

[58] هماغه ځای.

[59] [د افغانستان کلنی راپور -۲۰۱۳: د جګړې په مهال د ملکیانو ساتل، په افغانستان کې د ملکرو ملتونو د همکارۍ پروګرام، ۲۰۱۴. http://www.unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Feb_8_2014_PoC-report_2013-Full-report-ENG.pdf.

۲۰۱۴ کال نسبت ۲۰۱۳ کال ته ډير خونړی وو ، په دې کال کښې د خپل منځي شخړو له کبله ۹۰۹ ميرمنو ته مرګ ژوبله اوښتي ده چې له دې جملې څخه ۲۹۸ ميرمني مړې او ۶۱۱هغه يې زخمي شوي ، چې دغه شميره په ۲۰۱۴ کال کښې ٪۲۱ زياتوالی نسبت ۲۰۱۳ کال ته ښيي.[60] دغه احصاييه دا په ډاګه کوي چې دولت په هيواد کښې د ميرمنو او انجونو د امنيت ساتلو په هکله ډير کم څه کړي دي.

# امنيتي فعالين او د ميرمنو حقوق

| | |
|---|---|
| د ميرمنو حقوقو په اړه د امنيتي ځواکونو عامه پوهاوی[61] | B- |
| د امنيتي ځواکونو لخوا د ميرمنو د حقونو ساتل[62] | C |

په دې سروې کښې چې کومې ميرمنې پوښتل شوې دي امنيتي ځواکونو ته يې د ميرمنو د امنيت ساتلو او د ميرمنو د حقونو په هکله د دوی بې خبرۍ په هکله نسبتا کمې درجې ور کړې دي. په اوسط ډول امنيتي ځواکونو د ميرمنو د حقونو په باره کښې د پوهاوي درلودلو په تړاو د B- درجه اخستې دی ، او همدارنګه د ميرمنو د حقونو په ساتلو کښې يې د C درجه اخستې دی. د ميرمنو په باره کښې د EPD پخوانۍ سروې کښې ګډونوالو د سولې او امنيت ، د پوليسو او نورو چاروکو له خوا د قدرت څخه د ناوړه استفادې او د ملي پوليسو د زدکړو او وړتياوو د لوړولو ضرورتونو په هکله بحثونه شوي. په دې سروې کښې څينو ميرمنو د پوليسو په اړه خپله بې باوري ښکاره کړې ده ، او ويلي يې دي چې پوليس بايد ښه و روزل شي او همدارنګه د ګمارلو په مهال بايد له پوره پام څخه کار واخستل شي ترڅو د جرمي سابقې لرونکي خلک د پوليسو ليکو ته لار پيدا نکړي.[63] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون يا AIHRC د افغانستان په ملي پوليس د ميرمنو په وړاندې په زور زياتي تورنوي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون يا AIHRC ۲۰۱۳ کال راپور وايي چې د ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۱۳ پورې پوليسو تقريبا ٪۱۵ د ميرمنو د عزت په سر وژنو او په ميرمنو باندې د جنسي تيريو پيښو کښې لاس درلود.[64] په ۲۰۱۱ کال کښې د افغان ملي پوليسو په اړه د عامه ذهنيت مطالعه ښيي چې نږدې ٪۳۲ افغانان په دې باور دي چې افغان ملي پوليس د ميرمنو درناوی کوي او همدارنګه ښه چلند ور سره کوي.[65] له ٪۲۰ څخه کم د افغانان د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي پيښو په اړه او همدارنګه له ٪۳۰ څخه کم نور يې بيا په ميرمنو باندې د جنسي تيريو په اړه ملي پوليسو ته راپور ورکوي.[66] چې دا دواړه په امنيتي ځواکونو کښې د ميرمنو حقوقو په اړه په بې خبرۍ دلالت کوي. يوازې ٪۶۲ نارينه له پوليسسره پيښې او موضوعات شريکوي او همدارنګه يوازې ٪۳۷ ميرمنې پوليسو ته مراجعه کوي.[67] په دې برسيره ، افغان محلي پوليسو باندې د خلکو نقشو او د جنسي تيريو د ګواښونو تور هم شته.[68] د کورنيو چارو وزارت د امنيتي لوبغاړو تر منځ د جندر په اړه د ستونزو څيړلو لپاره څينې مثبت ګامونه اخيستي دي او ورسره يې په د ګزمې په سطحه چاروکو د اساسي چمتووالي لپاره په اته اونيو کښې د جندر او بشري حقونو په اړه درې ورځنۍ روزنې ترسره کړې او د بريدمن او د افسر په کچې يې نورې غونډې په لاره واچولې.[69] د افغانستان لپاره د قانون او تنظيم د وجهي صندوق (LOTFA) څخه يوه چاروکې وويل چې د کورنيو چارو وزارت د اخلاقي اصولو له قانون څخه د ۲۰،۰۰۰ پوليس افسرانو د روزنې لپاره ګټه پورته کړې او د رونيزو فعاليتونو د دواړو د دوې لپاره د ډيرو روزونکو روزنې (ToTs) تنظيم شوي دي.[70] ددې سربيره ، د کورنې تاوتريخوالي ، په ستونزو کښې راګيرو ماشومانو او د جرم ښځينه قربانيانو څيړلو لپاره په ۲۰۰۶ کال کښې د کورنې ځواب وينې څانګې (FRUs) رامنځ ته شول. د ۲۰۱۳ کال له ارزونې سره سم ، په ټول افغانستان کښې د نيمه فعاليت ۱۶۵FRUs شتون درلود. خو له دوی څخه يوه يې هم د مرکې بېلې خونې نه درلودل او د ښځينه افسرانو لپاره يې محدودې آسانتياوې درلودې.[71] د کورنيو چارو وزارت هم د ۲۰۱۴ په آګست کښې د جندر د ستراتيژۍ د پلي کيدو پلان تاييد کړ ، کوم چې 3 کلن پلان دی ، خو د LOTFA چاروکي يادونه وکړه چې هغه يو بل خيالي فهرست دی او موخې يې له حقيقت څخه لرې دي.[72] د زيان اړونده شخړو لپاره د جبران په برخه کښې

---

M=2.59, SD=.92[60]

[61][د افغانستان کلنی راپور -۲۰۱۳: د جګړې په مهال د ملکيانو ساتل ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د همکارۍ پروګرام ، فبرورې- ۲۰۱۵ . http://www.unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/2015/2014-Annual-Report-on-Protection-of-Civilians-Final.pdf

M=2.81, SD=1.00[62]

[63]۲۰۱۴- حنا پارټس- جننګ او مارې هبر [ميرمنې ، په افغانستان کې سوله او امنيت]

[64]۱۰ سپتمبر ، ۲۰۱۳- اکسفام بريفينګ پيپر: " ښځې او د افغانستان پوليس http://www.iawp.org/campaigns/Afghanistan/Oxfam_bp-173-afghanistan-women-police-100913-en.pdf.

[65] "UNDP and ACSOR, 2011, "پوليسو په اړه د ذهنيت معلومولو سروې ۲۰۱۱ کال: د افغانانو له نظره ،" http://www.undp.org.af/Publications/KeyDocuments/2011/PPS-Eng%20Version-2011%20Final%20Lowest%20Res.pdf.

Ibid.[66]

Ibid[67]

[68]هغه شکايتونه چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمشنر لخوا را ټول شوي دي د بشري حقونو شورا د فيصله له ۱/۵ پراګراف او ۵ ضميمه د ۱۵ پراګرف د ۱۵ ضميمې سره سمون خوري کوم چې د شورا د ۲۱/۱۶ فيصلو سره مطابقت کوي. افغانستان ، [د بشرې حقونو شورا کاري ګروپ چې په نړيولو مسايلو باندې وخت نا وخت د نظر څرګندونه کوي — ۱۱ نومبر ، ۲۰۱۳. http://www.refworld.org/pdfid/52ea4c8a4.pdf.\

[69] . ښځې او د افغانستان پوليس

.[70] چاروکو سره مرکه UNDP-LOTFA ۱۰ ډيسمبر ۲۰۱۴- د

[71] قانون او د افغانستان لپاره د بوديجې غوښتل: ۲۰۱۳ کې د پروژې په اړه دوهم ربعوار راپور [د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام ، ۲۰۱۳. http://www.undp.org/content/dam/undp/documents/projects/AFG/LOTFA_Phase%20VI_QPR_Q2_2013.pdf.

[72]چاروکو سره مرکه UNDP-LOTFA ۱۰ ډيسمبر ۲۰۱۴- د

مېرمنې هم د خپلو حقونو د ترلاسه کولو له ستونزې سره مخ دي. په يوه راپور کښې ويل شوي چي ۹۹ قانون او د کار[73] ، ټولنيزو چارو ، شهيدانو او معلولينو) د کار ، اجتماعي امورو ، شهيدانو او معلولينو د چارو وزارت د پيسو ورکړې د جبران او د زيان اړوند شخړې لپاره د حمايت په برخه کښې د مېرمنو مساوي لاسرسی نه تضمينوي. که څه هم مېرمنې اجازه لري چې د مرستې غوښتنه وکړي ، خو ټولنيزې فرهنګي ستونزې د مېرمنو مخه نيسي چې ادعا وکړي او مرسته ترلاسه کړي. پدې راپور کښې راغلي چې ډيرى وخت سړي د مېرمنو په استازيتوب خبرې کوي او ډيرى وخت نارينه خپلوان د درخواستي له بهير څخه پيل ، د پيسو د ترلاسه کولو او د هغوی په استازيتوب مالي پريکړه هم نيسي. علاوه پردې ، له خپل نارينه پرته چې مېرمنې په خپله د ځان دفاع وکړي ځينې وخت نه شي کولی چې د کورنۍ د مشر او د کورنۍ لپاره د اصلي نفقه ګټونکي له لاسه ورکولو وروسته مرسته ترلاسه کړي.[74]

د جندر د ودې اړوند ، د کورنيو چارو وزارت لخوا د جندر رياست رامنځ ته شوی تر څو د نورو مسؤليتونو تر منځ د جندر اړونده معلومات را ټول کړي

تر څو د هغو شمېرو د راټولولو لپاره يوه وسيله و اوسي چې د جندر په برخه کښې حساس او بيلوالی رامنځ ته کولای شي. د LOTFA وروستی راپور څرګندوي چې د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) د څارنې او ارزونې (M&E) ټيم د هغه ډول سيستم د رامنځ ته کولو او د بيلابيلو ميتودولوژيو او د معلوماتو د اوسنيو سرچينو د ودې په شمول لګه د بشري سرچينو د معلوماتو ملاتړ کوي. له دې کار څخه موخه د معلوماتو راټولول دي — لکه د ښځينه پوليسو او ملکي کارکوونکو دقيقي شميرې ، د مېرمنو د کار برخې ، او د پرمختګ فرصتونه — تر څو د هغو پاليسيو په جوړولو او ستراتيژيو کښې ترې ګټه واخيستلی شي چې د افغانستان ملي پوليسو او د کورنيو چارو وزارت تر منځ د ښځينه کارکوونکو پر دندو ګمارلو او ساتنې کچه لوړوي.[75] سربيره پردې ، په ټول افغانستان کښې د جندر ۵۰ ځانګې جوړ شوي چې د کورنيو چارو وزارت په مشرۍ د پرمختګونو او ننګونو په اړه د بحث کولو لپاره په کال کښې دوه ځله غونډه کوي[76]

# په امنيتي سکتور کښې د مېرمنو ګمارل

| | |
|---|---|
| په امنيتي سېکتور کښې د مېرمنو او سړيو لپاره د کار مساوي مواقع[77] | C+ |
| ند تيرو پينځو کالو په پرتله افغان ملي پوليسو کښې د مېرمنو شتون اندازه[78] | B |

افغان حکومت ژمنه کړې چې په ملي پوليسو او د کورنيو چارو وزات په ملکي خدمتونو کښې د مېرمنو د ګمارلو او پوليسو او د کورنيو چارو وزارت کښې د جنسي ترکيب له مخې د مېرمنو د امنيت په برخه کښې د دوی اړتياو او علاقه منديو ډاډ تر لاسه شي.

په تيرو لسيزو کښې ، د افغانستان دولت ملي پوليسو کښې مېرمنو جذبولو لپاره زيات شمېر نوښتونه کړي ، او د دوی شمېر په مناسب ډول زيات شوی چې په ۲۰۰۵ کال کښې له ۵۳۴۰۰ څخه يې يوازې ۱۸۰ يې[79] مېرمنې او په کال ۲۰۱۳ کښې له ۱۵۷۰۰۰ څخه يوازې ۱۴۴۰ يې مېرمنې وې.

سربيره پردې ، د ملي پوليسو تشکيل کښې د ملکي ښځينه مامورينو او پوليس صاحب منصبانو لپاره ۳۲۴۹ بستونه ځانګړي شوي دي. سره له دې چې

مېرمنې د دغو بستونو له نيمايي هم کم ډکوي.[80] د ملي پوليسو يوازې ۱ سلنه يې مېرمنې دي او په ملي پوځ کښې د مېرمنو سلنه له ۰.۵ هم کمه ده.[81]

د دولت د ژمنو[82] او د LOTFA ، او د اروپايي اتحاديې د پوليسو د ماموريت (EUPOL)[83] سربېره (د نړيوال ملاتړ سربېره ، EUPOL او د کورنيو چارو وزارت د همکارۍ يو يادښت لاسليک کړ چې په کابل کښې د پوليسو ښځينه پوهنتون تاسيس کړي.[84]) په ملي پوليسو او د کورنيو چارو وزارت کښې د مېرمنو د ګمارلو پرمختګ ټکنی شوی دی[85] چې د پوليسو د څواکونو ۲ سلنه تشکيلوي ، چې دا د کورنيو چارو د وزارت له هغې هدف څخه کم دی چې له مخې يې ۵۰۰۰ مېرمنې بايد و ګمارل شي چې دا خبره په وروستيو وختو کښې ملي پوليسو سره د ښځينه پرسونل د اړيکو په ستراتيژيک تطيق پلان کښې ياده شوې ده.[86]هغه ممکنه محدوديتونه چې پيژندل شوي دا دي په کاري

Code 99 funds are monetary payments offered to civilians for war-related deaths and injuries through the President's Code 99 fund[73]

ځان ته پام کول: ملکي تلفاتو ته د افغانانو يو قوي ځواب – ملکيان په جګړه کې لپاره مرکز ، ,۲۰۱۳[74]
http://civiliansinconflict.org/uploads/files/publications/Afghan_Report_2013_smaller_final.pdf.

[75]۲۰۱۴ ، د پروژې د دوهمې ربعې د پرمختګ راپور ، قانون او د بوديجې غوښتل افغانستان لپاره – ۲۰۱۴.
http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/crisisprev/LOTFA/LOTFA-1QPR-2014.pdf.

M=2.72, SD=1.31[77]

M=2.18, SD=.89[78]

[79] مېرمنې او افغان پوليس

[80]هماغه ځای

[81]هماغه ځای

[82]لس کلن ستراتېژيک پلان تطبيق لپاره د کورنيو چارو وزارت د سمونو اروزونه ؛ سلسله مشورتي خدمتونه ، ۲۰۱۳
https://ipcb.files.wordpress.com/2014/04/institutional-reform-assessment-report-final.pdf.

[83] افغانستان کښې د اروپايي ټولنې د پوليسو ماموريت: د حقايقو کتاب (فيکټ شيټ) ، د اروپايي ټولنې د پوليسو ماموريت ، ۲۰۱۴
http://www.eupol-afg.eu/sites/default/files/EUPOL%20Afghanistan__Factsheet%20_September%202014.pdf.

[84]دا خبره د EUPOL د جنسيت سلاکار سره په مرکه کښې ذکر شوې وه. مطبوعاتي خپرونه يې دلته کتلی شئ: .http://www.eupol-afg.eu/node/500

[85]د پروژې د لومړۍ ربعې د پرمختګ راپور ، افغانستان لپاره د قانون او اصولو د اعتماد مرسته ، ۲۰۱۴

[86] ملي پوليسو سره د ښځينه پرسونل په پيوستون د ستراتژيک پلان تطبيقول ، د کورنيو چارو وزارت ، ۲۰۱۴

چاپېریال کښې د مېرمنو نا امني ، د ساتنې حالات ، د ښکېنې د ټولګې نشوالی ، د پرمختګ محدودې وړتیاوې او په رهبرۍ کښې د مېرمنو نشوالی.[87]

سربېره پر دې ، داسې ښکاري چې دلته سیاسي اراده هم نشته ، د مثال په توګه ، مېرمنو لپاره د لیک لوست اړتیا نسبت سړیو ته نسبتا زیاته ده او د ښځینه پولیس مامورینو (افسرانو) سره د تیرې په وړاندې غبرګون نامناسب وو.[88] په کال ۲۰۱۲ کښې د یوې شخصي ملي راډیو لخوا څېړنې څرګنده کړه چې په مزار شریف کښې د ښځینه پولیسو افسرانو مقابل کښې جنسي تیری شوی وو ، او علاوه پردې د پولیسو لوړ پوړو چارواکو د ښځینه پولیسو څخه د پرمختګ او ترفیع لپاره د جنسي اړیکو غوښتنه کړې وه.[89]

د اوکسفام په راپور کښې څرګنده شوې چې د مېرمنو په مقابل کښې له ګمارلو وروسته منفي وضع او کړنې زیاتې شوې. په اساسي ډول ښځینه پولیسې یونیفورم نه لري ، روزنه یې کمه یا له هېڅ سره برابره ده ، او مېرمنو ته زیاتره وختونه سپک کارونه ورکول کېږي لکه چای تیارول.[90] چې دا لا زیات د سړیو د واکمنۍ ټولنیز نورم څرګندوي ، او د څارنې او امنیت برابرول په دوديز ډول یوازې د نارینو فعالیت ګڼل کېږي او داسې فکر کېږي چې مېرمنې دې کار لپاره مناسبې نه دي . دا درک په نړۍ کښې ډېر لیدل ،[91] او په افغانستان کښې چې په بشپړ ډول د جنسیت له پلوه ویشل شوې ټولنه ده او د نارینه او ښځینه معیارونه په کښې پراخ بنسټ لري ، یوه احتمالي ستونزه ده.

په بله مانا ، د دولت له چوکاټ څخه د باندې ، داسې ښکاري د ښځینه پولیسو قبلول مخ په زیاتېدو دي ، چې د ملګرو ملتونو یوې سروې چې په ۲۰۱۲ کال کښې تر سره شوې وه په ډاګه کړه چې ، د جنایي قضیو په حل کښې ښځینه پولیسو ته زیات اعتبار ورکول کېده ، او EUPOLE دا وړاندیز کړی وو چې د ښځینه پولیسو زیات شمېر کولی شي دولت لپاره د خلکو ملاتړ کښې قوي رول و لوبوي.[92] د ۲۰۱۱ کال سروې کښې ، ۶۷ سلنه سړیو او ۷۲ سلنه مېرمنو څرګنده کړه که چېرته پولیس افسره مېرمن وي ، دوی به ورته د جرم په اړه خبر ورکړي.[93] په ۲۰۱۴ کال کښې ، ۳۷ سلنه سړیو او ۴۲ سلنه مېرمنو په کلکه ومنله چې مېرمنې کولی شي پولیسو یا اردو کښې دنده تر سره کړي. خو اوس هم زیات وخت ته اړتیا ده ، او له دې ښکاري چې د ښځو رول په اړه چې په ټولنه کښې د امنیت په برخه کښې کار و کړي افکار و څومره بدلون موندلی دی. دا څېړنې ښکاره کوي که چېرې په ټولنه کښې د جنسیت اصولي عقاید په امنیتي موسساتو کښې د مېرمنو د پرمختګ مخه ونیسي ، دا به د ټولنې ډېر کم ممانعت سره مخ شیي. سره له دې چې د افغانستان دولت باید د ښځینه پولیسو ګمارل او اغېزمن ملاتړ ته په مناسب ډول لومړیتوب ور کړي.

په بل عبارت ، د EUPOL یو چارواکی چې دې څېړنې لپاره ورسره مرکه شوې وه ویلي وو چې داسې ښکاري چې د ښځینه پولیسو ملاتړ لپاره د ستراتژۍ نهایي کولو ، د جنسیت پلان تطبیقولو او د کورنیو چارو وزارت کښې د لوړ پوړو ښځینه چارواکو د حمایت له مخې یو لوی ملا تړ شته. سره له دې چې مېرمنو لپاره تشکیل کښې ځانګړې شوې بستونو نیم یې سړیو ډک کړي.[94] بله خوا ، د EUPOL چارواکو هم په تېر پرمختګ څرګندونې کړې وې ، چې د کورنیو چارو وزارت غوارې د جنسیت څانګه ضعیفه کړي ، چې د

نړیوالې ټولنې د غبرګون له مخې یې مخه و نیول شوه.[95] چاواکې دا هم وویل ، چې دوی پداسې هېڅ کوښښ نه دي خبر چې د جنسیت بیلټون په اړه معلومات را ټول شوي ، او نه کورنیو چارو وزات کښې د M&E په سېستم چې په کورنیو چاور وزارت کښې د جنسیت معلومات ساتي ، خبر لري.[96] د NOTFA یو چارواکي وویل ، چې د کورنیو وزارت لا زیاته هڅه کوي چې ښځینه مامورینې جذب کړي ، چې په ۲۰۱۴ کال کښې یې ۲۰۰ مېرمنې ګمارلې وې چې د تېر کال په نسبت تقریبا ۷۰ سلنه ده ، ټولې جذب شوې مېرمنې د دولسم ټولګي فارغې یا لوړې زده کړې لري ، او ترکیې ته د څلورو میاشتو روزنې لپاره لېږدول شوې. چارواکي دا هم وویل چې د افغانستان د ۳۰ سلنه مېرمنو د زریز ې د پرمختګ هدف (AMDG) خورا زیات ناشونی (غیر حقیقي) ښکاري ، چې حتی ۳ سلنه لاسته راوړنه به هم د ستاینې وړ وي.[97] د کورنیو چارو وزارت هڅه کړې چې د ښځینه پولیسو ستونزې مرتب کړي ، چې پکښې د ۲۰۱۳ کال جنسي تجاوز د موضوع په اړه لارښوونه هم شامل ده. څېړونو څرګنده کړې چې په محلي کچه دا لارښووني نه دي تعقیب شوي او یا د کورنیو چارو وزات لخوا په اغېزمن ډول نه دي څارل شوي ، او زیات پولیس له دې پالیسۍ او اړندو قوانینو او ستراتیژیو لکه د مېرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي (EVAW) قانون او افغانستان د ټولنیز خوندیتوب پروګرام NAPWA یا خو خبر نه دي او یا کم معلومات لري.[98]

علاوه پردې ، د اوکسفام څېړنې څرګنده کړې ، چې د ښځینه اړتیاو ځواب ویونکو امکاناتو نشوالي ، د ښځینه تشنابونو محدودیت او یا مېرمنو لپاره تشنابونه قلفول او په مامورېتونو کښې د ښځینه امکاناتو نشوالي د ښځینه پولیسو اسیب پذیري زیاته کړې. پر دې سربېره ، هغه مېرمنې چې تر تیرې لاندې نیول کېږي یا ځورول کېږي کوښښ کوي چې ځانته ملاتړ پیدا کړي ، چې د ۲۰۱۰ کال د مرستې تیلیفون د ښځینه پولیسو لپاره په عام ډول بې نتیجې وګڼل شو.[99]

سره له دې چې د دې څېړنې څرګندونې دا ښکاره کوي چې یوه اندازه پرمختګ شوی ، له لسیزې زیات وخت په امنیتي برخه کښې د کاري فرصتونو له مخې د جنسیتي مساوات لپاره ، +C ورکړې د مثبت فکر لړوالی د امنیتي برخې د جنسیت پېژندنې په اړه یوه جدي موضوع څرګندوي چې د پرمختګ لپاره یې باید غم وخوړل شي. یو این ایس سي آر ، ۱۳۲۵ د یو پام وړ څېړنې سربېره ،[100] ښودلې ده چې د جنسیت مساوات او په امنتي اداري پرېکړو کښې د مېرمنو ګډون د باثباته سولې لپاره ډېر بحراني دی. دا اړینه ده چې د امنیتي برخې جوړښتونو کښې د جنسیت مساواتو او پرمختګ اصلاحات راوړل شي او دا اوږدمهاله امنیت لپاره چاپېریال برابرولو کښې مرسته کوي.

[87] د پروژې د لومړۍ ربعې د پرمختګ راپور ، افغانستان لپاره د قانون او اصولو د اعتماد مرسته ، ۲۰۱۴

[88] وخت باید ضایع نشي ، د افغان ملي پولیسو مسؤلیت ته پراختیا ورکول. د لنډیز ګډه پاڼه ، CIVIC ، HRRAC ، اوکسفام او PTRO ، ۱۰ می ۲۰۱۱.
http://civiliansinconflict.org/uploads/files/publications/no-time-to-lose-may2011.pdf.

[89] مېرمنې او افغان پولیس ، ۲۰۱۳.

[90] همغه ځای

[91] د مثال لپاره د انستېژیا پراکاس او ایرین پداویک وګورئ: د فاحشو لپاره باید یو قانون وي: د پولیسو روزنیزه اکاډمۍ کښې د سړیتوب درسونه ، جنسیت ، کار او اداره 9 ، څلورمه ګڼه ، اګست ۲۰۰۲ : ۴۳۹-۴۵۹.

[92] همغه ځای

[93] د پولیسو د افکارو سروې ، ۲۰۱۱

[94] د EUPOL چارواکي سره مرکه ، 11 دسمبر ۲۰۱۴

[95] همغه ځای

[96] همغه ځای

[97] د LOTFA-UNDP چارواکي سره مرکه ، ۱۰ دسمبر ۲۰۱۴

[98] مېرمنې او افغان پولیس ، ۲۰۱۴

[99] همغه ځای

[100] د جنسیتي برابرۍ او په جنسیت او امنیت کښې د نړۍ امن په اړه د والري ایم هوډسن بالیف-سپانویل ، او چاډ ایف. ایمي څېړنه وګورئ.

# روغتیا

| عمومي اجراأت[101] | B- |
|---|---|

افغان مېرمنو د طالبانو په حکومت کښې د روغتيا ساتنې له پلوه درانده بحرانونه وليدل. د مېرمنو په ګرځېدو د بنديز له امله د مېرمنو په ورتيا ډېر محدوديتونه ولګيدل او مېرمنو نشو کولی چې روغتيايي اسانتياو ته لاسرسی ومومي. پر دې سربېره ، د مېرمنو او نارينو ترمنځ په اړيکو د بنديز له امله د مېرمنو روغتيا ساتنې ته هم ډېره لږه پاملرنه وشوه ، نارينه ډاکترانو نشو کولای چې ښځينه ناروغان په سمه توګه معاينه کړي او ترځنګ يې ښځينه روغتياپالو لپاره روغتيايي روزنيز پروګرامونه هم په ټپه و دربدل. د روغتونونو ټول ښځينه پرسونل ، د ډاکترانو ، روغتيا پالانو او فارماسېستانو په شمول په عامه روغتيايي مرکزونو کښې له کار کولو منع شول ، پرته له يو روغتون څخه چې ناروغانو لپاره يې ۳۵ کټونه (بسترونه) لرل[102].ښځينه ډاکترانو لپاره روزنه او مسلکي تمريناتو او روغتيا پالنې ته د مېرمنو لاسرسي قانون (کړنلار) نشتون قوي خنډونه رامنځته کړل چې اغېز يې حتی د طالبانو رژيم نسکورېدو وروسته هم پاتې شو.

دې ننګونو سره له مخامخ کېدو وروسته ، د افغانستان اسلامي جموريت مېرمنو سره د روغتيا په هکله ځينې ژمنې وکړې ، چې عمومي مقصد يې د مېرمنو رواني ، ټولنيز او فزيکي سلامتي ډاډمنول او د دوي ولادتي (زېږونې) حقونو ساتنه ده. په افغانستان د ټولنيز خونديتوب پروګرام NAPWA (ناپوا) کښې ، د افغانستان اسلامي جمهوريت ژمنه وکړه چې د روغتيايي خدمتونو اساسي ټولګې غښتلي او دې ټولګو ته د مېرمنو لاسرسی لا ښه کړي او د ښځينه روغتيا پالانو په روزنه کښې زياته پانګونه وکړي. په ای اين ډي ايس کښې ، د نورو اسنادو ترځنګ ، حکومت دا ژمنه وکړه چې د وړ (په شرايطو برابر) ښځينه روغتياپالانو شمېر به زيات کړي او د مېرمنو په وړاندې د هر ډول تعصباتو محوه کولو تړون (CEDAW) په فرمان يې ټينګار وکړ چې د مېرمنو په مقابل کښې به هر ډول تعصب له منځه وړي او دا به ډاډمن کړي چې نارينه او مېرمنې دواړه روغتيايي خدمتونو او د کورنۍ تنظيمولو په اړه سلا مشورې او معلوماتو ته يو شان لاسرسی ولري. دا لا زيات د دې اړتيا جوته ده چې په دوامدار ډول د مېرمنې واک ته رسول لا ملاتړ شي چې د خپل ځان او کورنۍ د روغتيا په اړه پريکړه وکړي. ناپوا (NAPWA) دا واضح کړل چې روغتيايي خدمتونه به ښونځيو او پوهنتونو ته په دوره يي ډول وغځول شي چې روغتيايي پاملرنې ته د کوچنيانو ، ځوانانجونو او مېرمنو د لاسرسي په اړه ډاډ ترلاسه شي.

حکومت د مېرمنو د زېږون اړوند روغتيايي فعاليتونو په اړه لبوالتيا ونښوده ، چې د زېږون روغتيا ملي ستراتژۍ لپاره د سرچينو زياتول او په اغېزمن ډول پلی کول ، د مېرمنو د حامله کېدو کچه ټيټول پکښې شامل وو ، همدارنګه د زېږون روغتيا د خدمتونو په اړه د اجباري ظرفيت د کړنلارې (پاليسي) عملي کول ، د کورنۍ تنظيمول ، او په ټولو روغتيايي مرکزونو کښې د VAW د قضيو سره سروکار لرلو په اړه يې هم ليوالتيا ونښوده. په جدي توګه ، ای اين ډي ايس ، هم د مېرمنو چارو د شريک په ډول ، د دې ملاتړ کوي چې نارينه بايد و هڅول شي چې د زېږون لپاره په چمتووالي ، له زېږون د مخه پاملرنې (ANC) ، د زېږون پرمهال او له زېږون وروسته پاملرنې باندې پوه شي او همدا راز ، د نوو ميندو کاري اندازې کمولو کښې مرسته وکړي ، روغتيايي غذايي رژيم هڅول او پاملرنه و څاري. دا په نارينوو غږ کوي چې يو مثبت منځګړی او اوسي او له واده وروسته د زياتو اولادونو لپاره پر مېرمنو فشار وانچوي. دا ژمنې دا اړتيا محسوسوي چې هغه ټولنيز جنسيتي نورمونه له سره وضع شي چې اوس مهال مېرمنو ته پداسې ښه زيان رسوي چې د مېرمنو ساتنه او روغتيا ، د اولادونو روزنې مسؤليت مساوي برخه ، او د نارينه او مېرمنو ترمنځ د پرېکړې کولو ته پرمختګ ورکوي.

د افغانستان اسلامي جمهوريت کلک هوډ کړی چې د ميندو د مرګ تناسب په NAPWA ، د فغانستان ملي پرمختيايي ستراتژۍ ، NPPS ، او د زريزې لپاره د افغانستان پرمختيايي اهداف AMDGs کښې را کم کړي — او ژمنه يې کړې چې د د زېږون پر مهال د ميندو د مړينې کچه فيصدي د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ موده کښې ۵۰ سلنه را کمه کړي او ۲۰۰۳ کچه به په ۲۰۲۰ کښې ۲۵ سلنې ته راښکته کړي. او دوی هوډ لري چې په ۲۰۰۳ کښې په هر روغتيايي مرکز کښې يوه ښځينه روغتيايي کار کونکيه وګماري.[103]په ۲۰۱۶ کښې ، د افغانستان اسلامي جمهوريت پلان لري چې ۸۰ سلنه روغتيايي مرکزونه به د زېږون لپاره مسلکي او په کار پوه قابله ګانې ولري چې د ۲۰۱۲ له مخې يې لومړنی شمېر ۶۸ سلنه وو ، او ۱۰۰ فيصده روغتيايي مرکزونه به لږ تر لږه د کورنۍ تنظيمولو ۳ عصري طرحې چې اساسي شمېر يې ۸۱ سلنه ، او ۵۰ سلنه زېږون به د مسلکي قابله ګانو له خوا تر سره کېږي چې اصلي شمېر به يې ۳۴ سلنه دی.[104]

په عمومي ډول ، په دې سروی کښې مېرمنو د افغانستان اسلامي جمهوريت ته د روغتيا په برخه کښې د B- درجه ورکړه چې د حکومت کړنې يې روغتيا پالنې ته د مېرمنو د لاسرسي په برخه کښې ، د کورنۍ تنظيمولو او زېږونې روغتيا ، مېرمنو لپاره درکاتې کېدو او د رواني ملاتړ په برخه کښې ارزولي دي. دلته د مېرمنو په اړه د ولاياتو او يا توکم له پلوه د حکومت کړنو کښې کوم ځانګړی توپير نه وو. همداسې د عمر او يا مدني حالت ، د تعليم کچه او يا د وظيفې لرلو او نه لرلو له پلوه هم کوم خاص توپير نه وو. خو ، هغه مېرمنې چې د کور مياشتنی عايد يې زيات وو د حکومت کړنې يې د روغتيا په ساحه کښې نظر هغو مېرمنو ته چې عايد يې کم وو ډېرې کمې ليدلې ،[105] کيدی شي زيات لاسرسی يې ښوده او ځکه د حکومت روغتيايي خدمتونو څارنه ، يا د مناسبې روغتياپالنې لوړو معيارونو څخه ځان خبروي.

[101] اوسط = 2.56 ، SD=.36

[102]ستېفني ډوبېښکي ’’روغتيايي بحرانونه چې مېرمنې ورسره په افغانستان کښې د طالبانو په دوره کښې مخ وې ‘‘ امريکايي پوهنتون واشنګټن ، د حقوقو پوهنځی ، د بشري حقونو لنديز 6 ، شمېره ۲ ، ۱۹۹۹ ،
http://digitalcommons.wcl.american.edu/cgi/viewcontent.cgi?article=1576&context=hrbrief

[103]روغتيا ټولو افغانانو لپاره NPP

[104]د عامې روغتيا وزارت د زېږونې روغتيا ملي ستراتژي ۲۰۱۲ ۲۰۱۶

[105] R=.225, p<.05

# روغتیایي خدمتونو ته د مېرمنو لاسرسی

| | |
|---|---|
| د روغتيا اساسي خدمتونو ته د مېرمنو لاسرسی[106] | B- |
| په حکومتي روغتيايي مرکزونو کښې د مسلکي ښځينه روغتيايي کارکوونکو شمېر[107] | C+ |
| د تېرو پنځو کلونو په پرتله د روغتيا ښځينه کارکونکو شتون[108] | B |
| د حکومتي روغتيايي مرکزونو ته د مېرمنو لاسرسی[109] | B- |
| د اسانتياوو له مخې د مېرمنو اړتياوو ته پام کول[110] | B |

په دې راپور کښې سروې شوې مېرمنو د افغانستان اسلامي جمهوريت د روغتيا اساسي خدمتونو ته د مېرمنو لاسرسي لپاره د B- په کچه و ارزوه. د عامې روغتيا وزارت په ۲۰۰۲ کښې لمړنې عامه روغتيايي خدمات روغتيايي خدمتونو د لاربنود ايجاد کړ چې د افغانستان اسلامي جمهوريت به ترې ټولو افغانانو لپاره په هغه سيمو کښې ګټه واخلي چې د روغتيا په برخه کښې په عمده ستونزو اغېز ولري ، د زېربناء له نظره د لاسته راوړنې وړ وي ، مناسبه بيه ولري ، او روغتيايي خدمتونو ته په کليو او ښارونو کښې د يو شان لاسرسي اسانتيا برابره کړي.[111] د عامې روغتيا وزارت د روغتيا د معلوماتو د مديريت سېستم (HMIS) د راپور له مخې ، په ۲۰۰۴ کال کښې د لمړني عامه روغتيايي خدمات فعال مرکزونه له ۱۰۷۵ څخه په ۲۰۱۱ کال کښې ۱۸۲۹ ته ورسېدل ، چې ۷۰ سلنه زياتوالی په ګوته کوي او د کليو منځنۍ نفوس چې يو فعال لمړني عامه روغتيايي خدمات مرکز تر پوښښ لاندې راوستل له ۱۵۱۷۵ څخه ۱۰۸۴۹ ته په ورته وخت کښې ټيټ شول.[112]

او همداسې نور ، په يو کال کښې د لمړني عامه روغتيايي خدمات روغتيايي مرکزونو ته د ناروغانو د ورتګ ټول شمېر له ۱،۲ ميليونو څخه ۴۴،۸ ميليونو ته لوړ شو ، او د هغو ناروغانو شمېر چې په يوه ورځ کښې روغتيايي خدمتونه ترلاسه کوي په ۲۰۰۴ کال کښې له ۶۵۳۷ څخه په ۲۰۱۱ کال کښې ۱۴۳۰۴۶ ته لوړ شو ، سره له دې چې دا شمېرې د جنسيت په برخو نه دي ويشل شوي او د لمړني عامه روغتيايي خدمات په مرکزونو کښې د څلور چنده زياتوالی راپور ور کوي.[113] خو افغانستان کښې د مېرمنو منځنۍ عمر مخ په زياتېدو دی ، چې په ۲۰۰۵ کښې ۵۸،۳ او ۲۰۱۲ کښې ۶۱،۸ نظر نارينو ته لوړ شوی دی.[114]

سره له دې چې مېرمنو نظر تېرو پنځو کلونو ته حکومت ته د ښځينه روغتياپالو د شتون له امله B درجه ورکړې ، حکومت د هغه سروې له مخې چې په دولتي روغتيايي مرکزونو کښې د مسلکي ښځينه روغتياپالو د شمېر له مخې تر سره شوې د C+ درجه ترلاسه کړې. د احصاييې مرکزي ټولنې د کلنې کتاب له مخې په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلنو کښې دواړه قراردادي او دولتي چارواکي چې د عامې روغتيا وزارت ګمارلي ۱۱۰۶ يې په ولاياتو کښې نظر ۴۷۰۹ نارينو ته ښځې دي او په مرکز کښې نظر ۴۸۶۹ نارينوو ته ۱۹۱۸ يې مېرمنې دي.[115] خو ، دا اوس هم د پام وړ پرمختګ په ګوته کوي. چې په ۲۰۰۴ او ۲۰۱۲ کلنو کښې د روغتيايي مرکزونو شمېر ۴۹۶ څخه ۲۰۴۷ ته لوړ شو ، چې په دې کښې ۱۶۸۰ يې د روغتيا لمړنيو مرکزونه او ۷۴ سلنه مرکزونه لږ تر لږه يوه ښځينه کارکوونکې لري.[116] د عامې روغتيا د وزارت د راپور له مخې ، د ټولنيزو روغتيايي کارکوونکو شمېر چې مېرمنې وې په ۲۰۱۱ کښې ۴۸ سلنې ته رسېده.[117]

په ډاډمنه توګه ويل کېږي چې په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلنو کښې د کابل پوهنتون د طب پوهنځي له محصلانو ۴۰ سلنه يې مېرمنې وې. دا شمېره له هغې ۱۹ سلنې زياته ده چې د افغانستان په خصوصي روغتيايي تعليمي موسساتو کښې د مېرمنو د ګډون شمېر په ګوته کوي.[118] په مرکز او ولاياتو کښې په خصوصي لوړو زدکړو موسساتو کښې په روغتيايي پوهنځيو کښې د مېرمنو ګډون ۲۴ سلنه دی ، چې ۳۸ يې په عامه روغتيايي برخه ، ۲۹ سلنه يې د درملنې په

---

[106] اوسط=2.55 ، SD=.88
[107] M=2.63, SD=.95
[108] M=2.33, SD=.86
[109] M=2.46, SD=1.24
[110] M=2.01, SD=1.03
[111] جان آر. اسپرا ، کارا اسکيان ، زبير ای. قريشي ، او راهول کی. شرما ، په افغانستان کښې د روغتياپالنې سېستم رغاونه: لمړنيو پاملرنې او اضطراري خدمتونو ته لنډه کتنه ، د اضطراري درملو نړيوال ژورنال ، ګڼه ۲ ، ۵ جون ۲۰۰۹ ، http://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC2700223/.
[112] ويليم نيو براندر ، پاول ايسکښبکس ، فيروزالدين فيروز ، او حيات الله ستانکزی ، د افغانستان د روغيتا لمړنيو ټولګه: د دې پراختيا او د روغتيا سېستم په رغاونه يې اغېز. نړيواله عامه روغتيا ۹ ، ۱ ګڼه (جولای 2014) : S6-S28
[113] هماغه ځای
[114] د نړيوال بانک معلومات .http://data.worldbank.org
[115] د افغانستان کلنی احصايوي کتاب ۲۰۱۳—۲۰۱۴ ، د احصايې مرکزي ټولنه ، د افغانستان اسلامي جمهوريت ، ۲۰۱۴ ، د احصائي مرکزي اداره http://.gov.af/Content/files/Government%20Civil%20Service%20Employees.pdf.
[116] افغانستان: مېرمنو ، ماشومانو او غريبو لپاره غوره عايد ، د لوی پرمختګ لسيزه ، نړيوال بانک ، ۱۸ اپريل ۲۰۱۳ ، http://www.worldbank.org/en/results/2013/04/18/afghanistan-better-health-outcomes-women-children-poor.
[117] ويليم نيو براندر ، پاول ايسکښبکس ، فيروزالدين فيروز ، او حيات الله ستانکزی ، د افغانستان لپاره د روغتيايي خدمتونو اساسي ټولګه ، ۲۰۱۴
احصايوي کلنی کتاب ۲۰۱۳—۲۰۱۴: تعليم ، د افغانستان اسلامي جمهوريت د احصائيې مرکزي اداره ، ۲۰۱۴[118]

برخه کښې ،او ۵۴ سلنه يې د ستوماتولوژي او ۶۴ سلنه يې د روغتيا پالۍ په ځانګه کښې په درس بوختې دي.[119] پر دې سربېره ، په ۲۰۱۰ کال کښې ۳۲ د قابلګۍ ښوونځي جوړ شوی وو چې بيا وروسته ۲۲ ته راکم کړای شو.[120]

هغه مېرمنې روغتيايي مرکزونو ته د لاسرسي لپاره سروی شوې وې د افغانستان اسلامي جموريت ته يې -B درجه ورکړې. د ۲۰۰۹ کال د مطالعې له مخې ، د افغانستان ۸۵ سلنه نفوس د ۲ ساعتونو د مزل وروسته لمړني روغتيايي مرکزونو ته لاسرسی درلود.[121] د ۲۰۱۴ کال کښې د افغانانو د سروی له مخې ، راپور ورکړل شو چې ۹۰ سلنه مېرمنو په اغېزمن ډول وکولای شول چې د يو ساعت مزل وروسته روغتيايي مرکزونو ته لاسرسی ولري ، ۸ سلنه دوه ساعتونو کښې ، ۳ سلنه نورې يې دوو ساعتونو نه زيات وخت کښې روغتيايي مرکزونو ته لاسرسی ومومي. د راپور له مخې ۴۱ سلنه مېرمنې په پښو ،۴ سلنه د ځناور سپرلۍ ، ۲۷ سلنه په موټر يا لاريو ، ۱۲ سلنه يې په موټر سايکل او ۱ فيصد يې په سايکل او ۲ سلنه يې په بس او ۲ سلنه يې په رکشا کښې روغتيايي مرکزونو ته لاسرسی موندلی شي.

سره له دې چې ، د کاغذ پرمخ دا د لاسرسي يو ستر پرمختګ دی ، خو په افغانستان کښې نظر نارينوو ته د دوو ساعتونو مزل مېرمنو ته لويه ننګونه ده. د امنيت په څېر موضوع ، دود او دستور کېدی شي دا پوښتنه را پورته کړي چې آيا د دوو ساعتونو لرېوالی افغان مېرمنو ته د لاسرسي لپاره مناسب دی او که نه ، په ځانګړي ډول هغه مېرمنو لپاره چې د کور مشري کوي او يا په لرو پرتو او کليوالو سيمو کښې. د ۲۰۰۹ هماغه څېړنه په ګوته کوي چې د ۲۰۰۸ کال نا امنيو له امله ۳۰۰۰۰۰ خلک د روغتيا اساسي خدمتونو څخه بې برخې شول. او دا چې نظر خوندي سيمو ته په ناامنه ولاياتو کښې د روغتيايي خدمتونو

اړتيا درې برابره لوړه ده.[122] سربېره پردې ، د زېربنا نشتوالي او د سړکونو نا سمه شبکه په ژمي او شديد موسم کښې روغتيايي مرکزونه ته لاسرسي له خنډ سره مخ کوي ، په ځانګړې توګه هغوي چې روغتيايي حالت يې ډېر شديد وي.[123] دا هم ډېره ستونزمنه ده چې په لرو کليوالو سيمو کښې ښځينه روغتيايي کارکوونکي ولرو ، سره له دې چې د عامې روغتيا وزارت لرو پرتو سيمو ته د ښځينه کارکوونکو د لېږلو لپاره هڅونکي مالي اسانتياوې برابرې کړې دي.[124]

حتی که مېرمنې کتنځيو او روغتون ته تللی هم شي ، دوی تل پداسې شکل نه دي جوړ شوي چې د دوي اړتياوو ته ځواب ووايي ، د افغانستان اسلامي جمهوريت ته روغتيايي مرکزونو سره د مېرمنو د اړتياوو د درک له مخې B درجه ورکړې. سره له دې چې پورته ياد شوي د ښځينه روغتيايي کار کونکيانو شتون يا نشتون او د کتنځيو او روغتونو ته لاسرسی په روغتيايي برخه کښې د درک لوی عاملونه دي ، د مېرمنو اړتياوو ته د مرکزونو ځواب ويېنه هم ځنې عاملونه لري لکه فزيکي موقعيت ، ډيزاين او طرحه ، د ناروغ فيس ، او ځانګړو درملو او ټيکنالوجيو نشتون. د مثال په ډول ، د ۲۰۱۳ کال څېړنه په ګوته کوي چې ځنې کتنځي د ناروغانو لپاره انتظار خونې نه لري ، او يا ډېرې لوی دي او په ژمي کښې نه تودېږي. نورو د درملو ساتنې لپاره مناسبې خونې نه لرلي.[125] په نورو څېړنو کښې ، د ښځينه انتظار خونو نشتون هم د مېرمنو لاسرسي ته خنډ واقع شوی.[126] په يو بل مثال کښې له ۲۰۰۸ څخه د زېږونې روغتيا په برخه کښې يوازې ۱ فيصد روغتيايي مرکزونو د ماشوم زېږونې بشپړ او فعال تجهيزات لرل. ۷۱ سلنه مرکزونو له ناروغانو فيسونه اخېستل ، د څېړنو يو ځای کول په ګوته کوي چې هغه مرکزونه چې له ناروغانو يې فيس اخستل د ماشوم زېږونې کم تجربه قابله ګانې ګارلي[127]. پردې سربېره ، د عامې روغتيا وزارت د ۲۰۱۳ کال ارزونې په ډاګه کړې چې د جنسيت حساسو موضوع ګانو لکه فزيکي او جنسيتي تاوتريخوالي او د رواني ناروغيو د درملنې ، په ځانګړي ډول د مېرمنو لپاره کافي ظرفيت نه وه موجود.[128]

سره له دې چې د روغتيايي مديريت معلومات سيستم HMIS د عامه روغتيا په اړه معلومات راټولوي او زياتره ملي پروګرامونه د جنسيت جدا معلومات لري او ځنې پروګرامونه د جنسيت ترکيبي معولومات نه لري. د جيکا يو کار کونکی چې د عامې روغتيا په وزارت کښې کار کوي دا محسوس کړې چې شاخصونه اوسمهال کافي نه دي او وزارت دې ته اړتيا لري چې پوه شي د نارينه او ښځينه ناروغانو پر روغتيا څومره لګښت کېږي. دا مهال افغانستان اسلامي جمهوريت سړي سر په روغتيا ۴ ډالر مصرفوي ، چې نظر نړيوال نورم ته د د نړيوال روغتيايي سازمان له مخې تر ټولو لږ سړي سر لګښت ۱۵ ډالره دی ، او د جنسيت د عايد د ګټې د کچې بيلوالی تر اوسه نامعلوم دی.[129]

[119] هماغه ځای

[120] د جيکا آر ايج پي ۲ چارواکي سره مصاحبه ، ۱۰ دسمبر ۲۰۱۴

[121] جان آر. اسيرا ، کارلا ايسکيان ، زبير ای. قريشي ، او راهول کی. شرما ، د افغانستان روغتياپالنې سېستم رغونه ، ۲۰۰۹

[122] هماغه ځای

[123] هماغه ځای

د جيکا آر ايج پي 2 چارواکي سره مصاحبه ، ۱۰ دسمبر ۲۰۱۴[124]

[125] ماري ايس. هبلر ، که ته کور جوړ کړئ ، آيا بيا به يې ته ويجاړ کړې ؟: له انتقالي حکومت وروسته افغانستان کښې د PRT د ټولنو ګډون او حمايت پروژو پرمختګ ، اينټيګريټي واچ افغانستان ، ډسمبر ۲۰۱۳.

[126] په افغانستان کښې روغتيايي خدمتونو د لاسرسي زياتوالي تر څنګ د جنسيت حساسو روغتيايي خدمتونو برابرول ، نړيوال روغتيايي پروګرام ، ۲۰۱۳. http://applications.emro.who.int/dsaf/EMROPUB_2013_EN_1585.pdf .

[127] ماورين مای هو ، MD ، PhD ، MPH ، پيټر ايم. هانسين ، PhD ، ډيويډ ، ايچ. پيټر ، MD ، DrPH ، انبراسي ايډوارډ ، PhD ، MPH ، MBA ، لاک ويندر پي. سينګ ، DPHiL ، ويکاس دويديوی ، PGDDHM ، اشرف مشکور ، MD ، او ګيلبرټ بورن هام ، ايم ډي ، پي ايچ ډي ، افغانستان کښې د مسلکي قابله ګانو تعين: يوه مقطعي څېړنه ، د عامه روغتيا امريکايي ژورنال ۸۹ ، لسمه ګڼه ، اکتوبر ۲۰۰۸ ،: ۱۸۴۹-۱۸۵۶. په افغانستان کښې روغتيايي خدمتونو د لاسرسي زياتوالي تر څنګ د جنسيت حساسو روغتيايي خدمتونو برابرول ، نړيوال روغتيايي پروګرام ، ۲۰۱۳[128]

[129] جيکا ار پي ايچ آی آی ، چارواکی ، ۱۰ دسمبر ۲۰۱۴.

# د مور او زیږوني روغتیا او کورنۍ د تنظیمولو پلان

| | |
|---|---|
| د اولاد زیږوني پلان د ستراتژۍ په اړه د مېرمنو پوهاوی[130] | C- |
| د ماشوم زیږون د مسلکي قابله ګانو لخوا تر سره کېږي[131] | C |
| د میندو تلفات (مرګ) نظر تېرو پنځو کلونو ته[132] | B |

سره له دې چې اوس هم ننګوني شته ، خو د مېرمنو د زیږوني (ولادت) روغتیا په برخه کښې د پام وړ پرمختګ شوی ، چې دا یوه داسې برخه منل شوې چې پکښې پرمختګ د نورو برخو په نسبت د پام وړ اغېز کولی شي لکه د بې وزلۍ (غربت) کموالی ، د مېرمنو واکداره کول او د دوی ګډون ، د ماشومانو روغتیا او زده کړه.[133] د میندو د تولو تلفاتو (مرګونو) درې برخې یې د ولادت پر مهال یا له ولادت فورا وروسته واقع کېږي چې کېدی شي د مسلکي روغتیاپالو چې د ولادت په چارو کښې مهارت ولري د ولادت پر مهال موجود وسې. په د زیږون پر مهال د میندو د مړینې کچه کښې د پام وړ پرمختګ لیدل شوی ، په نړۍ کښې د مطلق لوړ د زیږون پر مهال د میندو د مړینې کچه څخه چې په ۲۰۰۱ کښې د هر ۱۰۰۰۰۰ ژوندیو ولادتونو څخه به ۱۶۰۰ مړه کېده چې په ۲۰۱۴ کښې یې د ۱۰۰۰۰۰ ژوندیو ولادتونو څخه د تلفاتو شمېر یوازې ۴۰۰ ته راکم شو.[134] سره له دې چې ، مېرمنو د حکومت کړنې په دې سروې کښې نورو برخو سره ثابتې و ارزولې چې د مسلکي قابله ګانو لخوا د ولادتونو تر سره کول یې C او د میندو مرګ یې نظر تېرو پنځو کلونو ته B درجه کښې ارزولې.

د میندو د مخنیوي وړ مړینه زیات وختونه د خطر د نښانو د نه پېژندلو له امله رامنځته کېږي ، د روغتیایي خدمتونو غوښتنې لپاره د پریکړې له امله ، روغتیایي خدمتونو ته د رسېدو له امله ، یا په روغتیایي مرکزونو کښې د روغتیایي خدمتونو ترلاسه کولو له امله چې هلته مېرمنې بیا هم نشي کولی د خپل صحت په اړه په ډاډه زړه فیصله وکړي او بیا هم روغتیایي خدمتونو ترلاسه کولو لپاره د یو چا ملتیا ته اړتیا لري.[135] سره له دې چې د زیږون پر مهال د میندو د مړینې کچه په افغانستان کښې پام وړ کچې ته را ټیټه شوې ، خو اوس هم په نړۍ کښې ۲۸ مه درجه لري.[136] په افغانستان کښې د میندو د مرګ تر ټولو نېږدې سروی چې په ۲۰۱۰ کال کښې تر سره شوې ، د میندو د مرګ د کلنۍ شمېرې تر څنګ ، تقریبا په هر یو ساعت کښې یوه مور په ولادت مري.[137]

د افغانستان څو شاخصه ډله ایزه سروې (AMICS) په ډاګه کړه چې ، هغه ولادتونه چې په تېر کال کښې تر سره شوي ، ۳۹ سلنه یې د مسلکي پرسونل په لاس تر سره شوي ، چې لوړ شمېر یې په مرکز او تر ټول کم شمېر یې په سویلي سیمو کښې وو. ډاکترانو ۲۰ سلنه ولادتونو کښې مرسته کړې ، قابله ګانو او روغتیا پالانو ۱۶ سلنه ، او د قابله ګانو ونډه ۲ سلنه وه. دا هم یو د پام وړ پرمختګ وو. چې د ۲۰۱۳ د ۶ سلنه اټکل شوي بیس لاین څخه پورته شو. د[138] C برخې ولادتونه له ۴ سلنې کم وو ، نظر هغه نړیوال معیار ته چې له ۵ تر ۱۵ سلنې دی.[139] د ۲۰۱۲ د راپور له مخې ، یوازې ۳۳ سلنه ولادتونه په روغتیایي مرکزونو کښې تر سره کېږي ، چې ۲۸ سلنه یې په خصوصي مرکزونو کښې ، او پاتې ۶۵ سلنه یې په کورونو کښې تر سره کېږي.[140] دا شمېر روښانه کوي چې سره له دې چې کافي پرمختګ شوی ، د مېرمنو ارزونه چې د سروې لپاره شوې د یو پام وړ پرمختګ انعکاس دی چې اوس هم ورته اړتیا شته. د جیکا یو چارواکي چې په عامې روغتیا وزارت کښې کار کوي داسې وایي:

د هر اخیزه خدمتونو په نظرکښې نیولو سره ، د مسلکي قابله ګانو لخوا یې شمېره ولادتي خدمتونه وړاندې کېږي ، او اوس مهال له ۱۰۰۰ زیات روغتیایي مرکزونه دا ډول خدمتونه وړاندې کوي. اکثریت یې مېرمنې دي [......]. دلته محلي قابله ګانې دي چې نه روزل شوي او نه مسلکي تجهیزات لري. اوس دلته د قابلګۍ ښوونځي جوړ شوي دي. خو د ټولو ولادتونو ۶۴

[130] M=3.36, SD=.2.61

[131] M=2.99, SD=2.70

[132] M=2.33, SD=.94

[133] د مثال په ډول وګورۍ وانیسا ایم. بولانګر ، کاترین ایل. فاب ، جین شومه ، او جینیفر لیننګ ، د میندو په مړینه بې پروایي: په تانزانیه کښې د ژوندیو کوچنیانو په ژوند د میندو د مړینې اغېزې مقداري مدارک ، پي ایل او ایس ون ، اتمه ګڼه ، ۲۰۱۳.. http://journals.plos.org/plosone/article?id=10.1371/journal.pone.0071674

[134] د نړۍ د دنفوس حالت ۲۰۱۴ ، یواین ایف پي ای ، ۲۰۱۴. http://www.unfpa.org/sites/default/files/pub-pdf/EN-SWOP14-Report_FINAL-web.pdf

[135] په افغانستان کښې روغتیایي خدمتونو د لاسرسي زیاتوالي تر څنګ د جنسیت حساسو روغتیایي خدمتونو برابرول ، نړیوال روغتیایي پروګرام ، ۲۰۱۳.

[136] د نړیوال بانک معلومات: http://data.worldbank.org

[137] افغانستان: د میندو او ولادت د مخه روغتیا پروفایل ، نړیواله روغتیایي اداره ، ۲۰۱۲ http://www.who.int/maternal_child_adolescent/epidemiology/profiles/maternal/afg.pdf

[138] ایم ډي جي ۵: د میندو د روغتیا پرمختګ ، یو این ډي پي ، افغانستان ، ۲۰۱۴.. http://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/mdgoverview/overview/mdg5/

[139] د افغانستان څو شاخصه ډله ایزه سروی: د مېرمنو او کوچنیانو د حالت څارنه ، د احصایې مرکزي اداره او یونیسیف ، ۲۰۱۲

[140] هماغه ځای

سلنه په کورونو کښې تر سره کېږي. خو دلته لاسته راوړنې هم شته ؛ چې ۴۷ سلنه ولادتونه د مسلکي قابله ګانو لخوا تر سره کېږي ، دا که په کور کښې وي او که په روغتیايي مرکز کښې.[141]

په کال ۲۰۱۲ کښې ، له زېږون د مخه پوښښ ۳۹ سلنه وو ، چې له ۶ سلنې زيات شو چې په ۲۰۱۳ کال کښې وو ، او هغه ولادتونه چې په روغتیايي مرکزونو کښې تر سره شوی وو ۴۳ سلنه وو ، له ۷ سلنې زيات دي چې په ۲۰۰۴ کال کښې وه. په ۲۰۱۲ کال کښې ، ۴۸ سلنه مېرمنو د حمل په موده کښې لږ تر لږه يو ځل د زيږيدنې څخه وړاندې مراقبت ترلاسه کړي ، چې دا کچه په سويلي سيمه کښې نظر مرکزي سيمې ته خورا ټيټه ده ، او له هرو شپږو ميندو څخه يوازې يوې يې له ولادت د مخه پاملرنه لږ تر لږه څلور ځلې ترلاسه کړې.[142] هغه ميندې چې د AMICS له سروی يې دوه کاله مخکښې زېږون کړی ، د ۲۰ سلنه ميندو د وينو ښېلګې د ولادت د مخه اخېستل شوې ، ۳۵ سلنه ميندو د وينې فشار معاينه شوی ، ۲۴ سلنه نورو يې د ادرار (تشې متيازې) نمونې لابراتوار ته ورکړې. او يوازې ۱۲ سلنه ميندو درې واړه خدمتونه ترلاسه کړي.[143]

د کورنۍ د تنظيمولو په برخه کښې هم يو څه پرمختګ شوی ، سره له دې هغه مېرمنې چې سروی شوې ، په ټولنه کښې د مېرمنو پوهاوی د کورنۍ د تنظيمولو د ستراتژۍ په اړه د C- په کچه ارزولې. دا د مېرمنو د روغتيا لپاره زيات اهميت لري ، د نړيوال اټکل له مخې د ميندو ۳۵ سلنه مرګ د بې پلانه حامله کېدو د مخنيوي له لارې يې مخنيوی کېدی شي.[144] په کال ۲۰۱۲ کښې ، ۲۱،۲ سلنه واده شوې مېرمنو د حمل د مخنوي پلان کارولی ، چې زيات عام يې د پيچکارۍ له لارې مخنيوی وو (۱۰ سلنه واده شوې مېرمنې)، او د ګوليو کارول (۶ سلنه واده شوې مېرمنې).

د حمل بندولو درمل د لوړو زده کړو کچې او شتمنو کورنيو پورې تړاو لري[145]. دا د ۲۰۰۳ کال د ۵ سلنه لمړنې وضعيت څخه لوی پرمختګ دی ، خو دا اوس هم د ای ايم ډي جي د هدف څخه چې ۲۰۱۵ کال لپاره يې ۵۰ سلنه ټاکلی ډېر کم دی.[146] په ۲۰۱۲ کال کښې د افغانستان لپاره څو شاخص لرونکي ډله ايزه سروې په ډاګه کړه چې ، ۱۰ سلنه مېرمنو چې عمرونه يې د ۱۵ او ۱۹ کلنو تر منځ وو ژونه دي ولادتونه کړي وو ، ۱۴ سلنه مېرمنو حمل اخېستل پيل کړي وو ، هره مېرمن چې عمرونه يې د ۲۰ او ۲۴ کلنو تر منځ وو له ۱۸ کلنې د مخه يې يو ژوندې ولادت کړی وو.[147]

علاوه پردې ، هغه مېرمنې چې کم لوستې او يا له غريبو کورنيو وې له ۱۸ کلنۍ د مخه حامله شوې.[148] د ۲۰۱۳ کال د امېندوارۍ نړيوال رابور له مخې ، د امېندوارۍ کچه (د مېرمنې پر سر يو ولادت) په ټول افغانستان کښې ۸،۲ وه ،[149] حال دا چې په ۲۰۱۲ کښې دا کچه ۱،۵ ته راټيټه شوې وه.[150] خو د ۲۰۱۲ کال د معلوماتو له مخې دا کچه اوس هم په نړۍ کښې ۱۳ لوړ مقام دی.[151]

د جيکا چارواکي چې مصاحبې کړي ، دا يې ياده کړې چې د افغانستان ننوتل سياسيت ته ، او د امنيت انتقال د مېرمنو روغتيا خطر سره مخ کړې ، په ځانګړې ډول ولادي يا د زېږونې روغتيا. چارواکو دا تشريح کړه چې نړيوال مرسته کونکي لکه د روغتيا نړيواله سازمان ، جيکا ، د متحده ايالتونو د پرمختګ نړيواله اداره ، او نړيوال بانک زياتې مرستې د زېږونې روغتيا په برخه کښې دي. دوی دا درک کړه چې حکومت د پروګرامونو د تطبيق ظرفيت لوړ کړی ، کيدی شي که مرستې و درول شي روغتيايي مرکزونه به سقوط وکړي. او بيا به د لاسرسي ستونزې پيدا شي ، د ميندو مرګ به زيات شي او د کورنيو د تنظيمولو خدمتونه به په ټپه ودرېږي. چارواکي دا درک کړه چې د حکومت وړتيا چې په دې برخو کښې لاسته راوړنې حفظ او وساتي دا به د مرستو د طرحو او د ملي بودجې کښې شاملې پروژې او د بوديجې څخه د باندې پروژې اغيزمنې کړی.[152]

[141] جيکا ار ايچ پي دوه چارواکي سره مرکه ، ۱۰ دسمبر ۲۰۱۴

[142] د افغانستان څو ډله ايزه شاخص سروی: د مېرمنو او کوچنيانو حالت څارل ، د احصايې مرکزي اداره او يونيسف ، جون ۲۰۱۲

[143] هماغه ځای

[144] دوګلاس هبر ، نيکا سيدي ، او عبدالهادي صمدي ، کورنۍ تنظيمولو له لارې د بريا ترلاسه کول په افغانستان کښې ، نړيواله روغتيايي اداره ، دسبمر ۲۰۰۹ http://www.who.int/bulletin/volumes/88/3/08-059410/en/.

[145] د افغانستان څو شاخصه ډله ايزه سروی: د مېرمنو او کوچنيانو د حالت څارنه ، د احصايې مرکزي اداره او يونيسيف ، ۲۰۱۲

[146] ايم ډي جي ۵: د ميندو د روغتيا پرمختګ ، يو اين ډي پي ، افغانستان ، ۲۰۱۴

[147] هماغه ځای

[148] هماغه ځای

[149] د اومېندوارۍ نړيوال راپور ۲۰۰۹ ، د ملګرو ملتونو د نفوس اداره ، ډيسا ، 12 مارچ ۲۰۰۴. http://www.un.org/esa/population/publications/worldfertility/Preface_Contents.pdf.

[150] افغانستان: د ميندو او ولادت د مخه روغتيا وضعيت ، نړيواله روغتيايي اداره ، ۲۰۱۲

[151] د نړيوال بانک معلومات ، http://data.worldbank.org

[152] هماغه ځای

# ميرمنو لپاره درکاتي او ارواپوهنې برخه کښې ملاتړ

| د حکومتي متخصصينو لخوا مېرمنو لپاره په درکاتی او اروپوهنې برخه کښې د لاسرسي اړتيا [153] | B- |
| --- | --- |

د درکاتو او اروپوهنې خدمتونه عموما د عصبي روغتيا په خدمتونو کښې وړاندې کېږي ، دلته عصبي روغتيا داسې تعريفيږي ؛ د روغتيا هغه حالت چې يو شخص پکښې خپلې اړتياوې پيژني ، د ژوندانه عادي انديښنې زغملی شي ، په اغېزمن او ګټور ډول کار کولی شی ، او خپلې ټولنه کښې ګډون کولی شي. [154] په افغانستان کښې اوږد مهاله تضاد رواني ستونزو ، تاوتريخوالي او ناامنيو ، او غربت د عصبي نارغيو له نظره درک زيات کړی دي ، په ځانګړي ډول په مېرمنو کښې چې نشي کولی د جنسيتي تضادونو له مخې په ازاد ډول تګ راتګ وکړي او ټولنيز ملاتړ ترلاسه کړي.[155] د ۲۰۰۳ کال د عصبي ناروغيو د ارزونې له مخې ۷۳-۷۵ سلنه مېرمنې چې د طالبانو کنترول لاندې او ۲۸ سلنه نور يې چې د طالبانو له کنترول شوو سيمو لرې ژوند کوي د انديښنه لوې نښې نښانې پکښې ليدل شوي دي.[156] دې سره په ۲۰۰۹ کال عصبي روغتيا خدمتونه په لمړني عامه روغتيايي خدمات کښې داخل کړای شول. [157]

د روغتيا نړيوالې ادارې په ۲۰۱۳ کال راپور کښې څرګنده شوې چې دا موضوع درک شوه چې د روغتيا په اساسي مرکزونو کښې د رواني روغتيا خدمتونو شتون نه درلود او د انديښنه په څېر ناروغۍ په کورنيو درملو دوا کېدې ، او بله دا چې روغتيايي کارکوونکو هم شکايت وکړ چې دوي ته مناسبه روزنه نده ورکړل شوې او د باکيفيته عصبي روغتيايي خدمتونو لپاره کافي او مناسب درمل نه لري. [158] په هماغه راپور کښې ذکر شوي چې د مهاجرينو په کمپونو کښې ۳۶ سلنه ميندې د ولادت د مخه انديښنه د ناروغۍ نښې درلودې ، چې ۹۱ ميندو يې د ځان وژنې فکرونه لرل.[159]

په ۲۰۱۰ کال کې د عامې روغتيا وزارت او د روغتيا نړيوالې ټولنې راپور ورکړ چې له ۶۰ سلنې زيات افغانان (چې اکثره يې مېرمنې دي) په انديښنه او رواني ناروغيو يا په عصبي بې نظميو اخته دی.[160] همدا راز ، د روغتيا د وزارت پخواني معين په ۲۰۱۰ کال کښې ويلي وو چې هر کال ۲۳۰۰ مېرمنې يا نجونې د ځان وژنې هڅه کوي.[161] د ۲۰۱۱ کال راپور په څېړنه کښې معلومه شوې چې د افغانستان د ټول نفوس نيم يې چې عمر يې له ۱۵ کلونو پورته دی په انديښنه ، رواني ناروغيو او يا د وېرې په ناروغۍ (PSTD) اخته دي ، او ټولنيز بنديزنه او خنډونه روغتيايي مرکزونو ته د مېرمنو د ورتګ خنډونه ګرځي.[162] دې راپور په ډاګه کړې چې په کابل کښې يو ۶۰ بستريز ليونتون دی چې د عامې روغتيا وزارت زياته بوديجه چې د رواني روغتيا لپاره د وزارت لخوا تعين ده مصرفوي ، چې دا روغتون د مسلکي کار کونکو او د کتنځيو لپاره متخصص اروپوهان نه لري.[163] د همدې راپور له مخې ، په افغانستان کښې يوازې دوه اروپوهان وو چې په نړيواله کچه پيژندل شوي وو ، او يو يې هم په مسلک کښې کار نه کولو ، او په روغتون کښې هيڅ روزل شوی اروپوه د معاينې لپاره او يا اروپوه روغتيا پال نه وو.[164] سره له دې چې يو بل راپور څرګنده کړې چې په ټول هېواد کښې ۴۲ اروپوهان او د رواني ناروغيو ډاکتران دي.[165] د ۲۰۱۱ کال د معلوماتو له مخې ، د ۱۰۰۰۰۰ څخه يوازې ۱۸۲ يې په عصبي روغتيايي مرکزونو کښې تداوي شوي چې يوازې ۲۹ سلنه يې مېرمنې وې.[166] احصائيه په ګوته کوي چې سره له دې چې دا ژمنه شوې چې د لمړني عامه روغتيايي خدمات روغتيايي مرکزونو څخه د عصبي ناروغيو خدمتونه هم وړاندې شي ، خو افغانې مېرمنې اوس هم ډېر کم يا د هيڅ برابر خدمتونه له دې مرکزونو ترلاسه کړي. که دې ته وګورو د B- درجه چې مېرمنو په دې سروی کښې ورکړې د خدمتونو د شتون ښکارندويي نکوي ، خو دا ښکاره کوي چې خلک په دوامداره ډول د عصبي ناروغيو له تداويو او د عصبي روغتيا مشورو او ملاتړ له ګټو څخه بې خبره دي.[167]

---

[153] M=2.60, SD=1.32

[154] د روغتيا نړيوالې ادارې تعريف

[155] تر ۶۰ سلنې زيات افغانان په رواني ناروغيو اخته دي ، نړيواله څېړنه ، د نړيوال کېدو څېړنې مرکز ، ۱۱ اکتوبر ۲۰۱۰.
http://www.globalresearch.ca/over-60-percent-of-afghans-suffer-mental-health-problems/21389.

[156] ايل ايل. اموويتز ، ايم. هيزلر ، وي. اياکوپيانو ، په افغانستان کښې د نفوسو پر اساس د عصبي روغتيا ارزونې او د مېرمنو حقوقو په اړه د خلکو کره وړه. د مېرمنو د روغتيا ژورنال ۱۲ ، ۶ ګڼه ، (۲۰۰۳):۵۷۷-۸۷

[157] غلام دستګير سيد ، په افغانستان کښې عصبي روغتيا: پيټې او ننګونې ، او د پرمختګ لورې ، نړيوال بانک ، د روغتيا ، تغذيې او نفوس د مباحثې پاڼې ، اګست ۲۰۱۱
http://siteresources.worldbank.org/HEALTHNUTRITIONANDPOPULATION/Resources/281627-1095698140167/MHinAfghanistan.pdf.

[158] په افغانستان کښې د جنسيت درک د روغتيايي خدمتونو تر څنګ روغتيا پالنې خدمتونو ته زياتېدونکی لاسرسی ، نړيواله روغتيايي اداره ، ۲۰۱۳

[159] هماغه ځای

[160] له ۶۰ سلنه زيات افغانان په عصبي روغتيايي ستونزو اخته دي ، نړيواله څېړنه ، دنړيوال کښېدو څېړنې مرکز ، ۱۱ اکتوبر ۲۰۱۰ ،
http://www.globalresearch.ca/over-60-percent-of-afghans-suffer-mental-health-problems/21389.

[161] مېرمنې او عصبي روغتيا په افغانستان کښې ، په افغانستان کښې مېرمنو لپاره د کاناډايي مېرمنو ملاتړ. اين. جي.
http://www.cw4wafghan.ca/sites/default/files/attachments/pages/3.1_women-and-mental-health.pdf.

[162] غلام دستګير سيد ، په افغانستان کښې عصبي روغتيا

[163] هماغه ځای

[164] هماغه ځای

[165] مېرمنې او عصبي روغتيا په افغانستان کښې ، په افغانستان کښې مېرمنو لپاره د کاناډايي مېرمنو ملاتړ. اين. جي.

[166] افغانستان: د رواني روغتيا اطلس ، ۲۰۱۱ ، د عصبي روغتيا او د مخدره موادو اعتياد اداره. نړيواله روغتيايي اداره. ۲۰۱۱
http://www.who.int/mental_health/evidence/atlas/profiles/afg_mh_profile.pdf.

[167] راچېل والوزين ، په ټولنيزې ساتنې د نا دولتي سيستم څارنه ، د اکبر د ادارې کالتي سلسه ، اپريل ۲۰۰۸
http://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/E566F49E60D6CD44C12576F600380EF4-Full_Report.pdf.

# زده کړه

روغتیا پالنې ته ورته ، د طالبانو په رژیم کښې مېرمنې په زده کړو کښې هم د پام وړ خنډونه ليدلي. د طالبانو په دوره کښې ، د انجونو زيات ښوونځي تړل شوي وو ، او د شمول ناخالصه سلنه له ۳۲ څخه يوازې ۲، ۶ ته ښکته شوه. [169]دا ډول خواشينوونکي پيل سره له مخ کېدو وروسته ، د افغانستان حکومت يو شمېر تعهدات وکړ چې نه يوازې د انجونو زده کړو په اړه بلکې د هغوي د سواد زده کړو او بالغو مېرمنو لپاره هم د زده کړو زمينه برابره کړي چې څو لسيزې وروسته له زده کړو لرې پاتې دي.

په افغانستان کښې د انجونو ګډون د ښځينه ښوونکيو زياتېدو او د زده کړې پاليسيو جوړولو کښې د مېرمنو د ونډې اخېستنې سره نيغه اړيکه لري. په ناپوا کښې ، د افغانستان حکومت هوډ کړی وو چې د زده کړو د هرې کچې سېستم په ټولو بستونو کښې به مېرمنې مساوي ونډه ترلاسه کړي ، چې له استاذۍ نيولې تر پاليسي جوړونې ، د ښځينه ښوونکيو ګمارنې او لوړو زده کړو لپاره کانکور کښې د مېرمنو شمول د مثبتو کړنو د پاليسۍ منل او تطبيقولو پورې تړول شامل دي. په د فغانستان ملي پرمختيايي سترټژۍ کښې ، د افغانستان حکومت دا ژمنه کړې چې زياتو ښځينه متخصصينو د ګمارلو ستراتژۍ خپله کړي او هغه ښځينه ښوونکې وګماري چې د ابيارغونې د سمونو لومړيتوب (PRR) په پروسه کښې له دندو ګوښه شوې وې.

خو په افغانستان کښې حتی ټولکيو ته د انجونو تګ هم خنډونه لري. ددې موضوع په نظر کښې نيولو سره د افغانستان حکومت ژمنه کړې چې د زده کړې د سېستم په هره برخه مېرمنو ته مساوي ونډه ورکړل شي ، په ټولکيو کښې به ورسره مساوي چلند کېږي ، او د زده کړو تر امکانه لوړې کچې حاصلول او د لوړ کيفيت تعليم ترلاسه کولو مساوي مواقع ولري. دوي هوډ لري چې د انجونو د زده کړو په مقابل کښې خنډونه به لرې کړي او په کليوالو او ښاري سيمو کښې به زده کړې ته د دوي لاسرسی لا زيات کړي او د مېرمنو د زده کړې د اهميت په اړه د ټولنيزو خبراوي پروګرامونو له لارې زيات کړی ، چې په دې کښې معلوماتي کمپاينونه چې د اسلام مبارک دين هغه اصول چې د مېرمنو زده کړې مهمې بولي هم پکښې شامل وي. علاه پر دې ، ناپوا (NAPWA) د پوهنې ، ترانسپورټ او کورنيو چارو وزارتونو سره ژمنه کړې چې داسې کاري ګروپونه جوړ کړي چې داسې لارې چارې ولټول شي چې نجونې ښوونځيو ته په مناسب ډول و رسوي او همداډول دې چارو لپاره کړنلار او پروګرامونه ايجاد کړي.

نظر لوړو زده کړو ته ، د فغانستان ملي پرمختيايي سترټژۍ پوهنتونو لپاره پلان طرح کړی وو چې پوهنتونو کښې د ښځينه زده کوونکو لپاره د استوګنې زيربناوې مشخصې او پراخه کړي ، همداراز داسې کړنلارې ايجاد او تطبيق کړی چې د ښځينه زده کوونکو سلنه ۳۰ ته لوړه کړي. د د فغانستان ملي پرمختيايي سترټژۍ د پوهنې ځانګې ستراتژۍ د افغانستان حکومت سره لا پسې ژمنه کوي چېانجونو ته د د کانکور چمتووالي ټولګي جوړ کړي.

د بالغو مېرمنو په هکله ، حکومت هدف لري چې د مېرمنو بې سوادي (نالوستي) ۵۰ سلنې ته را ټيټه کړي. ناپوا (NAPWA) د حکومت ژمنتيا د اساسي قانون او CEDAW له مخې خلاصه کوي ، او حکومت دې ته هڅوي چې د بالغانو د سواد زده کړې پروګرامونه زيات او فعال کړي ، په ځانګړې ډول هغه پروګرامونه چې هدف يې د بالغانو د زده کړې په شمول د مېرمنو او نارينوو تر منځ د زده کړې فصله يوه تشه ده. د د فغانستان ملي پرمختيايي سترټژۍ اداري حکومت ته ژمنه ورکړه چې ۱۷۰۰۰ ښوونکې او ۳۵۰۰ ملا امامان د لوست د زده کړې کورسونو په تطبقولو کښې وروزي چې له دې جملې يې ۳۰ سلنه مېرمنې دي.

په ټوليزه توګه ، هغه مېرمنې چې دې څېړنې لپاره سروی شوي د افغانستان اسلامي جمهوريت ته يې د انجونو او مېرمنو د زده کړې په برخه کښې د -B درجه ورکړې ، چې پکښې لومړنۍ او ثانوي زده کړې ، پوهنتون ، ليک لوست زده کړه (سواد) او اسلامي علوم شامل دي. دلته د سواد په برخه کښې د حکومت په کړنه کښې د توکمونو پر بنسټ ، مدني حالت ، د زده کړې کچه ، او يا وظيفې پر اساس کوم اختلاف نه دی جوت شوی. د عمر او د زده کړې د کچې پر اساس هم کوم تضاد ندی ليدل شوی. خو په ټوليزه توګه د مېرمنو د زده کړې په هکله د حکومت کړنو کښې اختلافات ليدل شوي ، چې په کندوز کښې دا تضاد ډېر مثبت او په فارياب کښې تر ټولو منفي وه. [170]

---

[168] اوسط = 2.5 SD=.58

[169] اشلي جيکسن ، لوړ خطرات ، د انجونو زده کړه په افغانستان کښې ، د اوکسفام ګډ لنډيز مجله ، ۲۴ فبروري ۲۰۱۱.
http://www.oxfam.org/sites/www.oxfam.org/files/afghanistan-girls-education-022411.pdf

[170] F(4,118)=1.54, P<.01; باميان M=2.40, SD=.41 هرات M=2.46, SD=.64 ننګرهار M=2.55, SD=.49 کندوز M=2.21, SD=.48 فارياب M=2.94, SD=.62

# لومړنۍ او ثانوي زده کړې

| | |
|---|---|
| په ثانوي زده کړو کښې د انجونو شمولیت[171] | B- |
| په ثانوي زده کړو کښې د هلکانو ګډون[172] | B |
| د انجونو اړتیا ته د لمړنیو او ثانوي ښوونځیو درک[173] | B |
| هلکانو او انجونو لپاره د زده کړې مساوي مواقع[174] | B- |

په کال ۲۰۰۱ کښې د مېرمنو ګډون په برخه کښې د پام وړ پرمختګ کړی. د ۲۰۱۴ کال له مخې ، له ۸ تر ۱۰ میلونو افغانان په ښوونځیو کښې شامل شوي چې دریمه برخه يې نجوني دي.[175] د پوهنې وزارت د ۲۰۱۰ کال د معلوماتو له مخې ، ۷۱ سلنه په شرایطو برابر کوچنیان په ښوونځیو کښې شامل شوي ، او ۵۸ سلنه کوچنیان چې نومونه يې لیکل شوي کال يې په پوره کبده وو. په هر حال ، د انجونو شمېر نسبت هلکانو ته اوس هم د پرمختګ لپاره کافي ځای لري. د افغانستان د پوهنې ملي پروفایل د پوهنې پالیسۍ او معلوماتو د ۲۰۱۴ کال د معلوماتو له مخې ۳۶ سلنه ماشومان چې عمرونه يې ۷ تر ۱۲ کلنو ترمنځ وو ، نظر د همدې عمرانجونو ته چې ۵۳ سلنه وې ، په ښوونځیو کښې شامل شوي نه وو.[176] د لېسې (ثانوي) په کچه ۴۷، سلنه هلکان چې عمرونه يې د ۱۳ او ۱۸ ترمنځ وو په ښوونځیو کښې نه شامل ، چې د انجونو فیصدي يې ۷۳ سلنه وه.[177] د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلنو د خطر او درک د ارزونې ملي اداره ، (د خطر او آسیب ارزونې ملي پروګرام) د د احصیې مرکزي اداره په وینا ویلي چې د انجونو او مېرمنو لپاره د زده کړې مواقع اوس هم کمې دي ، سره له دې چې په زده کړه او لوست کښې د جنسیتونو ترمنځ لرېوالی کم شوی.[178] د هلکانو او انجونو د سوبتیا (حاضرۍ) خالصه کچې نسبت په ترتیب سره ۴۸ او ۶۴ سلنه وو ، نظر ۲۹ او ۴۳ سلنې ته چې په ۲۰۰۵ کال کښې وو.[179] چې ددې ځرګندونه کوي چې د هلکانو او انجونو حاضرۍ په لمړنیو ښوونځیو کښې زیاته شوې خو د جنسیت ترمنځ فاصله چې په ۲۰۰۵ کښې ۱۴ سلنه وه په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کښې ۱۶ سلنې ته زیاته شوې. پر دې سربېره د د خطر او آسیب ارزونې ملي پروګرام له مخې افغانستان کښې د کوچیو او نورو انجونو تر منځ فاصله زیاته وه ، چې د کوچیو انجونو ګډون سلنه په لمړنیو ښوونځیو کښې یوازې ۱۳ وه. په لېسو (ثانوي) کښې د انجونو او هلکانو د حاضرۍ کچې سلنه په ترتیب سره ۲۳ او ۴۲ سلنه وه.[180] د یونیسف یو چارواکي د جنسیت مساوات د موضوع ثابتوالی داسې ځرګنده کړې:

که چېرته تاسې هغه لومړنیو معلوماتو ته وګورئ چې د پوهنې په برخه کښې راټول او تحلیل شوي ، د کوچنیانو شمېر چې د پوهنې په برخه کښې شامل شوي وو له یو میلیون څخه کم دي ، او له دې جملې يې هېڅ نجونې په خصوصي ښونځیو کښې نه دي جذب شوي. اوس که تاسې د ۲۰۱۳ کال د پوهنې احصایې ته وګورئ ۹،۲ میلیونه کوچنیان ښوونځیو ته ځي (۱-۱۲ ټولګي) او له دې ۳۳ سلنه يې نجونې دي [....] چې له صفر سلنې د انجونو جذب شروع او ۳۳ سلنې ته ورسېدو چې دا یو پرمختګ دی. خو که تاسې د اول ټولګي زده کونکو ته ځیر شئ چې په عمومي پوهنې سېستم کښې شامل شوي وي ، کله چې دا کوچنیان پورته ټولګیو ته ځي د ساتنې امکانات يې زیات کمېږي. دلته د پوهنې په سېستم د ساتنې کچه ښکته ده. چې دا د پوهنې په لار کښې یوه لویه ننګونه ده.[181]

د حکومت د NPP پوهنې د ټولو لپاره پرزنټیشن ته په ځیر کېدو ، چارواکي زیاته کړه:

کله چې تاسې ۱۲ مو ټولګیو ته ځیر شئ ، د لمړیو ټولګیو زده کونکو څخه چې ۱،۱ میلیون وو ، یوازې ۲۷۴۸۸۳ يې کوچنیان يې پاتې دي. دا یو کوچنی شمېر دی. د پورته شمېر څخه یوازې ۹۹۹۰۴ يې نجونې وې. چې دا فاصله ډېره لویه ده. څومره چې کوچنیان پورته ټولګیو ته ځي ، په همدې اندازه د هلکانو او انجونو تر منځ فاصله زیاتېږي.[182] هغه مېرمنې چې دې څېړنې لپاره سروې شوي دي د افغانستان حکومت ته يې د لېسې په کچه د انجونو د شمولیت له مخې د B- درجه ورکړې ، نظر هلکانو ته چې B درجه يې ورکړې ،

---

[171] Mean=2.44, SD=1.28

[172] M=2.03, SD=1.26

[173] M=2.11, SD=1.17

[174] M=2.40, SD=2.11

[175] نړیوال ابتدایي پوهنه ۲۰۲۰ ، په خطر کښې د افغانوانجونو لپاره؟ د ملګرو ملتونو کمیسون د مېرمنو پر حالت ۵۸ موازې برخې ، ۱۲ مارچ ۲۰۱۴ http://www.ifuw.org/wp-content/uploads/2014/03/UN-Website-Version-Final.pdf.

[176] د افغانستان د پوهنې ملي پروفایل: ۲۰۱۴ اپډیټ ، د پوهنې پالیسې او د معلوماتو مرکز ، ۲۰۱۴ http://www.epdc.org/sites/default/files/documents/EPDC%20NEP_Afghanistan_0.pdf.

[177] هماغه ځای

[178] د خطر او درک ملي ارزونه ، ۲۰۱۱-۱۲ پوهنه ، د احصایې مرکزي اداره ، د افغانستان اسلامي جمهوریت ۲۰۱۲ http:// احصائې مرکزي اداره.gov.af/Content/files/Chapter8%20EDUCATION.pdf.

[179] هماغه ځای

[180] هماغه ځای

[181] د یونیسیف چارواکي سره مرکه ، ۱۷ دسمبر ۲۰۱۴

[182] هماغه ځای

چې په ښوونځیو کښې د شمولیت د جنسیت په تقریبي برابرۍ دلالت کوي. او دا په تېرو لسیزو کښې په ښوونځیو کښې د انجونو د جذب پام وړ زیاتوالی څرګندوي. د افغانستان حکومت ته یې د هلکانو او انجونو زده کړې په مساوي برابرولو کښې هم د -B درجه ورکړل شوې چې ګډونوالو دا درک کړې چې اوس هم د جنسیت د مساواتو پر اساس پوهنه کښې د حکومت د هڅو د پرمختګ ځای شته.

لکه څنګه چې د شمولیت او حاضرۍ د کچې د جنسیت په لوی توپیر په ښه څرګند شوې، چې د پوهنې په سطحه سره خورا زیاته شوې، خو اوس هم د انجونو د شمول په مخ کښې په کافي اندازه خنډونه شته. په دې کښې غربت، ناامني او بې ثباتي، اجباري ودونه، د کورنیو نه ملاتړ، په محلي کارې فرصتونو کښې د مېرمنو دنده او د ماشومانو روزنه، د ښځینه ښوونکیو نشوالی، محدود کریکولم (تحصیلي پروګرام) د ښوونکیو کم معاشات، د انجونو ښوونځي، تاوتریخوالی، او د تولنیز ملاتړ نشوالی شامل دي.[183] دلته د تولګیو، کتابونو، مېزونو، او د درسي موادو دوامداره کمښت دی.[184] په ۲۰۱۱-۱۲ کالونو کښې د خطر او آسیب ارزونې ملي پروګرام دا معلومه کړه چې، ۳۴ سلنه نجونې د دودیزو ستونزو له امله نشي کولی ښوونځیو ته ولاړې شي، نورې ۲۹ سلنه نجونې د جغرافیایي ستونزو له امله نشي کولی ښوونځیو ته لاړې شي، ۵ سلنه د ناامنیو له امله، او ۴ سلنه د غربت له امله نشي کولی ښوونځیو ته لاړې شي.[185] ۵۲ سلنه مېرمنې د دودیزو لاملونو له مخې نشي کولی لېسو (ثانوي) ته ولاړې شي او ۵۳ سلنه لوړو زده کړو ته لاسرسی نه لري.[186] د یونیسف چارواکي په یوه مصاحبه کښې دا څرګنده کړې چې د جنسیت دا تفاوت له دې امله دی چې زیات ښوونځي ښځینه ښوونکیې نه لري او پلرونه نه غواړي خپلې لوڼې هغه ښوونځیو ته چې نارینه ښوونکي ولري واستوي، بل لامل یې د ښوونځیو لرېوالی او دودیز خنډونه دي چې مېرمنې نشي کول لرې ځایونو ته یوازې لاړې شي.[187] د پوهنې وزارت یو چارواکی وایي چې ناامني هغه لویه ستونزه ده چې نجونې له زده کړو منع کوي بله هغه یې د انجونو اجباري او کم عمر وادونه دي.[188]

ګډونوالو په دې څېړنه کښې د افغانستان اسلامي جمهوریت ته د انجونو د اړتیا له مخې لمړنیو او ثانوي زده کړو سره د درک لپاره د B درجه ورکړې، چې دا ننګونې په دوامداره توګه د امنیت، ترانسپورت، د ښوونځیو موقعیت، د خصوصي زیربناء په شکل انعکاسوي. د مثال په ډول، په ۲۰۱۱-۱۲ کښې یوازې ۴۸ سلنه کورنۍ د ابتدایه ښوونځیو څخه په 2 کیلومېترۍ کښې موقعیت درلود.[189] په ښاري سیمو کښې، دا یوازې ۳۶ سلنه وه.[190] په هر حال د B درجه د حکومت د کړنو لپاره زده کړو ته د انجونو لاسرسی او لمړنیو او ثانوي پوهنې کښې د انجونو د شمولیت زیاتوالي یو مثبت انعکاس شمېرل کښېدی شي.

| | |
|---|---|
| د ښځینه ښوونکیو شتون[191] | C+ |
| د ښځینه ښوونکیو شتونه نظر تېرو پنځه کلونو ته[192] | B |
| د ښځینه ښوونکیو په ګمارل کښې د حکومت هڅې[193] | C |

حکومت په هغه اندازه مثبت ندی ارزول شوی نظر د دوي هڅو ته چې د مېرمنو ښوونکیو شمېر زیات کړي، پوهنې ته د انجونو د لاسرسي کلیدي اړتیا. پداسې حال کښې چې ګډونوالو د افغانستان حکومت ته د ښځینه ښوونکیو د پرمختګ او شتون لپاره نسبت تېرو پنځو کلونو ته د B درجه ورکړې ده، خو دوی ښځینه ښوونکیو د شتون لپاره د +C درجه ورکړې، او د مسلکي ښوونکیو د ګمارل په برخه کښې یې حکومت ته د C درجه ورکړې. په ملي کچه، ۳۰ سلنه ښوونکیې مېرمنې دي، اګرچې د دوی اکثریت په کابل کښې دي (د ټولو ښوونکیو ۷۴ سلنه) بلخ ۵۳ سلنه، او هرات ۴۷ سلنه.[194] ځنې ولایات شته چې هلته د ښځینه ښوونکیو شمېر له ۲ سلنې هم کم دی، چې دا هغه ولایتونه په ګوته کښې چې هلته په ثانوي او لوړو زده کړو کښې د انجونو شمېر کم دی.[195] دا لړ پرمختګ څرګندوي، چې په ۲۰۰۸-۹ کښې له ۱۶۴۷۸۳ څخه یې یوازې ۴۵۶۸ مېرمنې وې، د ۲۸ سلنه ښوونکیو سره برابرېږي.[196] په ځانګړي ډول، د ښوونکیو روزنیز پرواګرامونو کښې ۵۴ سلنه زده کوونکي مېرمنې دي، سره له دې چې د ښوونکیو روزنې په موسساتو کښې د ښځینه ښوونکیو شمېر یوازې ۲۰ سلنه دی.[197] تر یو حده، دا یو ټولنیز نورم انعکاسوي چې تدریس د مېرمنو لپاره یو مناسب مسلک دی. د ثبوت لپاره

[183] نړیوال لمړنیو پوهنه، ۲۰۲۰ د ملګرو ملتونو کمېسون د مېرمنو پر حالت ۸۵ موازي برخې، ۲۰۱۴

[184] شان کاربیري، آیا د افغانستان ښوونځي وړاندیز سره سم کار کوي، ملي خصوصي راډیو، ۲۴ اکتوبر ۲۰۱۳
http://www.npr.org/blogs/parallels/2013/10/24/240482395/are-afghanistans-schools-doing-as-well-as-touted.

[185] لیدا نادري، هدایت او کرستین برګ، هارویکن، افغاني مېرمنې د پوهنې او اقتصاد پیاوړتیا کښې په کومه کچه دي؟ پي آر اې او، د سابقې لنډیز
Background Brief rot the Symposium Women's Rights and Empowerment in Afghanistan, November 2014,
http://file.prio.no/Publication_files/prio/Where%20Do%20Afghan%20Women%20Stand%20on%20Education%20and%20Economic%20Empowerment,%20PRIO%20Paper.pdf.

[186] هماغه ځای

[187] د یونیسف چارواکي سره مرکه، ۱۷ دسمبر ۲۰۱۴

[188] د عامې روغتیا وزارت چارواکي سره مرکه دسمبر ۲۰۱۴

[189] د خطر او اسیب پذیرۍ ملي ارزونه، ۲۰۱۱-۲۰۱۲: د احصائي مرکزي اداره.

[190] هماغه ځای

[191] M=2.70, SD=1.26

[192] M=2.19, SD=1.03

[193] M=2.89, SD=1.13

[194] لیدا نادري، هدایت او کرستین برګ، هارویکن، افغاني مېرمنې د پوهنې او اقتصاد پیاوړتیا کښې په کومه کچه دي؟ پي آر اې او، د سابقې لنډیز
Background Brief rot the Symposium Women's Rights and Empowerment in Afghanistan, November 2014,
http://file.prio.no/Publication_files/prio/Where%20Do%20Afghan%20Women%20Stand%20on%20Education%20and%20Economic%20Empowerment,%20PRIO%20Paper.pdf.

[195] هماغه ځای

[196] د احصایې کلنی کتاب، ۲۰۰۸-۹: دولتي مامورین، د احصایې مرکزي اداره، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۰۹
http://CSO.gov.af/Content/files/Full%20Chapter.pdf.

[197] د عمل سطحې لپاره د بیجینګ اعلامیې د تطبیق راپور، ۲۰۱۰-۲۰۱۴، د بهرنیو چارو وزارت، بشري حقونو او د مېرمنو نړیوال حقونو څانګه، د افغانستان اسلامي دولت، می ۲۰۱۴
http://www.unwomen.org/~/media/headquarters/attachments/sections/csw/59/national_reviews/afghanistan_review_beijing20.ashx

يې ، په ۲۰۱۴ کال کښې ۳۲ سلنه نارينه او ۴۹ سلنه مېرمنې په دې موافقې وې چې مېرمنې په اينجوګانو کښې کار وکړي ، او ۵۷ سلنه سړي او ۷۵ سلنه مېرمنې په دې موافقې وې چې مېرمنې په دولتي دوايرو کښې کار وکړي او ۷۶ سلنه سړي او ۸۶ سلنه مېرمنې په دې موافقې وې چې مېرمنو لپاره دا مناسبه ده چې په ښوونځيو کښې کار وکړي. دا کېدی شي تر يوه حده په پوهنه کښې د مېرمنو رول د انتقال معياري پوهاوی تشريح کړي ، چې يوازې د يو څو ښځينه ښوونکيو په مرسته شاګردان ځای پر ځای کړي ، ښځينه شاګردانې دا ورتيا لري چې د ښوونکيو روزنه و څاري.

د پوهنې په هره برخه کښې د مېرمنو د ګډون زياتوالی سربېره د حکومت زياتېدونکې ژمنتيا ، له تدريسه تر پاليسۍ جوړونې ، د ۲۰۱۴ کال د احصائي مرکزي ادارهراپور وايي د حکومتي مامورينو د ۲۵۶۱۶۳ څخه يوازې ۷۶۴۰۱ يې د پوهنې وزارت ښځينه مامورينې دي ، چې يوازې ۳۰ سلنه برابروي. زيات يې څه دي ، زيات ښوونکي اوس هم يوازې لومړنې زده کړې کړي ، چې يوازې کمه اندازه روزنه او لږ پيداګوجيک معلومات لري[198].

لکه څنګه چې معلومه ده نوي ګمارل شوي ښوونکي د تدريس کم معلومات او يا تجربه لري ، د ګمارلو پروسه تل د لياقت پر اساس نه وي ، او ۵۰۰۰ افغانۍ (۱۰۰) امريکايي ډالر معاش چې ښوونکيو ته ورکول کېږي په دې کښې د ترانسپورټ او غرمې ډوډۍ مصرف هم شامل دی مېرمنې دې ته زړه نه ښه کوی چې د ښوونکې په صفت دنده تر سره کړي.[199] د ښوونکيو د معاش ستونزه کېدی شي ډېره خواشينونکي وي که مالي مرسته ورکونکي خپل ملاتړ ته دوام ور نکړي. اټکل کېږي چې د ښوونکيو اوسنی شمېر به له ۹۰ تر ۹۵ سلنه ملي عايد مصرف کړي.[200]د يونيسف چارواکي د غير مسلکي ښوونکيو موضوع په صراحت سره ووېل:

د ښځينه ښوونکيو شمېر ۳۳ سلنه دی ، خو په دې شمېر کښې مسلکي او غير مسلکي دواړه شامل دي. غير مسلکي ښوونکي يوه لويه ستونزه لري چې د پوهنې په کيفيت اغيز کوي. حکومت د ښوونکيو شمېر او مسلکيتوب دواړه اصلاح کړي. مسلکي ښوونکيو د شمېر له مخې چې د ښوونکيو روزنې په پوهنتونو کښې روزل شوي دي ، د راتلونکو ۵ او يا ۶ کلونو لپاره کفايت کوي که چېرته دوي هر کال له ۱۵۰۰۰ نه تر ۳۰۰۰۰ فارغان ولري. خو ستونزه د ښځينه ښوونکو د ګمارل او ګمارنې ده [....] همدا وجه ده چې زيات شمېر ښوونکي چې د فراغت ليسانس ترلاسه کړي پوليسو يا د اداري کارکونکي په توګه دنده تر سره  کوي. [201]په هر حال ، زياتې هڅې شوي چې ښځينه ښوونکيې و هڅوي کړي چې په باامنه ولسواليو کښې يا په هغه سيمو کښې چې ښځينه ښوونکيو شمېر کم دی کار وکړي ، هماغسې چې په NPP کښې ذکر شوي ، سره له دې چې دا پروسه هم د مرستندويه ارګانونو په مرسته تطبيق کېږي. د يونيسف چارواکی چې دې څېړنې لپاره مرکه شوی وو داسې ويل:

د پرمختګ لپاره شريکان کوښښ کوي چې د پوهنې لپاره نړيوالو مرستندويانو څخه د ښځينه ښوونکيو د شمېر زياتولو ملاتړ او په هغو ولسواليو کښې چې ښځينه ښوونکيې نشته د ښځينه ښوونکيو ګمارل او ګمارلو لپاره مرستې ترلاسه کړي. له ۴۰۰ ولسواليو څخه يې ۲۰۰ يا ۲۵۰ ولسوالۍ ښځينه ښوونکيې يا خو نه لري او يا کمې دي. په دې پروګرام کښې د مېرمنو ملاتړ لپاره د مېرمنو د تشويق يوه ټولګه شته چې د مېرمنو کار کول په دې ولسواليو کښې حمايه کړي.

دا ډول ستراتژۍ د لنډ مهال لپاره کارول کېږي. بله ستراتژي چې دوی يې غواړي وکاروي د تحصلی بورسونو ورکول دي چې له ۱۲ مو ټولګيو فارغې نجونې وهڅوي په دې ولسواليو کښې د ښوونکيو روزنيز پوهنتونو ته ولاړې شي [...] دا يوه اوږد مهاله ستراتژي ده ، چې په ملي ستراتېژيک پلان کښې واضح شوې. په دې برخه کښې به زيات شيان و ازمويل شي. کله چې دوی لنډ مهاله ستراتژي تکميل شوه ، دوي اړ دي چې وګوري ، څنګه کولی شي د ښځينه ښوونکيو شمېر د منځ مهاله او اوږدمهاله ستراتېژيو په مرسته زيات او ثابت ساتلی شي

[198] ليدا نادري ، هدايت او کرستين برګ ، هارويکن ، افغانې مېرمنې د پوهنې او اقتصاد پياوړتيا کښې په کومه کچه دي؟ ۲۰۱۴

[199] احمد شهير انيل ، ملايکه کارليداګ ، او سعيد پارتو ،په افغانستان کښې د مېرمنو ملي کاري پلان: يوه ارزونه ، د افغانستان د عامه پاليسۍ د څېړنې اداره ، مارچ ۲۰۱۴.

http://www.baag.org.uk/sites/www.baag.org.uk/files/resources/attachments/APPRO%20Implementation%20of%20the%20NAPWA%20Assessment%20Mar2014.pdf.

[200] د يونيسف چارواکي سره مرکه ، ۱۷ ډسمبر ۲۰۱۴

[201] هماغه ځای

# لوړې زده کړې

| | |
|---|---|
| نجونو لپاره د د کانکور د ازموينې کورسونه برابرول[202] | C- |
| د مېرمنو په اړتياوو د پوهنتون د تسهيلاتو اغيز[203] | C+ |

هغه مېرمنې چې په دې څېړنه کښې سروی شوې حکومت يې په لوړو زده کړو کښې جنسيت-درک له مخې ښکته درجه بنه دي کړی. په لوړو زده کړو کښې د ښوونکيو پوهنتون (۱۳-۱۴ کلونه) تخنيکي پوهنتون (۱۳-۱۴ کلونه)، د لېسانس دوره (۱۳-۱۶ کلونه) او له لېسانس پورته (فوق لېسانس) زده کړې شاملې دي. د د خطر او آسيب ارزونې ملي پروګرام ۲۰۱۱-۲۰۱۲ له مخې د انجونو او هلکانو شمېر په لوړو زده کړو کښې په ترتيب سره ۳ او ۸ سلنه وو. [204]د ښارې سيمو انجونو شمېر په لوړو زده کړو که د هلکانو ۴،۴ سلنې سره مقايسه شي يوازې ۵،۰ سلنه وه.[205]

له ۲۰۰۲ کال را په دېخوا چې په دولتي ۱۹ لوړو زده کړو موسساتو کښې هېڅ ښځينه ماموره نه وه، د پام وړ پرمختګ شوی،[206] په هر ترتيب، کله په کال ۲۰۰۸ [207] کښې چې ښځينه زده کوونکې چې په خصوصي لوړو زده کړو پوهنتونو کښې شاملې شوې وې ۲۱ سلنه برخه يې جوړوله، دا سلنه په کال ۲۰۱۲ [208] او ۱۴ کښې ۱۹ وه، [209] چې د حکومت په هڅو کښې هېڅ پرمختګ او يا اصلاح نه په ګوته کوي چې په پوهنتونو کښې د مېرمنو شمېر بايد ۳۰ سلنې ته رسېدلی وای. په ۲۰۱۲ او ۱۴ کښې په دولتي پوهنتونو کښې د مېرمنو برخه جديد الشمول زده کوونکو له جملې يوازې ۱۸ سلنه وه. کله چې د لوړو زړه کړو دواړه دولتي او نادولتي موسسات په نظر کښې ونيسو سطحي يې د احصائيې مرکزي ادارهٔ له مخې تقريبا ثابتې وې، چې د مېرمنو شمول په کال ۲۰۱۱ او ۱۲ کښې ۱۸ سلنه او په کال ۲۰۱۳ او ۱۴ کښې ۱۹ سلنه وې چې له دې جملې يې ۳۸۴۸۹ ښځينه زده کوونکو په شخصي پوهنتونو کښې ګډون کړی وو.[210]

يوه برخه چې حکومت پکښې ژمنه کړې وه دا وه چې په پوهنتونو کښې د مېرمنو د شمېر زياتولو لپاره مساعدت وکړي، د کانکور امتحان لپاره د انجونو د چمتووالي کورسونو برابرول وو. د دې ژمنتيا له مخې ، د EPD پخوانۍ څېړنې دا څرګنده کړې چې مېرمنې دا درکوي چې دوی په ټول افغانستان کښې د کانکور چمتووالي ته لږ يا هېڅ لاسرسی نه لري. او هلته چې د کانکور چمتووالي کورسونه شته، په منع کوونکي ډول ډېر قيمته دي، او يا د جنسيت له مخې ببل تولګي نه لري چې دا يو بل ډول خنډ دی.[211]علاوه پردې، هغوی چې په دې څېړنه کښې سروی شوې دي مېرمنو لپاره د کانکور چمتووالي کورسونو د برابرولو په برخه کښې حکومت ته -C درجه ورکړې ده. سره له دې چې زياتو مېرمنو د کانکور ازموينه ورکړې، په ۲۰۰۷ کال کښې ۱۵ سلنه، په ۲۰۰۸ کال کښې ۲۶ سلنه، او په ۲۰۱۰ کال کښې ۲۷ سلنه، په ۲۰۱۰ کال کښې د هلکانو د بريا سلنه ۲۴ او د انجونو ۱۴ وه.[212]همدا راز، د حکومت د ۲۰۱۴ کال د لوړو زده کړو ستراتيژيک پلان په ګوته کوي چې په تېرو دريو کلنو کښې د کانکور په ازموينه کښې نسبت هلکانو ته د انجونو نمرې لږې وې، چې دا په دې دلالت کوي چې زيات شمېر هلکانو د کانکور چمتووالي کورسونو ته ښه لاسرسی درلود ولېانجونو دا موقع نلرله.[213]

د حکومت د ژمنو په برخه کښې د تمرکز بله کليدي ساحه د مېرمنو په اړتياو د پوهنتون د اغېزو پرمختګ دی، چې د زياتو ښځينه ښوونکيو ګمارلو، د مثبت کاري پلان او د مېرمنو سليقې سره د حقيقي سهولتونو برابر والی لکه، د ښځينه ليليې جوړول، هم پکښې شامل دي. سره له دې چې، دلته ځنې پرمختګونه هم وو، په دې برخه کښې ځنې د پام وړ ستونزې اوس هم پاتې

---

[202] M=3.32, SD=1.13

[203] M=2.79, SD=1.37

[204] د اسيب پذيرۍ او خطر ملي ارزونه 2011-2012، د احصائيي مرکزي اداره، ۲۰۱۲

[205] ليدا نادري، حيات او کرستن برګ هاويکن، افغانۍ مېرمنې د پوهنې او اقتصاد پياوړتيا کښې په کومه کچه دي؟ ۲۰۱۴

[206] عمل لپاره د بيجينګ د اعلامېې د تطبيق راپور، ۲۰۱۰-۱۴ د بهرنيو چارو وزارت، د بشري حقونو او د مېرمنو نړيوالو چارو څانګه، ۲۰۱۴.

[207] د لوړو زده کړو ملي ستراتېژيک پلان: ۲۰۱۰-۲۰۱۴، د لوړو زده کړو وزات، د افغانستان اسلامي جمهوريت، نومبر ۲۰۰۹
http://planipolis.iiep.unesco.org/upload/Afghanistan/Afghanistan_HESP_2010-2014.pdf.

[208] لوړې زده کړې په افغانستان کښې، ظهور نړيوال بانک اګست ۲۰۱۴
http://www-wds.worldbank.org/external/default/WDSContentServer/WDSP/IB/2013/09/05/000333037_20130905112816/Rendered/PDF/809150WP0Afgha0Box0379822B00PUBLIC0.pdf.

[209] د احصايې کلنی کتاب، ۲۰۱۳-۱۴ پوهنه، د افغانستان اسلامي جمهوريت د احصايې مرکزي اداره، ۲۰۱۴. د احصائيې مرکزي اداره
http://.gov.af/Content/files/Education%20part%20one(1).pdf.

[210] هماغه ځای

[211] په افغانستان کښې لوړو زده کړو ته د مېرمنو لاسرسی: په اوسني حالت پوهېدل، امنيت او ولسواکۍ (جمهوريت) لپاره مساوات، جولای ۲۰۱۱
http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/04/Final-Womens-Access-to-Higher-Education-in-Afghanistan-English.pdf.
ماري ايس ماري، ماوريت ريد، او شمسيه نوري، د افغانستان متقله لنډيز ۱۳۹۴ د ملي بوديجې مسوده: د سرچينو انځورونه، تخصيص، او د شخصي ماليي مديريت کړنې، نومبر ۲۰۱۴
http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/1394-Budget-Snapshot_English.pdf.

[212] جين ليکساو، د افغانستان د زده کړو برخې د جنسيت مساوات. د حالاتو اړوند شننه (تحليل). د شمالي اړوند مشورتي ګروپ، جولای ۲۰۱۲
http://ncg.no/novus/upload/file/Afghanistan%20Education%20Sector_%20Gender%20Equality%20Situational%20Analysis%20Final%20Report.pdf.

[213] د لوړو زده کړو ملي ستراتېژيک پلان: ۲۰۱۵-۲۰۱۵، د لوړو زده کړو وزات، د افغانستان اسلامي جمهوريت: مسودې متن ۴ دسمبر، ۲۰۱۴

دي ، چې د C+ په درجه PWN د غړو لخوا د لوړو زده کړو د جنسیت درک پر اساس ارزیابي شوی. سره له دې چې په ۲۰۰۲ کښې د ښځینه ښوونکیو په نشتون کښې په لوړو زده کړو کښې د پام وړ پرمختګ شوی ، خو دلته اوس هم په دولتي لوړو زده کړو په موسساتو کښې د ښځینه ښوونکیو بحراني نشوالی موجود دی. یوازې ۶۴۲ له ۴۴۹۶ ښوونکیو څخه ښځینه دي ، چې یوازې ۱۴ سلنه تشکیلوي ، چې د ۲۰۱۱-۱۲ څخه چې ۱۵ سلنه وو یو څه کموالی په ګوته کوي.

یو مثبت پرمختګ دا دی چې د لوړو زده کړو وزارت مېرمنو لپاره د مثبت کاري پلان سطحه معرفي کړې ، چې په نتیجه کښې یې د کانکور د ۲۰۱۲-۱۳ کلنو نتایج په ګوته کوي چې هغه ښځینه زده کوونکې چې له ۳۶۰ څخه یې ۲۳۰ نمرې اخېستې وې مربوط پوهنځیو ته معرفي شوې وې ، حال دا چې د هلکانو لپاره معیار ۲۵۰ نمرې وې. همدا راز ، هغه نجونې چې کمې نمرې یې اخېستې وې او له فیس پرته شخصي زده کړه موسساتو ته معرفي شوې وې شمېر یې نسبت هلکانو ته نیم وو او هغه نجونې چې ۱۶۷ نمرې یې اخېستې وې په دولتي او نادولتي لوړو زده کړو موسساتو کښې دوه کلن تحصیلي پروګرامونو ته په لږ فیس معرفي شوي دي.[214]

هغه نجونې چې لوړې زده کړې کوي په مخ کښې یو لوی خنډ د استوګنې د ځای نشوالی دی ، چې دا ستونزه د لوړو زده کړو وزارت په زیاتو پالیسیو کښې دا یوه کلیدي ستونزه پېژندل شوې. سره له دې چې د زیاتو لیلیو جوړولو او استوګنځي جنسیت ته زیات اغېزمن کړي ، په ۲۰۱۳-۱۴ کښې ، یوازې ۳۹۶۵ ښځینه زده کوونکې نسبت ۵۹۳۸۷ نارینه زده کوونکو ته په لیلیه کښې اوسېدلې چې د ټولو زده کوونکو چې په شخصي لوړو زده کړو لیلیو کښې اوسي یوازې ۷ سلنه تشکیلوي. د مېرمنو ګډون په لیلیو کښې د ۲۰۱۱-۱۲ کلنو کښې د له ۶ سلنه څخه لږ ډېر زیاتوالی په ګوته کوي.[215] په شخصي پوهنتونو کښې د ټولو ښځینه زده کوونکو شمېر چې له لیلیو څخه یې ګټه اخېستله نسبت نارینه زده کوونکو ته چې ۶۰ سلنه وه ،[216] یوازې ۱۷ سلنه وه.[217] چې دا څرګندوي چې اوس هم لا زیات پرمختګ شته چې د پوهنتون لیلیې د جنسیت له نظره ځواب ویونکښې شي.

# لیک لوست

| | |
|---|---|
| د مېرمنو په لیک لوست کې پرمختګ218 | B |
| د مېرمنو د اړتیا د پوره کولو لپاره د لیک لوست کورسونو ته پاملرنه219 | B |

نالوستیا یوه تر ټولو ستره ستونزه ده چې مېرمنې ورسره په افغانستان کې مخامخ دي, او همدارنګه ټول افغانستان ورسره مخ دی د څو لا ملونو په خاطر نالوستیا ډېره خطر ناکه ده.

الف ۱ سلنه د مېرمنو په لیک لوست کې زیاتوالی تر دری چنده ده د ماشومانو په مرګ کې کموالی راولي, نسبت ۱سلنه د ډاکترانو زیاتوالی ته. هغه کورنۍ چې مېرمنې یې لکه زدکړه ولري تر نورو نالوستي کورنیو بهتر کور, کالي, ګټه, اوبه, اوپه علمي توګه د ناروغیو د خپرېدو مخنیوی کوي220 د پر مختګ په لور روان هیوادونو کې چې ماشوم له داسې مور پیدا شي چې مور د لیک لوست سره بلدتیا ولري ۵۰ سلنه د دی امکان شته چې د ۵ کلنۍ نه وروسته ژونه دی پاته کېږي221. نو ځکه دولت د لیک لوست اغېز د مېرمنو په روغتیا, ښه والی, ګټورتوب, او افغانی ټولنی د سوکالی په عموي توګه عامه پوهاوي ورکړي ،222. او د مېرمنېنه نالوستی کچهیې په ملي او بین المللی سطحه را ښکته کړي.

که څه هم د ټول شمېرلاس ته راوړل سخت کار دی, د ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۰۳ کال پورې په اټکلې توګه یوازې ۵ سلنه او ۱۴سلنه مېرمنې چې عمرونه یې د ۱۵ کلونو نه پورته وو په افغانستان د لیک لوست سره بلدی وې. د خطر او آسیب پذیری ملي پروګرام له ټولو وروستی راپور ۲۰۱۱ نه تر ۲۰۱۲ پورې ښکاره کوي چې اوس هم په لویانو مېرمنو کې د لیک لوست کچهټیټه ده ، چې د ۱۷ سلنی نه تر ۴۵ سلنی پورې ده.

که څه هم د ټولو ارقامو لاس ته راوړل سخت دي خو د ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۰۳ په موده کې اټکل شوي چې 223۵ سلنه څخه تر ۱۴سلنه مېرمنې چې

[214] د ۲۰۱۰ نه تر ۲۰۱۴ کال د اقدام د پیکېنګ د اعلامی د خط مشي د تطبیق را پور ، د خارجه چارو وزارت ، د بشر د حقونو او میرمنو به د بین الملي چارو څانګه ۲۰۱۴

[215] د احصایې کلنی کتاب ۲۰۱۳-۱۴ ، تعلیمی د افغانستان اسلامي جمهوریت د مرکزي احصایې اداره ،.۲۰۱۴

[216] د احصایې کلنی کتاب ۲۰۱۳-۱۴ ، تعلیمی د افغانستان اسلامي جمهوریت د مرکزي احصایې اداره.,۲۰۱۴

[217] د لوړو ذدکړو په وړاندې د جنسیت خنډونه ، د او سیدولو د ځای ژوره اړتیا د ښځینه زده کړو لپاره ، د لوړو ذدکړو وزارت ، د افغانستان اسلامي جمهوریت ۱۰ جنوری ۲۰۱۱

[218] M= 2,26,SD=1,19 (220)

M=2,38 SD=91

[219] M=2.26, SD=1.19

[220] "Helpdesk Report: Women's Literacy and the Links Between Maternal Health, Reproductive Health and Daughter Education," Human Development Resource Centre, 8 July 2010, http://www.heart-resources.org/wp-content/uploads/2010/07/Womens-Literacy-July-2010.pdf.

[221] ډاکتر انتونف کری ، اندریو کري او جون سیټوارد. د بیلوستۍ اقتصادي او ټولنیز ارزښت ، د بیلوستۍ د شکل نړیوال مفهوم ، اپریل ۲۰۱۲ http://www.worldliteracyfoundation.org/The_Economic_&_Social_Cost_of_Illiteracy.pdf.

[222] د افغانستان د ملي لیک لوست د عمل پلان ۱۳۹۱ نه تر ۱۳۹۴ د لوست څانګه وزارت معارف ، د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت . http://www.unesco.org/new/fileadmin/MULTIMEDIA/HQ/ED/pdf/Afghanistan.pdf.

[223] محمد علی ستیغ او محمد شفیع حقمل ، بالوستۍ او د غټانو زده کړې په افغانستان کې ، ، لاس ته راوړنی او خنډونه ،د پوهنی وزارت ، د افغانستان جمهوری اسلامي دولت. ۱۰ http://www.accu.or.jp/esd/forum_esd_20/program/program12_01/pdf/text5.pdf

عمرونه يې ۱۵ کالو نه زيات دي لوستي يا با لوسته وي[224], د خطر او آسيب ارزونې د ملي پروګرام تر ټولو وروستی راپور روښانوي چې د بالغو ميرمنو د لوست کچهاوس هم ټيټه ده چې ۱۷سلنه پورې ده که نارينه ورسره پرتله شي نو ۴۵سلنه ميرمنې با لوسته دی چې 32 سلنه ميرمنې د ۱۴ نه تر ۲۴ کلونو با لوسته دي د ځوانو هلکانو سره په پرتله کې ۶۲ سلنه سلنه لوست لري [225]
.

ميرمنو د دولت هڅو او کوښښونوته (B) درجه ورکړی کوم کوښښونه چې دولت د ميرمنو د ليک لوستد ښه والی په خاطر کړی دی ، چې په دې څيړنه کې د خطر او آسيب ارزونې د ملي پروګرام ۲۰۱۱- ۱۲ او مرکزي احصايي اداره چې په احتمالی ډول د تيری لسيزی ثابت پرمختګ ، منعکس کوي ، د خطر او آسيب ارزونې ملي پروګرام د ۲۰ سلنه ځوانو ميرمنو د ليک لوستد کچهنه په ۲۰۰۵ کال نه تر دم ګړی ۳۲ سلنه د ليک لوستپه برخه کې پرمختګ په ګوته کوي, که څه هم د ځوانو ميرمنو ليک لوستپرمختيا مونډلې ده.مګر په دې برخه کې نور بهبود ته اړتيا شته, د خطر او آسيب ارزونې د ملي پروګرام د مطالعې پر بنسټ د ۲۰۰۵ کال کې ۲۰ سلنی څخه تر۲۰۱۱-۱۲ کال ۳۰ سلنه د نارينه او ميرمنېنه ځوانانو د لوست ترمنځ په ريښتنی ډول واټن زيات شوي[226] د ميرمنو تر منځ زياتې نابرابری لا هم شته دی. په ۲۰۱۰ کال کې چې په هرو ۵ ميرمنو کې يوې لوست درلود چې عمرونه يې د ۱۵-۲۴ کلنی پورې وه او د ښار اوسيدونکې وي په اضافي ډول په په غريبو او لرې پرتو سيمو کې په هرو ۵ ميرمنو کې يوه با لوسته وه.[227] همدا شان نابرابری په ځوانانو په لوست کې د ليدو وړ وه. چې په هغه ډله کې ۶۰ په سلو کې ځوانی په ښارونو کې د ۲۳ په سلو کې د کليولو ميرمنو په پرتله او د دوه سلنی I;څخه کمې کوچی ځوانی ميرمنې با لوسته وې.[228]

هغه ننګونی چې ميرمنې ورسره په کليو کې لاس او ګريوان دي له نا امنی او د کورنۍ د لوست ټيټې کښې څخه عبارت دي. د کورنۍ په وړاندې قومي او ژبنی غير متجانس حالت ، محافظه کاري ، بی اعتمادي د هوا حالت او اقليم او د

ښځينه ښوونکو کمبود[229]. ددی نابرابری د پيژندنی نه وروسته د افغانستان اسلامي جمهوريت په رسمي او فصيح ډول د ميرمنو لوست ته اولويت ورکړ او يوه برخه هم يې د لوست اموزی کورسونه پيل کړل.

که څه هم ميرمنو د ليک لوستد کورسونو د اړتيا په نظر کې نيولو سره د ميرمنو د اړتيا د پوره کولو لپاره د دولت دې اقدام ته (B) درجه ورکړی ده.

د احصايې د مرکزي اداري په وينا پر بنسټ د ۲۰۱۳ نه تر ۲۰۱۴ پورې ۲۳۹۵۲ د ليک لوست کورسونه موجود وو. چې د هغوي د جملې څخه ۹۹۵۱ د ميرمنو لپاره وو. چې د زده کړو مجموعه يې ۵۶۷,۹۱۳ کېدله ، چې ۲۵۶,۸۵۰ يې ميرمنې وې. سره له دی چې دا معلوميږي چې د نارينو د لوست کچهنسبت ميرمنو ته زياته ده. او دولت نارينو لپاره زيات د لوست کورسونه جوړوي — او د نارينو زيات خدمت کوي نسبت ميرمنو ته. د ميرمنو د لوست د کورسونو اندازه د ۵۱ سلنه د ۲۰۱۱-۱۲ کال څخه ۲۰۱۳-۱۴ پورې ته ۴۵ سلنه را کمه شوې او لا نوره هم کميږی[230]. د ۱۲۱۴۹ښوونکو څخه يوازې ۴۷۸۰ يې ميرمنې دي. [231]په تيره د سولی او دموکراسی لپاره يوشانولی موسسی چې کومه څيړنه چې په تر سره کړې داسې ښايې چې د ټولنو د شميرو د کارت له مخی په خلور ولايتونوکې کورسونه شتون لري. زياتره ميرمنې فکر کوي چې د کورس وخت ، ځای او جوړښت د زياتره ميرمنو لپاره مناسب نه دی او هغوي ورته لاسرسی نه شي موندلای. ډيرځلې په ګوته شوي چې زياتره د باسوادۍ کورسونه د غير دولتی ادارو له خوا په تر سره کيږي. [232]

دغه ارقام ښايي چې د دولت په ژمنو کې زيات کمبود شته په کومو ژمنو کې چې د دولت هدف د کوچنيانو او ميرمنو د لوست د زده کړې روزنې شاملې دي. او همداسې د ميرمنو لپاره د عمل ملي پلان د اداري اهداف چې غواړی د ميرمنو د نالوستۍ کچهد ۲۰۱۸ کال پورې ۵۰ په سلو کې تر راټيټه کړی. سره له دې د ميرمنو د نرمی رويې چې په دې څيړنه کې يې د (B) درجه ورکړی ده.

[224]د دوه لسيزو جنګ نه مخ په بره تګ ، د ولايتونو پرمختيا ، هر اړخيزه بيانونکې او ډله ايزه سروې په ۲۰۰۳ کال افغانستان ، د د مرکزي احصايي اداره او يونيسف ۲۰۰۳ http://www.childinfo.org/files/AfghanistanMICS2003.pdf.

د خطر او آسيب ارزونې ملي پروګرام ۲۰۱۱-,۱۲ د مرکزي احصايي اداره۲۰۱۲[225]

د خطر او آسيب ارزونې ملي پروګرام ۲۰۱۱-,۱۲ د مرکزي احصايي اداره۲۰۱۲[227]

[227] نړيوالی ابتدايه زده کړې ۲۰۲۰ , د ميرمنو دوضيعت په اړه د ملل متحد کميسون ۵۸ , موازی غونډه د مارچ دولسمه ۲۰۱۲

[228]د خطر او آسيب ارزونې ملي پروګرام ۲۰۱۱-,۱۲ د مرکزي احصايي اداره۲۰۱۲

[229] د خطر او آسيب ارزونې ملي پروګرام ۲۰۱۱-,۱۲ د مرکزي احصايي اداره۲۰۱۲

[230] د احصايې کتاب ۲۰۱۳-۱۴ زدکړه ، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مرکزي احصايي اداره

[231] د احصايې کتاب ۲۰۱۳-۱۴ زدکړه ، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مرکزي احصايي اداره

[232] ميری ايس هبر ، مورتس ريد او شميه نوري. د افغانستان اراده مطالعه ۱۳۹۴ د ملي بوديجی مسدود ۲۰۱۴

# اسلامي زده کړې

| د میرمنو او نجونو لپاره د اسلامي زدکړو شتون.[233] | B- |
|---|---|

که څه هم په جنسی نا برابری په عمومی ډول ډیرځلې بحث شوې. د جندر نیګرتیا او فرصتونه د اسلامي زدکړو لپاره ډیرځلې څارل شوې. سره له دې چې دولت د هغو ژمنو چې غواړی ډیری نجونې لوست وکولای شې.

د خطر او آسیب ارزونې ملي پروګرام د ورکړل شوي راپور له مخی ۷۰۰۰۰ میرمنې او ۸۰۰۰۰ نارینو چې عمرونه یې له ۲۵ پورته دي اسلامي زده کړې تر سره کړی[234]. د احصایې مرکزي ادارې د میرمنو یا نارینه په اسلامي زدکړه کې د ستونزو شتون کومه احصائیه نه ده وړاندی کړې. او بله څیړنه هم اسلامي زدکړو ته د تمایل ښودونکو میرمنو او نارینوو د ارقامو د پیدا کولو ستونزې ته اشاره کوي.[235] که څه هم کومه سروې چې د میرمنو سره تر سره شوې ده دولت ته یې د (B) درجه ورکړې دّ. اسلامي زدکړو په برخه کې چې دولت د میرمنو لپاره برابری کړې دې.

یو بله څیړنه ښایې چې د اسلامي علماو سره لکه څنګه چې د خبرو څرګندیږی چې په خصوصی تعلیمی ادارو کې د اسلامي زدکړو په فرصتونو کې دې ورستیو کلونو کې میرمنو زدکونکو لپاره د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.[236] که څه هم داسې آوازې موجودې دي چې د دولت پاملرنه د اسلامي زده کړې موادو ته او د هغوی معیار ته کمیږی.

د بی بی سی د ۲۰۱۴ کال د راپور له مخی یوه مدرسه په کندوز ولایت کې چې ۶۰۰۰ میرمنې زدکونکې لري اسلامي زده کړې حاصلوي چې په پټه د میرمنو حقوق زیانمنوي. د ښوونې او روزنې وزارت تاییدوی چې تر ۱۳۰۰ شاوخوا نا ثبت شوې دینې مدرسې په افغانستان کې فعالیت کوي.[237] د ۱۱۰۰ دولتی مدرسو دا راپور هغه سیمې په ګوته کوي چې د میرمنو اسلامي زدکړو په برخه کې د دولت لا زیاتی پاملرنې ته اړتیا لري.

[233] M=2.41SD

[234] لیذا نادری هیدایت او کرسینا برګ هپ کبن ، په افغانستان کښې د میرمنو حقوق او ښواک ته رسیدل

[235] لیذا نادری هیدایت او کرسینا برګ هپ کبن ، په افغانستان کښې د میرمنو حقوق او ښواک ته رسیدل

[236] لیذا نادری هیدایت او کرسینا برګ هپ کبن ، په افغانستان کښې د میرمنو حقوق او ښواک ته رسیدل

[237] مالیار صادق ازاد ، افغانی مدرسو د تاو تور تورنی دې ، میرمنې تاو تریخوالیته بلنه ور کوي. بی بی سی افغان ، ۱۶مارچ http://www.bbc.com/news/world-asia-26418558

# عدالت ته لاسرسی

| | |
|---|---|
| مجموعي کړنې[238] | C+ |

د افغانستان اسلامي جمهوریت په خپل اساسیقانون کې ژمنه کړې چې میرمنو او نجونو ته به اجازه ورکړي چې په مساوي ډول د هلکانو او سړیو په شان د خپلو حقونو نه ګټه واخلي.

د افغانستان د میرمنو لپاره د عمل ملي پلان اداري د دولت څخه ژمنه تر لاسه کړې چې میرمنې به په دولت کې برخه لري قانون جوړونه به کوي او د عدالت په پلې کولو کې به د نارینو سره مساوي وي او همدارنګه رسمي کړنې د جندر تحلیل ، د جندر پروګرام جوړونه ، د قانون په چوکاټ کې د جنست په نښه کولو بهیر او عدالت پلې کول دي. همدارنګه په دې کې هغه ژمنې هم شاملې دي چې په قانون جوړونه کې مثبتې طرحې او پلانونو د میرمنو په برخه اخیستنه ټینګار کړی. او د میرمنو په واسطه د عدالت تنظیم او د قانون مادو پلې کول د همدی کار د ملاتړ لپاره د افغانستان د میرمنو لپاره د عمل ملي پلان اداري داسې شرایط ور زیات کړې چې میرمنو ته دا توان ورکوي چې خپل معلومات زیات کړي تر څو ښه پوه شي ، او په ښکاره توګه د خپلو حقونو دفاع وکړي. په همدې ډول د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ اداره ژمنه ده چې د قانون د مطالعې د قوانینو د تعهداتو سره په مطابقت کې د جندر مساوات او همدارنګه د هغه قوانینو اصلاح او یا هم لغوه کول چې د میرمنو په ضد دي. په ځانګړې ډول هغه قوانین چې په شرایطوکې د واده ، طلاق ، د وارثت ملکیت ، او همدارنګه د میرمنو په وړاندې او تریخوالی او هغه رواجونه چې د میرمنو لپاره ضرر لري. او د دوی په ملاتړ کې د افغانستان د میرمنو لپاره د عمل ملي پلان اداري ټرون کوي چې هغه میرمنې چې د تاو تریخوالي ښکار شوي د هغوی لپاره به د جبران میکانیزم جوړوي او دا یې د اصلاحاتو په اجندا کې شامل کړې دي. د افغانستان د ستراتیژۍ او انکشاف ملي اداره ده چې داسې کودونه یا نخښې جوړې کړې چې د خلکو اړتیاو ته ځواب و وایې خصوصاً د میرمنو اړتیاو ته.

د افغانستان د میرمنو لپاره د عمل ملي پلان اداره تصد یقوي چې د قانوني خدمتونو ته د میرمنو اړتیاو د لاسرسي تر تولو ښه لار ده. او ژمنه کوي چې د حقوقي مرستو مشورتیمرکزونه جوړ کړي. مرستندویه اداري منځ ته راوړي چې میرمنو ته حقوقي لارښونو کې مرسته و کړي. میرمنو ته د یو کارپوه په ذریعه حقوقي روزنه ورکړي. د ملي مدافع وکیلانو شبکې تاسیس او د میرمنو چارو ریاست او د کورنیو چارو په وزارت کې به نورو ځاینونو ته د لیرلو خدمات پیل کړی. د کورنیو محکمو ایجادول او علاوه پردی روزنې ته د اړتیا ارزول هغه سازمانونو تقویه کول چې قانون تطبیقوي او د مساوات اصولو ته احترام کوي او د تبعیض په مخنیوې ځانګړې تاکېد او ټینګار په هغه قانون چې په جندر پورې تړلی تاو تریخوالی لا نه دی جوړ شوي ، لکه ماشوم اواجباری واده او همدارنګه نورو ځاینون ته د معرفي کولو میکانیزم جوړول د دولتي تاسیساتو لپاره لکه روغتون او اجباری ودونو او د تاوتریخوالی په ادعا ګانو د قانون پلی کول. دولت د جندر د توپیر په نظر کې کې نیولو سره چې ۵۰ سلنه نه شي کولای چې انصاف لاس ته راوړي ، غواړي ۲۰۱۵ د کال د اخر پورې کمښت را منځته کړي. او د ۲۰۲۰ کال تر پایه په مکمل ډول د جنسیتي توپیر له منځه وړل چې د افغانستان د ملي انکشافی ستراتژۍ هدف دی.

د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي پوهیږي چې د میرمنو لاسرسی رسمي حقوقي سیستم ته د دولت زیاتو هڅو ته اړتیا لري. دولت له پخوا څخه پلان نیولی چې فعالین د کورنیو د غبرګون یا شکایت اوریدلو ولري چې په ټولو ولایتونو کې میرمنې پولیسی شاملې وي. او د یو ځانګړي واحد سره یو ځای د میرمنو په د تاو تریخوالي د مخنیوې اداري د لویې څارنوالۍ دفتر سره په ارتباط کې وي. د میرمنو په وړاندې د هر ډول تبعض جرګه چې افغانستان یې عضویت لري له افغانستان نه غواړي چې مناسب قوانین خپل او نور لازمي اقدامات هم و کړي چې په هغو کې مناسب مجازات باید شامل وي او د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي. د میرمنو د حقوقو څخه د قانوني حمایت او ملاتړ ایجادول چې د میرمنو او نارینو حقوق باید یوکې مساوي اوسی. او د میرمنو د حقوقو پوره اطمینان او د هر قسم تبعیض په مقابل کې د ملي محکمو او نورو عمومي ادارو په ذریعه د هغوی د حقوقو ساتنه وکړي. سره له دې چې میرمنو سره د دولت د دې لوړو ژمنو په اړه په دې څیړنه کې دولت ته C+ درجه ورکړې. د دوی د ټولو کړنو لپاره چې د میرمنو لاسرسی د انصاف په لاس ته راوړلو کې زیاتوي. سره له دی کوښښونو یو لړ توکمیز فرق موجود وه چې ازبکو داسې ښودله چې د دولت کارونه مثبت وه مګر د تاجکو ځواب منفي وه[239]. کوم ځانګړې توپیر د عدالت په لاس ته راوړنه کې وجود نه ، د زده کړې کچې ، مدنی حالت ، د شتمنید کچې ، وظیفه لرل یا نه لرل ، د ولایتو ترمنځ یو ځانګړې توپیر وجود درلود د فاریاب ولایت خلک پوهیدل چې د دولت کړنې د عدالت په راوستلو کې مثبتې دي مګر په هرات ولایت کې خلکو فکر کاوه چې د دولت چې کوم کارونه کړی ډیر کم مثبت اغیز لري.

# قانوني تحفظ

| | |
|---|---|
| د میرمنو او نجونو لپاره قانوني تحفظ[242] | B- |
| د دولت د عدلي ارګانونو په واسطه د میرمنو د حقوقو ساتنه[243] | C+ |
| د قانون په وړاندې د میرمنو او نارینوو مساوات.[244] | C+ |

[238] Mean=2.76, SD=.57

[239] F(5, ١٠2)=3.11, $p<.05$, Pashtun M=2.71, SD=.55, Tajik M=2.91, SD=.51, Hazara M=2.79, SD=.58, Uzbek M=2.34, SD=.38

د کاغذ پر مخ د میرمنو په حقوقي ساتنې د ۲۰۰۱ کال را په دېخوا زیات پرمختګ کړی دی. د افغانستان قانون څرګندوی چې میرمنې او نارینه سره مساوي دي. د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون جوړونه یو با ارزښته لاس ته راوړنه وه. د میرمنو د تاوتریخوالي څخه د ساتنې په منظورجوړ شوي ، که څه هم کوښښونو موجود وه چې داسې قانون تصویب شي چې د میرمنو حقوقو تحفظ و کړي. څرنګه چې مخکې یادونه وشوه د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون د جمهوري فرمان په واسطه تصویب شوی وه. او پارلمان لا منظوری لا پاتې وه. د شعیه ګانو د شخصي احوال قانون چې په ۲۰۰۹ کې لاسلیک شوي اوس هم د شیعه میرمنو په ګرځیدنه پابندي لګوي ، د ۱۶ نه کم عمر نجونو واده روا بولي ، میړه ته اجازه ورکوي چې هغه ښځه چې د میړه د غوښتنې سرغړاوي کوي او یا هم د میړه سره جنسي نږدیکت نه کوي د پالنې نه انکار و کړي [245]

په ۲۰۱۴ کال پارلمان یوه مسوده وړاندې کړه مګر ولس مشر لاسلیک نه کړه ، غوښتل یې د جنایي قانون هغه ماده تغیر کړي چې د فرد نه د شاهدی په منظور پښتنې کول منع کرځوي او د متهم ماشومانو او خویندواو خپلوانو ته اجازه نه ورکول چې د هغه خلاف شاهدي ورکړي. که څه هم میرمنو په دې څیړنه کې د افغانستان اسلامي جمهوریت ته د میرمنو او نجونو د ساتنې په منظور (B-) درجه ورکړې ده. ، او د مقننه پرمختګ اود میرمنو په وړاندې دموانعو یاخندونو وړاندوی نه کوي. په دې سربیره دولت ته د میرمنو د حقونو د ساتنې لپاره د دولتي ادارو له خوا (C+) ورکړل شوي او چې قانوني سهولتونو د شتون څرګندونه کوي اود میرمنو رښتیني حقونه او ساتنه د هغوي په ورځنې ژوند کې نه ده پیاده شوې. په ۲۰۱۴ کال چې کومه مطالعه شوې ، انصاف ته د میرمنو د لاسرسی په منظور داسې اسناد وړاندې کوي چې رسمي قضایي سکتور د میرمنو د طلاق زور زیاتي د سیمې په سطحه ناوړه استفاده ، د ماشوم ساتنه ، جنسي تیری او زور زیاتي ، په زور واده ، میراث او کور نه په تیښته کې همیشه میرمنې ناکامې سره مخ کوي.[246] د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي د قانون په ۸ برخه کې به وګورو چې سره له دې د قانون د تصویب خبرتیا او تطبیق د عدلي او رسمي اجرا کونکو ترمنځ ډیر کم رنګه بریښي. هغه میرمنې چې سروي ور سره تر سره شوې ، د افغانستان د اسلامي جمهوریت هغه قانون ته چې میرمنې او نارینه د قانون وړاندې یوشان ګڼي د (C+) درجه ورکړې ده.

سره له دې هغې مقرري چې داساسی قانون په ۲۲ ماده کې راغلي چې د افغانستان تابعیت لرونکې نر او ښځه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او مسئولیتونه لري میرمنې او نر په افغانستان اکثره وختونه مساویانه برخورد سره نه مخ کېږي. خصوصا د کورنۍ اصولو او طلاق په برخه کې. د ملل متحد د نظارت او د میرمنو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د مخنیوي جرګه ګۍ د لمړنی او دوی می راپور ته په کتلو سره په افغانستان کې خپله لیوالتیا څرګندوی چې په افغانستان کې د واده او کورنۍ روابطو په اړوند څو قسمه حقوقي نظامونه موجود دي چې هر یو په میرمنو د کښنی او کړکې ډک اغیز لري. همدارنګه دوی د شیعه ګانو د شخصِ احوال قانون ، غیر مساوي او محدود حقونه د میرمنو لپاره چې طلاق شي او د ماشومانو پالنه و کړي د ۱۹۷۷ مدنی قانون له مخی خپله لیوالتیا څرګندوی . د ۱۹۷۷ مدنی قانون له مخی چې نارینه اجازه لري چې د قضایي فیصلی د مخه بغیر د کوم ایښودل شوي شرط نه طلاق واخلي ، او میرمنو ته فقط حق ورکوي چې د قاضي د فیصلی له مخی طلاق واخلي ، یو سلسله ځانګړیو شرایطو له مخی ، مګر تریو معین عمر پورې او میندی په یو شرط چې د ماشومانو پالنه به کوي ، د هغې څخه وروسته پلار حق لري چې په مکمله توګه د خپل ماشوم ساتنه وکړي.[247] دا علاوه پر دی د میرمنو د میراث نه محرومیت ته اشاره کوي. د کم عمر واده او طلاق پر له پسې اجباری واده د ماشومانو ، د څو میرمنو لرل او څنګه د دی کار ادامه لرل چې جنسي نابرابری لا زیاتوي او د میرمنو په ضرر دي.

لاندې ذکر شوي مسایل چې رسمي عدلي سیستم ته د میرمنو د لاسرسی په باره کې دي نور هم نابرابری ته لمن وهی ځکه چې د ګواهی ورکړه منع کوي او اجازه نه ورکوي چې درسمي عدلي سکتور نه مرسته وغواړی د خپل ساتنې ، ادعا او حقونو د ترویج یا په مخ وړلو په خاطر.

# رسمي عدلي ټولنو ته لاسرسی

| | |
|---|---|
| د میرمنو دولتی عدلي ادارو ته لاسرسی[249] | C |
| د میرمنو دولتی عدلي ادارو د لاسرسی په خاطر ساتنه[250] | C+ |
| د میرمنو لپاره د حقوقي ملاتړ شتون[251] | C |

هغه دولتي او کلیدی عدلي او قضایي اداري چې په افغانستان کې دی عبارت دي له ستره محکمې ، لوېي څارنوالی ، څارندوی ، د عدلیې وزارت او د زندان خدمتونه ، څرنګه چې د افغانستان دولتي عدلي سیستم بیارغونه په تیرو لسو کلنو کې ډیره په قرار او مقطعي وه مګر بیا هم د پام وړ وه. څو سوه قاضیان ، څارنوالان ، د زندان ساتندوی ان ، او په زرونو پولیس تربیه شول. یو شمیر عدلي اداري بیا له سره جوړې شوې خو نوي بیخی له سره جوړې شوې. د اداري ظرفیتونو په جوړونه کې په موجوده عدلي ادارو کښې هم پرمختګ شوي دي. کوم پرمختګ چې د افغانستان په قضایي سیستم کې شوي عبارت دی له د افغانستان د ازادې اتحادیې جوړونې د حقوقي مرستی څانګه په کابل او دری ولایتونو کې ، د ملي ازاد حقوقي تربیوي مرکز په کابل کې د قضایي بیرو کراسی د ساده سازی لپاره یو کمیته.
علاوه پردی لوي څارنوالی او د کورنیو چارو وزارت په خپل منځ کې هوکړه کړې وه چې د پرمختګ او بشپړتیا لپاره ځینې اقدامات و کړي ، د څارنی د بهبود لپاره عامه خدماتو د تیلفون شمیری د خلکو په واک کې ورکړې ترڅو عام و ګړي خپل شکایتونه ثبت کړی.[252] که څه هم علاوه په دی پرمختګ رسمي عدلي ادارو ته د افغانانو د لاسرسی پورې تړلی د پام وړ موضوعات همداسې پاتې دي او په ځانګړ توګه د میرمنو لپاره. کومی میرمنې چې سروي ورسره تر سره شوې وه په دې راپور کې یې دولتی عدلي ادارو ته د میرمنو د لاسرسی په

برخه کې د افغانستان اسلامي جمهوریت ته ( C ) درجه ورکړې. په راپور کې راغلي چې ۲۲ سلنه میرمنو شخړې یا رسمي دعوا لرلی او مرستې ته یې اړتیا لرله چې په تیرو دوه کلنو کې باید حل شوي وای. او د دی جملې څخه د هر دریو څخه یوازې یوې محکمې ته لار موندلې یعنې ۳۴ سلنه یې خپلی دعواګانې د عدلیې وزارت د حقوقو څانګې ته رسولی. د هغو معالوماتو له مخی چې د افغانانو د سروې څخه لاس ته راغلي په ۲۰۱۴ کال کې څرګندوی چې هغه خلک چې خپله دعوایې د حقوقو څانګې پورې رسولی ۵۶ سلنه یې میرمنې دي. په ورستیو دوه کلو کې هغه خلک چې خپله دعوا یې ولایتي محکمې ته رسولی ۵۲ سلنه دی، که څه هم هغه میرمنو چې دعوایې د حقوقو په څانګه کې ده، لمړنی لانجه یې دزمکې یا ملکېت به سرده ، ورپسی ۲۴سلنه کورنۍ شخړی دي. هغه دعوې چې د میرمنو له خوا ایالتی محکموته وړل شوې هم په لمړی قدم کې د ځمکې یا ملکېت په سر دي. چې ۵۴ سلنه دي او ورسره کورنۍ ستونزي ۲۸ سلنه دي. او یو څو دعوا ګانو چې د طلاق پورې اړه لري ۴ سلنه وي ، [253]

دغه ارقام اوس هم رسمي عدلي ادارو ته د میرمنو د لاسرسی څرګندونه کوي محدود ګرځیدنه او د دولتی خدمتو ته د لاسرسی په موخه ښاري او نیمه ښاري منطقو ته د اوږدو فاصلو شتون ، د لوست ټیټه کچه او بیروکراتیک اداري موانع هغه خنډونه دي. د ۲۰۰۹ کال سروې ښایې چې افغانانو ۲،۵ بیلونه امریکای دالر رشوت ورکړی. دا اندازه د افغانستان ۲۳ سلنه ناخالصه کورنۍ تولید سره برابر ده. [255]

د ۲۰۱۴ کال د ملي فساد د سروې له مخی محاکم د ټولو څخه زیات په فساد ککړی اداري دي چې ۳۴ سلنه دي. چې ورپسی د کورنیو چارو وزارت دی چې ۲۶ سلنه په فساد کې ښکېل دی. دعدلیې وزارت څلورمه اداره ده چې په فساد کې ښکېل ده چې په سلو کې ۱۷سلنه فیصده کیږي. [256] د لویې څارنوالی دفتر په هر سطحه د محاکمو څخه زیات په فساد کې ښکېل معلومیږي. د لوي څارنوالی دفتر تر ټولو لوړ په فساد کې ښکېل قضایې اورګان بلل کېږی ۵۰ سلنه او ورپسی د لوي څارنوالی ولایتي دفترونه چې ۴۱ سلنه په فساد کې ښکېل دي. او ولایتي محکمه ۲۹ سلنه په فساد کې ښکېل ده.[257] د قضا په فساد کې ښکېلوالی د میرمنو د عدالت د لاسرسي په برخه کې د پام وړاغیزه لري ، فساد ته په کتلو سره زیاتره میرمنې بې زړه کوي چې رسمي عدلي سیستم ته زړه ښه کړی ، ځکه زیاتره د میرمنو دعوې نه دی حل شوي او همداسې پاتی دي ، بیرته غوښتل شوي او یا هم د اداري فساد په عدلي سیتم د اغیزی له امله په اسانی بندی شوي.[258]

څرنګه چې میرمنې محدودی مالی منابع لري رسمي عدلي قضایې سیستم ته لاسرسی ور ته د امکان وړ نه دی. کله چې میرمنې محدودی مالی منابع لري رسمي عدلي قضایې سیستم ته لاسرسی د امکان وړ نه دی کله چې قاضي څارنوال او پولیس د خپلو خدمتونو په بدل کې د رشوت یا جبران غوښتونکی شي. [259] رسمي عدلي ټاکنونو ته د رسیدلو لپاره میرمنې ډاریږی چې د جنسی زوروني ښکار نه شي. قاضایان د زړو افکارو پالنه کوي او د میرمنو مامورینو کمی هم شته.[260] د اټول فکتورونه مرسته کوي چې وښایې چې رسمي دولتی سیستم ته د میرمنو لاسرسی ته د رسیدو په لارکې د پام وړ د خوندیتوب خطرونه شته ، دولت ته ورکړل شوي (C) د درجې نه څرګندیږي چې عدلي اداریو ته د میرمنو د رسیدو د خوندیتوب لپاره ورکړل شوي ده. که چېرته میرمنې د رسمي فعالینو مامورینو په لباس کې هم را ښکاره شي لکه پولیس قضایې اداري او دولتی کارمنداني ، میرمنې لاهم د جنایې فرمانونو د خطره خلاصی نه دي او په ا اخلاقی فساد تورنیږی [261] په ۲۰۱۲ د بشر حقونو د نظارت د څپاره شوي راپور له مخی د ۴۰۰ څخه زیاتی میرمنې په افغانستان کې په اخلاقی فساد تورنی او بنه دي دغه ارقام هغه نجونې او میرمنې تشکېلوي چې نیمی په افغانستان کې زندانی دي او زیاتره نا بالغه ماشومانو په ساتن ځایونو کې ساتل کېږی زیاتی میرمنې د کور څخه د تیښتی په جرم زندانی دي ډیر ځلې د کور نه د تیښتی علت کورنۍ زور زیاتی او اجباری واده وي. فغان ملي پولیس همیشه په لمړی قدم کې ځای لري چې میرمنې ورسره د دولتی ادارو د لاسرسی په خاطر او عدلي سکتور ته د لاسرسی په موخه تماس نیسی ، که څه هم پولیس ډیر ځلې د میرمنې د پلار یا میړه په طرف وي د دی په خاطر چې فکر کوي ، چې کومه ښځه چې بی له اجازی کور خوشي کوي بده او د اخلاقی نظره ملامته ده. [262] د میرمنو څخه بیان د حقوقی لارښود په نشتون او د تهدید څخه په ډکې فضا کې اخیستل کېږی چې دا کار د میرمنې د جرم اثبات او بندی توب ته درلود برابروي. [263] سربیره پر دی څرنګه چې د میرمنو د امنیت په باره کې بحث و شو افغان ملي پولیس پرسونل په دې تورن دی چې دوی د میرمنو په زور زیاتي کې تر زورونکې کچه د پام وړ ګډون لري.

سره له دې هغو خطرونه چې د رسمي عدلي او ادارو د فعالینو یعنی کارکونکو د رویې او کړو وړو څخه منځ ته راځي میرمنې دولتی میکانیزم ته لاسرسی د کوښښونو په لړ کې د پام وړ ټولینزو کړاونو سره مخ کیږي. د کورڅخه بیرون وتل د ملاتړترلاسه کولو په موخه منفی اغیزی لري چې عبارت دی له ، ټولنیز پیغور ، اجازه نه ورکول ، فزیکې غچ ، د اقتصادي ملاتړ د لاسه ورکول او دا خطرونه لاهم زیاتیږی چې ښځه د ټولنیز چوکاټ نه بیرون روانه شي لکه د شورا ګانو ، مشرانو او مذهبی مشرانو نه رسمي عدلي سیستم ته د رسیدلو په منظور وړاندې تلل. [264] د څیړنی لاس ته راغلي چې میرمنی به هغه وخت د بیرونی او دولتی میکانیزم لټه و کړي چې د هغوی کوښښونه د دعوا د حل کولو لپاره په کورنۍ او ټولنو کې ناکام شي. او فقط هغه وخت کله چې یې ژوند د یو جدی فزیکي خطر سره مخ وي. [265] یوې بلی څیړنی کې پولیسو ته د نه ورتګ داسې علت په ګوته شوي چې کورنۍ به اجازه ورنکړی ، خلک به هغه و زوروي ، خلک به فکر و کړي چې هغه بده میرمن ده ، اویا د هغی میړه او یا هم د هغی کورنۍ به اجازه ورنه کړی چې هغه بیرته خپل کور ته ستنه شي. [26]

عادی او د نورم مطابق خندونه عبارت دي له شرم څخه یا د شرم سره تړاو لرل د رسمي عدلي سیستم پسې دوامداره هغه د میرمنو لپاره خطر د ځان سره لري. که چېرته دوی د دولتی ملاتړ د لاس ته راوړنی کوښښ و کړي. که موضوع نوره هم سره و څیړو نو د میرمنو حقوقی د ملاتړ نه شتون به څرګند شي. د لوړی کچهنا لوستې او د حقونو او حقوقی جوړښت څخه لږه خبرتیا ، ټول افغانان او په ځانګړې توګه میرمنې د خپل قانوني حقونو د ساتنې او وکالت لپاره د وړ او مسلکې کسانو ملاتړ ته ضرورت لري. [267] که څه هم هغه ۶۵ سلنه کسان چې راپور یې ورکړی چې د قانوني مسلکې کس مرسته یې اخیستی په ۲۰۱۳ کال کې ټول نارینه وو. هغه فیس چې حقوقی استاذی توب په کې شامل دی. او د بله چاره نه لري د میرمنو مخه نیسی چې حقوقی ملاتړ ترلاسه کولو ته لاسرسی ولري. او حقوقی ملاتړ د میرمنو لپاره د دولتی جوړښتونو په ځای غیر دولتی موسسی په غاړه لري. [268] یوازی ۱،۷۳۸وکېلان د افغانستان د خپلواکو وکېلانو د ټولنی سره ثبت دي ، چې د افغانانو ستونزو ته لاسرسی لري او استازیتوب یې کوي. او د دوی د جملې څخه ۳۳۵ یې میرمنی دي ، چې د دوی څخه نیماي په کابل او هرات کې دي. چې د میرمنو په وړاندې نور هم د پام وړ ستونزو موانع بیانوي. [269] د حقوقی مرستو کارکونکې او د میرمنو د حقونو فعالان هم دا موضوع راولاړه کړې چې مدافع وکېلان ځینې و ختونه میرمن د خپل حقوقی حقونو څخه بی برخی کوي او دلیل یې دا وي چې دوی شخصاً د میرمنو د فیصلو یا کړنو سره موافق نه وي او یا هم د میرمنو د انفرادی حقونو په باره کې مناسب معلومات نه لري. [270] په تیره بیا هغه ۲،۱۵۹ شکایتونه چې توانیدلی وو چې د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسون

ته يې لار پيدا کړې وه چې د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي دعوا يې ثبت کړې. په ۱۳۹۲ کال کې ، يوازې ۱۰۷۰ عريضو حقوقي مرسته ترلاسه کړه.[271]

کومې ميرمنې چې د دې څېړنې په ترڅ کې سروې شوې وې داسې احساس کاوه چې دولت ته په دې برخه کښې(C) درجه ورکړې.

# رسمي عدلي اداري

| | |
|---|---|
| د قاضي ، مدافع وکيل او دولتي عدلي ادارو له خوا د ميرمنو ساتنه[272] | C+ |
| د ميرمنو د اړتياو او ګټو لپاره د دولتي عدلي ادارو پاملرنه[273] | B |

هغه مسايل چې د قوانينو د جرا پورې تړلي او د ميرمنو حقونه پکې شامل دي يو له بل سره کارې تداخل لري او د قاضيانو په واسطه مدافع وکيلانو او دولتي عدلي ادارو له خوا د ميرمنو ساتنې څخه عبارت دي. ميرمنو په دې څېړنه کې د افغانستان اسلامي جمهوريت ته ټيټه درجه ورکړې په وسطي ډول (C+) په اغيزمنه توګه نظر رسمي عدلي ادارو ته د ملاتړ په خاطر د ورتګ په ځای زياتې ميرمنې بهتره ګڼي د بشر د حقونو د خپلواک کميسون ، د ميرمنو چارو څانګې ته لاړې شي.[274] د ۲۰۱۴ کال د افغان خلکو په سروې کې يوازې ۲۲ سلنه ميرمنې دا څرګندوي چې داسې اداري او ټاکنونه شته چې ميرمنې پکې خپلې ستونزې حل کولی شي. تر اوسه پورې تر ټولو عاميانه ځواب چې کوم اداره د ميرمنو ستونزې حل کوي د ميرمنو چارو وزارت دي په ټول افغانستان کې فقط د يو سلنه ميرمنو ځواب محکمې او د ۰,۲ فيصدو ځواب د لوي څارنوالي دفتر وه.[275] که څه هم هغه ميرمنې چې په ۲۰۱۴ کال کې سروې شوې هغه ميرمنې چې خپلې دعواګانې يې په وروستيو دوه کلونو کې د حقوقو څانګې ته وړې ، ۵۲ سلنه ميرمنې قوي باور لري او موافقې دي چې د حقوقو څانګه د اعتبار وړ او مناسبه ده. ۷۸ سلنه ميرمنو د دولتي محاکمو په اړوند مشابه نظر څرګند کړی.[276] دغه ارقام ښايي چې که چېرې ميرمنې په رښتيا رسمي عدلي ميکانيزم ته لار پيدا کړې نو دوی به د پام وړمثبتې تجربې سره مخ شي که څه هم ښځې هغه وخت کولی شي چې سم عدلي ميکانيزم ته لار پيدا کړې چې مامورين په خپله خوښه د هغوی شکايت واوري او د هغوی د حقونو د خونديتوب په منظور د هغوی د دعوا دفاع وکړي ، که څه هم پورتنی خبره سمه وي کومه درجه چې ميرمنو دولت ته ورکړې څرګندوي چې د ميرمنو ترمنځ اوس هم کم درک موجود دی چې دولتي عدلي اداري او د هغوی تطبيق کونکي به د ميرمنو د حق ساتنه و کړي. چې په نتيجه کې د عدلي ادارو واک کميږي او نه شي کولی چې د ميرمنو د حقونو ساتنه و کړي

د اروپايي ټولنې د پوليسو د ماموريت دفتر د مامورينو له وينا د لوي څارنوالي دفتر په دې ورستيو کې يو کاری پلان جوړ کړی چې د کورنيو چارو وزارت څخه زيات قوي دي او په پلان کې شاملې ۳۰ سلنه ټاکل شوې ميرمنې د لويې څارنوالۍ په دفتر کې د ميرمنو استازيتوب کوي د اروپايي ټولنې د پوليسو ماموريت او د آلمان نړيوالې تخنيکي مرستو ادارو په ګډه په دې ورستيو کې د هرات د لوی څارنوال غوښتنه چې يوه ښځه ده ، د اناثو مشترک (ميرمنې يو ځای) يو پروګرام په هرات مزار شريف او کابل ولايتونو کې پيل کړی چې ميرمنې پوليسانې او څارنوالانې و روزی تر څو په ځانګړې توګه د ميرمنو په منځ کې همکارې زياته شي د هرات د لوې څارنوالۍ په وينا د ميرمنو په ځان اعتماد زيات شوي د زور زياتې په وړاندې راپور شوي او په تدريجي ډول زياتې ميرمنې په لويه څارنوالې کښې کار کوي.[277] په مشتاقانه ډول تر ټولو لوړ درجه چې دولت ته ورکړې شوې د ميرمنو لاس عدالت ته او د دولت پام عدلي موسساتو د ميرمنو د اړتياو او ګټو پوره کولو لپاره وه چې دولت ته پکې د (B) درجه ورکړې شوې. دا شايد د هغی رويې او برخورد پورې تړاو ولري چې ميرمنې ورسره د رسمي عدلي فعالينو د حقوقي ملاتړ ترلاسه کولو څخه وروسته مخ کېږی خرنګه چې د اسيا فونډيشن په سروې کې څرګنده شوه دا څېړنه کولای شي د هغه ملاتړ څرګندونه و کړي چې ميرمنې د ميرمنو چارو رياست او د بشری حقونو د خپلواک کميسون څخه لاس ته رواړلی شي چې يو وخت د عدلي سکتور او ولايتي ادارو په قلمرو کې نه وه شامل. د ميرمنو له خوا د دعوا ثبتول د دغو ادارو سره ډير په لوړه کچه دي. د عدلي ادارو له جملې نه د دې ادارو په اړه داسې انګيرنه کېږی چې دا د هغه ميرمنو لپاره د موضوع په خاطر ولايتي ملاتړ غواړی يو مهم غوراوي دی او بله دا چې د ميرمنو د اړتياو په برخه کې دوی په نسبي ډول ډير حساس دي ،

# ښځينه عدلي مامورينې

| | |
|---|---|
| د ميرمنېنه دولتي عدلي مامورينو شتون 278 | C |

د اروپايي ټولنې د پوليسو د ماموريت اداري سره مرکه د افغانستان اسلامي جمهوريت د ميرمنو دولتي عدلي کارمندانو د شتون په برخه کې د (C) درجه اخيستي ده. ثبوت يې دا دی چې په واضح او ساده توګه د ميرمنو ټيټه سطحه يا استازيتوب په عدلي رسمي سکتور کې چې ۸۴ سلنه قاضيانې په افغانستان کې ميرمنې دي ۶ سلنه څارنوالانې او ۱۹,۳سلنه وکېلانې دي.[279] که د کابل څخه د باندې لاړ شو نو دا ارقام په ډراماتيک ډول ټيټ دي چېرې چې يوازې ونو کې ۲,۸ سلنه څارنوالانې ميرمنې دي.[280] ۱,۴۶۶مسلکې کارمندانو د جملې څخه چې د لويې څارنوالی سره کار کاوه د کابل څخه پرته په نور ولايتونو کې د ۱۲-۲۰۱۳ تشکيل کې فقط ۴۱ کارکونکې ښځې وې چې ۳ سلنه کېږی[281] همدارنګه هغه معلومات چې د ستری محکمې نه لاس ته راغلي ښايې چې ۱۴۸ ميرمنې کارمندانې قاضيانې د افغانستان په ۱۶ ولايتونو کې دي چې په باقي ۱۸ ولايت معلومات چې په ۲۰۱۳ کال د ميرمنو قاضيانو د

ټولنې په کلنی غونډه کې څرګند شوي ښايي چې ميرمنې قاضياني په حقيقت کې د امنيتي ستونزو له وجې يوازې په ۵ ولايتونو کې کار کوي [282]

د ۲۰۱۳ کال ته په کتو سره په هرات کې يوازې يوه دارالواکاله وه چې ښځه ځارنواله پکې وه او ميرمنې ځارنوالانې په پنځو ولايتونو کې د ميرمنو په وړاندې د تاو تريخوالی مخنيوې په دفتر کې چې د لوېې ځارنوالۍ مربوط دي. د مسلکي وکېل په توګه د افغانستان د خپلواکو وکېلانو د ټولنی سره د ميرمنو په نوم ليکلو کښې پرمختګ شوي. څرنګه چې په ټول افغانستان کې ۶ سلنه راجستر شوي وکېلان ميرمنې دي. د افغانستان د خپلواکو وکېلانو د ټولنی سره ثبت شوي وکېلان ۱۹ سلنه ښځې تشکېلوي او څرنګه چې مخکې يادونه وشوه د دی وکېلانو ډيری برخه په کابل او هرات کې دي. او د پام وړ شمير باقيمانده وکېلان په بلخ او ننګرهار کې دي ، دا په دې دلالت کوي چې ميرمنې

وکېلانی زياتره په زيات نفوسه او ښاري سيمو کې دي. ۱۳ ولايتونه داسې دی چې په ۲۰۱۳ کال کې پکې هيڅ ميرمنې وکېلانو ځان نه وه راجستر کړي. [283] په ۲۰۱۰ کې په کابل کې په عدليه وزارت کې ۱۶سلنه مسلکې کارمندان ميرمنې وي سره له دې چې د ټول ملت په سطحه د وزارت عدلي کارمندان ۲ سلنه ميرمنې تشکېلوي دا ارقام په ۲۰۱۳ کال کې په کابل کې ۱۹ سلنه ته لوړ شول مګر په ولايتونو په ملي سطحه سلنه وه په ۲۰۱۳ کال کې د عدليې وزارت د حقوقی مرستو په څانګه کې يوازی ۱۰ ميرمنو مسلکې کارمندانو کار کاوه او يوازې ۵ ميرمنو د حقوقو په څانګه کې کار کاوه. [284] په ستره محکمه کې لا تر اوسه کومه ښځه نه ده مقرره شوې سره له دی چې هم په ستره محکمه کې اوس ۹ ميرمنې حقوقی مشاورينی کار کوي. دغه ارقام په افغان دولت کې د حقوقی او مسلکې ميرمنو د دوامداره استخدام او پانګی اچونی ته د اړتيا ښودونکې دي.

# د میرمنو پروړاندې تاو تریخوالی

| عمومي اجرات [285] | C+ |
|---|---|

د ۲۰۰۱ کال څخه را په دېخوا د ميرمنو پر وړاندې تاوتريخوالي د دولت د ژمنو مهم تمرکز دی. په مشخصه توګه د کورنيو جنګونو او طالبانو حکومت په دوره کې دا د ناوړه ميراث ادامه ده. د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل ملي پلان کې دولت ژمن دی چې يو پياوړی ميکانيزم تاسيس کړي چې د تاوتريخوالي ميرمنو قربانيانو له خوا په ټول هيواد کې وکارول شي او د کورنيو د ستونزو د ځواب ويلو ځانګې په ټول افغانستان کې تنظيم کړي. سربېره پر دې ، دولت ژمن دی چې په ټول هيواد کې کورنۍ ستونزو ته د ځواب ويلو ځانګې ته نږدې خونديتوب ځايونه جوړ کړي چې ميرمنو ته د تاوتريخوالي عملونو راپور ورکول او مخامخ کېدو سره دوی ته يو امن او خوندی ځای برابر کړي. د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتژي د کورنۍ ستونزو ته د ځواب ويلو ځانګېدي ته ژمنه ده چې د ټولو ميرمنو افسرانو له خوا يې ګمارنه کېږي چې په ټولو ولايتونو کې وظيفه لري او په موثره توګه د لويې ځارنوالی په دفتر کې د ميرمنو پرضد تاوتريخوالي ځانګړی برخې سره تړاو لري.

په اړينه ډول سره د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل ملي پلان د کورنيو چارو وزارت ته لارښوونه کوي چې نورو ادارو سره کار و کړي چې هغوي د ميرمنو حقوقو ، روغتيا او همکاری ته قانوني پرمختګ سره مطابقت لري. د غير دولتی موسسو سره چې د ميرمنو مراجعه کول او اړيکه تامينول آسانه کړی ترڅو د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي ترسره کوونکي مسئوول وګڼل شي. دا ژمنه اړينه ده ، د ميرمنو ملاحظه شايد اکثره وخت د روغتيايي خدمتونو برابرونکي يا نورو چې د پوليسو يا عدلي چارواکو ته ورسيږی او د لاسرسی وړ او کافی د مراجع ميکانيزم بايد د دغو ادارو له خوا موجود وي. په څو نمونو کې د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي په اړه په امنيتی او عدلي چارواکو کې دولت هم د خبرتيا زياتوالی او روزنې لپاره اړتيا پېژندلې ده.

د پوليسو د ظرفيت لوروالی لپاره اړتيا ليدل کيږي چې د ميرمنو پر وړاندې تاوتريخوالي د مدنی ټولنې او عامه چارواکو په اداره کې.

د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتژي يو پلان طرح کوي چې د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي پلټنو او څارلو کې تخصصی روزنې سره د عدلي مسلکي کسانو شمير زيات کړي. د شاهدی ورکوونکو او قربانيانو لپاره د حساس او موثره مذاکری کړنلارې په اړه د يوې ځانګړيې پاملرنې سره. د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل ملي پلان نه يوازی د جرم کولو سره تړاو لري آما عنعنوي کړنې ځاری چې د ميرمنو احساساتو ټولنيز او اقتصادي شتون ته ضرر لرونکي دی. لکه د مثال په توګه د هغوي پيښو کمول چې د ماشوم او اجباری واده په شمول. د ميرمنو پر وړاندې تاوتريخوالي اداره دی اهدافو ته ژمنه ده.

۱: د ميرمنو انسانی عزت ساتنه او شرعی او قانوني حقوقو تامينول

۲: د کورنۍ تماميت تامينول او د رواجونو ، عنعنوي ، کړنو پر ضد مبارزه چې هغه د اسلامي شريعت پرخلاف دي او د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي سبب ګرځي.

۳: د هغو ميرمنو څخه ساتنه کوي چې قربانی شوي دی او يا د تاوتريخوالي په خطر کې دي.

۴: د ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالی مخنيوې.

۵: د ميرمنو پروړاندې د تاوتريخوالی په اړه روزنه او خبرتيا

۶: د قانون په اساس د هغو ميرمنو پر وړاندې تاوتريخوالي تر سره کوونکو څارنه.

قانون په عمده ډول د تاوتريخوالی ۲۲ شکلونه په جرم تورنوي چې د جنسی تيری ، اجباری فحشا ، د قربانی د پېژندنامی ثبتول او نشرول ، سوځول ، يو کس ځان ته د اور اچونی لپاره اړ کول ، او يا ځان وژنه ، د ټپی کېدو يا معيوبيت لامل ګرځيدل ، وهل ، د ميرمنو اخيستل او پلورل ، بد ورکول ، اجباری واده ، د واده کولو د حقوقو څخه منع کول يا بل ميړه غوره کول ، کم عمره واده ، غلطه استفاده ، په خواره سترګه کتل ، ډارول ، ځورول /شکنجه ، اجباری بيلوالی ، اجباری اعتياد ، له ميراث څخه محرومول ، شخص دارايې ته د لاسرسی مخه نيول ، د تعليم د حقوقو حخه منع کول ، کار يا روغتيايي خدماتو ته لاسرسی ، اجباری کار ، د يوې ميرمنې د درلودلو څخه پرته نورو سره واده کول ، د ۸۶ مادی په پام کې نيونی سره د اړيکې څخه انکا

د ميرمنو پر وړاندې تاوتريخوالي مخنيوې قانون هم د تاوتريخوالي د قربانيانو قوانين خلاصه کوي. د قانون د شرطونو په اساس د تاوتريخوالي قربانيان د تيري کونکو د څارلو مستحق ګڼل شوي دی. هغوی مستحق دی چې يا د قربانيان طرفدار يا د قانوني مرستي برابرونکي شي. قربانيان چې د تاوتريخوالي د عمل ترسره کېدنی لخوا د جبران ورکولو وړ دی او د راز داری او اطمينان حق لري. د دی پلټنی لپاره د هغو سروي شويو احساساتو انعکاس ورکوي چې د افغانستان ميرمنو په سترګو کې لږ څه پرمختګونه شوي دی. څرنګه چې ګډونوالو ميرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي په اړه د هغوي ژمنو په ليدو سره دولت ته C+ درجه ورکړه. د قانوني تحفظ ، دولتی ملاتړ ميکانيزم ، او د ميرمنو پر وړاندې تاوتريخوالي کموالی او د قانون تطبيق ، په شمول په دولت کښې د ګمارنی ، کورنۍ ژوند په اساس په ځواب ويونکو کې د ميرمنو پر وړاندې تاوتريخوالي په اړه په مجموعي احساساتو کې هيڅ مهم توپير نه وه.

په همدی توګه ، د عمر ، عوايدو کچې ، يا تعليم په اساس مهم توپيرونه نه وه په هر حال ، بيلا بيلو ځواب ويونکو کې مهم توپيرونه وه ، چېرې چې ازبکو د دولت تر سره کړې کړنې مثبتې او تاجکو او هزاره و منفی تصور کولې.[286]

# د تاوتريخوالی پر وړاندې د ميرمنو قانوني تحفظ

| د فزيکي ، روانی ، او جنسی تاوتريخوالي په وړاندې د ميرمنو قانوني تحفظ [287] | C+ |
|---|---|

د میرمنو پروړاندې د تاو تریخوالي مخنیوي قانون په ۲۰۰۸ کال کې په افغانستان کې طرح شو او د ولسمشر د فرمان له خوا په ۲۰۰۹ کال کې وضع شو. هغه د میرمنو پروړاندې تاوتریخوالي عملونه جرم ګڼي چې د جنسي تیری، کورنی تاوتریخوالی، د ماشومتوب واده، اجباري واده، بد، او نور د میرمنو پروړاندې د تاو تریخوالي په ډول، په مجموعي ډول ۲۲ مشخص شکلونه لري او د هغو لپاره چې دا عملونه ترسره کوي مجازات ټاکي. حتی ۵ کاله وروسته هغه تصویب شوه. د میرمنو د تاوتریخوالي پر وړاندې مبارزه تر اوسه په افغانستان کې جنجالي او موثریت یې کم دی، په ۲۰۱۳ یوه نمایشي مباحثه د قانون په اړه په پارلمان کې چې تر اوسه تصویب شوی نه ده د ۱۵ دقیقو څخه وروسته پای ته ورسیده.

یو شمیر د پارلمان د سخت دریځه کارکوونکو په جدي توګه د هغو لپاره قانون وضع کړ چې د شریعت او قانون په خلاف عمل کوي او و یې غوښتل چې د اجباري او کم عمر ودونو د جرم پر سر د قانون برخي بیا د بحث لپاره پرانستل شي. د هغو نګونو نګونو له جملي څخه چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت په را پور کې د میرمنو د تاوتریخوالي مخنیوی، د قانون د ګټورو اجراآتو لپاره یاد شوی دی. یادونه شوې ده چې ډیر قضایي پرسونل او د پولیسو آفسرانو منفي نظر درلوده او یا یې هیڅ لیوالتیایي نه درلوده چې دا قانون عملي کړي. د تعصب او ښوونی د شریعت د قانون د ساتندوی شرحي او بیان لپاره، د هغه په خاطر کله چې د دولت د رښتینی کار چې قانوني ساتنه مثبته ده په پاس کیدو سره یې د ولسمشر د فرمان له لاري چې د ښځو پروړاندې د تاو تریخوالي د مخنیوي په اړه وه، په ریښتینی عمل یې کم اغیز درلودهٔ، برخه اخیستنه په کمو درجې چې د ښځو په سروي کي چې د قانوني ساتني او محافظت په اړه وي ورکړل شوي دي چې تر اوسه په لوړه کچه ناکافي بلل کیږي.

# د دولت ملاتړیز میکانیزم

| | |
|---|---|
| د کورني تاوتریخوالي د قربانیانو څخه د دولت ملاتړ[288] | C- |
| د دولتي اسانتیاوو شتون هغو میرمنو ته خوندیتوب ورکړی چې د کورنی تاو تریخوالی قرباني کیږي.[289] | C+ |

یو شمیر ټاکنونو په ډیر زیار سره منځ ته راوړل شوي او پراخ شوي چې د دولت ملاتړ د ښځو د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره آسانه او برابر کړي. د افغانستان د لویې څارنوالی د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالي قطعې، کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګې په ګډون د کورنیو چارو وزارت د پولیسو په مرکز کې او د میرمنو محافظتي مرکز چې د دولت او د میرمنو چارو وزارت له نظر لویدنې سره سره پرمخ ځي. د افغانستان د ملي پولیسو یوه قطعه چې په ۲۰۱۳ کال کې تاسیس شوې ده د کورنی تاوتریخوالی، ماشومان په ستونزو کې، د جرم قربانیان شوو میرمنو لپاره نومول شوې ده. څرنګه چې په ۲۰۱۳ کال د مې په میاشت کې ۱۸۴ کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګې په ۳۳ ولایتونو کې د ۲۵۴ پولیسو چې ۲۴ میرمني پولیسي وې د هغوی لپاره ټاکل شوي وې.

کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګه د جنایي څیړنو یوه برخه ده چې د هغه غړی کولای شي د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو د قضیو اختنو پوښتنو کې ونده واخلي. په هر حال، په عملي شکل سره د کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګه معمولا کورنی شخړې او کورنی تاوتریخوالی سره کار لري او په ډیره ټیټه کچه د جنسی تیری او څان وژنی تحقیقاتي قضیو کې شامله ده. یوه رسمي چارواکي د بیا پلټنی لپاره چې که څه هم د میرمنو چارو وزارت لپاره چې د یوه څارنی او ارزوني پلان د کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګې ته په ۲۰۱۵ کال کې په پلان کې نیولی وه مرکه یې وکړه. د هغه تطبیق یې د بودجې د تمویل کوونکي پورې مربوط وګاڼه چې تر اوسه پورې نه دی سپارل شوي.[290]

د اروپایي ټولني د پولیسو ماموریت یوه چارواکي احساس کاوه چې د پرمختګ په شتون سره د کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګې رئیس په کورنیو چارو وزارت ګې پیاوړی مقام نه لري او ګټور ملاتړ هم نه لري. د بیلګې په توګه په ۲۰۱۴ کال کې د د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي په اړه په کورنیو چارو وزارت کې چې د افغانستان لپاره د نظم او قانون د رامنځته کولو صندوق یې ملاتړ کاوه، په ښه ډول پر مخ روان وه، مګر د کورنیو چارو وزارت یوه چارواکي هم پکې ګډون نه وه کړی. کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګه ډیرې قضیې لاس ته نه راوړی که څه هم رسمي چاروکو معلومات ورکړ چې هغوي د پلانونو په اړه اوریدلي دی چې د تاوتریخوالي قربانیانو میرمني لپاره د اوسیدو مرکزونه د ملګرو ملتو پرمختیایي پروګرام له خوا تمویلیږي.[291]

یو بل چاروکي په یوه مرکه کې وویل که څه هم د هر کورنی ستونزو ته د څواب ویلو د څانګې رئیسه "میرمن" وي په اصل کښې د ښځینه پرسونل د کموالی له امله دا څانګه زیاتره په نارینه ډکه شوې ده. د افغانستان لپاره د نظم او قانون د رامنځته کولو صندوق چاروکې هم لیکلی چې د پوهی کموالی، د پولیسو په آفسرانو کې چې کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګې خپله دنده نه ده تر سره کړې او د پوهی کموالی یا د کورنی ستونزو ته د څواب ویلو څانګې اعتبار په ټولنه کې ضعیف دی.[292]

ځینی ستونزې شته چې د کورنیو چارو وزارت سره د مرستي د لارې خنډ شوي. د میرمنو پر وړاندې تاو تریخوالی راپورونو لپاره په ګټوره توګه د شخصی اطاقونو نه شتون، او په کار کوونکو کې د ټولنیزو مهارتونو کموالی په څانګړې ډول د میرمنو کیسو ته غوږ ونیسی.[293]

د لویې څارنوالی د دفتر د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي څانګړې قطعه په ۲۰۱۰ کال کې تاسیس شوې ده چې د میرمنو پر وړاندې تاو تریخوالي قضیې تر څارنې لاندې ونیسی او څارنه یې و کړي او د قربانیانو سره مرسته او ملاتړ و کړي. د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي قطعه د لویې څارنوالی دفتر په تشکیل کې په ۲۰۱۰ کال کې شامله شوه او کولای شي د هرځای څخه قضیې تر لاسه کړي. د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي

قطعه په بدخشان ، بلخ ، بامیان ، کاپیسا ، ننګرهار ، او پروان ولایتونو کې تاسیس شوه. د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي قطعې موخه دا ده چې د افغانستان د قانون او شریعت د اساساتو په رڼا کې کار وکړي چې د جنسي جرمونو او بې عدالتیو لکه جنسي تیری ، اجباری واده ، کم عمره واده ، کورنۍ تاوتریخوالی ، او ځان وژنې پیښو سره مبارزه وشي. میرمنې محافظتي مرکز په عام ډول سره د پناه ورکونې یا خوندیتوب له نظه غوره ګڼي او په افغانستان کې د کورنیو چارو وزوارت د مقرراتو او قواعدو سره مطابق عمل کوي. ډول ډول ښځینه موسسې ، د لویې څارنوالی د تاوتریخوالی د مخنیوي کمیسیون ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، ولایتي حقوقي ریاستونه ، د شخصی وضعیت لپاره ابتدایيه محکمه ، په میرمنو چارو وزارت کې حقوقي ریاستونه ، د افغان میرمنو ولایتي شبکه او پولیسو د قضېو په ګډون میرمنې محافظتي مرکزونو ته لیږي. د میرمنو د محافظتي مرکزونو موخه د میرمنو د تلو لپاره خوندی ځای دی او د کارکوونکو او میرمنو د امنیت مسئول دی آما کولای شي چې د کورنیو چارو وزارت څخه د امنیت د خوندیتوب غوښتنه و کړي. کله چې یوه میرمنه محافظتي مرکز ته مراجعه کوي ، مرکز باید د هغې میرمنې لپاره دوسیه پرانیزي او په ۲۴ ساعتونو کې د میرمنو چارو وزارت ته خبر ورکړي. د قرباني د اجازې څخه پرته د میرمنو محافظتي مرکز کارکوونکي دا اجازه نه لري چې د قرباني فامیل ته په مرکز کې د هغه د شتون په اړه معلومات ورکړي ، که چېرې خبر هم شي د هغې فامیل او د فامیل غړو ته د هغې موقعیت په ډاګه نه شي. ټول هغه کسان چې د میرمنو محافظتي مرکز پورې تړاو لري د څارنوالانو ، د میرمنو چارو وزارت په ګډون او یا هغه کسان چې د ساتنې ځای کې کار کوي په قانوني ډول دا اړتیا لري چې په ډاډ سره کتنه و کړي او وګوری تر څو د میرمنو نه محافظت او ساتنه و کړي. هغو میرمنو ته چې میرمنو محافظتي مرکز ته اجازه ورکړل شوې ده موخه یې قانوني مشوره ورکول دي. ګمان کېږي چې د قضیې مدیر یو کاري او عملي پلان تنظیموي او د میرمنو محافظتي مرکز موخه منځګړیتوب ، روغتیایي خدمتونه ، حرفوي روزنه او تعلیم او د ژوندانه اساسي معیارونو برابرول دي.

یو ښځه چې د میرمنو محافظتي مرکز له خوا ساتل کېږي د میرمنو محافظتي مرکز څخه په لاندی حالاتو کښې پرېښودل کېږي. د ابتدائیه ، استیناف او ستری محکمې د فرمان د انجام څخه وروسته او د قضیې تصفیې ، منځګړیتوب او بیا پخلاینې له طریقه ، که چیری هغې ته په راتلونکې کې ګواښ نه وي. د اسلام له نظره هغه کولای شي چې بیا واده و کړي. د هغې موضوعات د صلاحیت لرونکې محکمې له خوا حل شوي چې خپل تعلیم بشپړاو دنده پیدا کړی د سندونو په پیدا کیدو سره د نژدی خپلوانو له خوا و منل شي او د اوسیدو لپاره ځای پیدا کړي او اړیکه یې ټینګه تایید شي. په هر صورت ، په ټولو قضیو کې د میرمنې خوندیتوب د خوشې کیدو لپاره لازم شرط ګڼل کیږی.[294]

پر دې سربیره ، د عامې روغتیا وزارت په شپږو ولایتونو کې د میرمنو محافظتي مرکزونه چېرې چې د تاوتریخوالي د پیښو ژوندی پاتې شوي کسان کولای شي ، مشوره ، طبی درملنه ، او قانوني معلوماتو پلټنه و کړي.د ملګرو ملتونو د وګړو شمیرنې بودجه د ملګرو ملتو د نفوسو صندوق او عامې روغتیا وزارت سره سم په پلان کې نیول شوې ده چې روغتیایي سکتور پر جنسیت ولاړ تاوترخوالی ځواب مرکزونه تر ۲۰۱۷ کال پورې ۱۲ ولایتونو ته و غزوي.[295]

د میرمنو تاو تریخوالی پر وړاندې د دولت د دغو مثبتو پرمختګونو ، په خدمتونو او میکانیزم کښې سره له دې ، چې دولت د میرمنو تاو تریخوالی پر وړاندې د قرباني شو میرمنو ملاتړ د مرستې په خاطر د میرمنو نه په شوي سروي کې د افغانستان اسلامي جمهوریت ته تر

اوسه -C ورکړ شوي ده . د هغو میرمنو چې د کورنۍ تاوتریخوالی او شخړو قرباني شوي وي د دولتی آسانتیاو د شتون په او خوندي ځایونو د جوړونې په خاطر +C درجه ورکړل شوې. د پولیسو په زیاتو مرکزونو کې میرمنې نه شي کولای تر څو د پولیسو موظف مامور ته لاړې او خپله موضوع هلته بیان کړی کورنۍ او د ستونزو ته د ځواب ویلو ځانګی ته لاړ شي . د کورنۍ ستونزو ته د ځواب ویلو ځانګی کې د ښکاره پولیسو میرمنو مامورینو د نشتون له امله ، زیاتره وخت قرباني شوي میرمنې پخپله خوښه د پولیسو مرکزونو ته نه ځی چې و به نیول شي او د هغوي شخصیت ته به زیان ورسیږي.

یوه بله برخه د قوانینو اجراتو ته اړه اشاره کوي چې د لویې څارنوالی دفتر د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوې د ځانګړې قطعی د تاسیس سره د هغوي قانوني څارنه اوس هم په ټیټه کچه ده او د څو ولایتونی دفترونو ، خبرتیاو ، قانون ته لاسرسی او د حقوقي ادارو نه ګټوره استفاده به په همدی ډول په ټیټه کچه پاته شي. په ۲۰۱۳ کال کې په افغانستان کې د میرمنو لپاره ۱۸ د خوندیتوب ځایونه و چې په ۲۰۱۴ کال کې د ۱۴ څخه زیات شول. په هرصورت د افغانستان د ټولو ولایتونو په نیمایې کچه میرمنې دخوندیتوب ځایونه درلودل او د افغانستان په سهیل کې د هیواد په نیمه کچه هیڅ یو میرمنې د خوندیتوب یو ځای هم نه درلود. په دی سربیره ، دا خوندیتوب ځایونه په بشپړ ډول د نړیوالو مرسته کوونکو په ملاتړ تاسیس شوي دي.[296]

کله چې د میرمنو د ساتنی د مرکزونو د مقرراتو مسوده چې د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په میاشت کې تصویب شوه ، نو د اساسي خدماتو له پلې کولو ورسته مثبته پایله لري. د خوندیتوب ځایونه د دولت او یا د خوندیتوب ځایونو جوړنکو موسسو له خوا اداره کېږی او د د خپلو طرح شوو عملیاتو د تطبیق لپاره یو نورم ترتیبیوي ، تر څو د اوسیدونکو میرمنو د حقونو ، عزت خوندي وساتي. هلته د طرحی د مقرراتو په اړوند د جنجالونو کچه ډیره لوړه وه. د بشر د حقونو نظارت او نورو موسسو په طرحو انتقاد وشو چې دا به یو شمیر د خوندیتوب ځایونو د ترلو ، د میرمنو د آزاد حرکت محدودولو ، د اجباری قانوني ازموینې سبب و ګرځی. چې د په خوندي ځای کې د اوسیدونکو د ساتنې کموالی د هغه چا څخه چې ورته خطر مخامخ دی او پایله کښې د هغه میرمنو د اخراج سبب شي چې تر اوسه ساتنې او خوندیتوب ته اړتیا لري. په هغه مقرراتو کې چې د خوندیتوب ځایونه احاطه کوي دوامداره اختلافات له ځانه سره لري ، راغلی دی چې د هغې د خاوند ، او کار او کورنۍ غړو د ناوړه سلوک په وړاندې د میرمنو آزادی ته دا اجازه ورکوي[297]

د خوندیتوب ځایونه د جنجال منبع پاته شوي دي ، د عدلیې وزیر د خوندیتوب ځایونه په اخلاقی فساد تورنوي او د ۲۰۱۳ کال راپور دا ښیې چې د دولت هیڅ لیوالتیا نه ده ښودلی چې د دولتی بودجې له طریقه په خوندیتوب ځایونو باندی پانګونه و کړي.[298] دا حقیقتونه او ارقام چې د میرمنو ولایتي شبکې له خوا ورکړل شوي چې درجې هم پکښې شامې دي ، داسې څرګندوي چې کله دولت د تاوتریخوالی پر وړاندې قربانیانو میرمنو د ملاتړ لپاره د موسسو د تاسیس مهم ګامونه پورته کړي ، لا تر اوسه یې هم د پام وړ پرمختګ ته اړتیا شته دی چې په رښتینی ډول د تاو تریخوالی قرباني شو میرمنو لپاره د دولت له خوا په ټولو سکتورونو ګټور ملاتړ برابر شي.

# د قوانینو تطبیق او د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالی کموالی

| | |
|---|---|
| د کورنۍ د تاوتریخوالی په مقصد د نارینه وو خارل [299] | B- |
| د یوه عنعنوي عمل په صفت د بدو رواج تکرار [300] | C |
| د میرمنې لپاره د واده نه منلو حق [301] | B |

کله چې میرمنې د تاوتریخوالی راپور ورکوي د هغوی د قضیې په څانګړې توګه نه ثبتېږي او تېرې کوونکې ندرتا خارل کېږي.

د ملګرو ملتونو د ۲۰۱۲ کال راپور د افغانستان د میرمنو د تاوتریخوالی پر وړاندې د قوانینو د تطبیق په اړه او د د میرمنو د پیاوړو پولیسو د نشتوالی په ګډون چې د قضیو پلټنه و کړي او هم په پولیسو کې د قانون څخه د خبرتیا نشتوالی د افغانستان په ملي پولیسو کې ناکامی وه چې په موثره توګه د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی په غاړه لري. که څه هم د میرمنو پر وړاندې دتاوتریخوالی قانون بد او اجباری واده منع کوي په دې سروې کې تر اوسه د افغانستان اسلامي جمهوری دولت ته د بدو رواج په اړه C درجه ورکړی او د میرمنو حق چې د واده نه منل دی B درجه ورکړی ده.

د جنس او عمر په اړه تجربې توپیر کوي. د میرمنو سروې چې د اسیا فونډیشن له خوا په ۲۰۱۲ کال کې تر سره شوې چې ۸ سلنه ویل شوي چې کورنۍ تاوتریخوالی یې تجربه کړی او په کمه کچه اجباری ودونه یاد شوي دي چې ۶ سلنه دي. د کورنۍ تاوتریخوالی اعلامیه یادونه کوي چې اکثره کچه په ختیځ کې ۱۲ سلنه ، سهیل ختیځ کې ۱۳ سلنه ، سهیل لویدیځ کې ۱۰ سلنه یاده شوې ده. د کورنۍ تاوتریخوالی غبرګون ښودنکو یادونه په مناسبه توګه ۲۰۰۶ کال نه راهیسی ثابته پاته شوې ده.

په هر صورت په ۲۰۱۱ کال کې ۹سلنه او په ۲۰۱۲ کال کې ۸ سلنه په لوړه فیصدي په تاریخ کې ثبت شوې ده.[303] په لوست او مطالعه کې چې د نړیوالو حقونو په غاړه ده ، د ۴,۷۰۰ کورنیو څخه چې ۸۷ سلنه کېږی د هغې سروې په اساس راپور ورکړی یو ډول فزیکي او جنسی ، او رواني تاوتریخوالی یا اجباری واده تجربه کړی. که څه هم دا ارقام په اکثره توګه یاد شوې اوسنی دي او همداسې کومه څیړنه بیا نه ده تر سره شوې چې د ۲۰۰۸ کال نه را پدېخوا توپیر وسنجوی.[304]

د ۱۳۹۲ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې د ۶,۶۱۱ څخه زیاتې د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالی قضیې د ۲۱۵۴ څخه زیاتې نیوکې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون سره ثبت شوې ، چې د هغو څخه ۲,۰۹۳ په فزیکې تاوتریخوالی کې شاملې دي. په ښکاره توګه ۳۱ سلنه په ټولو قضیو کې وهل ، په لغتو وهل ، په څپېړه وهل ، د ویښتانو نه نیول ، د سلاح نه کار اخیستل ، لکه چاقو ، جوش اوبه ، زهر او قتل شامل دي.
۱,۶۷۲ لفظي او رواني تاوتریخوالی قضیې وې ، ۱,۳۴۰ اقتصادي تاوتریخوالی قضیې او ۴۵۳ جنسی تاوتریخوالی چې د (جنسی تیری ، اجباری فحشا ، اجباری امیدواري ، اجباری ماشوم ضایع کول ، د غیر قانوني جنسی عمل غوښتنه ، د خاوند زناکارانه اړیکې ، جنسی توهین ، او تحقیر او جنسی احساساتی عکسونو لیدلو لپاره مجبورول دي.

د تعلیم نه مخنیوې ، بدل[305] په بدو کې واده کول ، اجباری واده او اجباری طلاق ، د وخت نه مخکې واده ، د خپلوانو د لیدو او ملاقات نه مخنیوې یا د کور څخه ویستلو قضیې ، ۱۲۰ قضیې د ناموس د وژنې وې[306] دا په ور ته توګه چې د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالی راپور کې ورکړل شي د ټولنیزو کلتوري خنډونو سره مخ کېږی چې نه پرېږدی چې میرمنې د قضیو را پور ورکړی او یوازې په عنعنوي او رواجی توګه په کورنیو او ټولنه کې د داسې پېښو او موضوعاتو عریضه کولی شي.[307]

د هغو قضیو شمیر کې چې ثبت شوې دی ۲۸ سلنه د ۲۰۱۲ نه تر ۲۰۱۳ پورې لوړوالی راغلی او په همدې ډول د پام وړ زیاتوالی په ۲۰۱۴ کال کې وه ، که څه هم دا ارقام کله نا کله په تیروتنې سره د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی کې د زیاتوالی په توګه تفسیر شوې دي. په ورته توګه سره دا یو مثبت ارقام دي چې په هغو قضیو کښې چې ربښتینې راپور یې ور کول شوی د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی منعکسوي چې د مناطق یې صفر دي او په تیرو کلونو کې یې را پور ورکړل شوې او ثبت شوې دي. په هرصورت د لوړ شوې راپور به د ناکافی څارنې خواب ویوونکې وي او د قانون د اجباری کېدو سره په داسې قضیو کې د یوې نمونې په توګه د میرمنو د دی راپور لپاره سروې وکړ چې دولت ته یې B درجه ورکړه. د نارینه خاوندانو په اړه د کورنۍ تاوتریخوالی لپاره چې دا ښیې چې زیاتره د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالی ترسره کوونکې تر اوسه د قانوني موثرې څارنې د نشتون له امله د خپلو جرمونو سره آزاد ګرځی. د ۲۰۱۱ کال په راپور کې زیاتره پیښې د افغانستان د لویې څارنوالی د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی څانګړې قطعې لپاره چې د کابل څخه راغلې دي بیا هم د ۲۰۱۰ کال د مارچ میاشتې څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشتې پورې ۲۸۵ پیښې ثبت شوې دي. دې قطعې یوازې د ۲۱ تورونو دوسیې تیاري کړې دي.یل کړی او دوسیه کړی دي او د محاکمو سره د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د مرستې هئیت دفتر تر لاسه کړی چې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر پورې په ۱۶ ولایتونو کې څارونکو ۶۵۰ د میرمنو پر وړاندې پیښې ثبت کړې ، مګر د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوې قانون کارول کېده د قضیو په ۱۷ سلنه کې محکمو یواځې په ۶۰ پریکړو کې قانون عملي کړی دی.

که څه هم د راپور ورکړل شویو پیښو ثبت ۲۸ سلنه د تیرو کلونو پرتله زیات شوی ، د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي قانون کارونه د یو اساس په حیث د تورونو لپاره ۲ سلنه زیات شوی دي.

# په سیاست کې د مېرمنو ګډون

| عمومي کړنې[311] | C |
|---|---|

په سياست کې د ميرمنو ګډون چې په افغانستان کې د ميرمنو حقوقو ته د ودې ورکولو يو مرکزي ټکې دی. افغانستان د ميرمنو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د مخنيوې د جرګه ګۍ غړيتوب لري چې د دولت او ګوندونو نه غوړاې چې د هيواد سياسی او عامه ژوند کې د ميرمنو پر وړاندې تبعيض له منځه يوسی او دوی هم افغانستان ته د يو ګوند په حيث اړتيا لري د ميرمنو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د مخنيوې جرګه ګۍ لپاره چې د ميرمنې او نارينه حقوق په مساوي توګه سره تامين کړې اړين دي.

تر څو په ټول ټاکنو کې رايه ورکړی او ټاکنې پيلوي د ټولو عامه ټاکل شويو کسانو لپاره د دولت د قوانينو سره سم په تشکېل او اجراتو له نظره مهم دفترونه نيول او په دولت کې د ټولو عامه کارونو ترسره کول.

سربيره پردی ، د افغانستان پرمختيايي اهدافو اداره دولت سره تعهد کوي چې د جنس مساوات او د ميرمنو پياوړتيا ته د ميرمنو ګډون د زياتوالی په موخه په تعين شويو او ټاکل شويو کسانو کې د حکومتوالی په هره کچه ۳۰ سلنه تر ۲۰۲۰ کال پورې وده ورکړې.

د رهبری او سياسی ګډون په برخه کې د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل ملي پلان غواړی چې په سياسی ژوند او ټولنه کې د ميرمنو فعاله ، يو اساسی کتله ولرې د دی کتلی لاس ته راوړنې په موخه د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل ملي خلاصه پلان لري چې ستراتيژيک چوکاټ او اصولو په اساس په عامه ژوند کې د ميرمنو رهبری او ګډون ته په ځانګړې توګه پريکړو ته وده ورکړی.

دولت يوه لوړ پوړی دنده په غاړه اخلی د کابينې او د ولسمشری د بحث وړ موضوع چې د ميرمنو د رهبريت مسئول دی ايجاد کړ او د ميرمنو پر وړاندې د تبعيض نيوکو پلټنه چې د دفتر او يا د مقام په لټه کې وي.

دولت د يو مثبت عمل لپاره دواړه لنډ مهاله او اوږد مهاله نږديوالی لپاره متعهد دی چې په ولايتي او مرکزي کچه تشکېل شوي ګډون وځاری او په هره کچه د ميرمنو لپاره د ظرفيت جوړونی پروګرام او د ژوند د دوری پلان ، د ميرمنو لپاره مشخص پروګرامونو په ګډون د ټولنی انکشافی شورا او ولايتي انکشافی شورا کې کار کول ، د سندونو طرح ، د جنسيتي برابری څخه د عامه پوهاوي د زياتوالی کورسونه ، د پريکړی لپاره تطبيق کړی ، اصول ، قانون جوړونکې او نور مهم رسمي چاروکې په ملي او ولايتي حکومت کې او د ميرمنو او نارينو کارکړو لپاره د مراقبتی سيستم تاسيسول دي.

د ميرمنو ظرفيت جوړونه کې د ميرمنو او نجونو لپاره په ټول هيواد کې ټولنيز تعليمی کورسونه او په ورته توګه د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتژی موخه په ملي او سيمه ايزه يې کچه د ميرمنو د پراخ سياسی ګډون لپاره پرمختللی لاسرسی دی ، دا بيانوي چې ښځه به په افغانی ټولنه کې به د نفوس د جنس مقياس او اندازه په پراخه پيمانه سره منعکس کړی او سياسی پلاوې به د ميرمنو لپاره د سياسی فرصتونو ته د لاسرسی مانع و کنل شي.
د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتژې پلان جوړ کړی چې د ولسوالی په کچه او په دولت کې د لوړ پوړو چاروکو د جنډر په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره د ميرمنو شورا په حکومتوالی کې د ميرمنو پرمختللی ونډې د پايلی په هيلی سره تاسيس کړې.

د جنس د مساوي منځګړيتوب سکتور کې د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتژې پلان لري چې په سياسی پروسو کې د ميرمنو ګډون ته د رايه ورکوونکو دفتر پلټونکې او دفتر لرونکې په حيث وده ورکړی او هغه څوک چې په ټاکنو کې د ميرمنو د شموليت ممانعت کوي مجازات کړي. همدارنګه د رايې ورکونی مرکزونو ته د تګ او را تګ لپاره خوندی ترانسپورت برابر کړی ټولو ميرمنو چې د دی پلټنی لپاره سروي وکړه دولت ته يې C درجه ورکړه چې د رايې په سياسی ټاکنونو کې د ميرمنو ګډون په محلی ، ولايتي او ملي کچه د رايې ورکوونی مرکزونه ، او د ټاکنو په اړه د معلومات ورکولو څخه ، هلته په ټولو اداراکاتو هيڅ مهم توپيرونه نه وه موجود. د ميرمنو د سياسی ګډون سره سم د ولايت ، استخدام ، کورنی حالت ، يا نژاد له نظره په همدی توګه هيڅ داسې مهم توپير د عمر ، عايداتو د اندازې او تعليم له نظره نه وو.

# په سياسی ټاکنونو کې د ميرمنو ګډون

| | |
|---|---|
| په محلی کچه په سياسی ټاکنونو کې د ميرمنو ګډون[312] | C |
| په و لايتی کچه په سياسی ټاکنونو کې د ميرمنو ګډون[313] | D |
| په ملي کچه په سياسی ټاکنونو کې د ميرمنو ګډون[314] | D |

په سياسی ټاکنونو کې په ملکي کچه د ميرمنو د ګډون په اړه ميرمنو دولت ته C درجه ورکړې که څه هم په دې اصولو کې د ميرمنو لپاره په ولايتي شورا ، ولسوالی شوراګانو او ښاروالی شورا ګانو کې ځوکۍ اختصاص شوي دي. د کليو او قريو په شوراګانو کې هيڅ ځوکۍ ورته اختصاص شوي نه ده. د ټولنی حکومتوالی د رواجي يا عنعنوي تشکېل يا ټولنيزه پرمختيايي شوراګانو له طريقه کله داسې وي چې د ټولنی په کچه ټاکنونه د دولت د کليو پراختيا او انکشاف وزارت د ملي پيوستون برنامی له لارې تاسيس شوي دي.

د ملي پيوستون د برنامی موخه د افغانی ټولنو پياوړتيا ده چې خپلی انکشافی پروژو پيژندل ، پلان ، مديريت ، او نظارت يې و کړي ، او د خپلی سيمې محلی حکومتوالی ته وده ورکړي ترڅو د کليو ټولنه پياوړی او د داسې پريکړی و کړي چې د دوی په خپل ژوند او ورځنې عايد باندی اغيزه و کړي.

د ملي پیوستون برنامه په ټولنیزه پرمختیایي شورا یوه اندازه د میرمنو ګډون ته اړتیا لري او میرمنې غړې تقریبا د ۳۵ سلنه غړو څخه جوړه شوې ده.[316] په هر صورت ، ګډه یا د میرمنو ټولنیزه پرمختیایي شورا تقریبا یوازې د میرمنو ته د پروژو په نوملو سره په ټولنه کې یو نقش ورکړل شوي دی. لکه د جامو ګندل ، یا د لیک لوست لومړنی کورسونه. لمړنی میرمنه ولسواله په ۲۰۱۳ کالی کې په جوزجان ولایت کې وټاکل شوه چې د افغانستان د ۳۹۸ د ټولو ولسوالیو د تشکېل له جملې څخه یوازې یوه میرمن ولسواله وه. میرمنو دا احساس کاوه چې په ولایتي او ملي کچه په سیاسی ټاکنونو کې د میرمنو د ګډون په اړه کم پرمختګ شوی دی لکه ولایتي شوراګانی ، پارلمان او نور او نوری ورته برخی ، د افغانستان اسلامي جمهوری دولت په دی دواړو برخو کې د میرمنو د سیاسی ګډون لپاره په D درجه بندي شوی دی.

د ۲۰۰۹ کال ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې ۳۲۳ میرمنې نوماندانی په ملي سطحه د څوکیو لپاره سیالی ته ودریدې چې د ټولو نوماندانو ۱۰ سلنه تشکېلوي.[317] او میرمنو ۲۸ سلنه څوکې وګټلې چې ۲۰ سلنه یې سهمه ګټونکې وې.[318] په ۲۰۱۴ کال کې ۳۰۸ تنه میرمنې نوماندانی د رایې په پاڼو کښې په ملي سطحه موجودې وې چې د نوماندانو ۱۱ سلنه تشکېلوي.[319] او میرمنو ۲۱ سلنه څوکې وګټلې چې ۱۸ سلنه یې یې سهمیې ګټونکې وې.[320] د افغانستان لمړنی میرمنه والي په ۲۰۰۵ کال کې په بامیانو ولایت کې وه چې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه یواځینی والی وه چې وروسته یې څوکې خوشي او د ۲۰۱۴ کال ولسمشریزو ټاکنو کې د زلمی رسول د دویمې مرستیالې په توګه نومانده شوه. په وروستیو پارلمانی ټاکنو کې په ۲۰۱۰ کال کې ۶۹ میرمنې د ولسی جرګی په ۲۴۹ څوکیو کې وټاکل شوې.

د اساسي قانون له مخی په پارلمان کې د هر ولایت څخه د دوه میرمنو غړو ولسی جرګی ته د میرمنو لپاره سیاسی استازیتوب ضمانت کوي.[321] په ۲۰۱۴ کل کې ولسی جرګی د ولایتي شورا د غړو ونډه ۲۵ سلنې څخه ۲۰ سلنې پورې را ټیټه کړه.

دا دوره اټکلا په مشرانو جرګه کې د میرمنو د ونډی له نظره متاثره شوه ، چې غړی یې د ولایتي شورا ګانو څخه ټاکل شوي دي. د ولسی جرګې په ۱۰۲ غړو کې ۳۴ تنه د ولایتي شورا څخه ټاکلې شوي دي. کله چې افغان میرمنو خپل ځان ته د ځای پیدا کولو لپاره چارې تنظیم کړې نو د تیری لسیزی په عنعنوي لویه جرګه کې یوازی د ۲۵۰۰ پلاوو څخه ۴۰۰ تنه میرمنې په ۲۰۱۳ کال کې میرمنې وې. لا تر اوسه د جندر مساوات لاس ته راوړلو لپاره په پریکړو کې د میرمنو فعاله ونده نسبتا ساده ډول بیانولو ته ډیر وخت پاته دی.
دا لړ تر لړه اصولی بدلون ښایي چېرته چې د میز په سر د حقونو د درلودلو په صفت پیژندل شوي دي. په انتقالی دوره کې یوازی دوه د کابینی څوکې میرمنو له خوا نیول شوي وې چې د میرمنو چارو وزیره حبیبه سرابی او د عامی روغتیا چارو وزیره سهیلا صدیقی وې. د کرزی په لمړنی اداره کې د ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې امینه افضلی یوه ځوانه وزیره د کلتور وزارت په صفت مقرره شوې وه. په ۲۰۰۶ کال کې مسعوده جلال او حسن بانو یو په بل پسی د میرمنو چارو وزیرانو په توګه او صدیقه بلخی د کار او ټولنیزو چارو او شهیدانو او معیوبینو د وزیر په توګه په ۲۰۰۶ کال کې وټاکل شوې.د حامد کرزی په دوهمه دوره کې د ۲۵ وزارتونو څخه میرمنو په کابینه کې درې څوکی نیولی وې چې یوازی درې د وزارتونو رهبري یې کوله.

حسن بانو غضنفر د میرمنو چارو وزارت وزیره ، د عامی روغتیا وزارت وزیره ثریا دلیل او د کار او ټولنیزو چارو او شهیدانو او معلولینو وزیره امینه افضلی وې. د میرمنو استازیتوب کچه په دی پوستونو کې په پراخه توګه د ۲۰۰۱ کال نه راهیسی ثابته پاتي شوې ده. د سنجونی له مخې د میرمنو ګډون ۳۵ محلی ، ۲۱ د ولایتي شوراګانو غړی ، او ۲۸ سلنه د ولسی جرګې غړې دي چې میرمنو د ګډون په سیاست کې مهمی لاس ته راوړنی شوې دي.

په هرصورت سره د ۱ سلنی کمی د سیمې وکېلانی او صفر په سلو کې اوسنی ولایتي ولسوالانې میرمنې دي ، او میرمنو په تیره اداره کې یوازی ۱۲سلنه د وزارتونو څوکې نیولې وې. په دی کمپاین کې اشرف غنی ژمنه وکړه چې لږ تر لږه څلور میرمنې نوماندانی د وزارتونو لپاره نوماندی کړې. کله چې د کابینې نوماندانو لست د ولسمشر غنی او اجرائیه رئیس عبدالله له خوا اعلان شو یوازی درې میرمنې په هغه لست کې شاملې وې چې یوه یې هم و نه منل شوه.[322] تر اوسه معلومه نه ده چې څو میرمنې به په رښتیا سره د وزارتونو څوکېو لپاره و ټاکل شي، حتی د کابینی څلور پوستونه به د میرمنو استازیتوبتوب یوازی ۱۶ سلنه تشکېل کړي. که څه هم یوه لړ پرمختګونه شوي چې تر ۲۰۲۰ کال پورې ۳۰ سلنه ټاکل شوي هدف ته ورسیږی. په نورو برخو کې پرمختګ ته لا هم ډیره لار پاتې ده ، کوم پرمختګ شوي دی چې د میرمنو د سهم ځای په برخی پورې اړه لري چې مخکې یې هدف ټاکل شوی او تر اوسه د ګواښ لاندې دی.

امنیتی پوستې د میرمنو استازیتوب په خطر کې اچوي ، پر میرمنو سیاستوالو یوه لړ یرغلونه وشول لکه د پارلمان غړی شکریه بارکزی باندی د موټر بم یرغل ، په ۲۰۱۳ کال کې د پارلمان غړی فریبا احمدی کاکړ تښتونه. په ۲۰۱۳ کال کې ، د میرمنې سناتوری روح ګلویشتل ، او په ۲۰۱۳ کال کښې په هلمند ولایت کې د ډګرجنرالی اسلام بی بی قتل.[323] یو شمیر نورې میرمنې سیاستوالې تر یرغل لاندی راغلی او وژل شوې دی. امنیتی ګواښونو میرمنو سیاستوالو لپاره ادامه و موندله چې د میرمنو سیاسی استازیتوب کې یې د پرمختګونو لار بنده کړې.
د نا امنی پیښو د میرمنو سیاستوالو لپاره د سیاسی دفترونو پر مخ وړلو په اړه د میرمنو په احساساتو ښکاره اغیزه درلوده. د ۲۰۰۶ کال ۲۵ سلنی په مقایسه په ۲۰۱۴ کال کې ۷۵ سلنه د میرمنو راپور ورکړل شوی چې د هغوی د دفتر ته د تلو په صورت کښې د ډیری ویری احساس کوي.[324]

# په ټاکنو کې د ښځو ونډه

| | |
|---|---|
| دولت د ښځینه رایه ورکوونې مرکزونوامنیت برابر کړی.[325] | C |
| د ښځو اړتیاوو لپاره د ټاکنو د مرکز موقعیت اغېزمنتیا[326] | B |
| د رایی ورکوونې مرکز ته د ښځو تګ را تګ ترانسپورت برابرونه کې د دولت هڅی[327] | C |
| ښځو لپاره د ټاکنو په اړه معلومات ورکولو کې د دولت هڅی.[328] | C+ |

د ۲۰۱۴ کال د جمهوري رياست اول دور انتخابات د ۲۰۱۴ کال د اپريل په ۵ تاريخ وشول ، د افغنستان د ټاکنو خپلواک کميسيون د معلوماتو له مخی ۱۲ ميليونه کسان د رايی ورکونی په شرايطو برابر کسان وو ، چې د ۲۰۱۳ کال د می مياشت راهيسی ۳ ميليونه رايه ورکوونکو کسانو ته کارتونه وويشل شول چې ۳۵ سلنه ښځينه رايه ورکوونکې وی. په ۲۰۱۴ کال کې د ۲۰۷۹۵ ټاکنو مرکزونو څخه ۸۵۷۳ د ښځينه وو لپاره جوړ شوی وه چې ۴۱ سلنه کېدل ، د کورنيو چارو وزارت ۶۹۰۱۳ ښځينه پلټونکې وګمارل ، ۵۸۱ ښځينه پوليس يی وروزلی او ۲۴۵۲ څارونکې يی اماده کړلې ، چې په ټاکنو کې د ښځينه رايه ورکوونکو لپاره امنيت خوندی کړی. د ۲۰۱۴ کال په مارچ مياشت کې په ټوليزه توګه ۴۰۱۷۲ تنه څارنکو ته اعتبار نامی ورکړی چې له دې څخه ۱۲۹۱۵ يې ښځينه وې چې ۱۸ چې سلنه جوړوي [329]. د ټاکنو په لومړی پړاوکې د ټاکنو خپلواک کميسيون د راپور له مخې ۳۶ سلنه ښځينه رايه ورکوونکې وی. او په دويم پړاو کې د ۱۳۶۲۳ رايی مرکزونو څخه ۳۲۵۹ چې ۴۰ سلنه کيږی د ښځو لپاره وی چې ۳۶ سلنه رايی د ښځينه رايه ورکوونکو له خواوی.

د ټاکنو په پروسه کې دا د ښځو د پام وړ ګډون وو ،چې په ۲۰۰۴ کال کې بيخی له پامه غورزيدلی وه . هغو ښځو چې خپل نومونه يی د رايه ورکونی لپاره په ۲۰۰۴ کال کې په ټاکنو کې کې راجستر کړی وه ۴۲% سلنه وی ، او په دواړو ۲۰۰۴ او ۲۰۰۹ کلونو ولسمشريزو ټاکنوکې د ښځو رای پانی ۴۰ سلنه وی.[330] د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسی پخوانۍ څېړنه ښيئ چې د ښځو په مدنی ګډون په لار کې اوس هم بعضی عمده ننګونې شتون لری ، لکه امنيتی ، کلتوری ، د دين په اساس محدوديتونه ، وخت او تګ راتګ ، د ښځو رايو استقلاليت او په درغليو کې د ښځو څخه کار اخېستنه ، اداری فساد په نوماندانو او ټاکنيزه پروسه کې د باور کموالی او د بيلابيلو ټاکنيزو خواوو د معلوماتو په اړه د ښځو لاس رسی.[331]

ښځو پدی څيړنه کې د خپلی اندښنی څرګندونه کړی ده. د ښځو د ولايتی شبکې غړو د ښځينه رايه ورکولو مرکزونو د امنيت برابرولو په اړه دولت تهc درجه ورکړې دامنيت د ساتنی لپاره دولت په ۲۰۱۴ کال کې ۵۲ سلنه ښځو دا څرګندونه وکړه چې په ملی او ولايتی ټاکنو کې د ګډون پر مهال کمه يا زياته ويره لرله ، چې دا په رښتيا سره د ۲۰۰۶ کال راهيسې زياتوالی وه چې يوازی ۴۳ سلنه ښځو همداسی راپور ورکړی وو.[332] په ۲۰۱۴ کال کې ۶۴ سلنه ښځې د تير کال ټاکنو د امنيت په اړه اندېښمنې وې او په ۲۰۱۳ کال کې 80 سلنه د ښځو راپور يې ورکړی چې امنيت رايه ورکولو يا نه ورکولو کې رول او نقش لوبولی دی.[333] بيلابيلو د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې بنسټ موندلی چې د کورنيو چارو وزارت د ټاکنو په ورځ هڅه کوله چې امنيت زيات خوندی کړی ، يوازی د ټاکنو په ورځ د امنيت ساتنه بسنه نکوي. د ټاکنو اړوند ګواښ او تاوتريخوالی د هغو ښځو لپاره چې په مدنی پروسو کې فعالی دی د ټاکنو مکملی پروسی له لاری د ښځو ونډی اخېستو برخه کې ويروونکې باقی پاتی کېږي. او په پوره شکل سره په ښځو کې د بی امنيتی احساس له منځه وړلو لپاره په ګتوره توګه هېڅ ندي ترسره شوي.[334]

دا چې د رايه ورکونی مرکزونو ته د تلو لپاره ترانسپورټ ټولو افغانانو لپاره يوه موضوع ده ، دا د جنسيت پر بنسټ توپير شوی اغيزی لري له بل پلوه سړي په پياده تګ ځان ناراحته احساس کړي يا بله ترانسپورتی وسيله پيدا کړي. د ښځو د رايی ورکولو په ټوليزه توګه مخنيوی وشی که چېری هغوی د منلو وړ ترانسپورتی وسايط نه وی. ځواب ويوونکو هم احساس وکړ چې دښځو رايی ورکونی مرکزونه په يوی اندازی سره ثبت دی آما د اړتيا په فکر کولو سره بس نه دی. ښځو د رای ورکوني مرکزونو پاملرنې ته B درجه ورکړی مګر دولت هڅه کوی چې د رايی ورکونی مرکزونو ته د ښځو تګ راتګ لپاره ترانسپورت برابر کړی. C په پلټنه کې ډير نظرونه وه چې دا يې څرګندول په ۲۰۱۴ کال ټاکنو کې زيات ښاريان د رايی ورکونی مرکزونو د موقعيت په اړه انديښمن وو. چې زياتره وخت د رايه ورکوونکو د کورونو څخه ډير ليری او خلک بايد ډير مزل وکړي او خپله رايه وکاروی.[335] دولت د ښاريانو لپاره ترانسپورت نه برابروی او د رايو موقعيت او واټن کېدلای شی د ښځو لپاره د مخنيوی سبب شی. د ۲۰۱۴ کال ټاکنو په يوه سروی کې 67 سلنه ځواب ويونکو احساس وکړ چې د رايو. مرکزونو نږديوالی د ښځو کورونو ته په يوه ګتوره لاره وی چې په ټولنه کې د ښځينه رايه ورکوونکوشمير زيات کړی.[336]

سروی شويو ښځو احساس وکړ چې دولت اړتيا لری چې ښځو لپاره د ټاکنو په اړه معلومات برابر کړی ، په دی اړه يې د دولت درجه بندی په C+ سره کړې ده. له ۲۰۱۴ کال څخه مخکې په يوه سروی کې افغانانو د نوماندانو په اړه زيات معلومات غوښتل (۸۰ سلنه)، د رايه ورکوونکو لپاره د امنيت خونديتوب او نظم (۴۷ سلنه)، د رايی اچونی مرکزونو موقعيت (۴۲ سلنه)، اسلام او ټاکنې (۳۰سلنه) څرنګه نوماندانو ته رايه ورکړي (۲۸ سلنه)، او د رايه ورکوونکو د راجستر په اړه معلومات (۲۳ سلنه). هغه سروی شوی ښځې چې (۴۹ سلنه) وی داسې وويل چې د ټاکنيزو معلوماتو لپاره ګتوره لار راديويی خبرتياوی دي (۸۵ سلنه) راديويی مباحثې (۸۰ سلنه)، تلويزيونی (۷۵ سلنه)، په جوماتونو کې د جمعی د لمانځه څخه وروسته (۸۱ سلنه) او د ښځينه ګروپونو له لاری (۶۶ سلنه)، يوازی (۵۹ سلنه) د دولت څخه په مستقيمه توګه د پاکنو په اړه معلومات لاس ته راوړي. په هرحال ، په يوه بله سروی کې چې په ۲۰۱۳ کال کې تر سره شوې وه ۶۱ سلنه افغانانو مېرمنو راپور ورکړ چې هغوی د ټاکنو په اړه د خپلو دوستانو او کورنی څخه معلومات تر لاسه کړی چې چاته رايه ورکړی ، ۷ سلنه خلکو له جوماتونو څخه معلومات ترلاسه کړی ، ۱۴سلنه د ټولنيزو شوراګانو څخه معلومات ترلاسه کری ۳ سلنه د بازار څخه او ۱۴ سلنه نه پوهيدل يا د ځواب ورکولو څخه يی ډډه کوله.[337] د ۲۰۱۳ کال سروی کې ۲۸ سلنه ميرمنو زياته کړه چې د تيرو ټاکنو په اړه هيڅ معلومات هم ندی ترلاسه کړی او يوازې 26 سلنه ښځو د تيرو ۳ کلونو ټاکنو په ټولنيزو يا کليوالي مجلسونو کې د ټاکنو په اړه بحثونو کې ګډون کړی دی. [338] د ټاکنو څخه مخکې په يوه بله سروی کې يوازی ۳۰ سلنه ښځې پوهيدی چې د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو د تنظيمولومسووليت لري.[339] د سولې او دموکراسۍ لپا ه د يوشانوالي موسسی پخوانيو پلټنو د ښځو او ټاکنو په اړه موندلی چې په عموم سره ښځی احساس کوی چې هغوی (په عموم ډول سره ښځی) د ښځو لپاره د ټاکنو او قانون په اړه د معلوماتو کموالی ، د رايی ورکونی حقوق او د نوماندانو او د هغوی برنامی په اړه معلوماتو ته لاسرسی نه لري.[340]

# خدماتو او سرچینو ته لاس رسی

| عمومي اجراآت[341] | | C |
|---|---|---|

د افغانستان اسلامی جمهوری دولت د خدمتونو او سرچېنو په اصلی مسیر کې تعهد کړی ، د جنسیت د نامساوات په اړه یوه له پامه غورزېدلې موضوع. په افغانستان ملي پرمختیایي ستراتژۍ کې ، دولت په انرژۍ سکتور کې د جنسیت اصلی مسیر اصولو ته تعهد کوی. ترانسپورت لپاره د جنسیت برابر لاس رسی ته پرمختګ او وده ورکوي او په کانونو سکتور کې د جنسیت د اصلی مسیر اصول او معلوماتی تکنالوجۍ ته د ټولو افغانانود نارینه او ښځینه وو په یو ډول لاسرسی اطمیناني کول. سربېره پردې ، د 2004 ، د افغانستان راتلونکې اسنادو ساتنه کوي ، دولت ژمن دی چې د لوبو اسانتیاوی په ټولو ولایتونو کې د نارینه او ښځینه وو لپاره برابرې کړي

منابعو ته لاسرسی ، چاپېریال او د منابعو مدیریت ښځو لپاره یوه جدي موضوع ده. دولت هم دا منی چې مېرمنې او نا رینه د چاپیریال په پریکړو کې د ګډون حق لري او د دولتی محلي اداراتو سره ژمنه کوي چې په قصدي توګه ، د چاپیریال په اداره کولو کې د ښځو ګډون پرمختګ اطمیناني کړي او د هغوی نظرونه په پالیسۍ جورونه کې د پام وړ دي.[342] دولت په زیاته توګه د مالی او تخنیکي ملاتړ برابرولو ته ژمن دی ، د ښځینه ارتیاوو ته په خاصه پاملرنی سره د کمی کچې اوبو کارونی لپاره د اوبو د منابعو ته انکشاف ورکول.په افغانستان ملي پرمختیایي ستراتژي کې دولت منی چې د کرنیز زیربناوو کارولو ته د ښځو لاسرسی لکه د اوبو لګونی کانالونه ، زیرمې ، او ارزستاکه سلسله یې اسانتیاوی ، یو سرچېنه یی نقش لری. ښځې باید د ملي سیمه ایز پرمختیایي پروګرام او د ملي پیوستون پروګرام پروژو د پروسی او پیژندنه کې شامل وی.او اولیت باید هوکره شوی ښځینه دلو ت د خاص زیربنایی کار لپاره ورکړل شی. د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د جنسیت اصول د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د ښځینه او نارینه لپاره د بیا جوړونی ګټی او د کلیو انکشاف متساوی ویشه په ډېره توګه سره تصریح کړی. په زیاتونی سره ، د ښځوپر وړاندې د هر ډول تبعیض د مخنیوي جرګه ګی ، افغانستان لپاره چې یو ګوند ده ، دولت ته ارتیا لری چې د ښځو حقوق چې په هره کچه د پلان نیولی او انکشاف اجراات او جزییات کې ګډون او په ټولو ټولنیزو فعالیتونو کې ګډون وکړی ساتنه یی وکړی.

ترانسپورت په افغانستان کې د جنسیت د نابرابرۍ یوه لویه ستونزه ده ، او دولت یوه طرح پلان کړې چې د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتژۍ اداره عامه ترانسپورت لپاره د ښځینه ډریورانو ګمارل او د روزنې شونتیا وڅېړي. او په همدې ډول پولیس افسران هم ، او دې هدف لپاره په ۲۰۱۳ کې باید ښځینه موټرچلوونکې او کلینرانې ولري ، سربېره پردې ، د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتېژۍ اداره د ترانسپورت سېکتور سره ژمنه کوي چې ښځو سره د هغوی د اړتیا په برخه کې مرسته کېږي ، او د دوی اړتیاوې په نظر کې نیول کېږي او د زېربینا په پلان او طرح کې ترې استفاده کېږي. او د دوی ځانګړې اړتیاوې (لکه امنیت ، پاک او د لاسرسی وړ عامه تشنابونه ، او نور) او د دوی نقش (لکه د ماشومانو ساتنه) په پروسه کې په نظر کې نیول کېږي. دولت خلاصه کوي چې د جنسیت د پام وړ اړتیاوې به په ټولو عامه ځانګو او په ټولو دولتي اداراتو او ساحوي مرکزونو کې ژر تر ژره پوره کړای شي.

په هر صورت هغه ښځې چې پدې څېړنه کې سروی شوي دي دولت د سرچېنو او خدمتونو ته د لاسرسی او پاکو اوبو ته د ښځو د لاسرسي ، د معلوماتي او کمپیوټري ټیکنالوجی ، برېښنا ، عامه ترانسپورت ، او په ټولنه کې د ښځو ګډون او تصمیم نیونې او پرمختګ لپاره د C درجه ورکړې. او د ولایتونو په کچه د ځواب ورکوونکو تر منځ په ، مدني حالت ، توکم ، دنده ، عمر ، د کوچنیانو شمېر ، د عاید او پوهنې سطحې پر بنسټ کوم خاص توپیر موجود نوو. که څه هم ، ځواب ورکوونکي چې څرګنده کړې یې ده چې هغه ښځې چې د خپل کور میاشتینی عاید کې لاس لري زیات امکان یې لاره چې سرچېنو او خدماتو ته د هغو ښځو پرتله چې کور کې وي او میاشتني عاید ترلاسه کولو کې مرسته نه کوی ، ښه لاسرسی ولري.[343] دا رابطه پر دې دلالت کوي کله چې ښځې د کور په مالي تصمیم نیونه برخه واخلي سرچېنو او خدمتونو ته لاسرسی (پوهاوی) زیاتېږي..

# سرچیني

| | | |
|---|---|---|
| د ښځو اړتیاوو سرچېنو ته د لاسرسی پاملرنه[344] | | D- |
| پاکو اوبو ته د ښځو لاسرسی[345] | | B |
| برېښنا ته د ښځو لاسرسی[346] | | C+ |
| معلوماتی او مخابراتی تکنالوژی ته د ښځو لاسرسی[347] | | C |

مهمو منابعو ته لاسرسی لکه اوبه ، برېښنا ، حمکه او نور طبیعي منابع په اکثره توګه سره په افغانستان کې د جنسیت د نامساوایات له خوا په نښه شوی دی. د دولت ژمنتیا سربېره د اصولی مسیر ، جنس د خدمتونو او منابعو د برابرونې له لاری په شتون سره د افغانستان اسلامی جموری دولت ته کمه درجه ورکړل شوی ده په دی ارزونه کې د ښځو اړتیاوو لپاره منابعو ته د لاسرسی درک چې په کې د دولت ژمنه سروی شوی ښځو له خو -D ورکړل شوی ده.

په یوه هیواد کې چې اکثره وختونه میرمنی د کور د زیاتو کارونو مسؤلیت په غاړه لري ، پاکو اوبو ته لاسرسی ورته د اندیښنې وړ ده. په زیاتو سیمو کې په ځانګړې ډول د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې میرمنې مجبوري دي چې خپلو کورنیو ته د څښاک اوبه راوړلو په خاطر یو څو کېلومېتره مزل وکړي. ملي سیمه ایز پرمختیایي پروګرام چې ۶۱۲ د اوبو اکمالاتو ، او صحی پروژې لري

چې په ټول افغانستان کې د ۲۰۰۲ کال نه راهیسې ۲،۲ میلیونه خلک ورخځه کته پورته کوي.[348] ۲۵ سلنه ښځې د خپلې سیمې د څښاک اوبو او ۴۰ سلنه د لګونې د اوبو څخه نا خوښ دي.

په ورته ډول ، بریښنا ته لاسرسی د جنسیت برابروالی لپاره یوه مهمه موضوع ده ، د بریښنا شتون حیرانوونکې ډول د کور د کارونو وخت را کموي او بریښنا ته لاسرسی د ښځو په کاري وخت د پام وړ اغېز لري.دا لا هم د ښځو او نجونو لپاره وخت مساعدوي چې په داسې شیانو کې ګډون وکړي لکه تعلیم چې د جنسیت په یو شانوالي اوږد مهاله اغېز لری. بریښنا ته د لاسرسی په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي. په ۲۰۰۲ کال کې یوازې ۶ سلنه افغانانو د باور وړ بریښنا ته لاس رسی درلوده. د نن په مقایسه کله چې ۲۹ سلنه سلنه افغانان د برقي شبکه سره وصل شوي دي.[350] په همدې ډول سره ۷۰ سلنه چې ۴ څخه تر ۵ میلیونو د کابل اوسیدونکې چې ۱۲ سلنه د افغانستان نفوس تشکېلوی بریښنا ته د لاس رسی لری. حتی په کابل کې چې لاس رسی په نسبې ډول سره ښه دی ، د ۱۵ ساعتونو پوری د برښنا پرچاوې شتون لري ، او په دوامدار شکل سره بریښنا د ژمې موسم کې قطع کېږی.[351] چې له ښاري سیمو چې په منظم ډول د بریښنا شبکې سره وصل وي ، دباندې یو تیاره انځور وړاندې کوي . د افغانستان د ټولو کورنیو د نیمایی کچې څخه کم په دوامداره بریښنا سمبال دي.[352] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوازې ۱۷سلنه افغان میرمنو راپور ورکړی چې د هغوی کورنی نظر د ۱۸سلنې ته چې بریښنا یې دوامداره نه وه تل برښنا ته لاسرسی لاره ، ۱۴ سلنه ډېر کم لاسرسی لرلو او ۳۴سلنه چې په خپلو سیمو کې یې هېڅ بریښنا نه لرله او ۶۴ سلنه میرمنې تریو حده یا بېخې د بریښنا له خدمتونو خوشاله نه وې.[353]

ښځو دولت معلوماتي تکنالوژی ته د ښځو د لاسرسي په اسانولو کې په هاغه اندازه مثبت نه دی ارزولی او دولت ته یې د C درجه ورکړې. په معلوماتي تکنالوژی کې ټول مخابراتي اسباب او تجهیزات شامل دي لکه رادیو ، تلویزیون ، ګرځنده تیلیفون ، کمپیوتر ، انترنېټ ، او ګرځنده معلومات او نور ، په ۲۰۰۶ کال کې ۸۶ سلنه ښځو راپور ورکړی چې پخپلو کورونو کې رادیو ګانی لرلی. ۳۷ سلنه تلویزیونونه ، ۳۷ سلنه میرمنې په کورونو کې فعاله موبایلونه درلودل. په ۲۰۱۴ کال کې ۳۹ سلنه ښځو د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د موبایل کارونی راپور ورکړی او یوازې ۲ سلنه یې انترنت کاروني. ۷۵ سلنه د رادیو څخه معلومات اخیستی ، ۵۶ سلنه له تلویزیونونو څخه[354] چې په مستقیمه توګه د مقایسې وړ نهدی ، خو دا ارقام ښیی چې ښځو د معلوماتي تکنالوژۍ په لاس رسۍ کې مهمی لاس ته راوړنې نه درلودې. د هغوی لاسرسی راډیو ته په نسبي توګه ثابت وو. سره له دې چې زیاتو میرمنو ځرګنده کړې چې د تلویزیون څخه خپل معلومات لاسته راوړي.

د ۲۰۱۲ کال یوې سروې دا موندلې چې ۸۰ سلنه د افغان سروی شویو میرمنو ګرځنده موبایلونو ته په ضمنی ډول لاسرسی درلوده ، ۴۸ سلنې خپله یې لاره ، او ۳۳ سلنه هغه میرمنې وې چې د اړتیا په وخت کې یې د کاونډیانو یا د کورنیو دغړو له ګرځنده ټیلیفون څخه کار اخېسته.
که څه هم د وګړو ۸۸ سلنه د څلورو وصل شوو مخابراتي شبکو په حدودو کې ژوند کوی ،[355] په لسو کې شپږ تنه میرمنې د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره ګرځنده موبایلونه نه کاروی. په هر حال ، ځنې نښې شته چې دا ځرګندوي چې دا پرمختګ کوی ، لکه څنګه چې د ۲۰۱۲ کال څېړنه ښیۍ چې ۶۷ سلنه میرمنو چې موبایل یې درلوده داسې ښوده چې دا موبایل یې په تیرو دوه کلونو کې لاس ته راوړی دی. او هغو چې په تیر کال کې لاس ته راوړی ۶۴ سلنه د ۲۵ کلونو څخه کمې وې.[356] نیمایی میرمنې چې سروی شوې دې داسې وویلي چې د موبایل بیه د موبایل کارونې په مخکې خنډ وو. معلوماتي تکنالوژی ته د لاسرسی نشوالي ښځو لپاره د اندېښنې وړ موضوع ده ، نه یوازې د معلوماتي او مخابراتي لاسرسۍ له مخې بلکې د نورو اړینو خدمتونو له مخې هم ، لکه ۲۵ سلنه هغه کسان چې موبایل لري او د سوداګریزو خدمتونو لپاره کاروي.[357] او د هغو خدمتونو په شمول لکه سوداګریز ، تعلیمی اوصحی خدمتونو ته د لاسرسی لپاره یې کارول. سربېره پردې ، ګرځنده موبایل او مخابراتو ته لاسرسی په امنیت راوستلو کې هم اهمیت لری ، د هغه میرمن په حیث چې تیلیفون ولری د دې وړتیا لري چې د کورنی او بهرنې تاوتریخوالي په وړاندې د ملاتړ او ساتنې غوښتنه کولی شي.

# ترانسپورت

| | |
|---|---|
| د ښځو او نجونو لپاره د عامه ترانسپورت شتون[358] | C |
| د ښځو او نجونو لپاره د عامه ترانسپورت خونديتوب[359] | C+ |

ښځو لپاره د مناسب عامه ترانسپورت نشتون د جنسیت یوشانوالي په وړاندې لوی خنډ دی ، چې دلته ښځو لپاره د ترانسپورت اسانتیاوې محدودې دی. په ۲۰۱۴ کال کې ۷۶ سلنه ښځو راپور ورکړی چې پخپلو کورنیو کې یې هیڅوک موتر نلری ، ۴۸سلنه ښځو راپور ورکړی چې د هغو کورنی کوم بایسکېل هم نه لری ، او ۵۲ سلنه هیڅ موټرسایکل نه درلوده.[360] که څه هم په کورونو کې د کورنیو غړی بایسکېل او موترسایکل ولری ، دا په عموم ډول د میرمنو لپاره د ازاد ترانسپورت نامناسبه وسیله ګڼل کېږي.[361] که څه هم دا ورو پرمختګ دی بیا هم لږ شمېر میرمنې دي چې موټر چلوي: په ۲۰۱۱ کال کې په کابل کې ښځو ته ۳۱۲ د چلولو لایسنسونه ویشل شوي دی.[362] چې دا یوه بې سابقه خبره ده. په ډیرو سیمو کې ، اجتماعي کلتوری محدودیتونه ښځو ته ستونزې زېږوي چې په یوازې ځان په پښو مزل کوی. په یوه ازمايښتي څېړنه کې په ۲۰۱۱ کال په اپریل میاشت کې ښځو راپور ورکړی کله چې په کوڅو کې روانې وی هره ورځ لفظي ځوروګنې (پېغور) او فزیکي ځورونو لکه لاس اچونه او ټېپېږي سره مخ کېږی ،[363] په کابل کې ځورونه هم په عامه بسونو کې ډېر لیدل کېږي. زیاتی میرمنې په هغو کوچنیو موټرو

کې سفر کوي چې نورې سپرلۍ هم په کې سپرې وي لکه ټکسی کوچنۍ بسونه که څه هم په دې موټرونو کې سفر کول هغو ته اسان وي چې د کرايه ورتيا يې لري.[364] له دې څخه به د ښځو لا زياته ځورونه څه وي چې په عامه ځايونو کې ورځ تربلې زياتيږي. په يوه څېړنه کې چې په دولسو ولايتونو کې په ۲۰۱۴ کال کې ترسره شوې پلټنو وموندله چې په ټولو ولايتونو کې په عامه ځايونو کې د ښځو ځورونه په هماغه شکل پاتې ده پرته له دوو ولاياتو چې هلته دا ځورونې په تېرو دوو مياشتو کې لا بترې شوي دي،[365] چې کېدی شي د عامه ساتنې او محافظت نا ارامۍ د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو او د امنيت انتقال عواقبو انعکاس وي.

د ترانسپورت او هوا نوردۍ وزارت په افغانستان کې عامه ترانسپورتي سيستم اداره کوی ، د ملی بسو سيستم اداره کوی چې دا ملی بسونه د شخصی چلوونکو له خوا چلول کېږی او د خلکو د انتقالولو د يو ځای څخه بل ځای لپاره په کاريږی .[366]
په هر صورت ، ۱۰۰۰ ملی بس افغانستان سره مرسته شوی د ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۱۴ پوری يوازی ۱۰۰ ملی بسونه فعاله وو[367]، يوازی په کابل کې ، په يوی شميرنی سره ۲۰۰۰ ملی بسونو ته اړتيا ده چې د عامه ټرانسپورت اړتياوی پوره کړی او د افغانستان زيات ولايتونه هيڅ عامه ترانسپورتی آسانتياوی نلری.
که څه هم عامه ترانسپورټونه د ټولو افغانانو لپاره اوسنی ننګونی ايجادوی ،چې د ښځو لپاره ډير زيات جدی اړخونه لری. په ملاحظه ډول سره د نارينه د تګ راتګ له پلوه د کومی جدی ستونزی سره نه مخ کېږی هغوی چې د ترانسپورت لپاره ډير انتخابونه لری ، لکه بايسکل ، په پښو قدم وهل ، موترسايکل چلول ، پرته د کومی خاصی جنسی يا فزيکې زورونی د عامه او ټکسی کارول. د عامه ترانسپورت په اړه د ښځو اړتياوو خواب ويلو ته دولت په مخ کې ډيره لاره لری.

# د منابعو او خدمتونو په اړه په پريکړه او تصميم کې د ښځو ګډون

| | |
|---|---|
| د منابعو کارونې په اړه د ټولنې پريکړې يا تصميم کې د ښځو ګډون[369] | C |
| د ټولنې بيا جوړونه او انکشاف په اړه د ټولنې پريکړې يا تصميم کې د ښځو ګډون[370] | C |

دولت هغه اړتياوې درک کړي چې د خدمتونو او منابعو په اړه د ښځو ګډون ته په تصميم نيونه کې لار هواره کړي. چې د ټولنې په کچه تشکېلاتو د ښځو ګډون ، لکه شوراګانې او هم پورته ذکر شوی ټولنيزه پرمختيايي شورا د ملی پيوستون پروګرام له لارې ګډون.
د ملی پيوستون پروګرام موخه د افغانی ټولنو پياوړتيا ده چې د خپلو انکشافی پروژو پيژندنه ، پلان ، نظم ، او نظارت وکړی ، او د ښې محلی حکومتوالی ته وده ورکړی ترڅو پراختيايي ټولنی پياوړی کړی چې پريکړی يې د دوی په کورنی ژوند اغيزه وکړی.

ټولنيزه پرمختيايي شورا موخه په ټولنه کې د اولیتونو او ستونزو تحليلول او د هغوی د ستونزو ارزيابی کول دی[371]. ټولنيزه پراختيايي شورا په يو شمير مهمو سکتورونو کې چې په منابعو ، انکشاف او ټولنې بيا جوړونی پوری تړلی د ابو لګونی ، برښنا ، ترانسپورت ، د اوبو رسونه او صحی خدمتونو په ګډون منظم کوی. که څه هم ميرمنی تقريبا ۳۵ سلنه د ټولنيزه پرمختيايي شورا غړی تشکېلوی ، ميرمنی يواځی ۳ سلنه د ټولنيزه پرمختيايي شورا د رهبريت نقش لوبوی.[372] که څه هم د ميرمنو موخه د ټولنيزه پرمختيايي شورا له لارې د تصميم يا پريکړی نقش لرل دی.

په عملی بڼه خلور عمومی ټولنيزه پرمختيايي شوراګانی دی د جنسيت د يووالی په اساس ، معياری ګډه ټولنيزه پرمختيايي شورا ، د ټاکل شويو او ګمارل شووښځينه او نارينو ځانګړې شورا ، د ځانګړو ټاکل شوو نارينه او ښځو شورا ، دټاکل شويو نارينه او يوازی نارينه وو شورا.[373] چې د شوراګانو دا بيلا بيل ډولونه, حتی په اجتماعی کلتوری نا مناسب چاپيربال کې د ښځو د ګډون لپاره ميکانيزم برابروی ، هغوی ښځو ته هم په رښتيني تصميم نيونی پروسه کې اجازه ورکوی. ښځو ددی پلټنی لپاره دولت په C درجه بندی کړی ، د انکشاف ، سرچينو او ټولنې بيا جوړونی په اړه په ټولنيز تصميم نيونه کې د ښځو ګډون په شرط .

که څه هم د ټولنيزې پرمختيايي شورا تاسيس په معياري ډول سره د ښځو دګډون لپار مثبت ګام دی ، ډيرو هڅو ته اړتيا ده چې د ټولنيزو منابعو او انکشاف په اړه په تصميم او پريکړه کې د ښځو پلاوييتوب څخه د ښځو ګډون ته د ګدون اجازه ورکړل شي.

# اقتصادی فرصتونه

| عمومي اجراآت[374] | C |
| --- | --- |

د ښځو اقتصادی فرصتونه هم د جنسیت د برابری او د ښځو د پیاوړتیا لپاره یوه مهمه پاملرنه او توجه ګرځیدلی ده. د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان اداره ، په خصوصی سکتور کې د ښځو رهبریت او بنسټ ایښودنی ته د یو ګټور چاپیریال د ودې لپاره ژمن دي. د ګټور اقتصاد او اجتماعي چاپیریال ایجادول د ښځو د اقتصادی پوتنشیل پوهاوی او پرمختګ کې ملاتړ کوی.

دا د جنسیت تحلیل د کوچنیو اقتصادی طرحو لپاره چې د تجارت ، او د جنسیت پاملرنه اجتماعي کلتوری سروی چې د جنسیت د بیلتون د معلوماتو او د ښځو تولیدی کار او اقتصاد ته د بی پیسو کومک محاسبه کوی ، د موسساتی میکانیزم پیاوړتیا او انکشاف او د طرزالعملونو او اصولو اصلاح کول ، دجنست یووالی په ټولو برنامو او فعالیتونو کې د عوایدو تولیدی فعالیتونو او ګمارنی ته د ښځو لاسرسی زیاتوی.د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي د ښځو لپاره په خصوصی سکتور کې د ګمارنی ستراتیژی خلاصه کوي چې په خصوصی سکتور کې چې د د ښځو مخکې له مخکې ګمارنی ستراتیژی څخه ګټه پورته کړي.

دولت هم د ښځو اقتصادی فرصتونه پیژندلي دي چې ټولنیز هوساینې او میراث پوری تړاو لري. د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژيکي ټولنیزي ساتنی لپاره په مارکېټ ولاړ اساس جوړجاړی د ټوینزی ساتنی په خاطر ، د مالی مارکېټ پوهاوی ، او په ټولنی ولاړی بیمی د طرحی پیژندګلوی توپیر ته ژمن دی. دا ترون کوی چې د دولت راتلونکې پالیسیاني به هغه اقدامات واضحه کړی چې د ښځو دمیراث حقوق تظمین کړی. د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي کې هم دولت دی ته ژمن دی چې د هغه کورنیو چې ښځینه سرپرستانی لري شمیرنه کمه کړی چې ۲۰ سلنه په فقر کې ژوند تیروی ، او د هغه کورنیو چې ښځینه سرپرستانی لری په ګمارنه کی ۲۰ سلنه په مارچ کې په ۲۰۱۱ کال کې زیاتوالی راولی. په یوه پلان کې شامل دی چې ۱۵۰۰۰۰بیکاره ښاریانو ته چې ۳۵% ښځیو څخه ۱۰% تر د ۲۰۱۰ کال تر پایه پوری معیوبین کسان وی د مهارتونو د لوړوالي روزنه برابره کړی.

د ښځوپر وړاندې د هر ډول تبعیض د مخنیوي جرګه کې په زیاته توګه سره افغانستان ته اړتیا لری چې همدا ډول د ګمارنی فرصتونه ښځو او نارینه وو ته تامین کړی ، او د مسلک او ګمارنی آزاد انتخاب ، د ودې او پرمختګ حق ، د دندی امنیت او ټولی ګټی او خدمتونو شرایط او د ښځو لپاره د حرفوی روزنو او بیاروزنو لاسته راوړلو حق. دا مساوی پاداش او بدل حق ته ډیره اړتیا لری. چې د ګټو ، او او مساوی سلوک د مساوی کار په اړه ، او د کار د کېفیت په ارزیابی کې د سلوک مساوویت. ددی ژمنو په انعکاس سره ، د عریزې لپاره د افغانستان پرمختیایي اهدافو اداره ښځو پیاوړتیا جنسیت اختلاف په کمولو سره په اقتصادی برخو کې د ۲۰۲۰ کال پورې د جنسیت مساوات زیاتوی

ددی څیړنې لپاره سروی شوو ښځو داسی احساس کاوه چې د دولت کړنی د ښځو اقتصادی فرصتونو ودې او پرمختګ لپاره زمینه برابروی ، په دی برخه کې یې د افغانستان اسلامی جمهوری دولت ته C درجه ورکړه. دی د بنسټ ایښودونکو ښځو لپاره د دولت ملاتړ ، د دولت موقف لپاره مثبت اقدامات ، او د ښځو ګمارنه په دولت کې ، د میراث لپاره د ښځو د حقوقو پیاوړتیا او ملاتړ ، په معارف او روغتیا کې د ښځو کار کولو لپاره د ښوونې او روزنې برابرولو کې د دو لت هڅې شاملي وي.

د ولایت په په سطحه په ځواب ویوونکو کې هیڅ توپیرونه نه وه ، کورنی ژوند ، عمر او یا هم د عوایدو کچه. په اړینه توګه د ګمارنی په حالت هم کوک مهم تفاوت نه وه ، همدا شان د نمونی په ډول زیاتی هغه ښځې شاملي وی چې په عامه او خصوصی سکتور کې یې معاش لرونکې دندی درلودې. په هرحال سره ، د نژاد په اساس د دولت د کړنو په درک کې یو مهم توپیر وه چیرې چې پښتنو او ازبکو ځواب ویونکو د تاجک او هزاره ځواب ویونکو څخه زیات مثبت احساسات او لاس ته راوړنی درلودې.[375]

په زیاته توګه د ښځو اقتصادی فرصتونو په اړه د دولت په روزنه ، درک او لاسته راوړنی کچه کې مهمه اړیکه وه. چیرې چې ښځو د تعلیم لوړی کچې په منفی توګه په دی برخه کې د دولت د کړنې ملاحظه کولو ته علاقه درلوده.[376]

# په سوداګرۍ او کاروبارکې د ښځو ملاتړ

| د ښځینه بنسټ ایښوودونکو لپاره د دولت ملاتړ.[377] | C |
| --- | --- |

د بنسټ ایښودونکو او په سوداګری کې د ښځو لپار ملاتړ د ښځو د اقتصاد پیاوړتیا یو مهم تسهیلونکی دی او ښځو ته د دولتی ژمنو یو تمرکز دی. ستر او کوچنی دستګاه ګانې د افغانستان د اقتصاد انکشاف کیلي ده ، چې د افغانستان د تجارت او کاروبار ۵۸% سلنه تشکیلوی ، د افغانستان نیمه نا خالص ملي تولید ، د یو پر دریمی حصی څخه زیات ګمارل شوی کاری ځواک تشکیلوی.[378] ښځې د افغانستان په صنایعو کې عمده نقش لوبوی چې د کرنی ، زیوراتو ، قالینو په شمول سره ، آما د هغوی د دئ کار څخه یو څو لږې ګټی لاسته راوړی.[379]

د ښځو په واسطه رهبری شوی تجارت او کاروبار د ډیر شمیر ننګونو سر مخ کیږي ، مارکېټ او کردیت ته محدوده لاس رسی ، نالوستی ، او اقتصادی اصول جوړونه چې اکثره وخت د نارینه وو له خو په مخ وړل کېږی له د صنایعو او تجارت خونی او د افغانستان د پانګونی ملاتړه اداره.[380]

د افغانستان د پانګونی ملاتړه اداری د معلوماتو په اساس ، ۱۶۰۰ښځینه د سوداګری د ۲۰۰۳ کال راهیسی په افغانستان کې

راجستر شوې دي چې زياتې يې په لاسي صنايعو او تجارتي خدمتونو سکتورونو کې بوختي دي او په پراخه توګه ورسره د نړيوالو تمويل کوونکو له خوا مرسته کېږي. څرنګه چې د ښځينه سوداګرو شمېر د پام وړ دی ، د افغانستان د پانګونې ملاتړه اداره د راپور له مخې په تقريبي ډول شاوخوا ۳۷۷۶۷شرکتونه اوس په افغانستان کې فعال دي.[381]

د ۲۰۱۳ کال د راپور له مخې ۷۸% د افغان ميرمنو له خوا پر مخ وړونکي تجارت او کاروبار کوچنی تجارت کاروبارونه دي. او هغوی ۵۵۰۰ کارکوونکي ګمارلئ دي. راپور ښائي چې ۳۸% د ۳۰۰۰۰څخه تر ۵۰۰۰۰ افغانيو پورې مياشتنی ګټه لاس ته راوړي. شاو خو ۸۰% افغان کسب ګري ميرمنې پوهنتونو ته ادامه ورکوی.[382] په هرحال ، افغانی ښځينه ميرمنې يو شمير ننګونو سره مخ دي. ۸۱% هغه ميرمنې چې نه يې شو کولای چې قرضې يا پانګونې ته لاس رسی پيدا کړی. ۴۷% د نړيوالو تولنو سره سوداګري کوی او ۴۰% کورنی مارکېت سره مکر يوازې ۱۳ % د افغان دولت سره سوداګريز فرصتونه درلودل. تقريبا ۹۰% د نورو سوداګرو او موسساتو سره شراکت نه درلوده او ۷۵% د کوم سوداګريز شرکت پورې تړلی نه وي.[383] پانګونې ته د ښځو لاس رسی کولای شي يو مهمه ننګونه وي د بانکونو او د پور ورکونې کوچنيو موسساتو سره چې کله کله پوروته وړاندې کوی چې هغو په دارايي او د ځمکې ملکيت باندې باور کوي چې د افغان ميرمنو لپاره محدوده ده.[384]

سربيره پر دې ، بانکې موسسې اکثره وختونه د لوړې ګټې په اندازه د ۱۵% څخه تر ۱۷% پر سود ولاړه قرضه برابروي چې دا کېدلای شي د بنسټ ايښودونکو ښځولپاره مانع وګرځي.[385] د ګرد ميز په بحث کې چې په ۲۰۱۳ کال کې په سوداګرۍ کې دافغان ميرمنو په اړه د يوې موسسې له خوا کوربه وه احساس کړه چې دولت بايد هغو توليداتو ته چې په افغانستان کې جوړ شوي دي وده ورکړي او کوچنی او متوسط کار وبارونو ته ډېر ملاتړ برابر کړي. ګډونوالو ليکلي چې ډېر توليدات او خدمتونه د نورو سرچينو په واسطه په مخ وړل شوي او د افغانستان کاروبارونو تحليلول ، هيڅ داسې دله په دولت کې نشته چې په سوداګرۍ کې د ښځو د حقوقو لپاره تبليغات وکړي.[386]

د سوداګريزو خونو وزارت د ښځو لپاره د رښتينې مرستې نه برابرولو لپاره او په صنعتي پارکونو کې د ښځو له خوا پرمخ ته وړلو شرکتونو لپاره د ځای د نشتون په خاطر د ښځو له خوا نيوکه وشوه.[387] د ميرمنو کاروباري اتحاديه په ۲۰۰۴ کال کې سوداګرۍ وزارت او د نړيوالې پرمختيا لپاره د امريکا د متحده ايالاتو اداری په ملاتړ سره تاسيس شوه او او په افغانستان کې د ۸۰ ښځينه کاروباری شرکتونو لپاره په يو چترې په څير موسسه کې انکشاف وکړ. د افغان ميرمنو کاروباري اتحاديې د افغاني سوداګريو او ښځو چارو وزارتونو سره د پوهنی يو يادښت لاسليک کړ ، او د ملاتړ څرګندوني يې د افغانستان د صادراتو د پرمختګ څانګې. د افغانستان سوداګرۍ او صنايعو خونه او د مدنی ټولنې لپاره افغانی شرکت څخه ترلاسه کړلې.[388]

ددې اتحادې تاسيس ، او لاسليک شوی هوکړه ليک او دولت له خوا د ملاتړ مثبت اپرمختګونه دي. په هر حال ، د افغان ميرمنو کاروباري اتحاديې د فعاليتونو ښکارې چې د نړيوالو تمويل کوونکو له خوا ملاتړشي او دا معلومه نه ده چې څومره رښتينې ملاتړ او همکاری به دولت برابره کړی. که څه هم ، د کار په ځواک کې د ښځو د ګډون په ليدلوسره يو څه د پرمختګ شواهد شته. د۱۳۱۰۰۱د کارګرو ملي اتحاديې غړو څخه په ۲۰۱۳-۱۴ کال کې ۴۰۴۴۷ښځينه غړې وی (۳۱%). په افغانستان کې ۵۱۲۳۹۳ د اتحاديې غړې وې چې ۱۵۵۹۸۳يې ميرمنې وې ، د ژورنالستانو شورا غړې ، صنعتکارانواتحاديې ، د ځوانانو اتحاديه ، د افغان ميرمنو اتحاديه ، د افغان ميرمنوټولنيزو او کلتوری خدمتونو اتحاديه ، او د ډاکترانو او صحی کارکوونکو اتحاديې په ګډون. ۲۲% افغانانو په ۲۰۱۴ کال کې راپور ورکړی چې د ښځينه فاميل غړو په کورنيو عوايدو کې د ۲۰۰۹ کال په ۱۴% سلنې مقايسې سره برخه اخيستی.[389] د نړيوال بانک د معلوماتو په اساس ، د ښځينه کارځواک د ګدون اندازه په ۲۰۱۳ کال کې ۱۶% سلنه وه چې د ۲۰۰۱ کال نه راهيسې زياته شوې ده.[390]

# مثبتې کړنې

| | |
|---|---|
| د دولتی مقامونو لپاره مثبتي کړنې[391] | C |
| د ښځو دولتی ګمارنه[392] | C+ |

يوه مهمه برخه د دولت ژمنی د ښځو اقتصادی ګدون اسانولو ته په خصوصی عامه ګمارنې سکتور کې مثبت کړنه دی. په هر صورت سره ، څرنګه چې يو شميراصول او ستراتيژيک سندونو د مثبتې کړنې نظريه پيشنهاد کړی ده چې د ښځو ګمارنه تامين او په ګمارنه کې دجنسيت اختلاف کم کړی ، چې څو رښتينې پاليسۍ پر ځپل ځای دي. ددی په تراو ، سروې شوو ښځو په مدنی خدمتې مقامونو کې چې د ښځو ګمارنې ته وده ورکولو د مثبت کړنې په اجرا کووني سره دولت ته C ورکړئ. د اداری اصلاحاتو او ملکې خدمتونو مستقل کميسيون په ۲۰۱۰ کال کې د جنسيت رياست تاسيس کړ چې يو مناسب حالت را منځ ته کړی چې ښځې او نارينه يو شان حقونه او فرصتونه په مدنی خدمتونو کې ولري.

د جنسيت د رياست ماموريت په ټولو قوانينو ، اصولو ، پلانونو او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کميسيون پروژو کې د جنسيت اصلي مسير دی او په وزارتونو او دولتي موسساتو کې د ښځوکارکوونکو د ظرفيت انکشاف دی. د رياست ستراتيژيک هدفونه د اصلي مسير جنسيت ، دچاروکو د اړيکو تاسيسول او نورو رياستونو سره همکاری او ښځينه مدنی خدمتګارانی ، په مدني خدمتونو کې د ښځو لپاره د ظرفيت د انکشاف پروګرام او روزنه ، په مدنی خدمت کوونکو کې د خبرتيا زياتوالی ، او د ګمارنی پروسه کې د جنس د مدني خدمت د پاليسئ اجرا کول د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کميسيون په کارکوونکو کې د مخالفت د تصميم خرګندوي .[394]

دی رياست د ښځينه زده کوونکو او د ښځو لپاره روزنی سره د ګمارنی کمپاين ترسره کړ آما د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کميسيون په ويبسايت کې د رياست په اړه محدوده فعاليتونو په اړه راپور ورکړل شوی دی. دا بيان شوي ژمنی په ښکاره توګه په مدنی خدمت کې د ښځو د ګمارنی په معنی ندی ژباړل شوي ، د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ احصايوی سروی په اساس يوازی ۹۳۷۶۱ دولتی کارکوونکي ښځينه وی د ۳۸۸۰۵۶څخه چې ۲۴% سلنه تشکېلوی چې په ۲۰۰۵ کال کې د ۳۱% څخه را لويدلی وې.[395]

په هر حال ، يوازی د ولسمشر په دفتر کې ۲% سلنه ميرمنی وی او په اداری چارو کې ۵% سلنه وی. په شپږو وزارتونو کې د ۲۰% څخه کمې کارکوونکي ښځينه تشکېلوی او ۱۰% يا د هغو څخه کم په ۱۵ وزارتونو کې دي.[396] يوازی په څلورو وزارتونوکې د ۲۰% سلنی څخه زياتی ښځينه ميرمنی کارکوونکي دی لکه د عامی روغتيا وزارت ۲۴% د پوهنی وزارت ۳۰% د کار ، ټولنيزو چارو ، شهيدانو او معلولينو د چارو وزارت ۶۲% د ښځو چارو وزارت ۵۶%.[397] د ملاحظې په ډول دا هم هغه وزارتونه دی چې ښځينه وزيرانی يې درلودلی د پوهنی وزارت په استثنا سره چې يو شمير ښځينه ښوونکي ګماری. ښځو پدی سروی کې د مدنی خدمت لپاره د ښځو ګمارنی په اړه دولت ته C+ ورکړی.

# د ميرمنو ميراث

| | |
|---|---|
| د ښځو ميراث لپاره قانونی تحفظ [398] | C+ |
| د ميراث په اړه د ښځو د حقوقو څخه دولت دفاع [399] | C+ |

په افغانستان کې د ښځو د ميراث لپاره د پام وړ قانوني تحفظ شتون لري. د افغانستان اساسی قانون په ۴۰ ماده کې هر افغان ته اجازه ورکوی چې قانون په چوکاټ د ملکيت څښتن اوسي ، او د قانون ۲۲ ماده کښي تصريح کوي چې ښځي او نارينه دواړه د قانون په چوکاټ کښي د برابرو حقوقو او مکليفيتونو درلودونکي دي. په هر حال ، د قانون ۳ ماده تصريح کوی چې په افغانستان کې هيڅ قانون د اسلام مقدس دين سره په تناقض کښي نه شي تنظيميدلای او شرعي احکام د کورنی د هر غړي لپاره د ونډي تاييد کړی دی ، او دا په عموي توګه داسې تفسير شوی چې ښځه د نارينه نيمايي برخه تر لاسه کوي.[400] په شرعی قانون کې د ميراث حقوق ډير واضح دی ، او څرنګه چې د ښځو د مثرات حق تاييد شوی دی. هغه کسان چې د ميراث د حق مستحق ګڼل کيږي عبارت دي له ميرمنی ، خور ، مور ، نيا ، او لور ، او هر يوه ته لپاره تعين شوی اندازه معلومه ده ، چې په ترتيب سره ښودل شوي ده. که چېرې د ميراث په خط کې مړی هم د بل کس په ژوندوني شامل شوي وي د يراړ حق تر لاسه کولای شي. د مثال په توګه ، د ورور او خور برخه صفر ده که چيرې مړ شوی کس د پلار په ژوندانه مړ شوی وی.[401]

په هر حال ، د افغانستان اساسي قانون ، د افغانستان د مدني قوانينو د ۱۹۷۷ کال لايحه ښځو ته د ملکيت حق ورکوي او په رسميت يې پيژني تر ملکيت را ونيسي او يې پلوري او د ښځې حقوق چې د واده کولو ، ميراث ، يا خريداری له لاری ملکيت لاس ته راوړي. ښځې ته د مهر د اخستلو حق ورکوي چې هغه کيدای شی يو مقدار پيسې او يا بله شتمنې وي چې ښځې حق لري هغه دميره څخه د هر ډول قيد او شرط پرته تر لاسه کړي. مدني قانون نه شی کولای ښځه د مهر څخه په خوښه يا په زور صرف نظر کړي. مدني قانون د ښځې د ميراث په اړه ۱۰۹ مربوطه مقررې نه لري ، او د خور ، ميره ، لورګانې ، سکه خورګانې ، ميرنې خورګانې ، پلندر ، لمسی ، او لمسې ، خورزې ، يا وريرې ، پلرنی خويندې ، نيا نيکه د سړي له طرفه برخې خاونداې جوړيږي. د ۲۰۲۷ د مادې پر اساس ، هغه ښځې د الادونه نه لري ، څلورمه برخه ، او هغه ښځې چې اولادونه لريو ميراث کښې اتمه برخه اخلي. او همدارنګه يوه لور د سړي نيمه برخه تر لاسه کوي ، او سکه خويندې دوه يا دوه پر دري يا تر هغوی زساته برخه ميراث تر لاسه کوي. ۲۰۲۷ مادې د شپږو کسانو يدونه کوي چې لهميراث څخه نه شي محروميدای ، لههغې جملې څخه مور ، لور ، ښځه او خاوند ، خو ښځه او خاوند په قسمې د فشار له امله د ميراث بې برخې کيدای شي.[403]

په هر حال ، په افغانستان کې ښځې د خپل د ميراث د حق غوښتنه کوي ، دا مبارزه کيدای شي ډير وخت و نيسي او ښځې د هيمشني غربت له خطر او بې ثباته ژوند سره مخامخ کړي. علاوه پر دې ، څيړنې دا ښودلي ده چې عنعنوې لارې چارې د ښځو د ميراث د حق څخه انکار ، داسې دی لکه د يو بل سړي سره خپلې خوښې پرته واده ته ء څو د ميراث حق د خپلې کورنۍ په داخل کښې محدود و ساتي. د ۲۰۱۳ کال مطالعې د ميراث په اړه ۱۰ ولايتونو کښې د خلکود نظر څرګندوينه کوي ، چې هغوی ۸۹ سلنه داسې سړي پيدا کړي چې خپل د ميراث حق يې تر لاسه کړی ، او په مقايسوي توګه ۳۷سلنه ښځې ، او ۴۵ سلنه ښځې او ۵۵ سلنه سړي په دې باور دي چې ښځې د ميراث حق نه لري. د هغوی او دلايل وړاندې کوي په عنعوي توګه ۴۳ سلنه خلک په دې باور دی چې د رواج خلاف عمل کنی ، ۸ سلنه خلک د خپلو ورونو سره دښمنې کنې ، ۶ سلنه ښځې په دې باور دي چې دا د بل چا ملکيت دي ، او ۴۴ سلنه ښځې دې موضوع ته چندان اهميت نه ورکوي. يو برخه په دې باور وې چې ښځې د ملکيت حق نه لري.

په مثبته توګه ، یوې سروې چې په ۲۰۱۴ کال کښې په ټول افغانستان کښې تر شوې تر سره شوې ده ، څرګندوي چې یوازې ۱۳ سلنه سړیو او ۱۵ سلنه ښځو د دې خبرې مخالف کړی چې لورګانې د خپل مړ پلار په شتمنیو کښې د میراث حق لري. ښځې همدارنګه د میراث د تر لاسه کولو په برخه کښې د تولینز فشار لاندې راغلي دي ، چې د میراث خپله د خپل کور کوم نارینه غړي ته د یو رواج په توګه ورکړي ، خو په دې شرط چې د کورنۍ دا نارینه غړي د هغې د پاته پورې د لګښتونو مسئولیت پر غاړه لري.

د شتمنیو او واده لپاره د نوم د ثبتولو نامناسبه طریقه هم د ښځو د میراث د غوښتلو د قانوني دعوې لپاره یو ستر خنډ دی. سره له دې چې د واده کولو لپاره د نوم لیکل د دولت له خوا هڅول کېږي ، د واده کولو لپاره د نوم لیکلو موضوع اوس هم د افغانانو په منځ کښې عامه خبره نه ده ، ځکه د افغان میرمنو لپاره چې د خپل حق غوښتنه وکړي یوه پیچلې بهیر دی ، ځکه هغه قانوني اسناد په لاس نه لري او د واده د اسنادو د درلودلو پرته سخته ده چې هغه خپله غوښتنه په یوه حکومتي اداره کښې ثبت کړي.پر دې برسیره د ځمکو د ثبت یوه پیچلې او متضاد قانون له مخې د نوم لیکل او د ملکیتونو مصئونیت ، په حقوقي لحاظ د ښځو هڅې نورې هم پیچلې کوي ، تر څو خپل د میراث حق تر لاسه کړي.

په عمده توګه ، د عامه پوهاوي نشتون او اجباري قوانین د ښځو د میراث د ترلاسه د بهیر مخنیوی کوي. ښځې زیاتره وختونه د میراث لپاره د خپلو حقونو څخه خبر نه لر ، او حتی چیرې چې چې ښځې خبرې هم وې ، کورنۍ او تولنیز مشران زیاتره وختونه هغه حقوق نه مني او دا موضوع په عدلي رسمي سکتور کې ښکاره خبره ده. د پورتنیو ۶۳ سلنه یادو شو میرمنو څخه چې د ۲۰۱۳ کال په مطالعه کښې ترې یادونه شوې او خپل د میراث حق یې نه دی ترلاسه کړی ، د هغوی ۱۹ سلنه ویلي دي چې هغوی د حکومت په مرسته هڅه کړې وه تر د خپل میراث حق تر لاسه کړي ، اما هغوی تر اوسه بریالی شوې نه دي چې خپل حق تر ګوتو کړي ، او د دوی د ۳۳ سلنه میرمنو څخه رشوت غوښتل شوی دی.

دولت میرمنو ته د میراث د حق ورکولو په برخه کښې څوک نه دي هڅولي تر خو لکه د بلګې په توګه د مالیو له نظره د هڅونکو شریطوبرابرول ، په څیر مناسب اقدامات نه دي کړي چې خلک د میراث ورکولو حق ته قانع شي. د میرمنو د چارو د وزارت او د د سواداګرۍ د خونې د هڅو سره سره چې جنسیتي برابرۍته د مالي قوانینو له لارې وده ورکړي ، د مالیې وزارت دا طرحه رد کړې ده ، ځکه نومړی وزارت دا دلیل وړاندې کوي چې مالي قوانین یو ډول توپیر مثبت یا منفي ته اجازه نه ور کوي. پر دې سربیره ، د واده کولو په خاطر د نوم لیکلو هیڅ انګیزه شتون نه لري ، او دولت هم په دې اړه کوم ګام نه دی پورته کړي تر خو خلک و هڅوي چې د واده کولو لپاره خپل نومونه ثبت کړي ، تر څو د میرمنو د میراث د حق څخه ساتنه وشي.

د هغوی ۴۴ سلنه میرمنو درک کړي چې د قانون پراوونو څخه د دوی ناخبري هم د دې سبب شوي چې د هغوید خپل حق د غوښتلو توان ونه لري ، په داسې حال کښې یوازې ۱۵ سلنه سړي د هغوي د حق ور کولو خنډ جوړ شوي دي. ۲۳ سلنه میرمنو دا راپور ور کړی چې له دوی سره بد سلوک شوی دی یا چې کله هغوی د قنوني لارې د خپل حق غوښتلو هڅه کړې ، نو د دولتي ادارو له خوا ور سره د تبعیض پر بنسټ سلوک شوی دی.

# میرمنې په کرنه کې

| په کرنه کی د ښځو له د عوایدو لاس ته راوړولو دولتي آسانتیاوې.[415] | C |
|---|---|

په افغانستان کی ، په کرنه کښې په کرنه ښځې ۶۵ سلنه انشاني نیرو جوړوي چې د افغانستان د نا خالص ملي تولید یو پر دریمه جوړوي. په هر حال ، چې ښځېزیاته برخه کاورنه سرته رسوي ، د هغو ډیر لږې ښځې یوې ډیرې لږې برخې ځمکې خاوندانې دي او د سړیو په پر تله ور کرنیزو زده کړو او منابعو ته لږ لاسرسی لري او زیاتره وختونه هغوی د خپل کار اقتصادی ګټې په کنترول کی نه لري. پر دې سربیره ، او په حقوقو او مسئولیتونو کښې د کورنیو د غړو توپیر باندې په دې راپور کښې خبرې شوې دي ، چې دا کار په خپل وار د منابعو نا برابره توزیع او بالاخره د لږ حاصل سبب کیږي.

ښکاره شواهد موجود دي چې هغه ټوټه ځمکې چې خاوندانې یې ښځې دي د سړیو خاوندانو په نسبت یې ځمکې د لږ حاصل لرونکي دي. چې دا په خپله په کورني منابعو په تخصیص کښې نا برابرۍ له منځه وړي او د کورنیو کرنیزو محصولات زیاتوي. په زیات تره هیوادونو کی د فزیکی او انساني ځواکونو ویش په کرنیزه برخه د سړیو په ګټه دی. د کرنیزو ځمکو د توټو په پرتله چې چارې یې د سړیو له لورې تنظیمیږي ، د ښځینه مالیکنو محصولات د پام وړ کموالی لري.

د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د جنډر د امورو د سمون لپاره په ۲۰۰۹ کال کښې یوه پالیسي او ستراتیژی تدوین کړې ده او همدارنګه د جنډر یو څانګه یې تاسیس کړې ده. په هر حال ، لکه چې پورته یې هم یادونه وشوه د افغانستان د احصایې مرکزي اداري تازه سروې ، وایي چې وزارت یوازې ۴ سلنه ښځینه کار کونکي لري ، کومه چې دا په کوته کوي چې د جنډر د مساواعت چارې په دې وزارت کښې په ښه توګه نه دي تنظیم شوې او دا چې د ښځینه برابرۍ موضوع ته ډیره لږه پاملرنه شوې ده او کرنیزو موضوعاتو په اړه د تصمیم نیونې په بهیر کښې بې برخې دي. هغه میرمنې چې د دې څیړنې لپاره سروې ورسره شوې ده. ، دا درک کړې ده چې د جنډر د برابرۍ موضوعاتو د پاملرنې او د کرنې له لارې د عواید لاس ته راوړلو یا خپلو ژمنو په پوره کولو کښې تر څو ښځې د کرنیزه نظره په اقتصادي لحاظ واکمنې کړي پاته راغلی دی چې دولت ته یې د ښځو لپاره د زارعتي لارې د عوایدو د لاسته راړولو له نظره د C درجه ورکړې ده.

# اسیب پذیري ډلي

دولت ژمنه کړې چې د یو شمېر اسیب پذیره ډلو اړتیاوو ته پام وکړي ، چې په کې د کورنیو غریبې ښځینه مشرانې ، کوچې او بېځایه شوي مېرمنې چې معیوبه دي ، او او کونډې شاملې دي. دا پاملرنې د افغانستان په اساسي قانون کې ذکر شوې دي چې دا ډول دي: دولت مکلف دی د تقاعد شویو حقوق تامین کړي ، او هغه سپین ګیرو او ښځو ته چې سرپرست نلري ، معیوب او شل او همدا ډول غریب یتیمانو ته د قانون د حکم له مخې اړینه مرسته ورسوي

هغه ژمنې چې په د فغانستان ملي پرمختیایي سترټژۍ کې ذکر شوي د اقتصاد او ټولنیز پرمختګ او همدا راز د ټولنیز خوندیتوب په اړه دي. دولت ژمنه کړې چې د هغه غریبو مېرمنو لپاره چې د کورنۍ سرپرستي کوي ، د تاوتریخوالي قربانیان او هغه ښځې چې خطر سره مخ وي لاسنیوی وکړي. په د فغانستان ملي پرمختیایي سترټژۍ کې په ټولنیز خوندیتوب او اسیب پذیره ډلو او اشخاصو لپاره د مراجعې سېستم او شبکې جوړولو باندې ډېر ټاکید شوی چې په کې ښځې په مشخص ډول یادې شوې دي. دولت نورې ژمنې هم کړې چې په کې د کونډو ښځو او سختو غریبو او معیوبه ښځو ته مسلکي روزنه ورکړل شي. د دې ژمنو په ملاتړ کې ، د فغانستان ملي پرمختیایي سترټژۍ یوه سروې پلان کړې چې له مخې يې د هغو بې حده غریبو ښځو په اړه معلومات راټول کړي چې د کور سرپرستي کوي او کوچنې ماشومان لري.

سربېره پردې ، د فغانستان ملي پرمختیایي سترټژۍ دا ژمنې د افغان دولت کلکې ژمنې بولي او دولت ژمن بولي چې پدې برخه او د ژمې په موسم کې مرستې زیاتې کړي لکه پیسې ، خوراکي کوپون ، د مهارتونو لوړول ، د کرنې وسایلو وېشل ، مایکرو فاینانس او دندې چې لومړیتوب يې هغه ښځو ته د ملکي خدمتونو لپاره چې د کور سرپرستي کوي او بې حده غریبې دي ورکړل شوی دی. د ټاکنو قانون هم ځاګړی قانون لري چې له مخې يې کوچې مېرمنو ته د سیاسي استازیتوب حق ورکړل شوی چې دا ژمنه کوي چې د کوچیانو په هرزون کې یو سیټ د نارینه او درې سیټونه د مېرمنو لپاره تخصیص شوي دي چې له مخې يې هر څوک په ټاکنو کې په دې زونو کې زیاتې رایې یوسي ، بریالی پېژندل.

افغانستان هم د ملګرو ملتونو د ۲۰۰۶ کال د معیوبو اشخاصو د ټولنې برخه ده ، او نجونې چې معیوبې وي د زیات تبعیض سره مخ کېږي او هغه مېرمنې چې د یوشان ازادی او د ټولو بشري حقونو څخه د خوند اخېستلو ټولو حالتونو په اړه په اقدام کوبو پوهېږي. دا څرګندوي چې د هېواد ډلې باید اغېزمن قانو او پالیسی وضع کړې چې په کې د مېرمنو او ماشوم ته د پام قانون او پالیسي هم شامل وي ، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د معیوبینو کسانو پر وړاندې د ګټې اخیستنې ، تاوتریخوالي او ناوړې ګټې اخیستنې شواهد پېژندل ، وڅارل او تعقیب شوي دي.

د دغه راپور د ښځو په اړه ترسره شوې سروی دولت په C- درجه کې ګڼلی او څرګندوي چې دولت د غریبو کورنیو د ښځینه مشرانو ، د کوچیانو ښځو ، معیوبو ښځو او کونډو په شمول د زیانمنو خلکو د حقونو د ساتنې او ملاتړ په ژمنه کې پاتې راغلی. د مدني حالت ، قوم ، کار ، عمر او د عایدو سطحې په پام کې نیولو سره د ځواب ویونکو تر منځ کوم ځانګړی توپیر نه وو. خو د ولایتونو پر بنسټ ځانګړی توپیر وو ، په بامیانو کې ښځو د دولت د کړنو په اړه مثبت نظر درلود خو د هرات ولایت ښځو تر ټولو زیات منفي نظر درلود ددې سربېره ، هغه ښځې چې زیاتې زده کړې يې درلودې داسې احساس درلود چې د دولت فعالیتونه ډېر کمزوري وو.

| | |
|---|---|
| دولت د غریبو کورنیو ښځینه مشرانو ملاتړ کوي | C |
| دولت د کوچیانو د ښځو ملاتړ کوي | D+ |
| خدمتونو ته د معیوبو ښځو لاس رسی | C |
| د معیوبو ښځو لپاره د مسلکي زده کړې او اقتصادي فرصتونو په برخه کې د دولت اقدام | C |
| د کونډو اړتیاوو ته د دولت د پالیسیو او پروګرامونو حساسیت | D+ |

په عمومي ډول ، د مېرمنو د ولایتي غړي داسې احساس لري چې د ښځو زیانمنو ګروپونو د ملاتړ په برخه کې د دولت کړنې کمزورې وې. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د غریبو کورنیو د ښځینه مشرانو ملاتړ ، خدمتونو ته د معیوبو ښځو لاس رسي ، او معیوبو ښځو لپاره د مسلکي زده کړې او اقتصادي فرصتونو اقدام په برخه کې په C درجه کې وو. د کوچیانو ښځو او د کونډو اړتیاوو ته د دولت د پالیسیو او پروګرامونو حساسیت په برخه کې دولت ته D+ درجه ورکړل شوه. د یادونې وړ ده چې پدغه سروی کې د کوچیانو یو ځواب ویونکی هم نه وو او یوازې ۴ سلنه ځواب ویونکې کونډې وې. لدې کبله ، دغو ګروپونو سره د دولت د ملاتړ روحیې د شخصي تجربو پر ځای د ذهنیت او د لیدلو پر بنسټ وو.

په ۲۰۰۸ کې څېړنې څخه څرګنده شوې چې د افغانو ښځو یوه ځانګړې برخه د سخت فقر په کټګورۍ کې ده او د د زریزې لپاره د افغانستان پرمختیایي اهدافو سره سم د سرچینو موخې مقدار د پنځو کلونو لپاره هره ورځ د یوه کس پر سر 1 امریکایي ډالر وو. په همدغه څېړنه کې څرګنده شوې چې د افغانستان د سختو فقیرو ښځو تر منځ تر ټولو زیاتې زیانمنې شوې بالغې ښځې دي چې نارینه ملاتړ کوونکی نه لري خو د کورنۍ لاس لاندې غړي لري لکه د کورنۍ ښځینه مشرانې. د ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲ پورې د خطر او آسیب ارزونې ملي پروګرام سره سم ، له یو سلنه څخه د کمو کورنیو مشران ښځې دي چې د ټول نفوس ۰،۴ سلنه تشکیلوي. که څه هم دا شمېره کمه ښکاري خو د بشپړ نفوس تر منځ ۱۰۲،۰۰۰ خلک دي. په کورنۍ کې د نارینه مشر نه شتون د عایدو ، امنیت او ټولنیز خوندیتوب له پلوه د کورنۍ د ټولو غړو د سخت زیانمن حالت څرګندونه کوي

ددې سربېره د خطر او آسیب ارزونې ملي پروګرام څرګنده کړې چې له ۶۵ کلنۍ څخه پورته ۵۷ سلنه او له ۴۰ څخه تر ۶۴ کلنې پورې ۱۷ سلنه ښځې کونډې دي. په افغانستان کې ۱،۵ میلیونه کونډې اټکل شوې دي ، چې په نړۍ کې یو تر ټولو لوړ تناسب دی. ښځې له سړیو څخه د زر واده کولو تمایل لري او په ځانګړې لویې کچې زر کونډې کیږي. کونډې هم له پام وړ زیانمنتوب سره مخ دي. د بیلګې په توګه ، په دوارو ښاري او کلیوالي سیمو کې کونډې او

طلاق شوي خلک د نورو ګروپونو په پرتله د خوراک له پلوه ډېر غیرمسؤن دي.له ۳۵ کلنۍ ښکته کونډې کولی شي چې بیا واده وکړي ، خو له ۳۵ کلنۍ پورته کونډې په عمومي ډول نه شي کولی چې وادونه وکړي. بله دا چې ، کله چې یوه ځوانه کونډه پریکړه کوي چې بیا واده وکړي ، اکثره وخت مجبوره ده چې خپل ماشومان د خپل پخواني میړه له کورنۍ سره پرېږدي چې دا کار ډېری میندو ته د بیا واده کولو په پریکړه کې بې تمایلي رامنځ ته کوي.

په ۲۰۱۵ کال کې یوناما (UNAMA) له ۶۰ کونډو ښځو سره د شخړو اړوند تاوتریخوالي په اړه مرکه وکړه او څرګنده شوه چې په څلورو کې له یوې څخه زیاتې ښځې د میړه له لاسه ورکولو وروسته د لفظي ښکنځلو ، له کور څخه ویستلو ، په زور بیا وادولو ، فزیکي زیاتی یا ټولنیز محرومیت په بڼه تاوتریخوالي سره مخ شوې دي. ټولو ۶۰ ښځو ویلي دي چې په ځانګړي ډول د هغوی مالي حالت ډېر خراب شو او په دریو کې یوازې یوې ښځې له دولت څخه مالي جبران ترلاسه کړی دی چې هغه هم د عادي معاش په پرتله ډېرې کمې پیسې وې. هغه ښځې چې نه شي کولی بیا واده وکړي ډېری وخت باید په خپلو بچیانو یا د کورنۍ په نورو غړو تکیه وکړي په عمومي ډول په بچیانو که چیرې بچیان ولري او دوی ته د ډوډۍ پیدا کولو په عمر کې وي خو ددې ضمانت هم نه شي کېدلی. هغه کونډې چې د ټولنیزې رفاه سیستم نلري او د شخړو اړوند زیان لپاره د پیسو ورکړې ته محدود لاس رسی لري د ژوند تیرولو لپاره په خپله خوښه په کورنۍ او ټولنیزو شبکو تکیه کوي. معیوبې ښځې هم له ډېرې زیانمنې دي. غریبې معیوبې ښځې د نورو ښځو په پرتله سختې غریبې دي او د معیوبو ښځو لپاره د کار فرصتونه هم ډېر کم دي.

په ۲۰۱۲ کال کې د ښځو د چارو وزیرې حسن بانو غضنفر له وینا سره سم ، د میرمنو د چارو وزارت او د کار ، اجتماعي امورو ، شهیدانو او معلولینو د چارو وزارت د هغو ښځو دولتي ملاتړ پیاوړي کولو په موخه په ګډه قانون جوړ کړ چې د پاملرنې څوک نه لري ، یتیمانې ، مشرانې یا معیوبې دي. خو ددغه قانون وضعیت تراوسه ناڅرګند دی. د ۲۰۱۴ کال په اګست کې د د کار ، اجتماعي امورو ، شهیدانو او معلولینو د چارو وزارت لخوا د لیوالتیا د څرګندولو له ورانديز سره سم ، وزارت غواړي چې د د فغانستان ملي پرمختیایي

سترتژۍ د ټولنیز خوندیتوب د سکتور ستراتیژۍ تر څنګ د ملي او ټولنیز خوندیتوب د شبکې پروګرام په توګه د افغانستان د ټولنیز خوندیتوب پروګرام (ASPP) معرفي کړي. د نوي وړاندیز شوي افغانستان د ټولنیز خوندیتوب پروګرام اصلي موخه په افغانستان کې د هغو ډېرو غریبو کورنیو ملاتړ کول دي چې مورګانې ماشومان لري او له لوږې سره مخ دي. د ښځو ددغو ګروپو د زیانمتیا د موضوع په ګوته کولو دغه هڅې د وعدې کولو پړاو دی. خو دغه ژمنې د هغو پخوانیو ژمنو په سر کې دي چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې کیږي او ویل کیږي چې په رښتینو پروګرامونو او د ملاتړ په سیستمونو به بدلې شي خو دولت د افغانستان له ډیرو زیانمنو ښځو سره پدې برخه پاتې راغلی.

د کوچیانو ښځې هم د نورو ښځو په پرتله ډېرې زیانمنې شوي. د بیلګې په توګه ، د ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲ په ۲۰۱۱ - د خطر او آسیب ارزونې ملي پروګرام کې شاوخوا ۳۳سلنه کلیوالي ښځو د روغتیا ماهرو کارکوونکو پر وړاندې زیږون ترسره کړی ، خو د کوچیانو ښځو تر منځ دغه شمیره یوازې ۱۳سلنه وه. په کلیوالي سیمو کې ۲۴ سلنه ښځو له ولادت څخه وړاندې پاملرنه ترلاسه کړې خو ددوی په پرتله د کوچیانو ښځو تر منځ دغه فیصدي یوازې ۲۳ سلنه وه.د انجونو د ابتدایي حاضرۍ خالص تناسب ۴۸ سلنه وو ، خو د کوچیانو انجونو تر منځ د ابتدایي حاضرۍ تناسب یوازې ۱۳ سلنه وو. دغه شمیرې څرګندوي چې افغانې ښځې زیانمنې دي خو ددوی تر منځ د کوچیانو ښځې ډیرې زیانمنې دي او دولت هم د کوچیانو د ښځو د اړتیاوو پوره کولو لپاره ډېر څه نه دي کړي. د کوچیانو خپلواک عمومي ریاست) د کوچیانو د چارو خپلواک ریاست( په ۲۰۰۵ کال کې د دولت د استازیتوب لارې هوارولو او د کوچیانو د مخ پر وړاندې ستونزو د حل په موخه د رسمي ارګان په توګه جوړ شو. د کوچیانو د چارو خپلواک ریاست د ولایت په کچې د کوچیانو سیمه ییز رییسان لري ، څوک چې په خپله سیمه کې د کوچیانو اړوندو مسایلو په اړه خبرې او اداره کوي او د پلان جوړونې او مدیریت د موخو لپاره د کوچیانو د چارو خپلواک ریاست ته معلومات چمتو کوي. ددې سربیره ، د د کوچیانو د چارو خپلواک ریاست په اړه معلومات ډېر لږ دي ، په ۲۰۱۳ کال کې یې ویب پاڼه جوړه کړه خو اوس هم هیڅ معلومات نه لري او ددې په اړه هم معلومات نشته چې دولت د کوچیانو ښځو او انجونو د اړتیا او زیانمتیا لپاره څه کوي.

# د پوهاوي لوړول

| | |
|---|---|
| عمومي اجراآت: | B- |

د میرمنو سره د دولت د ژمنو سره یو ځای په دې تړولو ساحو کښې ، حکومت ځو ځله ادعا کړې چې دوی به په هره ساحه کښې د عامه پوهاوي پروګرامونه تر سره کړي. عامو وګړو ته د میرمنو د حقوقو په اړه پوهه ورکول او د جنډر د برابرۍ په برخه کښې د عامه کمپاینونو ، د ملایانو ، ښوونکو ، دولتي کارکونکو ، ځوانانو ، او سړیو او میرمنو په مرسته ملاتړ برابر کړي. دا ژمنې ، د ملي پرمختیایي ستراتژۍ ، د ملي لمړیتوب پلان ، د افغانستان د میرمنو لپاره د عمل پلان ، او ځو نورو پالیسیو او ستراتژیو کښې ځرګندې راغلي دي.

د میرمنو د ولایتي شبکې غړو دولت ته د عامه پوهاوي او میرمنو او انجنو ته د تعلیم ورکولو ، د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالي ، د قانوني حقوقو د درلودلو ، عدالت ته لاسرسی ، انجنو لپاره تعلیم ، سیاسي ګډون ، او میرمنو ته د سولې په بهیر کښې د ګډون په برخه کښې د هغه د کړونو لپاره د B- درجه ورکړې ده. د ولایتونو ، مدني حالت ، قومیت ، یا د دندې حالت له نظره په ځوابونو کښې ډیر توپیر موجود نه وه. همدارنګه د عمر ، تعلیم د سطحې ، یا عاید د اندازې له نظره د پام وړ توپیر موجود نه وه.

| | |
|---|---|
| د سړیو او میرمنو تر منځ د سړیو او میرمنو د قانوني حقوقونو ته لاسرسي په اړه د د عامه پوهاوي لوړوالي | C+ |
| عدالت ته د سړیو او میرمنو د لاسرسی په اړه د دولت له خوا د عامه پوهاوي د لوړولو کوښښونه | C+ |
| میرمنو او سړیو تر منځ د د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالي د مخنیوي په مقصد د دولت له خوا د عامه پوهاوي د لوړولو کوښښونه | C+ |
| د میرمنو او انجنو د تعلیم په برخه کښې د دولت له خوا د عامه پوهاوي د لوړولو کوښښونه | B |
| د میرمنو او انجنو د سیاسي ګډون په برخه کښې د دولت له خوا د عامه پوهاوي د لوړولو کوښښونه | B- |
| د سولې په بهیر کښې د میرمنو او انجنو د ګډون په برخه کښې د دولت له خوا د عامه پوهاوي د لوړولو کوښښونه | C+ |

بالاخره ، په افغانستان کښې جنسیتي برابري په نه بیلیدونکي بڼه د کلتور ، رواج ، او تولنیز سلوک سره تړاو لري. د دې خبرې منل ، چې عامه پوهاوی د دولت کوښښونو له نظره د فعالیتونو لپاره یوه مهمه ساحه ده ، تر ځو د جنسیتي یو شانوالي ته د ودې کولو فرصت برابر شي. هغه میرمنې چې سروې شوې دي دا احساس کړیده چې دولت د عامه پوهاوي په برخه کښې د سړیو او میرمنو تر منځ په سیاست او تاکنو کښې د هغوی د برخې اخستنې له نظره دولت ته په دې ساحه کښې د -B درجه ور کړې ده. په هر حال ، د عامه پوهاوي لوړتیا په هر بله ساحه کښې ، د قانوني حقوقو عدالت ته لاسرسی ، د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالي د میرمنو او انجنو لپاره تعلیم او د سولې په بهیر کښې میرمنو ګډون په شمول ، د میرمنو ولایتي شبکې غړو دولت د +C درجه ورکړې ده ، چې دا د دې ښکارندویي کوي چې د جنډر د برابرۍ په اړه د پوهاوي د لوړیدو په برخه نورې پانګې اچونې ته جدي اړتیا ده.د افغنستان دولت زیاتره وخت د نړیوالو فعالینو د ګډون له لارې د عامه پوهاوي د لوړتیا یو کمپاین پیل کړی دی. د مثال په ډول ، ستره محکمه او د عدلیې وزارت یوه راډیویي ډرامه خپروي چې نوم یې دی "قانون قانون دی" تر ځو د قانون په اړه د خلکو پوهاوي لوړ شي چې د قانون د حاکمیت د رسمي پروګرام له لارې یې ملاتړ کیږي. یونیسیف هم د تولنې د نظارت GPE له لارې پروګرام د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي یو پروګرام چې د دولتي بودجې له لارې یې ملاتړ کیږي ، په هغه سیمو کښې پر مخ وړل کیږي چیرې چې هیڅ انجوني په ښوونځیو کښې نه دي شاملې شوې. دا پروګرام د تولنې په سطحه د ښوونځیو له لارې د پوهاوي د لوړولو باندې تمرکز کوي او د زده کړو پروګرامونه چټک کوي.د کورنیو چارو وزارت د ملګروملتو د عمومي منشي د عامه پوهاوي پروګرام په چوکاټ کښې یو ۱۶ ورځینی کمپاین تر سره کړ ، کوم چې د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره ژمن دی. په ۲۰۱۴ کال کښې د عامه پوهاوي د کورنیو ستونزو ته د ځواب ویلو په اړه چې د افغانستان لپاره د نظم او قانون د وجهي صندوق له خوا یې ملاتړ شوی وه او همدارنګه د په

دنده ګمارلو یو کمپاین په ۲۰۱۲ کال کښې تر سره کړ .د عامې روغتیا وزارت یوه ستراتژیکه ځانګه لري چې روغتیا د ودې د ځانګې په نوم یادیږي چې د عامه پوهاوي د لوړولو مبارزه کوي او تلویزوني لنډ اعلانونه او عامه پیغامونه خپروي. هر کال هغوی د میرمنو ، میندو ، توبرکلوز ، د ملاریا او داسې نورو د روغتیا سره تړلې ورځې لمانځل کیږي.د سولې عالي شورا او د جنډر (جنسیت) ځانګې د ملاتړ د برابرولو کوښښونه تر سره کړي تر ځو میرمنې د سولې په بهیر کښې شاملې کړي. د سولې عالي شورا ښځینه غړو او د جنډر (جنسیت) ځانګې مشترک دفتر کارکونکو د یوې لویې جرګې جوړولو ته لاره هواره کړه ، او د سولې په اړه او د میرمنو سیاسي ګډون په اړه یې یو کنفرانس جوړ کړ ، او ملي سولې فعالیتونو کښې برخه واخسته. په هر حال ، عامه پوهاوي بنسټیز شوی نه دی ، او په عمومي توګه په هغو کښې یوازې لنډ مهالي تاکتیزې مبارزې شاملې دي. په ۲۰۱۴ کال کښې د دولت د یو خپلواک اقدام یوه مثال شته چې یادونه ترې و شي ، یعنې دا چې افغان میرمنو د سولې د کمپاین لپاره غږ پورته کړ ، چې د دا فرصت یې په ګوته کړ چې میرمنې د سولې په بهیر کښې په محلي سطحه را شریکې کړي. د دې یو میاشتني کمپاین مقصد دا وه چې په پراخه کچه د سولې د غوښتنې او تول هیواد کښې د میرمنو د لاسلیکونه را تول کړي. دوی په دولت ، مسلحو مخالفینو او نړیوالې تولنې غږ وکړ چې د سولې د رامنځته کیدو د یو بنسټ په توګه د مشترکو ټکو د پیدا کیدو لټه و کړي. دا د سولې لپاره یو پراخه ملي کمپاین وه چې میرمنو په هغو کښې ګډون کړی وه ، چې په پایله کښې په ۳۴ ولایتونو کښې ۲۵۰،۰۰۰ لاسلیکونه را تول شول. دا کمپاین د یو لړ مراسمو سره مل وه چې د میرمنو د سیاسي ګډون باور یې پیاوړی کړ. په داسې حال کښې چې دولت له خوا دا ډول کمپاینونه د میرمنو د ستونزو د حل لپاره د رسمي مراسمو بڼه لري او په تولیزه توګه د پوهاوي ورکولو او ملاتړ برابرولو د عمومي ستراتژۍ یوه برخه ده. په دې راپور کښې د میرمنو وضعیت د بحث موضوع ده چې په پراخه کچه د میرمنو سره د دولت د کړو ژمنو او د عامه پوهاوي د اړتیا ځخه عبارت دی.

# نتیجه

دا ښځینه او د جندر (جنسیتی) یو شنوالي راپور پانه په داسې یو ډیر حساس وخت کښې خپره شوه ، چې افغانستان د انتقال او بدلون ته داخلیږي. لکه څنګه چې افغان دولت په خپله د خپلې بودجې تیارولو ډیر مسئولیت په غاړه اخلي ، دا مهمه ده چې د زرګونو ژمنو بیا لیدنه تر سره شي ، کومې چې د افغاستان د میرمنو او جندر د برابرئ په اړه شوي دي. لکه څنګه چې دې ښځینې ښودلې ده ، نو د ژمنو تر سره کول او د پالیسئ جوړول یو لمړی مهم ګام دی ، تر څو هغه په یو حقیقي پروګرام بدل شي ، او د هغه لپاره بودجه جوړه او په رښتوني لمړیتوبونه ور ته په نظر کښې و نیول شي ، څکه له دې پرته به هغه د افغانستان د میرمنو په ژوند لږ اغیز و لري. مخ پر وړاندې حرکت ، د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې رواجیدل ، به په دې برخه کښې د حکومتي کارکونکو د روزنې او افغانستان د اوسیدونکو د بیلا بیلو جنسونو اړتیاو ته حساب ورکولو د بودجې د پلان جوړونې ، تطبیق ، او ارزونې ا و بودجې جوړونې په بهیر کښې د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې رسمي بودجې د اړتیا وړ یو ترکیب په برخه کښې یو مهم نقش ولوبوي.

دا ډیره مهمه ده چې یادونه وکړو چې ډیرې داسې کړنلارې او حل لارې شته چې د هغو ستونزو ته چې میرمنې ور سره مخ دي ځواب پیدا کړي. د بیلګې په توګه ، روغتیایي خدماتو ته لاسرسی ، حکومت کولای شي روغتیایي کتنځي جوړ کړي ، میرمنو ته د طبې زده کړو په برخه کښې آسانتیا برابره کړي ، د عامه ترانسبورت داسې یو سیستم رامنځته کړي چې میرمنې روغتونو او کتنځایو ته ورسوي ، د روغتیایي کارکونکو یو ګرځنده روغتیایي پروګرام تر سره او پراختیا ور ته ورکړي ، د روغتیایي خدماتو د لاسرسی په اړه د عامه پوهاوي یو کمپاین تر سره ، د میرمنو لپاره د ټولینز خدماتو د ملاتړ په خاطر د میرمنو لپاره یو جلا ترانسپورتي متبادلې وسیلې ، او یا د دې ټولو لارو چارو یو ترکیب رامنځته کول په کار دي. یادې شوې کړنلارې چې پورته ور څخه یادونه وشوه د یو شمیر دولتي فعالینو پواسطه لکه د مالیې وزرات ، د عامې روغتیا وزرات ، د لوړو زده کړو وزارت ، یا د ترانسپورت او ملکي هوایې چلند وزرات له خوا تر سره شي. د میرمنو ستونزو ته پام کول هغه څه دي چې د ټولو فعالینو تر منځ همکاری او اغیزمنه مفاهمه او په محلي او ملي سطحه د واک ورکولو ډاډ تر لاسه کوي ، تر څو پالیسي جوړونکي او تصمیم نیونکي د رښتینو اړتیاو څخه خبر شي او محلي فعالینو باید منابعې برابرې کړې وي او د پروګرام د سرته رسولو لپاره یې عملي ملاتړ برابر کړی وي. بالاخره ، مخ پر وړاندې حرکت کولو لپاره به دولت خلاقیت ، همکاری او تر ټولو مهم یوې قوي سیاسي ارادې ته اړتیا ولري.

په لنډه توګه ویلای شو چې ، د ۲۰۱۴ کال د جندر د یو شنوالي راپور پانې دولت د چارو د پرمختګ د معلومولو د کلنئ څارنې لپاره یو بنسټ رامنځته کړی دی. د سولې او دموکراسئ د یو شنوالي موسسه هیله لري مدني ټولنه او نړیواله ټولنه ، او د افغان دولت چارواکي به له دې څخه د یوې وسیلې په توګه کار واخلي تر څو د یو رښتینې بدلون لپاره ملاتړ تیار او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت خپلو هغو کړو ژمنو ته چې په افغانستان کښې یې د میرمنو او جندر د یو شنوالي په اړه کړې دي ، ځواب ویلو ته تیار کړی.

# مآخذونه

"د ۲۰۱۴ کال د لمړۍ ربعې د کار د پرمختګ راپور." د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق .(LOTFA)۲۰۱۴. http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/crisisprev/LOTFA/LOTFA-1QPR-2014.pdf.

"د عدالت لپاره یو غږ: په افغانستان کښې د بشر د حقوقو د پایمالیدو اړوند یوه ملي مشوره."د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسون. د جنورۍ ۲۵ ، ۲۰۰۵ کال ،.http://www.refworld.org/pdfid/47fdfad50.pdf.

"لا ډیره لاره په مخکښې پرته ده. په افغانستان کښې د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالي د مخنیوي د قانون تطبیق." یوناما ، نومبر ، ۲۰۱۱. http://unama.unmissions.org/portals/unama/human%20rights/november%2023_unama-ohchr-joint-report-on-implementation-of-evaw-law_eng.pdf.

" په ټاکنیزو او مدني زده کړو او روزنه کښې د عمومی انګیرنې سروې." USAID او دموکراسي انتر نشنل ادارو له خوا. اپریل ، ۲۰۱۳. http://democracyinternational.com/sites/default/files/ECE%20Survey%20Report.pdf.

آکیرا جان آر. ، کارا اسکیان ، زبیر ای قریشي ، او راهول ، کی. شرما ،"په افغانستان کښې د روغتیایي پآملرنې سیستم بیا رغونه: د لمړنیو روغتیایي پاملرنې او بیړنیو خدماتو بیا کتنه." د بیړینو درملو نړیواله مجله. ۲ شمیره ، د جون ۵، ۲۰۰۹..http://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC2700223/.

"په افغانستان کې لاسته راوړنې." USAID اګست ، ۲۰۱۴. http://www.usaid.gov/sites/default/files/documents/1871/Achievements%20in%20Afghanistan.pdf

"د افغانستان عدلي اداري د راډیو له لارې د میرمنو د پوهاوي د لوړتیا زیاتوي."- USAID. http://www.usaid.gov/results-data/success-stories/afghan-justice-institutions-raise-awareness-women's-rights-radio.

"د افغان سوداګرو میرمنو د ټولنې لمړنی کلنی کنفرانس جوړ شو." USAID. ۲۰۰۹.- http://www.usaid.gov/afghanistan/news-information/press-releases/afghan-women's-business-federation-holds-first-annual.

"د افغان میرمنو اقتصادي ګډون: ۲۰۱۳. " د آبادۍ مارکیټونه. ۲۰۱۳.- http://buildingmarkets.org/products-services-/afghan-women-economic-participation.

" د افغانستان د ۲۰۱۳ کلنی راپور: په جنګي شخړو کښې د ملکي وګړو ساتنه." یوناما په افغانستان کښې. فبروري ، ۲۰۱۴. " http://www.unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Feb_8_2014_PoC-report_2013-Full-report-ENG.pdf.

"د افغانستان د ۲۰۱۴ کلنی راپور: په جنګي شخړو کښې د ملکي وګړو ساتنه." یوناما په افغانستان کښې. فبروري ، ۲۰۱۵. http://www.unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/2015/2014-Annual-Report-on-Protection-of-Civilians-Final.pdf.

" افغانستان یو کمپاین پیل کړی تر څو د میرمنو پر خلاف د تاو تریخوالي مخه و نیسي." آزادی راډیو ، نومبر ، ۲۰۱۴. http://gandhara.rferl.org/content/afghanistan-women-violence/26709965.html.

" د افغانستان څو اړخیزه ډله ایزه سروې: د میرمنو او کوچنیانو وضعیت." د احصایې مرکزي اداره او یونیسیف. جون ۲۰۱۲. http://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/AMICS-Jun24-2012-FINAL..pdf.

" افغانستان د لوست د زده کړې د عمل ملي پلان: ۱۳۹۱-۱۲۹۴." د حیاتي لوست د زده کړې پروګرام ، د ښوونې او روزنې وزارت ، د افغانستان اسلامي جمهوری دولت. ۲۰۱۲..http://www.unesco.org/new/fileadmin/MULTIMEDIA/HQ/ED/pdf/Afghanistan.pdf.

" افغانستان وایي چې جنګي جرمونو د عفوې قانون یې تصویب کړی." نیویارک ټایمز. د مارچ ۱۶، ۲۰۱۰. http://www.nytimes.com/2010/03/17/world/asia/17kabul.html?_r=0.

" افغانستان: د افغانستان د احصايي كتاب، ۲۰۱۳-۲۰۱۴ . " د احصايي مركزي اداره. د افغانستان اسلامي جمهوری دولت. ۲۰۱۴.
http://cso.gov.af/Content/files/Government%20Civil%20Service%20Employees.pdf.

" افغانستان: د ميرمنو، كوچنيانو، او بې وزلو لپاره ښه عوايد: د فوق العاده پرمختګ لسيزه." نړيوال بانک. د اپريل ۱۸، ۲۰۱۳.
http://www.worldbank.org/en/results/2013/04/18/afghanistan-better-health-outcomes-women-children-poor.

" افغانستان: د ۱،۵ ميلونه كونډو تياره او خواشينونكي راتلونكي." ايرين آسيا. د جنورى ۳۰، ۲۰۰۸.
http://www.irinnews.org/report/76492/afghanistan-bleak-prospects-for-country-s-estimated-1-5-million-widows.

" افغانستان:د كورنۍ پورې اړوند د غربت ټاكونكي:" ايرين آسيا. د اپريل ۸، ۲۰۱۰.http://www.irinnews.org/report/88732/afghanistan-family-related-determinants-of-poverty.

" افغانستان: د دولت له لورې د هغو امن كورونو په خپل لاس كښې اخستل چې ميرمنې پكښې ګواښ سره مخ دي." د بشر د حقوق د څارنې اداره. د فبروری ۱۳، ۲۰۱۱..http://www.hrw.org/news/2011/02/13/afghanistan-government-takeover-shelters-threatens-women-s-safety.

" افغانستان: د ولادي او نسايي روغتيا حالت." ، د روغتيا نړيوال سازمان. ۲۰۱۲.
http://www.who.int/maternal_child_adolescent/epidemiology/profiles/maternal/afg.pdf.

" افغانستان: د رواني روغتيا نقشه، ۲۰۱۱. " د رواني روغتيا او ادا مضره موادو د كاروني خانګه، د روغتيا نړيوال سازمان. ۲۰۱۱.
http://www.who.int/mental_health/evidence/atlas/profiles/afg_mh_profile.pdf.

" افغانستان: د عفو د قانو لغو كول." د بشر د حقوق د څارنې اداره. د مارچ ۱۰، ۲۰۱۰.-http://www.hrw.org/news/2010/03/10/afghanistan-repeal-amnesty-law.

"افغانستان: د اخلاقي جرمونو په تور د ميرمنو په زندان كښې د شمير زياتوالى." د بشر د حقوق د څارنې اداره. د مى ۲۱، ۲۰۱۳.
http://www.hrw.org/news/2013/05/21/afghanistan-surge-women-jailed-moral-crimes.

" په افغانستان كښې كرنه: اقتصاد، كارموندنې او د خوړو تامين ته وده ور كوي"د افغانستان د بيا جوړونې صندوق ډلې جلسې ته واړندې كول. د مى ۲۰، ۲۰۱۴.
http://www.artf.af/images/uploads/ASR_PPT_for_ARTF_Strategy_Group_Meeting_May_20,_2014.pdf.

آحمد، فريد او فرزان رحيمي. "په افغانستان كښې كليوالي پرمختيا په برخه كښې د تولنيزو فعاليتونو نقش." اپريل ۲۰۱۳.
http://www.nispa.org/files/conferences/2013/papers/201304291438210.Paper_Farzam.pdf?fs_papersPage=9.

اكبر نور جهان. " د ازار او زورونې پر وړاندې د ميرمنو مبارزه." آلجزيره. د جولاى ۱۳، ۲۰۱۱.
http://www.aljazeera.com/indepth/opinion/2011/07/201171113305407580.html.

اكبر، شيرزاد او تايبه پيرزاد."په افغانستان كښې ميرمنو ته د ملكيت ور كولو حق: قانون، تطبيق او خنډونه." QARA مشورتي كمپنى. مى، ۲۰۱۱.
http://www.harakat.af/site_files/13623054771.pdf.

آمين محسن. "خلكو ته واک وركول: څنګه كيداى افغانان برښنا ته لاسرسى و لري." د افغانستان تحليلي شبكه. د فبروری ۳، ۲۰۱۳.https://www.afghanistan-analysts.org/power-to-the-people-how-to-extend-afghans-access-to-electricity/.

آمويتز، ايل ايل، ايم. هيسلر، وي. لاكوپوينو." د نفوسو د رواني روغتيا پر بنسټ ارزونه، د افغان ميرمنو د بشري حقوقو بشر ته پاملرنه." د ميرمنو د روغتيا مجله، ۱۲ شميره. ۶،۲۰۰۳ — ۵۷۷-۸۷.

آنيل، احمد شهير، ميليک كارلديک او سعيد پرتو."د افغانستان د ميرمنو لپاره د عمل د پلان تطبيق." يوه ارزونه. د افغانستان د عامه پاليسۍ د څيړونو اداره. مراچ ۲۰۱۴.
http://www.baag.org.uk/sites/www.baag.org.uk/files/resources/attachments/APPRO%20Implementation%20of%20the%20NAPWA%20Assessment%20Mar2014.pdf.

ارغندیوال، مریم. "افغان میرمنې د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو لپاره هلې ځلې کوي." رویترز. د می ۱۵، ۲۰۱۲. http://www.reuters.com/article/2012/05/15/uk-afghanistan-driving-women-idUSLNE84E02520120515.

"آزاد، مالیار صادق. په افغاني مدرسو تور لګول کیږي چې ښځې افراطیت ته اړوي." بي بي سي افغانستان. د مارچ ۱۶، ۲۰۱۴. http://www.bbc.com/news/world-asia-26418558.

بانزیت، آمیلي، کمال مرجان، پیټي پاسکال، جان پاسکویت او فرانسیس ګرونوالډ."په افغانستان کښې د ښځو د تل ترتله غربت په اړه څیړنې. " مارچ، ۲۰۰۸. http://www.urd.org/IMG/pdf/CPW_report_hand-ove-_march2008.pdf.

بولنګر، ونیسا، ایم کاترین ایل فالب، جین شوما او جینیفر لیننک." د میرمنو د مړیني اړوند فعالیت: په تانزانیا کښې د مور د مړیني له امله د کوچنیانو پر ژوند منفي اغیزې. ۸ شمیره مجله. ۲۰۱۳..http://journals.plos.org/plosone/article?id=10.1371/journal.pone.0071674.

کامیرون الیزابت او ډاکټر جوریت کمینګا."د تړلو دروازو تر شا: د افغان په راتلونکي کښې د میرمنو د نقش د لړلو د مخنیوي خطر." آکسفام. ۲۰۱۴. http://www.oxfam.org/sites/www.oxfam.org/files/file_attachments/bp200-behind-doors-afghan-women-rights-241114-en.pdf.

کاربیري، سین. "آیا د افغانستان ښوونځي خپل چارې په ښه توګه سرته رسوي او همدارنګه په ښه لاره زده کړې جذبوي؟" ملي دولتي رادیو. د اکتوبر ۲۴، ۲۰۱۳. http://www.npr.org/blogs/parallels/2013/10/24/240482395/are-afghanistans-schools-doing-as-well-as-touted.

" د خپل ځان څارنه: د ملکي تاوان پر وړاندې د افغانانو یو ځواکمن خواب." په شخړو کښې د ملکي خلکو لپاره مرکز. ۲۰۱۳. http://civiliansinconflict.org/uploads/files/publications/Afghan_Report_2013_smaller_final.pdf.

"د خپل ځان څارنه: د ملکي تاوان پر وړاندې د افغانانو یو ځواکمن خواب." په شخړو کښې د ملکي خلکو لپاره مرکز. ۲۰۱۳. http://civiliansinconflict.org/uploads/files/publications/Afghan_Report_2013_smaller_final.pdf.

"د افغانستان د جمهوریت مدني قانون، ۳۵۳ شمیره رسمي جریده." د خپریدو نیټه د جنوري ۵ ، ۱۹۷۷. د افغانستان د قانوني ښوونې او روزنې پروژې ژباړلې دی. ۲۰۱۴..http://alep.stanford.edu/wp-content/uploads/2014/09/Civil-Law-of-the-Republic-of-Afghanistan.pdf.

"د ملکي خدماتو مدیریت خانګه.".http://www.csmd.gov.af.

کابورن، نواح."په افغانستان کښې د شخړو غیر رسمي حل او نړیواله ټولنه." د سولې چارې او USIP. ۲۰۱۳. http://www.usip.org/sites/default/files/PW84-Informal%20Justice%20and%20the%20International%20Community%20in%20Afghanistan.pdf.

" د بشرحقوقو لپاره د لګرو ملتو د عالي کمشنرۍ دفترپه ۱۵ فقره کښې (ب) برخه چې د ۰۵/۰۱ قطعنامې او ۵ فقرې د ۱۶/۲۱ قطعنامه چې د بشري حقوقو شورا د مصوبې پر بنسټ تیاره شوې ده. افغانستان." د بشري حقوقو شورا، د دوره یی بیا کتنې نړیواله کاري ډله د نومبر۱۱، ۲۰۱۳. http://www.refworld.org/pdfid/52ea4c8a4.pdf.

"فرصت سره پیوند: د ګرځنده ټلیفون تکنالوژۍ ته د افغان میرمنو د لاسرسي سروې." د افغان میرمنو د وړتیا د لوړولو اداره او USAID می، ۲۰۱۳. http://www.usaid.gov/sites/default/files/documents/1871/survey_afghan_women_mobile.pdf.

"د افغانستان اساسي قانون." د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، ۲۰۰۴.

" د میرمنو پر وړاندې تبعیض د منځه وړلو کنوانسیون: د افغانستان د لمړۍ او دوهمې دورې ترکیبي راپور اړوند ملاحظات." د ملګرو ملتو د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالي د مخنیوي کمیسون. د جولای ۲۳، ۲۰۱۳. http://www.refworld.org/publisher,CEDAW,CONCOBSERVATIONS,AFG,51ff5ac94,0.html.

" په افغانستان کښې فساد: رشوت چې د رشوت قرباني شوې له لوري یې راپور ورکول شوی دی." د ملګرو ملتو د مخدره موادو او جرمونو دفتر. ۲۰۱۰. http://www.unodc.org/documents/data-and-analysis/Afghanistan/ Afghanistan-corruption-survey2010-Eng.pdf.

کري ، ډاکټرآنتوني ، آندریو کای ، او جیون سټیوارډ."د لوست د زده کړې اقتصادي او ټولنیز لګښتونه: د نړیوال چاپیریال کښې د سواد زده کړو ته یوه لنډه کتنه." اپریل ۲۰۱۲. Http://www.worldliteracyfoundation.org/The_Economic_&_Social_Cost_of_Illiteracy.pdf.

دستګیر سید ، غلام."په افغانستان کښې رواني روغتیا: بار ، ننګونې ، او راتلونکی لوری." نړیوال بانک ، روغتیا ، خوار خواکي او د نفوسو په اړه خبرې اترې. آګست ، ۲۰۱۱. http://siteresources.worldbank.org/HEALTHNUTRITIONANDPOPULATION/Resources/281627-1095698140167/MHinAfghanistan.pdf.

ډوبټسکي سټیفني."د طالبانو په دوره کښې په افغانستان کښې د روغتیايي پاملرنې بحران چې افغان میرمنې ور سره مخ وې." د امریکایي پوهنتون د د حقوقو پوهنځی ، د بشري حقوقو ۶ لند راپور ، ۱۹۹۹. http://digitalcommons.wcl.american.edu/cgi/viewcontent.cgi?article=1576&context=hrbrief.

ډوني ، پترا."د افغان سوداګرو میرمنو لپاره هیله ؟" د آسیا فونډیشن. د آګست ۷، ۲۰۱۳. http://asiafoundation.org/in-asia/2013/08/07/hope-for-afghanistans-women-entrepreneurs/.

" په افغانستان کښې ټاکنې: اپریل ۵ — د ولس مشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې FAQ ." د ټاکنو د سیستمونو نړیوال بنسټ. د مارچ ۲۷، ۲۰۱۴." http://www.ifes.org/~/media/Files/Publications/White%20PaperReport/2014_IFES_Afghanistan%20Presidential%20and%20PC%20Elections.pdf.

"په افغانستان کښې ټاکنې: د اپریل ۵ — د ولس مشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې FAQ ." د ټاکنو د سیستمونو نړیوال بنسټ. د مارچ ۲۷ ، ۲۰۱۴. http://www.ifes.org/~/media/Files/Publications/White%20PaperReport/2014_IFES_Afghanistan%20Presidential%20and%20PC%20Elections.pdf.

"د انګلیسي ژبې ژباړه — د شیعه کانو د شخصي احوال قانون." USAID. اپریل ۲۰۰۹. http://www.refworld.org/docid/4a24ed5b2.html.

"چاپیریالي روغتیا." نړیوال روغتیایي سازمان. ۲۰۱۴. http://www.emro.who.int/afg/programmes/eh.html.

"په افغانستان کښې د اروپایي کمیسون د پولیسو ماموریت: د حقایقو پاڼه ۲۰۱۴. " د اروپایي کمیسون د پولیسو ماموریت ۲۰۱۴. http://www.eupol-afg.eu/sites/default/files/EUPOL%20Afghanistan_Factsheet%20_September%202014.pdf.

"په افغانستان کښې د میرمنو او انجونو د وضعیت په اړه حقایق." UNAMA. ۲۰۰۷. http://www.peacewomen.org/assets/file/SecurityCouncilMonitor/Missions/Afghanistan/Afghanistan_WomenGirlsFactsheet_2009.pdf.

"د سطحي څخه پو ټول هیواد تمرکز: په افغانستان کښې د سولې په رامنځته کولو کښې د میرمنو نقش." د ActionAid د انکشافي مطالعاتو انستیتوت ، او میرمنې پّ ټوله نړۍ کښې. ۲۰۱۲. http://www.womankind.org.uk/2014/02/country-focus-womens-roles-in-local-peacebuilding-in-afghanistan-liberia-nepal-and-sierra-leone/.

"د جنډر سره ترلې د لوړو زده کړو لپاره ننګونې: د اناثو محصلینو د اوسیدو د ځای مهمه اړتیا." د لوړو زده کړو وزارت ، د افغانستان اسلامي جمهوریت. د جنوری ۱۰، ۲۰۱۱.

" عموی ریاست." د اداري اصلاحاتو او ملکی خدماتو کمیسون. ۲۰۱۴. http://www.csmd.gov.af/index.php/gender.

"په وزارتونو او نرو اداره کښې د دولت د ملکي خدماتو کارکونکي." د احصایي مرکزي اداره. ۲۰۱۴. http://cso.gov.af/Content/files/Government%20Civil%20Service%20Employees.pdf.

حبیزی ، عبدالله ، شبنم حبیبزی او کارلوس سي. سم. "د کابل ښار ترانسپورتي وضعیت ته یوه کتنهو افغانستان." این. جي. http://web.missouri.edu/~sunc/Kabul_Transp_TRB.pdf.

زرین حمید. " د امنیت د شورا پریکړه لیک ۱۳۲۵: د افغانستان اړوند د مدني ټولنې د څارنې راپور. " د افغان میرمنو شبکه او د سولې غوښتونکو میرمنو شبکه. http://www.gnwp.org/sites/default/files/resource-field_media/Afghanistan.pdf.

زرين حميد. "د ميرمنو شمير – د امنيت د شورا پريکړه ليک ۱۳۲۵: د مدني ټولنې د ۲۰۱۲ کال راپور." د سولې غوښتونکو ميرمنو شبکه. ۲۰۱۲. http://www.gnwp.org/wp-content/uploads/2010/02/ Afghanistan_Report.pdf.

"تاوان رسونکي سنتي تجربې او د په افغانستان کښې د ميرمنو پر وړاندې تاو تريخوالى د مخنيوي د قانون د تطبيق. " يوناما او آوچار. د دسمبر ۹، ۲۰۱۰. . http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Publication/HTP%20REPORT_ENG.pdf.

حسرت ، ايم ايچ. او الکساندر فيفرل "په افغانستان د ميرمنو پر وړاندې تاو تريخوالى." د افغانستان د بشر د حقوق خپلواک کميسيون. ۲۰۱۲. http://www.aihrc.org.af/media/files/VAW_Final%20Draft-20.12.pdf.

"د ميرمنو با سوادي او او رواني ناروغى او د حمل د و مهال روغتيا او لورګانو تعليم يافته کيدل. " د په دفتر کښې شتو امکاناتو پر بنسټ ولاړ راپور: د بشري منابعو انکشاف مرکز. د جولاى ۸، ۲۰۱۰. http://www.heart-resources.org/wp-content/uploads/2010/07/Womens-Literacy-July-2010.pdf.

"په افغانستان کښې لوړې زده کړې: رابرسره کيدونکي د غره تيښته." نړيوال بانک. آګست ۲۰۱۳. http://www-wds.worldbank.org/external/default/WDSContentServer/WDSP/IB/2013/09/05/000333037_20130905112816/Rendered/PDF/809150WP0Afgha0Box0379822B00PUBLIC0.pdf.

"هبر ، ډګلس ، نيکا سعيدي او عبدالخليل صمدي." د افغانستان په کليوالو برخو کښې د کرړنى د پلان له لارې بريا تر لاسه کول. د غره يوه رابر سيره کيدونې تيښته. نړيوال روغتيايي پروګرام. دسمبر ۲۰۰۹. http://www.who.int/bulletin/volumes/88/3/08-059410/en/.

هبر ، ماري ايس."که تاسې خپل کور جوړ کړى ، نو آيا هغه تاسې رنګ کړى ؟ د انتقال څخه وروسته د ټولنې بوختيا او په افغانستان کښې د پي آر ټي د پروژو ، پايداري. " د افغانستان د سمون د څارنې اداره. دسمبر ، ۲۰۱۳.

هبر ، ماري ايس. او حنا پارتيز –جننګز. "د افغانستان په ټاکنو ميرمنې: د راتلونکي مدني ګډون لپاره ننګونې او فرصتونه. " http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/WE-paper-English.pdf.

هبر ، ماري ايس. ، ماوريتز ريډ ، او شمسيه نوري."د افغانستان د ملي بودجې د مسودې خپلواکه بيا کتنه: سرچينو ته لنډه کتنه ، تخصيصونه ، او د عامه مالي چارو مديريت." نومبر ، ۲۰۱۴. http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/1394-Budget-Snapshot_English.pdf.

"زه مجبور وم چې و تښتم: په افغانستان کښې د اخلاقي جرمونو په تور د ميرمنو او انجونو به زندان کښې اچول." د بشري حقوقو د څارنې اداره. ۲۰۱۲. http://www.hrw.org/sites/default/files/reports/afghanistan0312webwcover_0.pdf.

احسان ، فوزيه. "د کسب او کار لپاره لاره پرانستل." ننى افغانستان. د نومبر ۹، ۲۰۱۲. http://www.afghanistan-today.org/article/?id=340.

"په افغانستان کښې د روغتيايي پاملرنې خدماتو ته د لاسرسي ډيروالى چې په هغو کښې د جنسيت په اړه د حساسو خدماتو وړاندې کول هم شامل دي." نړاوال روغتيايي سازمان. ۲۰۱۳. http://applications.emro.who.int/dsaf/EMROPUB_2013_EN_1585.pdf.

"د لس کلن ستراتژيک پلان د تطبيق په مقصد د کورنيو چارو وزارت د ادارې اصلاحاتو ارزيابي." سيلسيا مشورتي خدمات. ۲۰۱۳. https://ipcb.files.wordpress.com/2014/04/institutional-reform-assessment-report-final.pdf.

"د پانه اچونکو لارښود." د افغاستان د پانګونې د ملاتړ اداره. ۲۰۱۳. http://www.aisa.org.af/directory.php.

جيکسن آشلي. "لوړ خطرات: په افغانستان کښې د انجنو زده کړه." د آکسفام شريکه معلوماتي پانه. د فبرورى ۲۴، ۲۰۱۱. http://www.oxfam.org/sites/www.oxfam.org/files/afghanistan-girls-education-022411.pdf.

جيکوب ، ميخاييل جى او کاترين اى. سکيولډر."د مالدارى پراخه توليدات: د افغانستان کوچې مالداران ، خطرات او د هغوى د بقا لپاره ستراتژى." په مرکزي آسيا کښې د نظارت قلمرو: د ژوند په شه والي کښې توازن رامنځته کول د ځمکې تحفظ او ساتنه. د ويکتور سکوايرز له خوا تصحيح شوي ۲۰۱۲. هالنډ: سپرنګر. هالنډ. ۱۰۹-۱۲۷ مخ پورې.

"په ختیځ افغانستان کښې عدالت او حکومتوالي: د حکومت فعالیتونو ته یوه کتنه." ا ارتباط دفتر، این، جي. http://www.tloafghanistan.org/2014%2001%2016%20Provincial%20%20Kabul%20Level-Government%20Engagement_formatted.pdf.

کوهستاني شکریه. "۹ عرادې ملي بسونه فعالې نه دي." کابل ټایمز. د اکتوبر ۲۰، ۲۰۱۴. http://thekabultimes.gov.af/index.php/opinions/social/4197-90pc-millie-buses-not-operational-motca.html.

" د افغانستان لپاره د نظم او قانون مالي صندوق: د پروژې د کاري پرمختګ د ۲۰۱۳ کال د دوهمې ربعې راپور. " د ملګرو ملتو پرمختیایي پروګرام، ۲۰۱۳. . http://www.undp.org/content/dam/undp/documents/projects/AFG/LOTFA_Phase%20VI_QPR_Q2_2013.pdf.

"د لمړۍ ربعې د کار د پرمختګ راپور" ، د افغانستان لپاره د نظم او قانون مالي صندوق ، د ملګرو ملتو پرمختیایي پروګرام ، ۲۰۱۴.

لیکسو جانی."د افغانستان دښوونې او روزنې سکتور کښې د جنډر یو شانوالی-د وضعیت تحلیل او تجزیه." نوردیک مشورتي ډله. جولای. ۲۰۱۲. http://ncg.no/novus/upload/file/Afghanistan%20Education%20Sector_%20Gender%20Equality%20Situational%20Analysis%20Final%20Report.pdf.

"په افغانستان کښې په محلي سطحه تصمیم نیونه د میرمنو ژوند ښه کووي." UNDP. ۲۰۱۴. http://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/ourwork/povertyreduction/successstories/badghiswomenandwater/.

لوکارو ، تیم او اریکا ګاستون ، "عدالت ته د افغان میرمنو لاسرسی: فردی در مقابل موانع جامعه به عدالت فرد د تولنې په مقابل کښې فردی در مقابل موانع جامعه به عدالت." د امریکې د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت. ۲۰۱۴. http://www.usip.org/sites/default/files/PW98_Women's-Access-to-Justice-in-Afghanistan.pdf.

مشال ، مجیب. "په افغانستان کښې د کوچنۍ ، متوسط تجرات انکشاف او سیمه ایزه سوداګري." د عامه پالیسۍ او ادرې د مرکزي آسیا پوهنتون ، ۲۴ شمیره د کار اسناد ، ۲۰۱۴. .http://www.ucentralasia.org/downloads/UCA-IPPA-WP24-Eng.pdf.

میهیو ، ماورین MD پیټر ایم حانسن MPH - PhD دیوید ایچ پیټرز ، MD ډاکټر پي ایچ ، انبراسي آیدوارډ ، پي ایچ ډي ، MPH MBA ، لاکواونډر پي سنګ ، DPHilویکاس ، دیوی دیوی ، PGDHM ، اشرف مشکور، MD ، او ګیلبرت برنهام ، PhD، M . " په افغانستان کښې د ولادت د مسلکي ځارنې په کار ورل: مقطعی مطالعه." د امریکا د عامه روغتیا مجله ، ۸۹ شماره ، د اکتوبر لسم ، ۲۰۰۸. ۱۸۴۹-۱۸۵۶.

" MDG ۵: د ولادي نارغیو په اړه بهبود رامنځته کړئ. UNDP افغانستان. ۲۰۱۴. http://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/mdgoverview/overview/mdg5/.

"د دوه لسیزو جګړو څخه ور ها خوا حرکت: د ولایتونو د پرمختګ ، د څو مقصدونو لرونکو شاخصو نو مجموعي سروې ، ۲۰۰۳ ، افغانستان. " د احصایې مرکزي اداره.او یونیسیف ، ۲۰۰۳. .http://www.childinfo.org/files/AfghanistanMICS2003.pdf.

"نادري هدایت ، میدا او کریستان برګ هارپ ویکین. "د تعلیم ، او اقتصادي توانمندۍ له نظره افغان میرمنې په کوم ځاي کښې قرار لري؟ " PRIO, د سوابقو په اړه لنډ معلومات او د افغانستان د میرمنو حقوق او توانمند کولو ضایع شوي هدف ، نومبر ، ۲۰۱۴. http://file.prio.no/Publication_files/prio/Where%20Do%20Afghan%20Women%20Stand%20on%20Education%20and%20Economic%20Empowerment,%20PRIO%20Paper.pdf.

" د لوړو زده کړو لپاره ملي ستراتژیک پلان: ۲۰۱۰ — ۲۰۱۴ پورې." د لوړو زده کړو وزارت ، د افغانستان اسلامي جمهوریت ، نومبر ، ۲۰۰۹. http://planipolis.iiep.unesco.org/upload/Afghanistan/Afghanistan_HESP_2010-2014.pdf.

"د لوړو زده کړو لپاره ملي ستراتژیک پلان ، مسوده یی متن. د دسمبر ۴ ، ۲۰۱۴ کال. "

" د خطر او آسیب پذیرۍ ملي ارزیابي ۲۰۱۱-۲۰۱۲: ښوونه او روزنه" د احصایې مرکزي اداره." د افغانستان اسلامي جمهوریت ، ۲۰۱۲ http://cso.gov.af/Content/files/Chapter8%20EDUCATION.pdf.

"د خطر او آسیب پذیرۍ ملي ارزیابي ۲۰۱۱-۲۰۱۲." د احصایې مرکزي اداره. ۲۰۱۲.

د په روغتیایي سیستم بیا رغولو د هغه اغیزه. "نړیواله عامه روغتیا ۹ ، شماره ۱ جولای ۲۰۱۴. S6-S28

نجسین ، ستیفني ، "د سولې بهیر او افغان میرمنې." د ملکي – نظامي یو ځای والي مرکز . ۲۰۱۲.

جیحون ، ډي او ایل اوتس ،"په تاو تریخوالي کښې ژوند. په محلي کچه د د تاو تریخوالي په اړه ملي راپور. " نړیوال حقوق. ۲۰۰۸. http://www.globalrights.org/site/DocServer/final_DVR_JUNE_16.pdf?docID=9803.

"دومره وخت نشته چې ضایع کړای شي: د افغان پولیو په ادرو کښې د حسابو ورکولو سیستم رواجول." لنده معلوماتي پاڼه ، CIVIC, HRRAC, Oxfam, او PTRO. د مې ۱۰ ، ۲۰۱۱. http://civiliansinconflict.org/uploads/files/publications/no-time-to-lose-may2011.pdf.

"د ۶۰ سلنې څخه زیات افغانان په ذهني ناروغیو اخته دي." نړیواله څیړنه ، د نویوالتوب څیړنیز مرکز. د اکتوبر ۱۱ ، ۲۰۱۰. http://www.globalresearch.ca/over-60-percent-of-afghans-suffer-mental-health-problems/21389.

پارتیز-جیننګز ، حنا او ماری ایس هبر. "په افغانستان کښې ښځې ، سوله او امنیت: د مخ ته تګ په خاطر شا ته کتل." د سولې او دموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسه. اګست ۲۰۱۴. http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/WPS-paper.pdf.

"د پولیسو د ادراک سروې – ۲۰۱۱: افغاني ادارک." د ملګرو ملتو انکشافي اداره او ACSOR. ۲۰۱۱. http://www.undp.org.af/Publications/KeyDocuments/2011/PPS-Eng%20Version-2011%20Final%20Lowest%20Res.pdf.

"د ولس مشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې. د اروپايي کمیسون د ټاکنو څارونکې هئیت وروستی رآپور ، د آګست ۲۰ ، ۲۰۰۹." http://www.eods.eu/library/FR%20AFGHANISTAN%202009_en.pdf.

"د افغانستان د مرکزي احصایي اداري او ښځو د چارو د وزارت مطبوعاتي اعلامیه- د دولتي ادارو او د جنډر د دولتي احصایو په اړه ګډ ورکشاپ او معلوماتو شریکول." د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت پورتال. د سپتمبر ۲۱ ، ۲۰۱۴ کال. http://demo.afghanistan.af/en/news/press-release-central-statistics-organization-and-ministry-of-womens-affairs-joint-workshop-for-establishment-of-coordination-between-government-entit.

پروکس ، آنستازیا او ایرن پداویک. "د پولیسو په آکاډمۍ کښې د ځوانمردۍ درس." جنډر ، کار او اداره. ۹ شمیره ، آګست ، ۲۰۰۲ "'There Oughtta Be a Law Against Bitches': 439-459.

"ولایتي شوراګانې ۲۰۱۴: میرمنې څه ډول خپلې چارې پر مخ وړي؟" افغان ټاکنې ، د مې ۲۹ ، ۲۰۱۴. http://afghanelections14.com/2014/05/29/provincial-councils-2014-how-did-the-women-do-1/.

راد فورډ ، میري ایف. "د اسلامي او یهودي قانون په رڼا کښې د میرمنو د میراث حق ، " د بوستن کالج د نړیوالو او مقایسوي قوانینو بیا کتنه ۲,۲۰۰۰.نړایوله ۲۳ بیا. http://lawdigitalcommons.bc.edu/cgi/viewcontent.cgi?article=1205&context=iclr.

راهي ، سعید مراد او همایون بشیر ،"د افغانستان د ۲۰۱۴ کال ټاکنې او له هغه وروسته حالت: په ۷ ولایتونو کښې د خلکو د انبشنې مطالعه." یو ایس آی پي اولاپیس ، د اپریل ۷، ۲۰۱۴. http://www.whiteband.org/sites/default/files/The%202014%20Afghan%20Elections%20and%20Beyond%20(Lapis%20Report).pdf.

راز موسن ، سوني انجل. "افغان میرمنو د په کابینه کښې د ښینه وزیرانو د نشتون په وړاندې اعتراض وکړ." ګاردین. د فبرورۍ ۳، ۲۰۱۵. http://www.theguardian.com/global-development/2015/feb/03/afghan-women-protest-absence-female-ministers-new-cabinet.

اسحق زاده ، محمد رزاق. د افغانستان د سمون څارونکې اداره. ۲۰۱۴ . د فساد سروې ۲۰۱۴. " " http://www.iwaweb.org/ncs/_2014/docs/national_corruption_survey_2014_english.pdf.

"د پیکنګ د اعلامیې تولنه او د هغه تطبیق ، د ۲۰۱۰. ۲۰۱۴ پورې اقدام." د بهرنیو چارو وزارتد بشري حقوقو او د میرمنو لپاره د نړیوالو چارو څانګه ، د افغانستان اسلامي جمهوریت. مې ۲۰۱۴. http://www.unwomen.org/~/media/headquarters/attachments/sections/csw/59/national_reviews/afghanistan_review_beijing20.ashx.

"په افغانستان د قانون حکومت." USIP. n.g., http://www.usip.org/programs/projects/rulelaw-afghanistan.

صافي، مریم. "د افغان د سولې بهیر: آیا موږ په سمه لارر روان یو؟" ډیپلوماتیک ماموریت، د جنوری ۲۴، ۲۰۱۳. http://www.diplomaticourier.com/news/regions/central-asia/386-the-afghan-peace-process-are-we-on-the-right-path.

صمد، وحیده."په فغانستان کښې په سوله راوستلو کښې د میرمنو نقش: د خوښ بیني لپاره یو فرصت؟" صافي HD مرکز، د جنوری ۱۲، ۲۰۱۲. http://www.hdcentre.org/fileadmin/user_upload/Our_work/Mediation_support/Current%20activities/1%20Gender%20and%20Mediation/Gender%20main%20page/2%20Sous%20page%20Women%20at%20the%20Peace%20Table%20Asia%20Pacific/Supporting%20documents/Women%20and%20peacemaking%20in%20Afghanistan%20-%2012%20January%202011.pdf.

سنیچز، اینریق او سیلویا رون ویک. "د عادلانه ټولنې جوړول: په انتقالي نظم کښې مصالحه." ملکري ملتونه، د ورکشاف راپور، آکره، غانه. ۵-۶ جون، ۲۰۱۲. http://www.un.org/en/peacebuilding/pbso/pdf/Reconciliation%20workshop%20report%20WEB.pdf

ستریخ، لیزا. "د په افغانستان کښې د یوې هر اړخیزه سولې بهیر طرح." USIP. ۲۰۱۱. http://www.usip.org/sites/default/files/Designing_a_Comprehensive_Peace_Process_for_Afghanistan.pdf.

سیمر، سیما. "فساد د افغان میرمنو یو بې رحمه دښمن دی." تامسن رویترز فونډیشن. د حی ۳، ۲۰۱۳. http://www.trust.org/item/20130502130716-v16ht/.

ستیغ، محمد علي او محمد شفیع حقمل: په افغانستان کښې د سواد زده کړه او د لویانو تعلیم؛ لاسته راوړنې او ننګونې. د ښوونې او روزنې افغانستان اسلامي دولت. این. جي.. http://www.accu.or.jp/esd/forum_esd_2010/program/program12_01/pdf/text5.pdf.

ستانکیتي، مارګریتا. "میرمنې د افانستان د ولس مشریو ټاکنو غیر معمول نقش لوبوي." وال سټریټ جورنا، د اپریل دوم، ۲۰۱۴. http://www.wsj.com/articles/SB10001424052702304157204579475322060072290.

"د نړیوال نفوس حالت ۲۰۱۴." UNFPA. ۲۰۱۴.. http://www.unfpa.org/sites/default/files/pub-pdf/EN-SWOP14-Report_FINAL-web.pdf.

" د جلالتماب حس بانو غضنر بیانیه، د ښځو د چارو وزیره." د ملل متحد په ۵۸ غونډه کښې د افغانستان د ښځو په اړه بیانیه. د مارچ ۲، ۲۰۱۲. http://www.un.org/womenwatch/daw/csw/csw56/general-discussions/member-states/Afghanistan.pdf.

" د ۲۰۰۸ — ۲۰۰۹ کلونو ارقام: دولتي کارکونکي. " د افغانستان د احصایي مرکزي اداره ۲۰۰۹." http://cso.gov.af/Content/files/Full%20Chapter.pdf.

"د ۲۰۱۳ — ۲۰۱۴ کلونو ارقام: د افغانستان د احصایي مرکزي اداره. " ۲۰۱۴.. http://cso.gov.af/Content/files/Education%20part%20one(1).pdf.

"په ملي پولیسو کښې د ښځینه پرسونل د تطبیق ستراتژیک پلان. " د کورنیو چارو وزارت، ۲۰۱۴.

"طالبان افغان سیاسي میرمنې تښتوي، د میرمنو د حقوقو پر کمپاینون حملې کوي." رویټر. د آګست ۱۳، ۲۰۱۳. http://www.thestar.com/news/world/2013/08/13/taliban_kidnaps_female_afghan_politician_attacks_undermine_womens_rights_campaign.html.

"غینا مریي ننګوني:په کابل کښې د میرمنو د امنیتي حالت په اړه معلومات." هنریخ بول شیفتونګ او سمویل هال مشورتي کمپنی. ۲۰۱۲. http://samuelhall.org/REPORTS/The%20Challenge%20of%20Becoming%20Invisible.pdf.

"کورنی جبهه: د افغانستاند سولې او بیا ادغام په پروګرام کښې د میرمن نقش." د سولې دزده کړې او څیړنې اداره. مارچ ۲۰۱۴. http://www.ptro.org.af/site_files/13990989651.pdf.

"د لویې جرګې په پای کښې د قطعنامې تصویب ." د سولې عالی شورا/د جون څلورم، ۲۰۱۰ کال. http://www.hpc.org.af/english/index.php?option=com_content&view=article&id=28&Itemid=12&option=com_content.

"د نړیوال بانک معلومات". http://data.worldbank.org

"د ۲۰۲۰ کال پورې نړیوالې لمرنۍ زده کړې: د افغان انجونو لپاره خطر؟"د ملګرو ملتو د کمیسیون د میرمنو د حالت اړوند ۵۸ موازي جلسه. د مارچ ۱۲ ، ۲۰۱۴. http://www.ifuw.org/wp-content/uploads/2014/03/UN-Website-Version-Final.pdf.

"بیړنی اقدام کول پکار دي تر څو کښې د میرمنو سره اړوند د تاو تریخوالی د مخنیوي په خاطر د روغتیایي سکتور ځواب تقویه کړي." UNFPA افغانستان. د نومبر ۳۰ ، ۲۰۱۴
http://countryoffice.unfpa.org/afghanistan/2014/11/30/11037/urgent_action_needed_to_strengthen_health_sector_response_to_violence_against_women/.

"په افغانستان کښې د میرمنو پر وړاندې تاو تریخوالی ، ۱۳۹۲." د افغانستان د بشري حقوقونو خپلواک کمیسون. ۱۳۹۲. http://www.aihrc.org.af/media/files/PDF/Violence%20against%20women%20Eng.pdf.

وارډ ، جان ، برنس لي ، سیمون باپټسټ او هیلن جکسن. "د عمل لپاره مدارک: د جنسیت مساوات او اقتصادي وده." چتم مین هاوس او روښانه اقتصاد ، سپتمبر ، ۲۰۱۰.
http://www.chathamhouse.org/sites/files/chathamhouse/public/Research/Energy,%20Environment%20and%20Development/0910gender.pdf.

وردک ، علی. " دولت و غیر دولتی در په افغانستان کښې دولتي او غیر دولتي قضایی سیستم: مرستې ته اړتیا. ۲۰۰۹. https://www.law.upenn.edu/journals/jil/articles/volume32/issue5/Wardak32U.Pa.J.Int'lL.1305(2011).pdf.

کارین ، زخ. "افغانستان په ۲۰۱۴ کال کښې: د افغانستان د خلکو یوه سروې." آسیا فوندیشن. ۲۰۱۴.. http://afghansurvey.asiafoundation.org.

ویلکنز ، آن. "د هدف د لاسه وتل: د میرمنو ، په افغانستان کښې د سولې او امنیت په اړه د سویډن د تعهداتو اړوند یو راپور." کوینا تر کوینا عملیات ۱۳۲۵ ، او د افغاستان لپاره د سویډن کمیټه. نومبر ، ۲۰۱۲.. http://kvinnatillkvinna.se/en/files/qbank/2dace78f80bc92e6d7493423d729448e.pdf.

کابل - افغانستان

communication@epd-afg.org – www.epd

د سولې او ولسواکۍ لپاره د برابري دفتر یو غیر انتفاعي او غیر حکومتي سازمان دی ، چې په افغانستان کې د ټولنې او پالیسي په کچو د ښځو او ځوانانو توانمند کولو ته ژمن دی. د دغه سازمان هدف د ښځو او ځوانانو د ظرفیت لوړول دي څو په لومړي ردیف کې واقع شي او په هیواد کې د پرمختیا ، سوله جوړونې او په ډیموکراتیکه پروسو کې د خپلو اړتیاوو استازیتوب ترسره کړي. د سولی او دیموکراسی د یو شانوالی موسسه د دی زمینه برابری وی ترڅو ځوانان او ښځې د یو بل سره راټول شی ، دځوانانو او ښځو شبکی جوړکړی تر څو د دی لاری څخه د اعتماد په جوړولو یو ځای د یو دموکراتیک او د تعصب څخه پاک افغانستان جوړ کړی.